یو لس بټرۍ ارونکې محلي سوچبوردونه په بیلو بیلو ځایو کښې پکاراچول شوی دی په دغه ترتیب سره د اتومات پنځوس لینه یو سوچبورد په لښکر ګاه کښې، د اتومات دوه سوه لینه یو سوچبورد په څلورمه کارته کښې چه سوچبوردئې رارسیدلی دی او کوم وخت چه ئې د هغه دوداني کارختم شو نصبیږي د دوو سوو شپیتو لینو په ظرفیت دوه کیبلي سوچبورد ونه په هرات کښې،

ACKU

دسلو لینوپه ظرفیت(سنترال بتری) کیبلی یو سوچبور دپروان داعلی حکومت په مرکز کښې .
محلی هوائی سوچبوردونه چه په نوروځایو کښې نصب او پکاراچول شوی دی په دغه ډول سره دی:
بدخشان شبرغان (چاربرجك) فراه، چغانسور، ننگرهار ځرخی پل او دپکتیا ولایت .
بی سیم
دبی سیم ځلوردستگاوی دتیلفون او تیلگراف دمقصدو دپاره، چکوسلواکیالهٔ کمپنی نه خریداری او رارسیدلی دی چه په لازموځایوکښې به په کار واچول شی، بی سیم تیلفون دکابل اومسکو او نو رو ترمنځ مستقیم دکابل اوپیښور، کابل لاهور، کابل کاناداترمنځ جریان لری دبی سیم تیلگراف مخابره دکابل اوکراچی ترمینځ هم سر ته رسیدلی ده.
د بی سیمه آخذی دتلگراف خانی دتقوبې دپاره دوه پایې ریسورسنگل سائید او دوه ریسور کامنو نیکیشن اخستل شوی او تربسته کارې لاندی دی.
دبرښنا نوی ترا نسفار مرونه نصب اوپکاراچول شوی دی. دبرښنا لس کیلومتره زیرزمینی کیبل دمرسله او آخذه تلیگراف خانودپاره خریداری او پکار اچول شوی دی.

پستی سرویسونه

دنو یو پسته خانو پرانستل دکابل اومزارشریف اوقندهار ترمنځ دوار ده او صادره پستی د پاره دآسانتیا وسایط برابر شول. دکابل اومسکو ددفترو نو ترمنځ راساً اوسرتړلی فضائی پسته په هفته کښې دری ځلې د شو روی اتحاد دپستی الوتکی پواسطه موافقه اوروانه ده دماسکو او تهران تر مینځ فضائی او ترانزیتی پسته روانه او په عکس ئی دکابل دپستی ددفتر له لیاری موافقه اوجریان ورکړ شویدی، د امستردام د تبادلی ددفتر پواسطه اروپاته دراساً اوسرتړلی فضائی پستو په لیږلو اورالیږلو کښې او همدارنگه دامریکا دمملکتو اونورو دپاره دنیویارك دتبادلی دفتر ته د امستردام د دفتر له لیاری دآریانا افغان هوائی شرکت پواسطه موافقه اوتر تطبیق لاندی نیول شویده ، دکابل اوکراچی ترمنځ دفضائی پستی پروگرام هم زیات شو .
دراساً اوسرتړلی په ترتیب د صادرو فضائی پستو ته له قندهار څخه اروپائی او نورو مملکتو ته دامستردام دتبادلی ددفتر پواسطه هم جریان ورکړ شو .

پخلورم کال کښې

دقندهارد اتومات «۱۵۰۰» لینه دستگاه: ددغی دستگاه دودانی دلومړی پوړ دپو بنلو کار سرته ورسید او پاتی کاری روان دی او پدغه دستگاه پوری مربوط «۱۵۰۰» پایی تیلفو نونه قندهار ته ورسیدل اوژر به دښاری شبکی سامان اوداتومات دستگاه هم قندهار ته ور سیږی.
دقندهار او هرات تر منځ چینل سیستم: ددغه لین موظف گروپ ٤۰ کیلو متره لین غځولی دی .

دکابل ـ تورخم چینل سیستم: مربوط سامان پی کابل ته رارسیدلی دی :
دکابل ـ مزارشریف اوکابل قندهار چینل سیستم .
موظفو گروپو یی له کابل څخه دمزارشریف خواته ٤۰ کیلومتره پیشرفت کړی دی .

په ۱۳٤۰ کال کښې د کوچنیانو د جشن د ورځې په مناسبت



میرویس نیکه
د نامتو کسانو په نامه



POUR COMMEMORER
10255 LES HOMMES CELEBRES



د ښوونکي د ورځې په مناسبت

د میرمنو د نهضت د ورځې په مناسبت




۱۳٤۰ JOURNEE DES FEMMES 1961

№ 00498

ACKU



ښاغلی محمد مرید د مخابراتو وزیر د ښاغلی‌دهامیجا په‌کابل‌کښی د هند لوی سفیرسره دکابل او ډهلی ترمنځ‌د رادیو ټیلفونی مخابری د پرانستلو نه وروسته .



ښاغلی غلام صفدر «سکندری» د مخابراتو د وزارت‌معین اوښاغلی‌شری، جی دهامیجا په‌کابل‌کښی‌د هندد جمهوری‌دولت‌لوی سفیر دکابل‌اوډیلی ترمینځ د رادیوتیلفونی‌د مخابری‌تړو ن لاسلیك کوی .



د مهتاب کلا په تیلگر افخانه کښې
د سنگل سایډ اخیستو نکی دستگاه چه
نوی د رول شوی ده



د راډیو تیلفونی او راډیو تیلگرافی
د بل‌سایډمرسله دستگاه چه ۲۰۰واټه
قوه‌لری اوډداخلی بیسیم مخابری
له پاره پکار اچول شوی ده



په یکه تـوت کښې د مر سلې
د ستیشن دنوی‌سوچبورد دستگاه

دقندهار سپین بولدك موظف گروپ ۳۲ کیلومتره پاتی کاربیخی تکمیل کړی دی او علاوه پدې دښارصفااوقلات ترمنځ ٤۲ کیلومتره لین دهغه دموظفو کسا نوپه واسطه تکمیل شوی دی .

بی سیم

بی سیم تیلگراف ددوه سوه اوپنځوس واټه خلورودستگاؤله جملی څخه چه له چکو سلواکیا څخه پیرودل شوی دی یوه یې دقزل کلا په بندرکښې اودوی نوری یې دکابل په مرکز کښې پکار اچول شوی دی، یوه بیله یی دفراه په اعلی حکومت کښې په نظر کښې ده ددوه پایو ریسور سایکل سایدبندد نصبولو کارشوی دی اویوڅه فالتو سامان خارج ته دبی سیم تیلگراف دستیشنو نودپاره فرمایش ورکړشوی دی .

دبی سیم تیلفون مخابری سروی دپاریس له لیاری داروپا اوشمالی امریکا ټولو مملکتو ته روانه ده اود تیلفونو مکمله یوه دستگاه پکار اچول شویده چه اوس دغه دستگاه د ماسکو اواروپایی مملکتو ترمنځ دفوتوکانو لیږلو دپاره په تجارتی ډول جریان لری .

دمزار شریف اوشبرغان لین یوسلواوه پنځوس کیلومتره دولینه جوړشو .

داتومات پنځه خلویښت لینه یوسوچبورد او دری سوه متره لینو لیم او دری سوه پایی هوائی تیلفونونه اوپنځوس ټنه سیم خارج ته فرمایش ورکړشوی دی .

په پنځم کال کښې

دقندهار داتومات دودانی دوهم منزل په سلوکښې ۹۰ جوړ شویدی او ښار ی شبکه یی «۱۵۰۰» لینو دپاره ۲۵ کیلومتر بشپړه شوی ده .

په څلورمه گارته کښې دوسوه لینه داتوماتو تیلفون یوه دستگاه نصب اوپکارو اچوله شوه او علاوه له دې په مرکز اوولایاتو کښې «۴۸۳» پاتی تیلفونونه نوی پکاراچول شول، دکابل اوتورخم ترمنځ دچینل سیستم ۹۰ کیلومتره نوی لین وغځول شو ، دکابل او مزار شریف ترمنځ دچینل سیستم دپاره دری سوه کیلو متره نوی لین وغځول شو ، پنځوس کیلومتره نوی لین به د پل خمری اوقندز ترمنځ د چینل سیستم د پاره وغځول شي .

۹۲ کیلو متره نوی لین به دکشك نخود، گرشك، دلارام اوفراه ترمنځ دچینل سیستم دپاره وغځول شی اودچینل دستگاوی به په قندهار ،سپین بولدك، کابل اوبلولی کښې نوی نصب شی، سوچبورد ونه :«۲۵» هوایې اواتومات سوچبوردونه د ۳٤۰ لین په ظرفیت په مرکزاوولایاتو کښې پکار اچول شوی دی .

دافغانستان اوځینو اروپائی هیوادو دمرکزولکه لندن، پاریس اوماسکو ترمنځ دتیلی فوتو سرویس په تجارتی ډول پکارواچول شو ،دکابل اوډیلی ترمنځ دبی سیم تیلفون سرویس اودکابل اوروما درادیو تیلگرافی مستقیم سرویس پرانستل شو چه تراوسه پوری ټولی مخابری دوام لری دقندهار اومزار شریف، دهرات اومزارشریف دجلال کوټ اوقزل کلاترمنځ نوی رادیو تیلگرافی ارتباط ټینگ شوی دی اودقزل کلا په مرکز کښې هم یوی نوی رادیو تیلگرافی اوراویو تیلفونی دستگاه پکار پیل کړی دې .

ACKU

دپست چارې: د۱۳۳۹ کال دمیزان لەمیاشتې څخه تراوسه پورې«٤٦»دول دپستې تکتونه چاپ اودرېش نوی پستەخانې پەدغو ولایاتو اواعلی حکومتو کښې پرانستل شوېدې :

۱- دکابل پەولایت کښې درې .
۲-دقندهار پەولایت کښې دوه .
۳-دهرات پەولایت کښې درې.
٤-دمزارشریف پە ولایت کښې دوه.
٥-دقطغن پەولایت کښې دوه.
٦-دننگرهار پە ولایت کښې دوه.
۷-دپکتیا پە ولایت کښې دوه.
۸-دغزنی بەاعلی حکومت کښې دوه.
۹-دگرشك پەاعلی حکومت کښې یوه.
۱۰-دفراه پەاعلی حکومت کښې یوه.
۱۱ -دارزگان پەاعلی حکومت کښې دوه .
۱۲-دمیمنې پەاعلی حکومت کښې یوه.
۱۳- دشبرغان پەاعلی حکومت کښې یوه.
۱٤- دبدخشان پەاعلی حکومت کښې یوه.
۱٥- دبامیانو پەاعلی حکومت کښې دوه.
۱٦- دپروان پەاعلی حکومت کښې دوه.
۱۷- دغوراتو پەاعلی حکومت دوه.

اودپستې موزه بەدوزارت پەمرکز کښې نوی ودانې تەولیږدولەشې او«۳۲۸»نمرې نوی پست بکس بە پە مرکز کښې پکاروا چول شي .

## درادیو چارې دپلان پە لومړي او دوهم کال کښې

دلس کلیواته اوپنځوس کلیواته لنډې څپې ددوه دستگاوو مقدماتې چارې پە لاس کښې نیول شوېدې چەباید پەږروستنیو کالو کښې دیکەتوت پەمنطقەکښې پکاروا چول شي .

## پە دریم کال کښې

درادیودلس کلیواته اوپنځوس کلیواته لنډو څپو ددوودستگاوو د نصبولو کار تکمیل شوېدې چەلس کلیواته دستگاه ئې دتیر کال دڅپلواکۍ پەجشن اوپنځوس کلیــو اتــەئې داته دیرشم کال دجوزا پەمیاشت کښې پەامتحانې توگه پکاروا چول شوه،دبرود کاست ددستگاه دماهرانو داوسیدوفنې اواداری برخو ودانې پدې وستو کښې ختم شوېدې دنوی ستودیو دودانې کار چەیوه ډیره پراخه اوعصری ودانې ده پەسلو کښې پنځوس تمام شوېدې .



په دغه څانګه کښې هغه مراسلات چه د ترجمې وړ دی د موظفو کسانو له خوا ترجمه کیږی



دکابل داتومات دستګاه په مرکز کښې موظف کسان دولایاتو د مخابرې په چارو بوخت دی.



دمراسلاتو پهځانګه کښې مؤظف کسان رارسیدلی پوستی پهفنی ډول ترتیبوی



دپوستی پهځانګه کښې چهپهنوی سیستم ترتیبې شوېدی مؤظف کسان
خپلې وظیفې اجرا کوی .

## په څلورم او پنځم کال کښې

د دغو کلو په ترڅ کښې د رادیو تخنیکي دستګاه د مطبوعاتو په مستقل ریاست پورې وتړل شوه چه تخنیکي فعالیتو نه ئې د تیرو کلونو په شان دوام لری او هیله ده چه د راتلونکو کلونو په جریان کښې نوره زیاته پراختیا وکړی او په ځینو نورو سیمو کښې به هم د راډیو نوی ستیشنونه پرانیستل شی .



دمخابراتو په وزارت کښې هغه «۳۲۸» شمیره د پستی بکسونه چه دمر اجعینو له پاره نوی تهیه او د استفادی لاندی نیول شویدی

## د ودانیو چاری

د پلان د پنځم کال د ختمیدو نه ورو سته دلاندنیو ودانیو چاری بشپړی شوی دی چه دهغوی نوری چاری په تیرو کلونو کښې سرته رسید لی وې : پلخمری د چینل د سیستم دمزار شریف د چینل سیستم او د بغلان د چینل سیستم ودانیو دمزار شریف دمخابراتو داوی مدیریت او د تیلګرامخانی د مدیر دهستو ګنی ، ودانیو د قندهار دمخابراتو مدیریت او دارزګان دمخابراتو مدیریت او د فراه د تیلګرا فخانی د ودانیو چاری بشپړ ې شوید ی ، د هرات دمخابراتو ودانی آهن پوش او دخان آ باد دمخابراتو ودانی له پاره څو جریبه ځمکه رانیول شویده .

# دکرهڼي چارې دلومړي پلان په پنځوکلونوکښې

## دپلان په لمړي اودوهم کال کښې غټ ټکي

څرنګه چه افغانستان یو زراعتي هیواددی او په سلوکښې نژدی اتیا برخه اوسید ونکي یې دکروندي او مالدارۍ په چارو بوخت دي نو ځکه دخلکو دژوندانه دسطحې دلوړ ولو او اقتصادي حالت ښه کو لو اودملي عایداتو دزیاتولو تر ټولو ګټوره لارپه کرهڼه کښې ښه والی اودتولید دوسایلو زیاتول اوله هغو نه زیاته ګټه اخیستل دي چه دغه مقصدته درسیدلو لپاره د کرهڼې وزارت ګټور پروګرامونه لکه دنبات او حیوان دجنس اصلاح، دحیواني او نباتي ناروغیو اوآفتونو پر ضد مجادله، دکروندګرواوبزګرانوروزنه او لار ښودنه دفني پرسو نل روزنه اودداخلي اوخارجي مرستو نه استفاده کول دلته په لنډول هغوته ګوته نیسو اوالبته چه دهغو مفصل بیان به په راتلونکو کالو کښې ذکر کیږي.



ع، ج ښاغلي غلام حیدرعدالت دکرهڼې وزیر

## داشخاص روزنه دپلان په لمړي اودوهم کالو کښې

دکرهڼې دوزارت له خوا دا سې ترتیب نیول شوی دی چه یوه ډله فني اواداري مامورین په داخل او خارج کښې دعالي زده کړې لپاره لګیاشي. له دې امله د ځینو کو رسو نو دپرانیستلو موضوع دوزارت په مرکزکښې تر پروژې لاندې دی او هیله کیږي چه په وروستنیو کالوکښې دښودني ترتیب شوی پروګرام بیخي بشپړ شي.

### په دریم کال کښې

د کرهڼې دوزارت دري تنه فني مامورین دکرهڼې په پوهنځي کښې شامل او دوزارت دشپږ و تنو فني مامورینوله جملې نه چه پخوا په بیلو بیلو ښانګوکښې داوړو تحصیلاتو له پاره خارج ته استول شوی وودوی تنه ئې په بریا لیتو ب سر ه بیر ته وطن ته را غلي او دبیطارۍ، زراعتي پراختیا اودزراعتي کیمیادلابراتوارونو په ښانګو کښې په و ظیفه کښې شامل شوی دی. یوزراعتي کورس دخوارلسو تنو فني پرسونل لپاره دافغاني او خارجي متخصصانو پواسطه په وزارت کښې جوړ شو اودکر هڼې دوزارت شپږ تنه فني مامورین چه د زراعتي کیمیا او خاورې دپیژند لو په ښانګه کښې تر ښوونې اوروزنې لاندې نیول شوی وو دزراعتي کیمیا په

ACKU

# دکرهڼې وزارت تشکیلات



لابراتوارو و کښې ئې په عملي کارونو پیل کړی دی . دوایمنګ د نیور ستې دتہم خلورتنه همکار مامورین دنیمي ورځې لپاره دعالي تحصیلاتو په غرض دکرهڼې په پوهنځی کښې استخدام کړې شوی دی اونیمه نور ٥ورځ دعلي آباد په تجربوی ستیشن کښې دوایمنګ دتہیم سره همکاری کوی . دزراعتي مجادلي دیارلس تنه فني مامورین دتباتي ناروغیو په مقابل کښې دمجادلې په غرض دزراعتي پراختیا دعمومي مدیریت په تشکیل کښې زیات شوی دی. دوتر نړی ( بیطاری ) دښوونځی درسونه چه دزده ٥ کوونکو شمیر یې دری اتیا تنه دی به برې ی سره پرمخ ځی اودپلان په خلورم کال کښې به له هغو نه یوشمیر فارغ التحصیلان شي.

دپلان په دریم کال کښې کوم نوی متخصص نه دی استخدام شوی اوهغه شپږ تنه تـرکي متخصصان چه پخوا استخدام شوی وو په زراعتي بیلو بیلو څانګو کښې په کار بوخت دی .

بزګرانو ته لاښوونه اومرسته، دعصري کرهڼې دلاروسره دوطن دکروندګرو دآشناکولو په غرض دپراختیا نه ته تنه فني مامورین هر یو دکابل په ولایت پورې مربوطو حکومتونو لکه دکوهدامن لوی حکومت، ده سبزسروبي ، چهاردهي، وردك، بګرامیو اوپغمان حکومت ته استولي شوی دی چه ددواشیندلو زراعتي عصري لاری اودکرهڼې اصلاح شوی لاری، دکیمیاوي سری اودکرهڼې دآلاتو داستعمال دول په عملي اونظري صورت دګرزنده سینما اونورو په وسیله بزګرانو ته وښیي، دزراعتي پراختیا دمامورینو په واسطه کروندګرو ته ددواشیندلو دبمبو په کارول اودزراعتي ماشیني آلاتو داستعمال دول ښودل شویدی اودپوډرشیندلو «واتر پمپ» ماشین چه پخوا برابر شوی وخلکو ته ورکړی شویدی .

نبه آلات اولوښې: دساده شیندونکو او زراعتي آلاتو دپه کارولو دول دکوهدامن خلکو ته ور زده کړی شو.

## په خلورم کال کښې

دکرهڼې دلیسې دنویو فارغ التحصیلانو اته تنه دزراعتي پراختیا دلوی مدیریت دفني غړیو اودری تنه هم دهغه عمومي مدیریت په اداری غ یتوب ورزیات شویدی .

دقطغن دولایت بزګرانو ته دپنبې داصلاح اودښهٔ تخم دلاسته راوستلو له پاره او دکیمیاوي سری داستعمال دښه والي اوزراعتي ښه تبلیغ له امله دقطغن په ولایت کښې دکرهڼې دپراختیا مدیریت جوړ یدل په نظر کښې دی اودکرهڼې دوزارت دزراعتي پراختیا دمامورینو له خوا د کابل په شاوخوا کښې دخارجي چرګانو ښه جنسونه ویشل شویدی اوهم دتاك دآتشك دناروغۍ په مقابل کښې دکرهڼې دلارښوونو، دواشیندلو، دکیمیاوي سری داستعمال دول اودآبیاری دښه دول په باب کښې دهغه ځای کروندګروته لازم فني هدایتونه ورکړی شویدی .

یوه جرګه دزراعتي پراختیا دمتخصص په ګډون د حیواناتو دروزنې اودشیدو دحاصلاتو ددول اودهغو کروندولیدلو لپاره چه دنیبریدغنم پکښې کرل کیږی دلوګر لوی حکومت اومربوطو بزغلیو او زراعتي سټیشنونو ته استول شویده اولکه چه دهیئت در پوټ نه څرګندیږی پدغو سیمو کښې دنیبر ید دغنمو وده دډاډوړده. دزراعتي خپرونو او پراختیا پروګرامونو لپاره یوشمیر ټیپ ریکارډرونه تهیه کړی شوی اوهم دغنمو زراعتي پامفلټونه، تبلیغاتي پاڼې، مصوری پاڼې جنتری او پستال کارټونه

دبزگرانو دلارښودنی او تشویق لپاره دهیواد په بیو بیلو سیمو کښی بزگرانو ته ورکړی شویدی یعنی دزراعتی پراختیا د تبلیغاتو او خپرونو په باب کښی چه له هره حیثه په کرهنه او دهغی په تولیداتو کښی موثر دی دغه اقدامات شویدی :

۱ـ دکرهنی مجله دهری سویی او دولی دمطالعی له پاره سمه جوړه شویده.

۲ـ زراعتی پامفلټونه چه په معلوماتی فوټوگانو بشکلی کړی شویدی دبزگرانو د لارښودنی او استفادې په غرض خپاره او ویشل شویدی .

۳ـ دلمړی ځل لپاره مخابراتی کارټونه او تبلیغاتی پانی چه په هغو کښی منظری او گڼور ارشادات شته د ۳۹ کال دجنتری سره طبع او ویشل شویدی .

٤ ـ هفته ایز زراعتی پروگرامونه ترتیب ش ی او دبزگرانو او مالدارانو داستفادی لپاره په کابل راډیو کښی خپاره شوی او په آینده کښی به هم دغه پروگرامونه په مسلسل ډول خپاره شی .

٥ـ دزراعتی معلوماتو د مرجعو او ماخذونو د برابرولو او دفنی افرادو دتشویق له پاره دری گروپه جوایز دشپانه ، بزگر اوباغبان له پاره منظور کړی شویدی .

ددارالامان او گلباغ دپیله ورۍ دسټیشن فعالیتونه جاری دی او له قراردادیانو سره قرار داد شوی دی چه په یوه کال کښی د دارالامان دپیله ورۍ دسټیشن ودانی پای ته ورسوی .

دننگرهار دعبدالخیلو دسټیشن دجوړښت له پاره دری اکه افغانی دننگرهار ولایت ته تخصیص کړی شویدی او په دغه سټیشن کښی دجاپانی توتانو دبزغلیو، دمحکو د تقویی په باب کښی اقدامات جاری دی .

دپیله ورۍ یوتن متخصص دعبدالخیلو دسټیشن دکنټرول له پاره استول شویدی اودتوتانو دنیالگیو له پاره یولك اوپنځه ویشت زره افغانی دقطغن ولایت ته ورکړی شوی .

دمرکز له سټیشنو نو څخه دورېښمو دچینجیو تخم ټاکل شوی او پرې مینځل شوی دی اوترهغه وروسته د ۱۳۳۹ کال دفصل لپا ره تجارتی اومادری تخمونه د مرکز او دو لایاتو پیله ورانوته دوېشل کېدو په غرض ضدعفونی شوی اوپه فنی سیستم دهرډول ناروغی اوخطر څخه مبرا شوېدی. کومه اندازه تخم چه په دغوشپږو میاشتو کښې لاسته راغلی دی په دې ډول دی :

۱ـ دتجارتی ورېښمو تخم (۸۷٤۱) جعبې چه (۱۷٤ر۹۰) کیلو گرامه شی .

۲ـ مادری تخم (۵۰۵) کاغذه چه دبیې دنقطهٔ نظر څخه دواړه تخمو نه (۵٤۹۵۸۵) افغانی کېږی .

دکرهڼې وزارت په دغه لاندې اندازه لاسته راغلی دورېښمو تخم ولایاتو ته دپیله ورۍ دصنعت دپرمختگ له پاره استولی دی :

الف ـ دهرات ولایت ته ۷۳۱۰ جعبې .

ب ـ دننگرهار ولایت ته ۳۱۰ جعبې .

ج ـ دبدخشان اعلی حکومت ته ۸۰۰ جعبې .

په نظر کښې دی چه نورو ولایتونو ته هم دورېښمو تخم واستول شي او په خلکو وویشل شي .



همایو نی معظم اعلیحضرت هغه‌وخت چه دبگرامیو د فارم دچارو د کتنی له پا ر ه تشریف را وړی دی د کرهنی وزیر بناغلی «عدالت» دځینی چارود پر مختګ په با ب کښی‌همایو نی حضورته توضیحات عر ض کو ی



دبګرامیوډکرهڼی فارم چه په عصری او مجهز ډول جوړ شو ید ی



په بگرامیو کښې دکرهڼې دوزارت دمربوطو فارمونو د سمسور ولو
لپاره داوبو رسولو دپاره ېمپ پکار اچول شوي دي



چهاریکار وته نژدې په گل غونډۍ کښې دکرهڼې دوزارت له خوا دغه حوض
داوبو دذخیره کولو دپاره جوړ شوی دی

د ـ دوړ پښمو د اوبدلو په دستګاه پورې مربوط د تارکشۍ د ماشینونو څخه یو شمېر پاڼې او کټلاکونه چه له خارج څخه راغوښتل شوي وو د پیله ورۍ د دستګاه د توریدله امله د کانو او صنایعو وزارت ته استول شوي دي چه د کرهڼې د وزارت د نظریې له مخې اجراآت وکاندي .

د قطغن له ولایت نه د جاپاني پیوندي توتانو (۳۵۲۵۰) نیالګي د ننګرهار ولایت ته استول شوي دي چه په هغه د هر ش جریبه ځمکه کښې چه د دې لپاره برابره کړی شوې ده کښېنول شي .

د جاپاني توتانو د پیوند ۱۶۱۰۰ نیالګي د بدخشان په اعلی حکومت کښې د وړ پښمو د صنعت د پراختیا او د وړیښمو د چینجي د تغذیې له پاره د هغه ځای بزګرانو ته بې بیې ورکړی شوي دي.

د قندهار او هرات ولایتونو ته یوزرو درې سوه او کاریز میرته پنځه زره دانې د جاپاني توتانو د پیوند نیالګي واستول شول .

د پیله ورۍ متخصصین د ننګرهار او هرات د ولایتونو د وړ پښمو د چینجیو د سټیشنونو د سروې او کتنې له پاره تللي دي او د کرهڼې وزارت ته ئې د خپلو کتنو راپور سپارلی دی . لکه چه د دغو متخصصینو له راپورنه بریښي د هرات د پیله ورۍ د سټیشن ودانۍ بشپړه شویده او د هغه درست لوازم برابر شوي، او فعالیت پکښې شروع شویدی. همدغه راز د ننګرهار د عبدالخیلو د پیله ورۍ په سټیشن کښې د سټیشن د ودانۍ د جوړښت کار او د وړیښمو د چینجیو ځینې لوازم او سامانونه برابر او په فني ډول د جاپاني توتانو د نیالګیو ایښودل جاري دي .

د کرهڼې وزارت د کابل، قطغن او ننګرهار د توسعوي فارمونو په پلان لاس پورې کړیدی او د توسعوي کورسونو د زده کوونکو د روزنې په باب کښې د پوهنې د جلیله وزارت سره په خبرو لګیادی خو د فني پرسونل د مشکلاتو له کبله تراوسه پورې کوم اقدام نه دی شوی .

د کرهڼې د وزارت له خوا د قطغن د ولایت توسعوي نوی جوړ شوی مدیریت ته لار ښوونه شویده چه د زراعتي ښو سامانونو او آلاتو او هغو زراعتي سامانو د برابرولو په باب کښې چه پر، حیواني قوې په کارلویږي لازم اقدامات وکړي .

د کرهڼې د ماشیني کولو د پراختیا په غرض په دې وروستیو وختو کښې اوه دانې تراکټور ونه پېرودل شوي او د مربوطو سامانو سره یې د قطغن د ولایت بزګرانو ته د مرستې او تشویق په نامه ورکړی شویدي او هم په نظر کښې دي چه شپږ تراکټورونه نور هم وپېرودل شي او بزګرانو ته د استفادې له پاره ورکړی شي .

دیوه کوچني ورکشاپ د جوړولو په باب کښې (چه د هغه سامان د آی ، سی ، ای له خوا امریکا ته ارډر ورکړی شوی دی او شپږ میاشتې وروسته به راورسیږي) اقدامات شوي دي او د هغه ودانۍ به په بادام باغ کښې جوړه شي .

دوه تراکټورونه د ننګرهار ولایت ته او دوه بولډوزرونه په بادام باغ کښې او یو تراکټور د مرکزي کارونو له پاره نوي اخیستل شوي او د یوه هیئت تر نګراني لاندې په کاراچول شویدي او هم داوبو ایستلو یو ډیزلي ماشین پېرودل شوی او په خرخي پل کښې د اوبو ایستلو له پاره په آزمویښتي ډول په کار اچول شویدی.

ACKU

په نظر کښې دی چه دزراعتی سامان اوآلاتو دکتنی او څېړ نې یو مر کز په بادام باغ‌کښې جوړ شی ، لکه چه د هغې د و دا نۍ نقشه د مر بو ط ا نجنیر د نظر یې له مخې ترتیب اوکار به ئې‌شروع شی . دهغو له جملې څخه دکر هڼې دوه‌سوه سیټه ساده سامان چه‌دحیوان‌په‌ذریعه په‌کار لوېږی ددغو سیټونو نه حیوانی خارجی‌څودانی لدی دځینو تغییراتو دکولولپاره په‌آزمویښتی‌ډول په‌کار اچول‌شوی‌دی اوڅونورهم دننگرهار اوقطغن ولایتونوته استول شوی‌دی چه‌دخلکو دتشویق اوبلدولولپاره کروندگروته‌ورکړی‌شی، دهغو نورپاتی سیټونه په‌مرکزکښې ترتج بې اوآز مویښت لاندی دی اودمثبتی‌نتیجی داخستلو نه وروسته به‌دهیواد کروندگروته دهغو دویشلو په‌باب اقدام وشی .

دزراعتی ماشین آلاتو اوآبیاری‌یوتن انجنیر د(آی، سی،ای) له‌خوا استخدام شوی اودکرهڼی وز رت‌ته معرفی‌شوی دی .

## دکرهڼی دپراختیادچارو په‌څانگه کښې دخلکو روزنه

دهغو فنی لایقواودتجربی خاوندانو مامورینولپاره چه دکروندگرو په‌مطلب‌ښه‌پوه‌شی دپراختیا یودرې میاشتنی کورس پرانستل‌شوی‌اودغه کورس‌دداخلی‌ښوونکو په‌ذریعه‌تدریس کیږی اوله هغو مامورینو څخه چه‌دغه کورس یې لوستی وی په آینده کښې د هیواد دبزگرانودلارښودنی اوفکرونو دروښانولو له‌پاره ښه استفاده‌کیدای شی. دغه‌کورس دخپلی دوری ترختمیدو وروسته په‌بری سره پای‌ته ورسیده .

دقطغن‌په‌ولایت‌کښې دزراعتی پراختیا دودانۍ دجوړښت اودفنی‌کسانو دروزنی په باب کښې دتوسعوی کورسونو دپاره دنهوتنو ښوونکو داستخدام په‌هکله دپوهنی له‌وزارت څخه مرسته غوښتل شویده .

دکرهڼی‌دپراختیا په‌څانگه‌کښې دفنی‌پرسونل دروزنی له‌پاره دکرهڼی‌وزارت دکرهڼی دپراختیا په‌څانگه‌کښې امریکا ، هند، اوبیروت‌ته‌دمحصلینو داستولوپه‌باب‌کښې له‌مربوطو مقاماتو سره په‌تماس کښې دی .

پوځلویښت تنه دشپږم ټولگی زده‌کوونکی‌دپیله‌وری په‌کورس کښې شامل‌شوی او د ننگرهار په‌ولایت کښې دپیله وری دمستعجل کورس اودشاتو دمچیودکورس‌ددریمی دوری له‌پاره شپږم ټولگی نه‌دفارغ شوونهو تنوپه‌باب کښې دکابل په‌مرکزکښې‌دکرهڼی دوزارت له‌خوا اقدامات شوی‌دی .

له‌هغو زده‌کوونکو نه‌چه دمچیود ساتنی په‌څانگه‌کښې به‌استخدام شی د هغودزده کړی دپای‌ته‌رسیدوڅخه‌وروسته‌به‌دنورستان‌دوگړودلارښودنی‌په‌غرض دشاتودمچیودروزنی په‌باب کښې چه‌دغه سیمه دشاتو دمچیو لپاره زیاته مساعده‌ده کارواخستل‌شی، یوتن فنی‌ماموردپکتیادولایت د زنبورداری سټیشن ته استول شوی او دری تنه‌زده کوونکی له‌هغه‌ولایت نه غوښتل شوی‌دی چه‌دکابل په‌مرکز کښې د مچیو ساتلو په‌څانگه کښې تحصیل وکړی ، دننگرهار په‌شیشم‌باغ کښې دشاتو دمچیو دنسلگیری دودانۍ دجوړیدو اودشاتو د ایستلو د سلو لاسی ماشینونو د جوړښت په‌باب‌کښې اقدامات شویدی چه‌په‌نژدی راتلونکی وخت کښې به دغه ماشینونه برابر اودننگرهار دولایت خلکوته به‌وړیا ورکړی شی ،

ACKU



دکرهڼې دوزارت په مربوطاتو کښې موظف متخصص دغنمو ټولولو او دپاکولو
په باره کښې فنی کسانو ته لازم توضیحات ورکوی .



دکرهڼې دوزارت په مرکزی لابراتوارونو کښې دآس د طاعون په ضد دواکسین
جوړولو یوه منظره



دکرهڼې‌دوزارت په‌مرکز کښې‌دشاتو دمچيو دروزلو له‌پاره په‌فني‌ډول ځايونه‌جوړشوي‌دي



دچرگوړوويستلويوماشين چه‌دکرهڼې دوزارت دخاروېو دتوليداتو په‌رياست‌پورې اړه‌لري

## دو کړو روزنه او استخدام

دسکالرشپ په توګه خارج ته ددوو تنوداستولو له پاره چه دزراعتی ابتد ائی تحصیلا تو ځخه وروسته به دهغوی تخصص وټاکل شی دداوطلب په خبر دکانکور اعلان شو ید ی چه ځو تنو درخواست ور کړیدی.

یو تن داو بو لګولو دساختمان په ځانګه کښې د پولیند جمهوری حکومت ته دسکالرشپ په توګه دشپبزومیاشتو له پاره استول شویدی .

دتوپوګرافی دڅوونځی نه ددوه ؤتنوفارغ التحصیلانوداستخدام په باب کښې اقدامات شویدی دوه تنه فنی مامورین چه دکرهنی دڅوونځی فارغ التحصیلان دی دخوراکی او زراعت د مؤسسی دآبیاری دمتخصصینو دمعاونینو په حیث موظف کړې شویدی چه داو بولو په مقدماتی کار ونو کښې وظیفه اجرا کړی .

## په لابراتوار کښې روزنه او استخدام

دخاوری پېژندنی دمتخصص داستخدام په باب کښې لازم اقدامات شویدی، دزراعتی کیمیا په لابراتوار کښې دکرهنی یو تن کیمیادان استخدام شویدی ، لکه چه دکرهنی د و زارت ددریم کال په هدفونو کښې ذکر شوې دي دکرهنی دخاورې دلابراتوار دتقویې له امله خاورتنه دهغو متخصصینو په واسطه چه استخدام کیبزی عملا ترر و زنی لاندی نیول کیبزی خو دمتخصصینو دنشتوالی له امله تراوسه پوری په دې باب کښې اقدام نه دی شوی.

دوترنری (بیطاری) ښوونځی:

دوتر نری ښوونځی دری ټولګی لری چه په لمړی ټولګی کښې یی ځلویښت تنه اوپه دوهم ټولګی کښې یې اته ویشت تنه اوپه دریم ټولګی کښې یې دری دیرش تنه په تدریس بوخت دی چه زده کوونکو دیوی دری میاشتنی رخصتی دتیرولو ځخه وروسته ۳۸۰ کال د وت په ۱۵ نیټه بیرته پخپلو درسو نو شروع وکړه.

په دغو شپبزومیاشتو کښې چه دخاروی دناروغی په مقابل کښې دکرهنی دوزارت دمامورینو له خوا مجادله شوی ده هغه په لاندی ډول ده:

| | |
|---|---|
| ۱ ــ ټاکو | ۱۹۷۳۹۵ |
| ۲ ــ انترکس | ۲۷۳۰۷۶ |
| ۳ ــ بلك لګ | ۷۸۹٦۸ |
| ٤ ــ پاسترولا | ۱۷۱٤۰ |
| ٥ ــ بلك دیزیز | ۸۰ |
| ٦ ــ انتروتوکس مینا | ۱۰۰ |
| ۷ ــ طبق | ۱٤٦۷۳ |
| ۸ ــ ټوغکی | ۱۳۲۲۸ |

همدغه راز په دغه مو د ه کښې « ۱۵٦۰۰۰ » دجګـر دچینجی ګو لی او «٤۰۰۰۰» دکولمـی د چینجـې ګولی مالدارانو ته ور کړی شوی دی، دنباتاتو دساتنی په برخه کښې دو کړو روزنه دکرهنی دلیسی دفارغ التحصیلا نو د لبزوالې په نسبت ، د نبا تا تو دساتنی درې

ACKU

میاشتنی کورس چه باید دهغه ۴۵ تنه فارغ التحصیلان دداخلی او خارجی متخصصینو ترنظرلاندی عملی او نظری تدریس کړی وای جوړ نه کړای شو. خو د نباتاتو دآفاتو او نار وغیو د متخصص له خوا دزراعتی پراختیا د کورس د زده کوونکو له پاره دنباتی نار و غیو او آفتونو په باب کښې تدریس شویدی او همدغه راز دغنمو دسرخی دناروغی تجربی په گرین هاوس اوفارمونو کښې روانی دی چه دهغی له نتیجی څخه دسرخی دناروغی په مقابل کښې د(۱۰۳–۶۸–۶۹ لمبر) غنمو دساق اوپاڼی مقاومت خرگند یږی اوددی له امله دهغی یوه اندازه دگذرگاه – گلباغ اوعلی آباد فارمونو ته دکرله پاره ورکړه شویده.

## په پنځم کال کښې

۱۴۹ تنه شاگردان دکرهڼی په مستعجله اودرې کلنو کورسونو کښې تر روزنی لاندی نیول شوی دی اوڅو تنه یې هم دکرهڼی په بیلو بیلو څانگو کښې خارج ته لیږل شوی دی.

## دوترنری ښوونځی

ددی پروژې هدف دحیوانی مجادلی، دحیوانی لابراتوار، واکسین جوړولو، مصنوعی القاح اودمالداری دچارو دپاره دبیطاری په بیلو بیلو څانگو کښې دفنی کسانو روزنه ده چه دپلان په پنځم کال کښې له دغه ښوونځی څخه ۳۲ تنه فارغ التحصیل او ۱۰۲ تنه نوریې هم تراوسه پوری په دغه ښوونځی کښې دزده کړی لپاره بوخت دی.

## دبزگرانو سره مرسته اوهغوی ته لارښودنه

دکابل دکرهڼی پراختیا : ددی پروژې هدف بزگرانو ته په دی باره کښې لارښودنه ده چه دکروندی اوکرلو دپاره اصلاح شوی تخمونه پیدا کړی او کیمیاوی سری اودنباتی نار و غیو ضد دواگانو داستعمال دطرز زده کول اودزراعتی ماشینو او آلاتو څخه په ښه کار او گټی اخیستلو کښې دهغوی تشویق کیدل دی چه ټول یې اجرا شوی دی.

## دمزار شریف او قطغن دکرهڼی پراختیا

دمزارشریف او قطغن دپراختیا دپروژې مقصد دعصری کرهڼی دښو اصولو په باره کښې بزگرانو ته لارښودنه ده، لکه دکرهڼی دماشین اوآلاتو داستعمال طرز، دښه تخم پیدا کول دکیمیاوی سری استعمال، د نباتاتو په تیره بیا د لبلبو او پنبی د کروندی او اصلاح د پاره د کرهنی د ښو لیارو تبلیغ او زده کول دی چه د پلان په پنځم کال کښی تطبیق شوی دی.

## د کرهنی میتو دونه یا ښه اصول (د لیدنی، کتنی او اوریدنی یعنی سمعی او بصری مرسته)

دکرهنی وزارت دپلان په څلورم کال کښی د اوریدنی اوکتنی د لارښودنی یومرکز د بزگرانو او مالدارانو سره د مرستی او لارښودنی د پاره تاسیس او دسامان او آلاتو په

ACKU

لحاظ تر يوې اندازې پورې مجهز شوی دی او د پلان په پنځم کال کښې د مجلو ،راديو او د فلمو د ښودلو په واسطه د مملکت بزگرانو او مالدارانو ته د کرهنې د ښواصولو په تطبيق کښې تشويق او مرستې کړی دي .

## دتجربوی فارمونو اولا براتوارونو چارې د پلان په لومړي او دوهم کال کښې

د حبوباتو د تخمونو ، غلې او سابو د تخـم اودهغو ډو لونو په باب کښې چه د ناروغيو په مقابل کښې مقاومت لرې او زيات حاصل ورکوی په تجربوی فار مونو کښې تجربه و شـوه او د مثبتـې نتيجـې د اخستلـونـه وروستـه بـزگرانو باندی ويشل شو يـد ی يوه اندازه ښه تخم هم لهخارجنه رارسيدلی دی .

## په دريم کال کښې

د پښتني د شرکت مامورين ديو شمېر نورو کسانوسره مؤظف کړی شول چه پـه قندز قلعه‌ذال ــ حضرت امام ــ خواجه غار ــ دشت قلعه ــ خا ن آباد ــ آقچه ــ شبرغــان ــ بلخ ــ نهرشاهی ــ کشنده ــ دولت آباد ــ خلم ــ او په نورو ځايو کښې په لواو دپنبه دانې په ذخيره کولو کښې د بزگرانو سره مرسته وکړ ي او د پلان د دريم کال د پنبې اولبلبو دکرد پاره په ولاياتو کښې کرونده گروته دغه اندازه پنبه دانه او دلبلبو تخـم ويشل شوی او کرل شويدی : ــ

الف : پنبه دانه .

| | |
|---|---|
| ۱ ــ د قطغن ولايت | ٤٣٤٥٨٥ ــ منـه |
| ۲ ــ د مزارشريف | ۸۳۲۷٥ ــ منـه |
| ۳ ــ د شبرغان او اقچی ولايت | ٥۹۰۰۰ ــ منـه |
| ٤ ــ د ميمنې اعلی حکومت | ۲٤۷۰۰ ــ منـه |
| ټوله | ٦۰۱٥٦۰ منه ښه پنبه دانه دکرلپاره ويشل شويده. |

ب : د لبلبو تخم

د بورې دلاسته راوستلوله پاره چه د لبلبو کومه اندازه تخم د قطغن د ولايت په غوری او بغلان کښې ويشل شويدی هغه ۱٤۳ ټنه دی او هم د لبلبو دتخم او پنبه دانې د کرلونه وروسته دکرهنې مامورين د للون ( خبشاوه ) او پهٔ کولو په چارو کښې بزگرانوته په لار ښودنه بوخت شويدی .

په ځينو سيمو کښې لکه په سرای خواجه ، استالف ، کلکانو کښې د « نيريد » غنم چه د ناروغې په مقا بل کښې ښه مقاومت لرې کرل شويدی اوکيمياوی سره لکه نا يټريت اوسوپرفاسفيت په آزمايښتی ډول تطبيق کړی شويده ترڅوچه بزگران عملاً د هغې نتيجه وگوری . او هم دشکر درې ، وردکو ،ده سبز، پغمان او د بگرامېو په حکومتونو کـښـې «دنيريد» غنم او شپيښته کرل شويده او خلکو د هغو د حاصلاتو نتيجې پخپلوسترگو ليدلی دی چه گټورې ثابتې شوې دی .



دباغ بالا دنیا الگیو اینبو دلو او دناجودو نو دقوریی یوه منظره چه دتیر کال نه تراوسه پوری دهغی چاری دپرمختگ په حال کښی دی .



دناجو گانو دنیا لگیو قوریه چه په باغ بالا کښی نوی جوړه شوی ده



په بغمان کښې د نیالګیو قوریې چه هلته هر ډول نیالګي ایښودل او روزل کیږ ی



داځوړوله نیالګي دبغمان په قوریه کښې د تکثیر په مقصد تر روزنې لاندې نیول شویدي

کیمیاوی سره

خلکو دکیمیاوی سری بیل بیل ډولونه‌لکه نایټریت ، سوپرفاسفیت او پوتاسیم او نور پخپلو ځمکو کښې په کار اچولې او د هغو په‌کار اچولوډولئی زده کړیدی. په تیرکال کښې د زراعتي پراختیا متخصص د تجربې‌له پاره‌کیمیاوی سره په ځینوځمکو باندی دسه آ ب بگرامیو ، تلعه قاضي او چوکی ارغنده په‌سیمو کښې‌تطبیق کړه چه دغوتجربو د - اصل د نقطه‌نظرڅخه‌داډ ورنتیجې ورکړی‌دی .

الف: په هغه ځمکه کښې چه سره یاکیمیاوی کود یعنې‌پنځلس پونده نایټرو جن‌اچول شویدی په‌هرجریب کښې په‌منځنی اندازه حاصل ۴۲ منه‌دی .

ب: هغې ځمکې ته چه دیرش پونده نایټروجن ورکړه شوی‌دی وسطی حاصل یې‌په‌یوه جریب کښې ۴۷ منه دی .

ج: په‌هغه ځمکه کښې چه‌دیرش پونده نایټروجن اوشل پونده فاسفورس‌استعمال شوی‌دی دهرجریب وسطی حاصل ۶ر۵۳ منه‌دی .

د: په هغه‌ځمکه کښې چه شل‌پونده فاسفورس استعمال شوی‌دی په‌حاصلاتو کښې یې په منځنی اندازه په سلو کښې‌شل زیاتوالی راغلی دی چه دغه پورتنی انداز، دابښیی چه دغنمو په حاصلاتو کښې دکیمیاوی سری تطبیقول دډاډوړده . دعلی‌آباد او دگذر گاه د قو ر یی «۲۱۷۶۰» دانی میوه لرونکی اوبی‌میوی‌نیالگی اصلاح شوی اوخلکوته ور کړ شویدی.

تجربوی فارمونه

د علی آباد په‌فارم کښې دخارجي سابوسره دمحلی سابو ډول دانډول کو لو په غرض دسابو دبیلوبیلو ډولونو تخمونه آزمویل شویدی اود۱۹۰ازمایښتونو نه نهه او یا دو له یی موفق ثابت شوی‌دی ددغو نباتونو تخم پربزگرانو باندی دویشلو له پاره را رسیدلی دی . دوه‌سوه‌ډوله‌سابه اودغرنیوونو ځینې تخمونه دترویج او تکثیر په‌غرض دننگرها ر و لایت‌ته استول شوی دی .

دپنبې ٤٤ نمبر اکاله دثابتو اودداډوړ آزمیښتونونه وروسته په اتابلاقی زراعتی فارم کښې زیاتوالی موندلی دی . پنځه دوله جوار او یوډول مصری غنم چه د سرخی دناروغی په مقابل کښې مقاومت لری په اتابلاقی سټیشن کښې تر آزمویني لاندی نیول شوی دی .

دپنبې دشپږو دولونو اودلبلبو دپنځو ډولونوله جملی نه‌چه تر آز مویښت لاندی نیول شوی‌وو څلور ډوله پنبه دانه اودوه دوله لبلبو دحاصل او قندی موادو فیصدی ددرلودلو له نظره دداډ وړ اوښه ثابت شوی‌دی . بزگرانوته ددغو تخمونو دویشلو په باب کښې‌اقدامات شوی دی . دهند څخه دلبلبو تخم رارسیدلی اودسرخی دناروغی په مقابل کښې د مقاومت دآزمویلو لپاره په تجربوی فارمونوکښې‌کرل‌شویدی.

په گرین هوس Green House کښې ۳٤ دوله‌سره بانجان ، ۱۲۰ دوله مرچ ۵۰دوله گلدار کرم ،څوارلس ډوله دوبه یی کرم ، دری‌دوله توربانجان اوه دوله پالك،دری‌دوله کاهو ، ٦ دوله‌هندوانه، څلور دوله‌ملي، نهه دوله‌گازري،٦دوله‌لوبیا، اته دوله پټه‌ئي کدو



په غازي ستوډیوم کښې د ۱۳٤۰ کال دبزگر دورځې یوه منظره (کابل)



په کابل کښې د ۱۳٤ کال په اوم ړې ورځ چه دبزگر په نامه یادیږي د پایتخت
بزگرانو دکرهڼې دعصري ماشینو پواسطه خلکو ته بیلې بیلې ننداره او ښودلې



په پغمان کښې دخوړولو نیا لګیو قوریې چه‌دد خیری له‌پاره جوړې‌شوی‌دی



په تنګی‌غارو کښې د نیالګیو یوه قوریه چه‌دکرهڼې دوزارت‌له خوا جوړ ه‌شویده

ACKU

اته دوله‌بیاره‌دارکدو، سربیره‌پرتیروشوو تجربوله هغې‌جملې‌نه دوه‌دوله‌گلدارکرم اودرې دوله دوبه یی کرم ژر ورسیدل اودې تولو پالکو ښه حاصل ورکړی‌دی او د پر نازکدې او دهرو شلـو ورځونو وروسته حاصل ورکوی اوزرتخمې کیږی نه .

## دنسلگیرې‌مرکزونه

په قندهار کښې دپسه تجربوی نسلگیری جاری ده .

دقره‌قل نسلگیری دقطغن په‌ولایت کښې په یوه تجربوی فارم کښې شروع شوی اوددې مقصدلپاره پنځه سوه جریبه ځمکه هلته اخیستل شوې‌ده ، له شوروی اتحاد نه درا وړل شوو آسانو څخه اوه بیانه واخیستې شول او۲۶۰ ـ۱ سپی‌ددغو آسانو سره یوځای شوی .

## په‌څلورم کـال کښې

دپنبې دښه‌تخم اودهغې دسورت دټاکلو په باب کښې د کرهنې وزارت دشبرغان. قطغن اومزار شریف دپنبې له شرکتونوسره په تماس کښې‌دی اودپنبې مامورین په نوموړو لایتونو کښې په خدمت لگیا دی .

## تجربو ی فارمونه

دقطغن داوتوبلاقی تجربوی فارم چه‌پنځه‌سوه جریبه ځمکه‌لری دپلان‌په در یم کال کښې دهغه کار تراجرا لاندی نیول شوی‌دی چه تراوسه جریان لری اوددغه‌فارم څوملحقه‌ودانۍ ترساختمان لاندې‌دی خوتراوسه‌پورې داستفادې وړنه‌دی گرځیدلی.دهغې دضروریه‌سامانونو اوآلاتو دپیرودلو په باب کښې لازم اقدامات شوی‌د ی اواوس دهغې‌دآوارولوکار جاری‌دی ددغه فارم دضرورت وړمتخصصینوداستخدام په باب کښې دکرهنې‌وزارت دخارجې‌منابعو سره په خبروکښې دی .په دغه‌فارم کښې دپنبې اوغنمو تجربې شوې‌دی اودپنبې‌ښه‌تخم اودنیا لگیو بزغلې تراجرالاندی دی .

دمزارشریف‌په‌تجربوی فارم کښې دری‌سوه جریبه ځمکه ټاکل شویده اودهغې‌دپیر ودلو په باب کښې دکرهنې وزارت دځمکو دخاوندانو سره په تماس کښې‌دی او ممکنه‌ده چه‌ددغه فارم دجوړیدوکار په همدې نژدې وختو کښې شروع شي .

دلبلبو دکروندو داصلاح اوکتلولپاره له لویدیز آلمان څخه دیوه تن‌متخصص‌دا ستخدام په باب کښې دپلان دوزارت له لارې خبرې‌شویدی . ددارالامان دنجارخانې دتجربوی فارم له پاره دغنمو داصلاح‌دیوه تن متخصص داستخدام په باب کښې دمربوطو موسساتوسره خبری شویدی اویوالحې ددوومیاشتو له پاره یوتن شوروی متخصص دغه کارته موظف شو ی و . هغه اقدام چه په دغه تجربوی فارم کښې شویدی عبارت‌دی دنجارخانې له‌باغ څخه چه څوارلس جریبه ځمکه لری اودبزغلې دونو دپرښت لپاره دجاپانی‌توتانو ونې تخصیص کړ ی‌شویدی چه هرکال دمیوه لرونکو پیوندی یویوشمیر نیالگی اودځمکنی‌نیالگیو اوبوټویوه اندازه‌له هغه ځای نه لاسته راځی‌اوویشل کیږی .

دننگرهارپه عبدالخیلوکښې دگنی په‌باب کښې دتجربوله‌پاره تجربوی‌فار مونه‌جوړشوی

اوهم یوه اندازه گنی ددغه‌مقصدله پاره له هند څخه راوړل شوی‌اوپه‌دغه فارم کښی‌ترتجربی اوتکثیر لاندی نیول شویدی .

د امریکا دبین المللی مرستی داداری په کمك د نبر ید څلو یښت ټنه غنم را رسیدلی او څرنګه‌چه دغه‌ډول غنم د سر خی د نا رو غیو په مقابل کښی زیات مقاومت لری اوپه‌یوه جریب‌کښی‌یې وسطی‌حاصلات دوطنی‌غنموترډولو نوزیات دی دکابل‌دولایت دشاوخوالکه لوګر میدان ، وردك ، کوهدامن اودکابل په‌ولایت پوری مربوطو شپېز ګونو حکومتونو ته‌ورکړی شوی اوکرل شویدی .

همدغه راز دشوروی اتحادڅخه لس‌زره ټنه تخمی غنم راوړل شوی او دهیواد په شمالی سیمو کښی د کرلو دپاره ویشل شویدی .

په مرکزی فارم کښی شپېزشپیته ډوله وطنی اوخارجی غنم دحاصل او دسرخی دناروغی په مقابل کښی دمقاومت له نظره ترتجربی لاندی نیول شوی‌دی اودامریکایی پڼاتو اودوطنی دوه ډوله پڼاتو کرل ترتجربی لاندی‌دی، په داخلی اوخارجی‌ډول سابو باندی ددغوسبزیجاتو دکمیت اوکیفیت دنقطهٔ نظره دتجربی په‌باب په راتلونکی کال کښی د مرکز په تفحصا تی سټیشن کښی مقد ماتی اقدامات شویدی . دکرهنی‌دوزارت‌دمربوطو بزغلیوله پاره‌دمندتودوه پنځوس منه زړی ، دناجو څلورمنه تخم اوداکاسی اته منه تخم دکابل شاو خوا باغو نو څخه لاسته راوستل شویدی . دارهندی دتخم دکرلو په باب کښی د ولایاتو دکرهنی مدیریتونو ته لارښودنه‌شویده چه دهغوی له خوا کرل‌شوی اودتکثیر په حال کښی دی اوهم دآفتاب‌پرست تخم دقندوز اومزارشریف دکرهنی دمدیریت په تجربوی فارم کښی‌ترکرلاندی نیول شویدی اوهمدغه راز دری ډوله اول ـ دوهم اودریم نمبر تنباکو چه له‌چین‌نه راوړل شوی‌وو دولایاتو دکرهنی مدیریتونوته دکرلو لپاره استول شویدی .

دکبلی ٣٨٩ کیلوتخم له خارج څخه راوړل شوی اودبګرام‌هوائی‌میدان ته دکرلولپاره استول شویدی . دعصری‌ګرین‌هوس دودانی کارچه په مرکزی فارم‌کښې په‌نظرکښی‌نیول‌شوی‌و دآی،سی ای په مرسته سرته و رسید .

## دزراعتی سامان او آلاتو مرکزونه

دزراعتی ماشینو اوآلاتو داستعمال په‌څانګه کښی خارج‌ته‌ددووتنوافغانی محصلینو استول په نظرکښی دی .

## دنسلګیری مرکزونه

په قندهار کښی دغلجائی اومرینوس‌پسو نودجنس اصلاح دوام‌لری اودهغه‌ولایت دتر بیوی سټیشن دتقویی لپاره دمرینوس ١٢٣ مېږی اوقوچان له مرکز څخه هلته استول شویدی‌اوهم په دغه سټیشن کښی دپسونو دغو جل اودپسونو دپرې مینځلو دډنډ دودانی کار روان دی . بزغلی:دکرهنی دوزارت دمربوطو بزغلیو څخه‌چه‌دبیلو بیلوجنسو نو نیالګی‌پکښی‌روزل‌شوی‌وو په‌لاندی ډول په‌څرخی پل او تنګ‌غارو کښی کښینول شویدی :




په‌تهران کښې دکرهڼې اوخوراکي‌موادو دجهاني‌موسسې ديو کنفرانس‌منظره چه‌دآسيا دطاعون په‌باره‌کښې‌جوړ شوی و، په‌دغه‌کنفرانس‌کښې
د افغانستان د کرهڼې د وزارت‌يوهيأت‌هم‌ګډون‌درلود



دکرهنی دوزارت په سالون‌کښې دهیواد دشمالي ولایاتو دبزگرانو او څمکو لرونکویوه ډله چه دکرهنی دپراختیا پهشاوخوا کښې
دکنفرانسواوریدلولپاره‌راغونه شوی‌دی

اکاسی ۳۹۱۲، ار غوان ۳۸۰۰ ،خسك توتان ۲٦٤۸ ، مندتی ۵۷۰ ، با دام ۳۵۰ ناجو ۳۸۰ ، د غره تاك ۲۰۰ نیالګی . دتنګ‌غارو دسیندپه ځنډوکښې د «دولی «۳۰۰۰ قلمی،دځرخی پل په‌یوه‌برخه کښې داکاسی‌یوه اندازه تخم دتجربې‌په ډول‌کرل شو یدی او دهغو نیالګیوبیخونه چه‌پخواپه‌ځرخی‌پل‌او تنګ‌غارو کښې کښینول شوی و و تقریباً څلویښت جریبه‌ځمکه یی‌نیولی‌ده‌کیندل‌شویدی،داعلیحضرت‌شهیدد مقبرې په‌غونډۍاودقرغی په‌غونډۍ کښې‌دونواو نیالګیو کښینول په‌دغه‌ډول جاری دی :

الف : داعلیحضرت‌دمقبرې‌په‌غونډۍ‌کښې.

۱ ـ دناجود نیالګیودکښینولو له‌پاره‌دپنځه‌سوومترو په‌اوږدوالی اودیومترسور په اندازه دخیابانو نوجوړول .

۲ ـ دمقبرې د غونډۍ‌دپاسه دهراتي ولی دډېرشو زروقلمو کښینول .

۳ ـ ددوهم ډنډدنل غزول او دسرك تربرخی پورې‌دهغه رسول .

٤ ـ دمقبرې په‌غونډۍ کښې‌چه یوشمیر نیالګی پخواکښینول شوی وومراقبت او شا خه برې کرې‌شول .

ب : دقرغی په‌غونډۍ‌کښې :

۱ ـ دقرغي د غونډۍ په لمن کښې د اوو سوو مترو مساحې اوارول او په هغې کښې دنیالګیو کښینول .

۲ ـ دقلعه شاده د برخی نه د پغمان تر وروستی بز غلی پورې د نیله څنار دزرو دانو نیالګیوایښودل.

۳ ـ دشاړی‌اومخروبې بوجریب ځمکې اوارول اودلښتیو ایستل او پشتی جـوړول او د ۱۳۳۹ کال دکرله پاره دهغې تیارول .

## په‌پنځم کال کښې د کرهنې دتجربوی فارمونو تاسیس

دکرهنې وزارت په‌دوهم پنځه کلن‌پلان کښې‌په نظر کښې لری چه‌په ولایاتوکښې‌اساسی تجربوی فارمونه جوړ کړی چه‌دتخمونو داصلاح کولواوزیاتولوتجربې‌په‌فنی‌ډول‌له نږدې‌څخه تر اجرالاندی ونیسی اوددغه مقصد دپاره‌په مقدماتی صورت‌دپلان په‌پنځم کال کښې‌تجربوی فارمونه هم‌داخل کړی دی.

### دقطغن دا ورته بلاقی فارم

دقطغن داورته بلاقی فارم په‌پروژه کښې دغلو، حبوباتو ، دصنعتی نباتاتو دښو تخمونو تجربه اودغه رازښه جنس حیـوانات نسلګیری اوروزل شوی‌دی‌اوهم‌ددغه‌ولایت اودګاونډی ولایـت دبزګرانو دلاربښودنې دپاره دزراعتي توسعې فنی‌کسان په‌بیلو بیلو سو یـوترروزنی لاندی نیول شوی‌دی،دغه‌پروژه دمخصو ص وجهـی صندوق پـه‌مرستـه په کارشروع او تر پنځو کلونو وروسته به‌پای ته‌ورسیږي.

### دمزارشریف د کرهنې تجربوی فارم

په مزارشریف کښې په‌دغه‌کال کښې‌دفارم دپاره «۳٤۵» جریبه یوه مناسبه ټوټه ځمکه اخیستله شوی ده .

## دهرات د کرهنی تجربوي فارم

په هرات کښې دیو تجربوی فارم جوړیدل په نظر کښې نیول شوی‌وو چه دهغه کارتریوی اندازی هم تکمیل شویدی او په هغه کښې دوریښمو دچینجیو دروزنی دپاره د ټولونه زیات په غلو ، پسته ، لبلبو او جاپانی توتانو باندی تجربه شویده .

## دننگرهار د کرهنی تجر بوی فارم

په تنگی توغچی کښې دگنیو دتخم داصلاح اوزیاتیدلواو دحیوانا تو دروزنی دپاره د تجربی په غرض یوه ټوټه ځمکه تخصیص ورکړل شویده چه په لومړی مرحله کښې یی‌و رشوگانی په فنی ډول اصلاح اود اوبولگولو سیستم یی تنظیم شویدی.

## دلابراتوارونو چاری دپلان په لمړی اودوهم کال کښې

دزراعتی کیمیا دلابراتوار وړسامان له خارج نه پلورل شوی‌اویوه اندازه یی کابل تــه رارسیدلی‌ده .

دقطغن اودننگرهار دولایاتو خاوری دنمونی په ډول ترتجربی لاندی‌نیول شویدی.

## په دریم کال کښې

دزراعتی کیمیا په لابراتوار کښې پوتن محلی‌متخصص دلابراتواردفنی‌او اداری خانگی دجوړولو په غرض استخدام شوی اود کرهنی دښوونځی‌شپز تنه نورفنی فارغ‌التحصیلان د هغه دمعاونینو په حیث وټاکل‌شول، دننگرهار دحکومتی باغونــو او په قطغن کښې دپنبی او لبلبو دځمکی خاوری نمونی دتجزیی له‌پاره لاسته راوستی‌شوی دلابراتوار لازم‌ماشینونه‌اونورسامان لکه « ٤٤٠ » دانی‌لاسی اوبرقی شیندونکی دپودر شیندلو یوسیټ ماشینی آلات اوکیمیاوی‌او دحشراتووژونکی ډول‌ډول موادد قطغن اوهرات دولایتونودفارمونودسروی‌له‌امله‌دوه‌سرویسونه تاسیس شول‌اودهریوه له‌پاره یی دلابراتوار ماشینی آلات‌اوسامانونه‌برابر کړی شول، همدغه راز دد غو سروېگانو لپاره دمناسبو ودانیودجوړښت په‌باب کښې هم لازم اقدامات شویدی .

دمتخصصینو اوانجنیرانو په مرسته په کابل کښې دنباتی ناروغیو او مضرو حشراتــو د لابراتوار دودانی نقشه طرح اوترتیب شویده .

دنباتی ناروغیو متخصصین دمرکز ، هرات او قطغن دولایاتو په لابراتوارو نو کښې د نباتی ناروغیو په څیړنو بوخت دی اودهغوی د کلکسیون دترتیب کارجاری دی .

دمرکز دواکسین جوړولو په‌لابراتوار کښې دضرورت وړواکسینونه جوړ شویدی او د سبز کال په موده کښې د (١٠٢٦٠٥٠) څارویو له پاره دډول ډول ناروغیو واکسینونه بر ابر شویدی چه‌داستفادې په‌غرض موظفو کسانو ته سپارل شوی‌اوهم‌دقطغن‌په‌ولایت کښې‌دځمکینو چینجیو په مقابل کښې د مجادلې کولو په با ب کتنې څیړنی روانې دی چه ددغو چینجیو دورکولو د موفقیت په صورت کښې به چه دهغه ولایت کرونده گروته زیات تاوان وراړوی دغه اقدام تعمیم کړی شی .

ACKU



ACKU

د ۱۳٤۰ کال په لومړۍ ورځ د بغلان د یوه مربوط ښوونځي دوې زده کوونکې نجونې
په پښتو او فارسي خپلې وینا اوروي



په بغلان کښې د ۱۳٤۰ لمریز کال د نوي کیدو د ورځې په مناسبت ځینې
پیغلې او نجونې ننداره چیانو ته نغمې او ترانې اوروي



په بغلان کښې د ۱۳۴۰ کال په لمړۍ ورځ د ښوونځي د هلکانو او نجونو د ورځې
په استقبال د خوښۍ مجلسونه جوړ کړی شوي دي



په بغلان کښې د ۱۳۴۰ کال د بزگر د ورځې يوه منظره چه خلکو د دغې
ورځې د مراسمو د ننداري د پاره راغونډېږي

دکرهنې دښوونځي‌ش پېژتنه فارغ‌التحصیلان داوبو اوخاورو په لابراتوارو کښې دفني مامورینو په حیث شامل کړی شویدی چه په لابراتوارو کښې دمتخصصینو تر نظر لاندې کار وکړی .
دکرهنې وزارت غواړی چه دخاورې دتجزیې له پاره یوتن متخصص له خارج نه استخدام کاندی اوهم دلابراتوارونو کمبو لوازم که دخارج نه وی که له داخل نه تهیه او تدارك کړی تر څو چه لابراتوار ونه له هره حیثه مکمل اومجهز وی څرنګه چه دلابراتوارونــو ودانۍ اوس په فني اوعصري اصول نه دی جوړی نو داسی تجویز شوی دی چه دخاورې دتجزیې دلابراتوار لپاره یوه نوی ودانۍ جوړه کړی شی، د قطغن ا و ننګر ها ر د ولایتونو خاور و په باب کښې چه دتجزیې له پاره راټوله شویده ویل کیدای شی چه دقطغن دولایت نه دخاورې څلورسوه نمونې راوړل شوېدی ، دکرهنې دوزارت لابراتوار دهغو نه دیوسل نمونو په تجزیه کولو بریالی شویدی اونورې پاتی نمونې ئې ترتجزیې لاندې نیول شویدی چه د درستو خاورو دتجزیې څخه وروسته به وروستی نتیجه واخیستلې شی . ترهغې وروسته به دقطغن دولایت خاورې تجزیه‌شی اوننګرهار دولایت دخاورې په تجزیه کولو به لاس پورې شی . بایدوویل شی چه په دغه موده کښې دهرات دولایت دخاورې پنځلس نمونې دکانو اوصنایعو دوزارت له خوا د تجزیې لپا ره د کرهڼې دوزا ر ت د خا و ر ی د تجزیې لابراتوار ته راوړل شوی دی چه دغه خاوره تجزیه او نتیجې ئې بشپړی شوی او هغو ته وروسپارلې شوی .

## په څلورم کال کښې

دزراعتی کیمیاوی لابراتوار دضرورت وړیوه برخه سامان هفرانسې څخه پیرو دل شوی اویوه‌اندازه نورلوازم دنړیه دخوراکی اوکرهڼې دسازمان نه رارسیدلې دې دهغو سامانونو بیه چه له فرانسې څخه پیرودل‌شوی ۸۰ر۸۲۹ ډالره دی اوهم ۴۷۳۹ افغانۍ ده غې کرایه ورکړی‌شویده همدغه‌رازدمرکزی لابراتوار شپېته قلمه سامان دملګروملتو له لاری رارسیدلی دی،
دقطغن دولایت دخاورې څلورسوه نمونې اودننګرهار دولایت پنځه اتیانمونې دهغوولا یتونو دخاوری دجوړښت دنقطهٔ نظر څخه تجزیه شویدی اوهمدغه رازدکیمیاوی سرې د ډولونو ۱۸۰ نمونی چه له قطغن اوزراعتی بانك څخه رارسیدلې وی تجزیه شوی اودهغو نتیجې خپلوخپلو مراجعوته ورلیږل شویدی .
دمرکز دتفحصاتو په کروندو کښې دکیمیاوی سرې تطبیقې تر اجرا لاندې دی اودکرهڼې له بانك څخه ۳۰۰ کیلو کیمیاوی سره راغوښتل شوې ده .

## په پنځم کال کښې

## دکابل دزراعتی کیمیانوی لابراتوار

دغه پروژه دبیلوبیلو سیمو دکرهڼې دخاورودتجزیې اودهغو نباتاتو د تجزیې د پا ر ه رویکارشوی ده چه دکمیایی عناصردنه لرلوپه لحاظ کسرمنه‌او علیله ده .
اودغه پروژه ددی‌د پاره په کاراچول شوی ده چه دهغی‌سرې تاکلی اند ازه اونوعیت چه ځمکه اونباتات ورته ضرورت لری په دغه لابراتوار کښې‌یې ترتجربې لاندې نیول‌شوی‌دې اودتجزیې دنتیجوداخستلو نه‌وروسته‌چه‌دځمکې دکمزورې اساسی‌غلت‌معلوم‌شول دکمیایی‌سرې

اود حیوانی سرې داستعمال او کښت او کروندې د نوبت د طرز په باره کښې لازمې لارښودنې بزګرانو او دهقانانو ته ورکړ شویدی .

## دقطغن د کرهڼې د کیمیاوي لابراتوار

ددغه لابراتوار وظیفه د کابل د کرهڼې د کیمیاد لابراتوار دوظیفې په شان ده ، ددغه کال په ترڅ کښې یې زیاتې چارې بشپړ ی شویدې.

## دمرکزد نباتاتو د ساتنې لابراتوار

دپلان په پنځم کال کښې ددغه لابراتوار دسامان او تجهیزاتو په پیرودلو اودهغه دو دانۍ په جوړولو شروع شوې ده چه دهغو چارې یوه لویه برخه هم پای ته رسیدلې ده .

## د قطغن او هرات د نباتاتو د ساتنې لابراتوار

دسروې مجادلې دپاره چه د نباتې ناروغیو په مقابل کښې شوې دې د قطغن او هرات په ولایتو کښې دنباتې ناروغیو یو یو لابراتوار جوړ شو اوهم یو اندازه سامان او لازمې دواګانې دفنې مامورینو سره دقطغن ولایت ته لیږل شوې دی، په اساسی ډول ددغو لابراتوارو دو دانیو د جوړولو کار دپلان په پنځم کال کښې سرته ورسید .

## دځنګلونو چارې دپلان په لومړی اودوهم کال کښې

دځنګله دعادی ناروغیو دتاکلو اوپه پکتیا کښې دمندهیر دځنګله دسروې کولو له پاره مقدماتی ترتیبات نیول شوی اودڅهار پتې، څرخی پل اودتنګ غارو د یوشمیر نور وغونډیو د کانتور کرښې ټاکل شوې دی .

## په دریم کال کښې

دپغمان په ستیشن کښې دونو دکښینو لوله پاره پنځه هکتاره او ۲۴ جریبه ځمکه برابره کړې شوې اودقرغی ،مرنجان اوچونغر دغونډیو لمنی دونود کښینولوله پاره اوارې شویدې همدغه راز دباغ بالا ځمکې هم بیادونو دکښینولو له پاره تیاره کړې شویدې .

دپکتیا دولایت دځنګلونو دکتلو له پاره خارجی او داخلی متخصصین هغې خواته استول شویدی اوهغوی دافغانستان دځنګلونو دآینده خطمشی اودهغه ولایت د ځنګلونو په باب کښې خپل رپوټ دکرهڼې وزارت ته وړاندې کړې دې چه دهغوې دنظریاتو له مخې دځاځیو دمندهیر دځنګلونو نه دګټې اخیستلو په باب دکرهڼې وزارت لازم تصمیموته ونیول .

دخوست په لوی حکومت کښې دمرزی دځنګله یوه برخه ستره شویده او حکومت دهغو دونو پریکول بند کړیدې ترڅو چه ولیدل شی چه دغه ونې اوبوټی ترکومې اندازې لوئیږې اوپخپل ډول کښې کوم بدلون پیداکوې که نه ؟ دځاځیو دمندهیر په ځنګلونو کښې هم د ځنګله ځمکه دورشو ګانو دآزموینې له پاره قرغ شویده ، اوهم په پیواړ کښې دتهاټې په شاو خوا کښې دلمنزې نیالګې چه پخپله له ځنګله نه دهغې دلازمو شرایطو سره سم دځنګله دفنې متخصصینو په ذریعه ایستل شویدی اودځنګله په تشو ځایونو کښې دسره کښینول شویدی لکه چه نتیجه څرګندوی



ACKU

دقطغن‌په‌ولایت کنبی دحسن‌تالدبروق‌ساختمانی چاری چه‌داجمیرویاله‌ددی بروق لا ندی‌تیر یږی



په قندز کښې دپنبې داتحادیه شرکت ځینې‌فنې کسان دپنبې د سورت کو لو
په‌چارو بوخت‌دی



د۱۳٤۰ کال‌د حمل په میا شت کښې هغه و خت چه‌دبز گردور ځی په‌مناسبت
ځیني ماشینی آلات‌دمملکت په‌شمالی برخو کښې‌وښودل‌شو

د غه مسئله تراوسه پورې په بریالیتوب پای ته رسیدلې ده. دده مرادخان اوده دانا په ځنګله کښې یوشمیرخاګانی کیندل شویدی اودونوپانې پکښې راغونډې شویدی چه په فنی اصو لوله هغونه کمپوست جوړشی اوپه راتلونکې کال کښې له هغو نه استفاده وشی اوهم دخیرخانی د کوتل نه د بګرام ترهوایې میدان پورې «۴۱۰۰، کندې کیندل شوېدی چه په راتلونکې کال کښې به په هغوکښې دناجو، اکاسی، بادام اوارغوان نیالګی کیښودل شی .

داعلیحضرت شهید دمقبرې په غونډۍ دپنه کولوله پاره «۴۰۰» مترونل غزول شو یدی باغونه

دباغدارۍ یومتخصص له خارج څخه راغوښتل شویدې ،

دباغوانی دکورس دری تنه زده کوونکی چه دپکتیا په ولایت اوددې تنه د ننګرهار په ولایت کښې دپیوند ولو دچارو له پاره استول شوی و، دغوزده کوونکوپه پکتیاولایت کښې «۲۰۰۰۰» دانې میوه لرونکې نیالګی اوهمدغه راز دننګرهار په ولایت کښې یوزیات شمیر نیالګی پیوند کړی او(۹۰۰۰) ونې یې شاخ بری کړیدی .

سربیره پردی دباغوانی دکورس ۱۹ تنه زده کوونکی فارغ اود مامورینو په حیث په بست کښې نیول شویدی اوپه نظر کښې دی چه دغه کسان دباغوانی په چاروکښې په مرکزاواطرافو کښې وویشل شی ترڅو په فارمو کښې دفنی دستور سره سم دپریکولو وپیوند ولواو باغوانی په نوروچارو کښې خدمت وکړی .

زینتی اومیوه لرونکې ونې دپکتیا، قندهاراوهرات له ولایتونوڅخه کابل ته ر ار سیدلی اودننګرهار ولایت ته استول شویدی اودغه ځای په باغونه کښې کښینو ل شویدی ، یو شمیر میوه لرونکی اوتزیینی ونې دبغلان په تجربوی فارم کښې کښینول شوی ، دعلی آباد په فارم کښې دری جریبه شاړه ځمکه دکرهنې له پاره چمتو کړی شوې، اودګذرګاه په باغ کښې اته منه دمند توزړی ،داکاسی تخم اود روو اویاسمین تخمونه کرل شویدی .

دکابل ښاروالی ته دکرهنې دوزارت له خوا یوشمیرڅنارونه مفت ورکړې شول، دګلباغ په سهیشن کښې دجنغوځیو تخمونه کرل شویدی او« ۸۰۰» دانی دوچو مندتو نیالګی د امیری مندتو او دو چو مڼو نیالګې د مڼی دمڼو دنیالګیو سره پیوند کړی شویدی .

دباغونو متخصصینو اوملګروئی (۲۵۰۰۰) میوه لرونکی و نې د کاریزمیر ، ګذرګاه علی آباد اونجارخانی اودعسکری مامورینو دکلوپ په باغونوکښې پیوندکړی دی دنجارخانی په بڼ کښې دپټیو جوړول اودهغو سمول ترسره شویدی او۳۰۰۰ دانی دګلا نوګلدانونه هلته تر روزنې لاندې نیول شویدی اوهم ۱۹۰۰ دانې دبادامو، مڼو چاپانی توتانواونورو نیالګی کښینول شویدی. دباغ بالا دبیاد سره جوړولو له پاره (۶۲۶۰) دانی دغټو اووړو ناشپاتیو، مندتو، اکاسی اونسترن نیالګی هلته کښینول شویدی اوهم دغه ځای په درستو ځمکو کښې کارشروع شوی اودیوه باغ په ډول جوړ شویدی .

دپکتیا په ولایت کښې دزیتون دکراو روزلو له پاره سروې شروع شویده .

## په څلورم کال کښې

ځنګلونه :

د هرات د پسته لق دځنګلونو دساتنې یو امتحانی سرویس د جو ړلو په باب او د ساتنې لپاره ئې د ۱۸۰ تنوله جملې نه تر اوسه پورې لس تنه د ملی دفاع دوزارت لهخوا دغه وزارت ته ورپیژندل شوی دی .

د ځنګلو نو د پریکولو د سامان د پېرودلو په باب په انکشافی بودجه کښې د پیسو د نشتوالی په نسبت چه د هغې له پاره پېش بینی نه وه شوی کوم اقدام نه دی شوی .

د ځنګل د عادی‌ناروغیو دټاکلو او د مندهیر د ځنګله د سروې په باب‌کښې مقدماتی ترتیبات نیول شویدی .

د څرخی پله د څلوروغونډیواو د تنګ غارو د یو شمېر نورو غونډیو د کانټور کرښې ټاکل شویدی چه د هغو په اساس ۲۵۰۰ غوچوړی‌کیندل شو ې او دتنګ غارو په غونډ یو او د سړك په دواړو خواو کښې د بیلو بېلو جنسونو ۱۸۰۰ نیالګی‌کښینول شوی دی .

باغونه :

د باغ بالا مقدماتی کار چه پرو سبز کال شروع شوی‌و تریوې اندازې بشپړ شوی او د دغه باغ سر سبزی د میوه لرونکو ونو په ذریعه شروع شوې چه د هغې د کر ساحه ۲۱۳ جریبه او ٦ بسوې ځمکه ده چه مېوه‌لرونکې ونې ئې د تاك، مندتو ، مڼو ، بادامو څخه عبارت دی او هم دناجو ، موریان یو شمېر ونی په هغې کښې کښینو ل شویدی او نور پاتی تاکونه به په راتلونکی کال کښې کښینول شی .

د دغه باغ د پڼه کولو له پاره د اوبو د مخزن کارروان‌دی او په نژدی وخت کښې به له هغه څخه استفاده وشی .

د هند دنیمه حاره سیمو د میوی اصلاح شوی او پیو ند ی یو شمېر نیالګی لکه مالټه سنتره ، نارنج ، لیمو او زیتون افغانستان ته رارسیدلی او د افغانستان په نیمو تودو سیمو لکه پکتیا ، ننګرهار کښې تر تجربی لاندی نیول شویدی .

د باغوانی کورسونه په کابل او ننګرهار کښې پرانیستل شوی او د کابل د مر کز له کورس نه ۲۸ تنه زده کونکی فارغ‌التحصیلان شویدی چه اوس اوس له هغو څخه په پیوند اوپه نوروچاروکښی‌کار اخیستل‌کیږی او هم په نظرکښې دی چه دباغوانی یو بل کورس دکابل په‌مرکز کښې پرانیستل شي او یو شمېرزده کوو نکی په هغه کښې تر روزنی لاندی ونیول شی .

د ننګرهار د باغوانی په کورس کښې چه د یرش تنه زده کوونکی‌تر روزنی لاندې نیو ل شوی دی په نژدی و خت کښې به فارغ شی او وروسته به د جلال آباد د مرکز او د هغه په شاوخوا باغونو کښې د هغونه‌کار واخیستل شي .



په قطغن کښې د ۱۳٤۰ کال د بز گر د ورځې په منا سبت د کرهنې دوزارت د ځارویو د تو لید ا تو لو ی آ مر ښا غلی د کتو ر « کشاورز » یوه ځلمی بزگرته انعام ورکوی



دهیواد په شمالی سیمو کښې دقره قل دپسو نویوه ر مه



په قطغن کښې د نباتي امراضو د مجادلې يوه منظره چه د هغه ولايت د کرهنې
دلوی مديريت له خوا اجرا کيږي



د قطغن د ولايت د کرهنې د مديريت ځينې فني کسان د څاروي ود ناروغيو د مجادلې
په وخت کښې

ACKU

## په‌پنځم کال کښې .

د پکتیا د ولایت د منډهیر د ځنګله سروې او استفاده‌چه په ۳۸ ـ ۳۹ کال کښې تر نظر لاندې نیول شوې‌و د پلان په پنځم کال‌کښې سروې‌یې تکمیله شو ی د ه او په‌دوهم پنځه کلن‌پلان کښې به ورڅخه استفاده وشي .

## د کرهڼې د کار د قواؤ پروژه

د د ی پروژې مقصد د یو ټولګی هغو افرادو روزل دی چه‌دکار دقواؤ په نامه دملی دفاع د وزارت له خوا د کرهڼې وزارت ته سپارل شو ی دی او د غه کسا ن د عمومی واټونو او جادو د سمسورې په غرض دسرکونو په دواړو غاړو دنیالګیو په ایښودلو موظف شویدی او د پلان په پنځم کال کښې د کابل ، تورخم ، د کابل او پروان تر منځ په عمومی سرکونو د نیالګیو ایښودلو ته اقدام شوید ی .

## دبادام باغ د کلکسیون فارم

دبادام‌باغ‌کلکسیون یوداسې فارم‌دی چه‌په هغه کښې د خارجی او د اخلی ونو دجنسو ښه او بهتر قسمونه ټاکل شوی او په یو ځای کښې جمع او تر روزنی لا ند ی نیول شوی دی چه د ښې نتیجې د ورکولو نه وروسته به البته زیات شی‌او باغو ا لاوو ته به وویشل شي .

## د اوبو لګولو او د ځمکې د اصلاح کولو چارې د پلان په لومړ ی او دوهـم

## کال کښې

د اجمیر د ویالی د پروژې مقدماتی چارې ترتیب او د ارچی د ویالی سروی بشپـړه او نقشه شو یده چه اوس یې نقشه د یونو د متخصصینو تر غوراو مطالعـی لانـدی ده د هغې د جوړښت مقدماتی مواد تریوې اندازې پورې برابر شوی دی .

## په دریم کال کښې . . .

د اجمیر ویاله : داوبولګولوانجنیری «اف ، ای، او » د خپلومتخصصینو او معاونینو ـره د هغو ـاختمانو نو د سروی په غرض چه د اجمیر د ویالی د اصلاح له پاره به ودان شی قطغن ته استول شوی دی او د دغو متخصصینو نه غوښتنه شویده چه د اجمیـر د نهـر د ـاختمان پروژې جوړې کاندی . هغه لومړی‌پاملرنه چه وشوه د لښتیو د جوړولو په حصه کښې وه او د دغه مقصد د تر سره کولو له پاره د قطغن د کرهڼې ادارې ته لارښـود شـه شویده چه د لښتیو له پاره یو پوره شمیر کانکریټی نلو نه برابر کړ ی .

داجمیر په‌نهر کښې یو نوې نوبر د «۲۵۰» مترو په‌اوږدوالی او ۱۰ متره سور ،دوه‌نیم متره ژوروالی کیندل شویـدی .

اویوخطرچه دسیلاب په وخت‌کښې‌یې د اختر اوبغلان دقشلاق ځمکو ته زیان رسولـی‌و د «۱۵۰» مترو اوږدوالی، یونیم‌متره‌سوراودسنګ‌کاری دبنسټ په‌دوه‌و مترو ژوروالی د یوه دیوال په ذریعه اصلاح شویـدی .

د اجمیر او ارچې له نهرونه خړې ا یستل شویدی او سربیره پردې د قطغن د ولایت او د مزارشریف د ولایت نوری ویالې هم له خړونه پاکې شویدی ترڅو چه بزگرانو ته اوبه ښې وروررسیږی او کرونده یې ونه سوزی . د اختر د قشلاق په سیمه کښې په آزمیښتې ډول دوه پخته کاری‌شویدی او د «۱۵۰» سانتی متر په محیط جوړشول ، د جر خشك په برخه کښې هغه ځای چه د برق «سیفون» له پاره جوړیږی د «۲۱۰۰» مترو په اوږدوالی او ۵ر۳ متره سور او پنځه متره ژوروالی کیندل شویدی او د بلولونو د کښېنولو کار پکښې جاری دی . د حسن تال سیفون د پای ته رسیدو په حال کښې دی او د اوبونه ئی کبوزو ځمکو ته پوره اوبه ور رسیږی ، د اجمیر د ویالې پرسر د سیل د مجرا د یوی ودانی پلان د۶۹ر۱۵ کیلو مترو اوږدو الی، آته مترو سور او د ۲۰ مکعب مترو په ظرفیت د اجمیر د ویالی د سرفه د آبیاری د متخصصینو له خوا طرح شویدی . د اجمیر د نهر د برښنا د پخوانی سټیشن د سیل د مجـرا د لاندې برخې د ودانی کار په سلوکښې نژدی اتیا بشپړ شوی او د تورانی د مجـرا کارونه جاری دی . د اجمیر د نهر د باتلاقونو سروې پرانیستل شوې او دزاه کشی په باب کښې به مفصله ا و سمه سروې پـه آینده کښې وشی. د دغې پروژې دکار په ترسره کېدو به دا نتیجې لاسته راشی :

الف : د اړتیانه دزیاتو هغو آبیاریو مخه به ونیوله شي چه دنهر د پورتنۍ برخې په اوږدو کښې د اوبو د پکاروونکو له خوا کیږی او د اوبونه کوزو خلکو ته اوبه میسر ې شی او هغوی به پنبې او گنی په کرلو چه زیاتی اوبه غواړی قادرکاندی .

ب : دهغو زیاتو اوبو کنترول چه دنهر په پورتنۍ برخه کښې دزراعتی ځمکو د ورانی باعث کیږی او د ارچی په نهرکښې دتوپوگرافی او دمجرائی سیمې او هغې برخې سره چه د ارچی نهر، دکوکچې سیندته خطر پیداکوی دمجراگانوپه ذریعه دسیلابونو دتیرولوچارې بشپړې شویدی او دپاتې سروی چارې لاجاری دی. دکوهستان ، تاشقرغان اوسمنگان داوبو دمنابعو آبیاری، د آبیاری د متخصصینوله خواکتلی شویدی اوهغوی د دی سیمې د آبیاری دانکشاف امکان څرگندکړیدی. د الچین د دښتې پلان د ۱٤۰۰۰ جریبه ساحې له پاره دهغو بمبو په ذریعه چه په ۱٤۱۰۰ آس قوې به فعالیت کوی دمتخصصینو له خوا جوړ او دکرهنې په وزات کښې ترغورلاندېدی. دلوگر دناوې له سیند څخه دهغې سیمې دوړو ساحو دآبیاری د انکشاف دامکاناتو په غرض دکلیو د پراختیا دریاست دغوښتنې سره سم دکرهنې د وزات د آبیاری د متخصصینو له خوا مقدماتی پلټنې شویدی او دهغو مفصل ر پو ټ دغه ریاست ته ورسپارل‌شویدی. دآبیاری دمتخصصینو دنظریاتو له مخې باید دقندز سیند چه د بغلان د ښار دشمال په څلویښت کیلو متری کښې روان دی باید ذخیره کړی شی او تر لازمی سروې وروسته به دغه متخصصین خپل مفصل رپوټ دکرهنې وزارت ته وروسپاری .

## د کیلگی دښته

دکېلگی د دښتې د سروی کارچه دکانو اوصنایعو د وزارت د درخواست په اثرشروع شوی‌و د - اف - اې او ،دآبیاری‌دوه‌وتنوانجنیرانو اودهغودوه‌وتنو ملگروله‌خوا، دکرهنې

وزارت دفنی پرسونل څخه بشپړشو، پیشنهاد کړی شوی نهر چه کله سرته ورسیږی ی لبز تر لبزه به یوو لس زره جریبه ځمکې ته اوبه ور کړی شی.

## په څلورم کال کښې

## دځمکوداوبولواو اصلاح تدابیر

داجمیر دنهر پروژه په ساو کښې څلوېښت، او دپنځه ویشتو تو نلو نو سره د هغی مجرا بشپړه اودجر خشك دسیفون کار په سلو کښې نژدی پنځه اتیا او د اجمیر د نهرد حسن تال سیفون په سلو کښې پنځه اویا تکمیل شویدی. دسمنټو دوه زره کڅوړې اولس دانې دروازې اودروازودوسپنو شترنګونه چه دجنګلك په فابریکه، کښې جوړ شویدی د اجمیر نهر ته استول شویدی.

دنهر ارچی سر وی تکمیله او نقشه شویده د هغی نقشه دیو نو د متخصصینو ترغور لاندی ده. مقدماتی مواد لکه تیږی، څلور عرادی اته ټنه اتهر نېشنل موټران اوڅلور زره دسمنټو کڅوړی (۲۲۰۰۰) ګبیانو دمجلی څخه چه قرار داد شوی څلور سوه بندله یی راز سیغلی او دارچی دنهردجوړښت له پاره هغی سیمی ته استول شویدی. د۱۴۳۸ کال دجدی له اول نه دحوت تر پا یه پورې چه دارچی د نهر کومه تخصیصیه دلګښت دپروژی له مخی استول شویده هغه (۴۷ر۳۳۶۳۴۸۴)افغانی ده.

## په پنځم کال کښې

## دخاوری اواوبو دمنابعو سروی

داوسنی اوبو لګولو دسیستم کتنه: دسیندو نو سروی، دټو پوګرافی سروی، دځمکو دخاورې تجزیه اودملګرو ملتو دمخصوص وجهی صندوق پمرسته دزراعتی ځمکو د استعمال دلاری کتنه په دغه کال کښې اجراشول.

## د کابل او ننګرهار داوبو لګولو د اصلاح پروژه

دکابل او ننګرهار په ولایتو کښې دکر هڼی دوزارت مربو طو دکر هڼی دفار مونو داوسنیو کانالو نو اصلاح اودفنی اوبو لګولو دسیستم تطبیق دحآی، سی، ای، په مرسته تر اجرا لاندی نیول شوی دی.

## دارچی ویاله

ددی پروژی مقصد داوبو دزیاتیدلو اودویالی دغاړو دساتنی دپاره چه دکوکچی دسیند تر تهدید لاندی راغلی ده دویالی دسربندجوړول دی چه دهغه زیاتی چاری بشپړ شوی دی اوهم دخواجه غار سیفون دپلان په پنځم کال کښې جوړ او اصلاح شو.

## داجمیر و یاله

ددی نه مقصد د سیلاوو د اوبو دضایع کیدو اود ورځو نو او ددر زونو د مخی نیولو

ACKU

اودشپیتو زرو جریبو ځمکی دبس کیدو دپاره چه له دغی ویالی نهاوبه کیبزیداوبود زیاتیداو دپاره داجمیر دویالی اصلاح او ترمیم شوی دی.

## دحیوانی ناروغیو او آفاتو کنترول دپلان په لومړی‌او دوهم کال کښی

دنباتی او حیوانی ډول ډول ناروغیو په مقابل کښی رایگانی مجادلی شوی‌دی او پوزیات شمیر څاروی او نباتات هم حمایه او ساتل شویدی.

### په دریم کال کښی

### دڅارویو ناروغی

دبیطاری په موسسی پوری مربوط په بیلوبیلو څانگو کښې لکه ممنوعی القاح باکترلوژی ، وررولوژی ، بیطاری‌اوانتو مولوژی د مشوری‌له پاره شپږ تنه متخصصین استخدام کړی شول ، دحیوانی ناروغیو پر ضد مجادلی چه په فراه ، هرات، پکتیا، قطغن غزنی او دکابل په‌مرکز کښې دپلان په دریم کال کښې شویدی (٦٥٣٥١٦)دانی څاروی ئی دحیوانی ډول ډول ناروغیو پر ضد دکرهڼی دوزارت په حیوانی لابراتوار کښی‌په‌جوړ شوو واکسینونو تزریق کړیدی او دینې‌دچینجی (۱۲۰۰۰) دانی کپسولونه ئی د هېواد یوشمیر زیاتو پسونوته چه ددغی ناروغی په اثر مړه کیدل‌مالدارانو ته ورکړی‌اوهم(۵۰۰۰)څاروی دکولمی دناروغی پر ضد تداوی شویدی.

### نباتی ناروغی

دنباتی ناروغیو پرضد کیمیاوی مواد لکه ای‌اف ٦٠٥ ،گوگړ ،ډی‌ډی تی، ملاتیون او سرکس پیرودل شوی اودمزارشریف اودشبرغان په ولایتو نوکښې دنباتا تواو ونو دنباتی ځانگی په لاسی‌پودر شیندلو مجهزی شویدی .دملخ پرضد اوه سوه تنه‌کیمیاوی مواد چه‌په ۱۳۳۸ کال‌کښې هغو ته سخته اړ تیالیدل کیده پیرودل شوې اودهغو دراو ړلو له پاره خاص ترتیبات نیول شویدی.

دمراکشی او ایټا لوی ملخو پر ضد د مجادلی له پاره په مزار شریف او قطغن کښې (٦٦٠) تنه‌هنکسو فلوران برابر شویدی اودهغو دتطبیقو لو له پاره پنځه تنه فنی مامورین مزارشریف ته استول شویدی‌چه په مزارشریف‌اوپه‌شمالی نورو سیمو کښې دملخ دمد هشی حملی پر ضد چاره دالو تکی‌اودواشیندلو دنورو ماشینو نو په ذریعه‌وشوه او دهغی دنتایجو رپوټ په دې ډول‌دی :

۱ـ کیمیاوی‌مدافعه(۵۳۳۷۳) هکتاره

۲ـملی مدافعه (۱۰٦۷۹) هکتاره

۳ـ دزیم په ایستلو «۲۵۳» تنه ملخان مړه کړی شوی دی.

دتاك دخاکسترك‌دناروغی‌پرضد اته دیرش تنه سلفر ددواشیند لو د«٦٠» دانوبمبو سره دکرهڼی بانك‌ته ورکړی دی چه پرضرورت ارونکو باندی په‌مناسبه بیه خرخ کړی شی‌اوهم دوه تنه فنی مامورین دهکدی‌ته ورکړی‌شویدی چه‌دنباتی مجادلی په‌چارو کښې‌خدمت‌وکړی.

د کابل ، قندهار ، هرات او فراه په شا و خوا کښې د خاکستر ک د نار وغۍ پر ضد کوښښ شویدی او «۶۹۸۰۸۳» تاکونه او «۶۲۱۶۷» بوټونه د بېلو بېلو ناروغیو پر ضد تهبروی شوی دی او لکه چه نتیجه څرګند وی دغه دواشیندل ډیر ګټور او مفیدو و. هغه غنم چه د تجربې له پاره په نجارخانه کښې کرل شوی څر ګندہ شوه چه د سر خۍ د نار وغۍ په مقابل کښې یې لوړه درجه مقابله ښودلی ده او دزیاتو څیړنو له پاره به په ګرین هوس کښې دهغې تجربه جاری پاتی شی ، په ننګرهار کښې دلبلبو د سرخۍ د ناروغۍ په باب کښې کتنې او څیړنې جاری او پنځه بوله دلبلبو جنس چه د سرخۍ د ناروغۍ په مقابل کښې مقاو مت لری تر ازموینې لاندې نیول شویدی چه له هغې جملې څخه دوه بوله کا میاب او ګټو ر ثابت شویدی . د نباتی ناروغیو د هغې سروی له مخې چه دوردك ، کهمرد او سیغان په حکومتونو کښې شویده څرګندیږی چه د سیغان او کهمرد د سیموځمکې د بټ لرونکې چینجی په آفتونو اخته دی چه اوس د مرکز په لابراتوارونو کښې ددی ناروغۍ پر ضد مجادلوی څیړ نې روانی دی . یو هیئت دیوه متخصص سره د میمنې اعلی حکومت ته د کنشك د حشری پر ضد د سروې له پاره واستول شو او سبز کال د کنشك حشره د میمنې په اعلی حکومت کښې چندان دا ندیښنې وړ نه ده

## په خلورم کال کښې

### دحیوانی او نباتی ناروغیو کنترول او مجادله

دشوروی له حکومت څخه د ملخانو پر ضد دوه سوه ټنه دوا پیرودل شوی او مر کز ته رار سیدلی ده او هم د ګرانوزن شل ټنه دوا چه دوستوك انتور ګ سره قرارداد شویده دهر ات مزار شریف او قطغن ولایتو نو ته رسیدلی ده .

د ځګر دچینجی «۳۱۲۰۰۰» دانی ګولی دهیواد مالدارانو ته دویشلو لپاره دکرهڼی بانك ته ورکړی شویدی او هم دکرهڼی د بانك له لاری د ځګر د چینجی پنځه ملیون کپسولونه خارج ته فر مایش ورکړی شویدی .

### نباتی ناروغی

دغنمو د سرخی د متخصصینو داستخدام په باب کښې چه پخوا د کرهڼی د وزارت له خوا اقدام شوی و یو تن متخصص د عربی متحد جمهوریت او یو تن له هند څخه معرفی شویدی . دمر کز د نباتی ناروغیو پر ضد دلابراتوار له پاره د مناسب ځای د نقشی او تیا کلو په باب کښې لازم اقدامات شویدی او ددغه لابراتوار د ضرورت وړ سامان او دواګانی د پولیند د دوا ازی له کمپنی سره قرارداد شویدی.

دلابراتوار د فنی کارونو اجرا کیدل د فنی مامورینو او د نباتاتو د ناروغیو د متخصص په واسطه چه داف ای اوله خوا وظیفه دار دی صورت نیولی ، او په کاریزمیر کښې په ۳۴۷۲۴ دانی تاکونو باندی دواشیندل شوی او دقرغانه د ناروغۍ په (۳۷۰۰۰) تا کونو باندی په قره باغ ، کلکا ن ، سرای خواجه او ده یحیی کښې د فنی مامورینو له خوا دوا شیند ل شویده او دد غسی کا رونو داجراکو لو له پاره د فنی مامورینو دروزنی له پاره یو کورس د نباتاتو د ناروغیو د متخصص

ترنظرلاندی جوړ شویدی چه دمعلوماتو دلاسته راوستو نه وروسته کورس پای ته رسیدلی او په کارئی شروع کړیده.

دهرات دلابراتوار دکار په باب کښې لازم اقدامات شویدی اودقطغن د لابراتوار دودانی کارروان دی، دقطغن او هرات په ولایتو کښې دزراعتی ناروغیو او آفاتو پهضد دتتبعاتو دروی چاری دوام لری او په هرات کښې د خاکسترك دناروغی پرضد په ۵۱۱۹۰ تاکو نو باندی دواشیندل شویده اوهمدغه راز دهرات اوقطغن په ولایتونو کښې دملخ دزه‌گذاری کشفیات د۳۹ کال دمجادلی له پاره دمربوطو ځانګو له خوا شروع شویدی.

دقرانطین ددووسهیشنو نودجوړ ښت په باب کښې یو په قزل کلا اوبل په کلفت کښې دشوروی اتحاد د جمهوریت سره دنقشی دترتیب اودځای دټعیین له پاره ددوو تنو متخصصینود استخدام په هکله چه دغو دستګاوو په کاراچولوله پاره راغوښتل شوی تړون لاسلیك شوی د ی اوددوو میا شتو له پاره شوروی متخصصین استخدام شو یدی چه دفیومو کیشن دخونی دجوړ ښت اودهغه نفر دروزنی په باب کښې چه دآینده لپا ره پیش بینی شو یدی مشوره ورکړ ی چه اوس متخصصین دفیو مو کیشن دخونی دودانی دځای دټاکلو لپاره د کتنو اوخیړ نواه کبله دقزل کلا بندرته استول شویدی اوپه نظر کښې دی چه دقرانطین دقوانینو دتد و ین اود قرانطین دحشراتو دمطا لعی دیوه تـن متخصص د استخدامو لو په باب کښې اقدامات و شی .

دنباتی ناروغیو او آفاتو او همدغه رازدقرانطین په باب کښې دمعلوماتودلاسته‌وروستلو له پار ه خارج ته دزده کوونکو داستولو په هکله دمعارف دری تنه زده کوونکی دنباتاتودساتنی دڅانګی له پاره دکرهنی دوزارت مقام ته معرفی شویدی چه دځای دټاکلونه‌وروسته بهخــارج ته دهغو ی داستولو په باب کښې اقدامات وشی.

## په پنځم کال کښې

### دنباتاتو ساتنه اومجادله

دننګرهار په ولایت کښې یو ډول ضرر رسوونکی خزنده موجوده دهچه «سو رنچی» ورته ویل کیږی چه ضررئی زیاتر دپنبی حاصلاتو ته رسیږی اودننګرهار ولایت نه شمالی برخو ته دهغه دنقلید وویری دکرهنی دوزارت توجه ځانته ګرځولی ده له دی کبله دغه چینجی دمخی نیولو دپاره دسور نچی دبیالوژی په لحاظ کتنه اوسروی اودهغه په مقابل کی موثری د وا ګا نی تطبیق شویدی.

### دحیوانی ناروغیو په ضد مجادله

ددی پروژی هد ف او مرام دحیوانی بیلو بیلو نارو غیو په مقابل کښې دمملکت دکورنیو حیوانا تو ساتنه ده چه ددغو نارغیوو په مقابل کښې مجادله شویده .

دپلان په پنځم کال کښې دبیلو بیلو ناروغیو په مقابل کښې داتولکو حیواناتو تداوی ، دارودرمل ،واکسین او پیچکاری شوی دی .

### دروزنځایونو اوفورید ګانوچاری دپلان په لومړی اودوهم کال کښې

ددغی موضو ع اساسی پروژی تر تیب شویدی ا و چا ری ئی دراتلونکو کلونو په موده کښې اجرا شویدی.

## په دريم کال کښې

### روزنځايونه او قوريه گانې

دگذرگاه په قوريه کښې ۶۳۰۵ دانې ميوه لرونکې نيالگې کښېنول شويدي او هم «۱۰۱۶۰» دانې ميوه لرونکې او دوچو تو تانو ونې په بهترين ډول پيوند شويدي، دزياترو قوريو نيالگې شاخه بري شوي او لس جريبه قوريه د منې دكرله پاره تياره كړې شويده دگذرگاه په قوريه كښې د اكاسې ۱۰۰۰ دانې، دبادامو ۲۰۰۰ دانې، او دمندتو ۲۰۰۰ دانې نيالگې چه دشپشك په نار وغې اخته وو د كرهنې دوزارت دمربوطې عملې له خوا پرې دوا شيندلې شويده.

په گلباغ كښې ديارلس جريبه شاړه ځمكه وداناوه په هغې كښې ۱۰۰۰ دانې دوچو تو تانو ونې دجاپانې تو تانو سره پيوند شويدي چه په آينده كښې دوريښمو دچنجيو دخوراك لپاره استفاده ځنې كيږي، (۲۴۰۰) دانې چنارونه له گلباغ نه تنگې غاروته ليږدول شوي او كښېنول شويدي.

دپغمان په قوريه كښې (۲۰۰۰) ميوه لرونكې او (۱۰۰۰) دانې پنجه چنار (۵۰۰) دخدنگ نيالگې او ۱۰۰۰ دانې چنار كښېنول شويدي او هم په دغه قوريه كښې لس منه لمنزه ۷۰ منه دناجو تخم ٤ پاوه دمو رپان تخم، ۱۲ كيلو دداخلي او خارجي اكاسې تخم كرل شوي او سربيره پردې دځنگلي ونو پنځوس كيلو تخمونه چه له خارج نه دتكثير په منظور راغوښتل شوي وو رارسيدلي او په نظر كښې دي چه په راتلونكي كال كښې دپغمان په قوريه او يا نورو لازمو ځايو كښې وكرل شي. داعليحضرت شهيد دمقبرې په غونډۍ كښې ۲,۱٤۸ دانې ميوه لرونكې او بې ميوې نيالگې، دقرغې په غونډۍ كښې دموريان، ناجو، سنځلي، اكاسې، لمنزي، ارغوان او دروسي ولې ټول ۱۰۸۰ دانې نيالگې كښېنول شويدي.

### روزنځايونه

دپغمان په جوش كښې د كب روزنه د پخوا په شان دوام لري،

دپيله وري په برخه كښې د ۱۳۳۸ كال د عمل له لومړي نيټې څخه تر اوسه پورې دغه اجراآت شويدي:

۹.۲ قطي مورني تخم ننگرهار، پروان، او په دارلامان كښې دتاج بيگ غونډۍ ته دتخم گيرۍ لپاره استول شويدي او هغه نتيجې چه لاسته راغلې دي دادي چه په دغو ځايو كښې ۱۶۸۳۵ قطي تجارتي تخم او ۳٤۶ قطي مورني تخم اودغو سټيشنو نو دوچوغوزو ټول ټال حاصل ۹.۳ منه لاسته راغلي دي.

ددې له پاره چه دهيواد دپيله وري روزنه پراخه شي په نظر كښې دي چه دننگرهار په ولايت كښې يو سټيشن جوړ شي، ددې لپاره په عبدالخيلو كښې دپيله وري ديو ه سټيشن ودانې چه ۳۰ جريبه ځمكه به ونيسي دجاپاني تو تانو ددير شو زرو، نيالگيو د روزنې له پاره په نظر كښې نيول شويدي او هم دهغې دضروري كارونو لپاره ۲۸۰۰۰ افغانې تخصيص كړي شويدي د پيله وري درا تلونكو چا رو له پاره يوشمير سامان لكه جالې، د پيله وري د تخم قطي دمار كې كاغذ او نور خارج ته فرمايش وركړ شويدي او د وريښمو دښه جنس د پراختيا لپاره له جاپان څخه ۸۰۰ قطي تخم رارسيدلي دي د پيله وري دسامان يوشمير نمونې له مركز نه

دننگرهار ولایت ته استول‌شویدی چه‌دهغو له‌مخی نور جوړ شی اوپه مناسبه بیه‌پیاله ورانو ته داستفادې له‌پاره ورکړی شی .

دتودوخی ددرجې دسروی کولو له‌پاره دننگرهارعبدالخیلو ته‌یوتن فنی‌ماموراستول شوې اوهم دعبدالخیلو دپیله‌وری دسټیشن‌له‌پاره دوه دانی یخچالونه او دوه‌دانی جنریټرونه خارج ته فرمایش ور کړی شویدی‌او هم دپیله وری دکورس دتاسیس‌له‌پاره لازمه‌اقدامات‌شویدې

دښاتو دمچیو په‌باب‌کښې: دحمل له میاشتی‌را پدی خوا دښاتو د مچیو روز نه دپخواپه شان جاری‌ده اوځوځو ځایونه دمچیو دروزنی دمساعدت له‌مخی ترسروی لاندی‌نیول شویدی او اوس‌ددغه منظور له پاره‌دری سټیشنونه یو په کوهدامن بل په‌جلریزاویوبل په پغمان‌کښې جوړ شوی اودښاتو دمچیو دروزنی په باب‌کښې دهغو مساعدت تراو سه پوری دپاملوړ دی .

هغه فعالیتونه چه دښاتو دمچیو په‌باب دسبز کال په موده کښې شویدی په‌دې ډول‌دی :

۱ــ دخلکو دتشویق‌له پاره دپکتیاپه ولایت کښې‌دمچیو دوه‌سټیشنونه جوړ شویدی.

۲ــ دقطغن دولایت دپنبې دشرکت‌دغوښتنی‌سره‌سم‌دښاتودمچیودروزنی‌له‌پاره‌یو تن‌متخصص استول‌شویدی‌اودهغه له‌راپوټ‌نه‌داسی ښکاري چه‌دښاتودمچیو له پاره‌دقطغن‌سیمی مساعدی‌دی.

۳ــ دمچیو دسټیشن دمچیو کورونه‌چه‌په سرای‌خواجه، پغمان، دآهنگرانواودجلریزپه‌کلیو کښې‌څوموده‌پخوادخلکودتشویق‌له‌پاره جوړشوی‌وو دهوادیخنی‌له‌امله ننگرهارته‌لیږدول‌شویدي.

## په‌څلورم کال کښې

دپلان په‌څلورم کال کښې‌دروزنځایونواودقور په‌گانو چارې دتیروکلونوپه‌شان دوام‌لري او پرمختګ‌ئې دپام وړدی .

## په‌پنځم کال کښې

دقندهار دپسونو دروزنی اودوترنری پروژه : دقندهار ولایت دپسونودروزنی‌دپاره‌ډیر مساعددی په تیره بیا د غلجي پسونو نسل چه‌په اصل‌کښې سپینی وړی لري مگر د ډیری زمانی په تیریدلو درمه لرونکو دبی‌احتیاطی په‌وجه ددغه نسل‌رمی دپسونو دنورو نسلونو سره گډې شوی اودغلجي نسل وړی په‌سلوکښې پنځوس برگې شوی‌دی. له‌دی‌جهته‌په‌قندهار کښې دپسونو دنسل اخیستلو یوه‌تربیه خانه اووترنری کلینیك تاسیس شوچه‌له‌یوی‌خواسپین گډان اوغلجي پسونه ترروزنی لاندی‌نیول‌شول‌اووروسته بیامالدارانو ته‌ورکړی‌شول‌او له بلی‌خوا دحیوانی ناروغیو په‌مقابل‌کښې دمالدارانو سره مرسته‌شوی اوهم‌د حیوانی ( ساري ناروغیو ) دخپریدلو مخه حتی‌الامکان نیولی شوی ده .

## دبنگرامیو دروزنې فارم

د مالدارۍ‌دچارو دانکشاف اودپوره شیدود برابرولو دپاره‌چه دعامی روغتیادپاره‌لازمی شمیرل‌کیږی دشیدو اوکاری حیوان اوځاروي ښه‌جنس ته‌ضرورت‌دی‌چه‌په‌دغه‌لحاظ دبنگرامیو دروزنی فارم دداخلی غواگانو جنسونه دخارجی غوایانو او ځارویو د اصلاح شوو اوښو جنسو سره چه راوستل شوی دی یوځای اوگډکړای‌شول اودغواگانو اوغوایانو دوه‌رگه‌نسل ،

ACKU

میدان ته راوړی‌دی چه شیدو اوکارپه لحاظ ښه جنس بلل‌کیږی . ددغه فارم سا حه ۸۰۰ جریبه ځمکه‌ده چه هلته داوو ودانیو چارې‌هم سر ته رسیدلی دی .

## دننگرهار دمیښودروزنی اودوترنری پروژه

د ی پروژې هدف اومرام دننگرهارپه ولایت کښې دمیښودښه نسل زیاتول دی‌چه دهغه ولایت آب‌وهوا د میښو دروزلو اوساتلودپاره‌مساعده ده.

بیطاری خدمتو نه او دهغه سټیشن قرانطین دخلکو دناروغو څارویو دارودرمل اودساری ناروغیو دخپریدلوڅخه‌مخه نیول دی چه دهغو ټولی چارې دپروژې سره‌سم اجرا شویدی .

## دمزارشریف دولایت حیوانی لابراتوار

ددغه لابراتوار مقصد دخلکو دناروغوحیواناتو دارودرمل ،د حیوانی سار ی ناروغیو تشخیص اومرکزته له‌هغو نه اطلاع‌ورکول اوحیوانی ناروغیوپه مقابل کښې دحفظما تقدم‌په غرض دترتیباتو نیول دی .

## دهرات دولایت حیوانی لابراتوار

ددغه لابراتوار مقصدهم دمزارشریف دولایت دحیوانی لابراتوارپه شان‌دی .

## د غنمو دتخم اصلاح او زیاتول

دآزموینی په اثر دچلی‌دغنمو یوجنس‌دنبرد دغنمودجنس پ. نسبت‌دداډ ورنتیجه ورکړ ی ده اوددی دپاره چه دمملکت دبزگرانو دکروندی دشرطو نو له‌مخی‌وکتل‌شی‌دکرهنی وزارت ددغه جنس نیم ټن غنم‌له چلی څخه غوښتلی‌اوخپلی‌آزموینوته‌یی دوام ورکړ ی دی چه‌دمثبتی اوقطعی نتیجی داخستلو نه وروسته دکرهنی دوزارت په مربوطو فارموکښې دهغه‌تخم‌زیاتولو ته اقدامات شویدی.

## د گنیو دتخم اصلاح کول اوزیاتول

دگنیو دقندی موادو دفیصدی زیاتولو اودگنیو دسرخی دناروغی پرضد دمجادلی دپاره لازم اقدامات شویدی اولکه‌دخو کلونو دتجربونه‌چه‌معلومیږی ۴۱۹ ،او۵۴۳او۴۵۹ډوله گنی دقندی موادو دلرلو اودگنیو دسرخی دناروغی په‌مقابل کښې دمقاومت په‌لحاظ دډاډ وړدی له دی کبله دپلان په‌پنځم کال کښې دغه‌قسمو نه گنی‌زیات شویدی .

## دسبو(سبزیجاتو )دتخم اصلاح کول ا و زیاتو ل

دخو کلو نو نه راپدیخوا په‌دول‌ډول‌سبو باندې تجربی اوآزموینی شوی اوگټوری‌نتیجی ورڅخه اخستل شوی دی اوهم‌دسبو یوه‌اندازه ښه‌تخم علاقمندانو ته ورکړی شوې‌دې‌چه‌د حاصل او جنسیت په لحا ظ ښه جنس لاس ته راغلی دی او دوایمنګ دتیم په‌مر سته دآز موینو او تجربو چارې هم‌تر اوسه پوری دوام لرې .

دپنبی‌دتخم اصلاح اوزیاتول : دهغوتجربو له‌مخې چه‌لاس ته‌راغلی‌دې داکاله۴۴ پنبی‌تخم ښه‌اوپه زړه‌پورې‌نتیجه ورکړې‌ده،لکه‌چه‌په۳۷ـ۳۸کال کښې‌څلورټنه‌دغه‌تخم‌له‌خارج‌راوړل‌شو

اودفنی ماموړینو ترنظارت لاندې پنبه‌زیاته شوې اوبزگرانو ته ورکړی شوې ده ددغه‌تخم د مراقبت او زیاتیدلو دپاره دپروژې دوام ته اړتیا ولیدل شوه اوسعی‌وشوه چه دنورو خارجی تخمونو څخه یوښه جنس‌وټاکل شی اودتجربی نه‌وروسته له‌هغه څخه بزگرانوته‌ورکړې شی.

## دلبلبو دتخم اصلاح کول اوزیاتول

دپلان په‌تیرودریو کلونو کښی‌د۱۲دولو خارجی‌لبلبو تخم ترتجربی‌لاندې‌ونیول‌شو اوپه‌نتیجه کښی‌معلومه شوې ده‌چه ۵۲۸ لمبر او۵۲۹ لمبرتخمونوډیرحاصل‌ورکړې اوډیرقندې موادلرې په‌دغه سبب دقطعی اطمینان دپاره په ۳۹ ـ ۴۰ کال کښی دغوتجربوته دوام‌ورکړی‌شوې‌دې.

## دننگرهار دعبدالخیلودوریښمودچینجیو دروزنی‌ټیسن

دعبدالخیلو دټیسن (پیله‌وری) ودانی چه په۳۸ـ۳۹ مالی کال‌کښی شروع شوې‌وه په ۳۹ ـ ۴۰ مالی‌کال‌کښی سرته‌ورسیده دتجارتی‌تخم د تولیددزیاتولو په‌غرض په‌دیرش جریبه ځمکه کښی‌سربیره‌دتیرکال په‌ساحه‌کښی جاپانی‌توتان کښینول شول .

## دهرات دوریښمو دچینجیو دروزنی‌ټیسن

هرکله چه‌دهرات دمرکز دپیله‌وری دټیسن‌دمرکزودانی جوړه‌شوی اومربوطو متخصصینو اونورو کسانو دتجارتی تخم حاصلولو ته‌اقدام‌کړی دی له‌دی جهته ددغه‌ټیسن دفعالیتو نه د زیاتولو اوپراختیا دپاره یوه‌ټوټه ځمکه واخستله شوه‌چه‌دوطنی‌توتانو نیالگی پکښی کښینول شوې‌دې اوهم دهرات دمرکز دټیسن په‌ذریعه دهغه و لایت پیله‌ورانوته دوریښمو دډیرحاصل داخستلوپه‌باره کښی‌لارښوونی وشوې .

## دبدخشان‌دپیله‌وری‌ټیسن

دوریښمو دتولید دزیاتولو دپاره په‌فیض‌آباد کښی دوریښمو دچینجیو دروزنی‌اودتجارتی تخم دحاصلولو دپاره یوټیسن جوړشوې دی اودغه مرکزې ټیسن په‌جرم ، بارك اوکشم کښی فرعی څانگی لرې چه‌دخپلو فنی‌ماموړینو په‌واسطه‌دهغه‌ولایت خلکوته په‌اساسی‌ډول دنیالگیو دکښینولو،دجاپانی توتانو دپیوندولو اودوریښمو دچنجیو دروزنی‌په‌باب کښی‌لارښودنی‌کوې اودپلان په‌پنځم‌کال کښی‌دجاپانی‌توتانو دیرش زره‌نیالگی په‌فیض‌آبادکښی‌کښینول‌شوې‌دې.

## دپنجشیر دپیله‌وری‌ټیسن

هرکله چه دپنجشیر درې دزراعتی وضعیت په لحاظ لبزه ترقی‌کړې ده . نو د کرهنی د وزارت په صو ا بد ید د پنجشیر په رخه کښې په اساسی ډول نمایشی ټیسن جوړ یبزی ځکه‌چه‌دطبیعی شرطونودمساعد والی په‌لحاظ که‌دآب وهوا له‌کبله‌وی‌اوکه دځمکودساختمان له‌حیثه دغه‌دره‌ددی دپاره مستعده‌ده چه‌دتوتانو داستحصال‌نه‌علاوه دوریښمو دچینجیو روزنی ته هم‌پکښې انکشاف ورکړی شی اودجاپانی توتانو دونو دډیرولوله پاره‌پکښی (قور یی ) جوړی شویدی . .په کابل کښی د پیله وری ټیسن ته د فنی کسانو، ودانی اوسا ما ن په په لحاظ پراختیا ور کړی شوی د ه .



گراف تولیدات زراعتی افغانستان
از ۱۳۳۶ تا ۱۳۳۹
گندم
جواری
جو
برنج
لبلبو
نیشکر
پنبه

## په ګلباغ کښې دمچیو د روزنې او ساتنې مرکزی هېسن

په دغه مرکزی هېسن کښې دشاتو دمچیو د روزنې دپاره فنی کسان روزل اورسول شوی دی او له دی جهته ډېر اهمیت لری . ځکه چه له دغه هېسن نه په بیلو بیلو موسمو نوکښې دننګرهار دولایت او دجلریز د سیمی هېسنو ته فنی کسان لیز ل شوی دی .

## په جلریز کښې دشاتو دمچیو دنسلګیرۍ هېسن

دکابل، ننګرهاراو دجلریز تر منځ دموسم دتو پیر په لحاظ دجلریز په سیمه کښې دشاتو دمچیو دنسلګیرۍ دیو هېسن پرانیستل یو لازمی کار وګڼل شو چه په ټو ل کال کښې بیله ځنډ او وقفې نه دشاتو دمچیو د کورنیو فعالیت دوام ولری .

## په ننګرهار کښې دشاتو دمچیو د نسلګیرۍ هېسن :

دغه هېسن دشاتو دمچیو د نسل زیاتولو او هغو خلکو ته دمچیو دور کولو په غرض جوړ شوی دی چه محیط او ځای یې د شاتو دمچیو درسولو دپاره مساعد دی مګرمچی تراو سه پوری په هغه سیمه کښې روزل شوی نه دی لکه کابل، قندهار اودمملکت شمالی برخې .

## د بینې حصار د چرګانو روزنځی

دمملکت محلی چرګا نې او نور په کال کښې له ۵۰ـ ۱۰۰ هګۍ اچوی په داسی حال کښې چه اصلاح شوی اوښه جنس چرګانې اونوری په منځنی اندازه دکال دوه سوه هګۍ اچوی. له دی جهته دښو جنسو چرګانې خلکو ته ورکړی شوی، دپلان په پنځم کال کښې له دغه هېسن څخه داصلاح شوی جنس «۱۰۰۰۰۰» هګۍ او «۱۳۰۰۰» بچی خلکو ته ورکول شوی دی.

## دپوزه ایشان (بغلان ) د قره قل داصلاح فارم

دغه فارم دپلان په دریم کال کښې دمالدارۍ دپراختیا دریاست له خوا تاسیس او د پلان په پنځم کال کښې ددولت په انکشافی بودجه کښې راوستل شوی دی ،

دغه فارم ۱۶۰۰ قره قلی پسو نه ۵۰۰ جریبه محکه او ۲۰۰۰۰ جریبه ځای لری .

## دکابل، قطغن اومزارشریف دمصنوعی القاح هېسنونه

د پلان په پنځم کال کښې دخلکو ۵۰۰۰ غواوی دباندنی اصلاح شوی سخوندرو دتناسلی مایعاتو په ذریعه په مصنو عی ډول القاح شوی د ی .

## متفر قه اوادارۍ چاری دپلان په لو مړی او دریم کال کښې

دکرهنې دوزارت دنوروچار وپروژی هم ترتیب شوی دی چه ټولی یې په تر تیب سر ه اجراکیږی، له دی جملی څخه دنویو ودانیو دجوړولو مقد ماتی چاری په بیلو بیلو ځایو نو کښې برابری شویدی .

## په‌دریم کال کښې

دودانیو په برخه‌کښې دکرهنې د وزارت له خوا دپلان ددریم کا ل په مو ده کښې دغه فعالیتونه شوي دي :

۱- د پسه‌او آس دروزنځایونو ودانې په مرکز ګښې بشپړ کید و ته‌نژدی ده.
۲-دګلباغ دپیله وری‌الحاقیه‌ودانۍ اوددغې پیله وری ددوهم پوړ کارنوی‌شروع شویدی
۳ - په ګلبا غ کښې دشا تو دمچیو دستیشن دو دانۍ کارختمیدونکې دی .
٤- دمصنو عی القاح دودانۍ کار په شدت روان دی .
٥ - دوترنری دښوونځی دنوی ودانۍ کار،دمطالعی‌سالون اوپه‌هغې‌پوری مربوطی‌ودانی دبشپړ کید و په حال کښې‌دی .
٦-دقندهار،هرات‌اوقطغن‌دحیوانی لابرا توارونو دودانۍ کارچه‌سږکال‌نوی‌تراجرالاندې نیول شوی‌او جار ي دی .
۷-دعبدالخیلو،باغ مقبره، د ننګر هار د قلعت السراج د پیله وری د ستیشن د ودا نۍ اودتنګی‌غارو په ځینو ځایوکښې دڅاه ګانو دکیندلوکارروان‌دی،دباغ‌بالاحوض اودهغه سنګ کاری دبشپړ کیدو په‌حال کښې‌دې .

## په‌څلورم کال کښې:

ددغوشپږومیاشتو په موده کښې دودانیو په‌برخه کښې‌دکرهنی دوزارت له‌خوا دغه‌لاندی فعالیتونه اجراشویدی :

۱- دننګرهار دولایت په عبدالخیلو کښې دحیوانی‌دوه وغو جلو بشپړ کیدل اوهم‌په‌هغه ځای کښې‌دبیطاری دلابراتوار دودانۍ کارشروع شوی اوروان د ی .
۲- دقندهار په‌ستیشن‌کښې‌دپسو نو دغوجل دودا نی او دهغو دلمبولودحوض کار دوام‌لري
۳-دمزارشریف‌دولایت‌دبیطاری‌دلابراتوردودانۍ نقشه‌دهغې‌دتخصیصیه‌پیسو سره‌دمزارشریف ولایت‌ته‌استول شوی‌ده چه‌د دټا ځای کلو نه‌وروسته‌ددغه لابراتوار دودانی په‌باب کښې‌اقدام کیږي .
٤-دمرکز دزراعتی کیمیاوي لابرا توار دودانۍ‌له پاره پولي اعتبارلاسته راوستل‌شوی خودهغې ودانول دکر هنې دوزارت دنویوودانیو په جمله کښې په‌نظر کښې نیول‌شویدی

## په‌پنځم کال کښې

دباغ‌بالاودانۍ، ددې پروژې مقصد د باغ بالا ودانول اوبیا ژوندی کول اودهغه دودانیو ترمیمول دي چه ددغه کال په جریان کښې دهغو زیاتی چاری بشپړی شوی دی .



د کانو او صنایعو د وزارت تشکیلات
د وزارت مقام
مشاورین
د قلم مخصوص مدیریت
معین
د کانو ریاست
د صنایعو ریاست
فنی بورد
موزیم
سروی
فنی ماموریت
مشرقی بیرل
خارجی مشاورین
د افغانستان جیالوجی موسسه
مشاورین
مرستیال
د خارجه ارتباط
اداری
حوالجات
ارشیف
اجرائیه
تحریرات
حفظیه
د تدوین لوی مدیریت
د تخنیکی لوی مدیریت
ارشیف
تندارتون
مسلکی تعلیمات
کتابخانه
مالی مدیریت
در یاست مرستیال
اداری لوی مدیریت
د پلان لوی مدیریت
د ترانسپورت لوی مدیریت
د پلټنې لوی مدیریت
تحریرات
فنی مدیریت
د محاسبی مدیریت
کنترول
حوالجات
دفترداری
واردات
ترازو
ترانسپورت
تقسیمات
تصفیه
تادیات
حوالجات
اجرائیه
حفظیه
استخدام
سوانح
تولید
توزیع

# د کانو او صنایعو چارې د لومړي پلان په پنځو کلونو کښې

## د کانو د ریاست چاری

### د ترانسپورت چارې د پلان په لومړي او دوهم کال کښې

د ۱۰٤۰ لاریو په شمول د ترانسپورت یوه ځانګه تاسیس شوه چه له یوی خوا له کانو څخه سکاره رسوی او له بلی خوا د ځینو وزارتونو د مالو په وړلو کښې هم ورڅخه استفاده کیږی.



ع، ج دکتور محمد یوسف د کانو او صنایعو وزیر

### په دریم کال کښې

د ترانسپورت ځانګه چه د کانو او صنایعو په وزاوت کښې د دولتی تصدی شکل لری د پلان په دریم کال کښې یې له کانو څخه ښار ته او له ښار څخه فابریکی ته د معدنی او غیر معدنی موادو په راوړلو کښې لازمې آسانتیاوی برابری کړی دی. همدا رنګه یې یو سل او څلور لاری پکاراچولی او په دغه کال کښې یې د نورو دولتی دوایرو او موسسو د ضرورت وړ شیانو په وړو او راوړو کښې په ښه انتظام سره د دوی مرام سرته ورساوه. دغی ځانګی د پلان په دریم کال کښې «۸۷۷ ۵۰» ټنه کانی مواد او نور شیان ورسول.

دورکشاپ ماشینونه او د ضرورت وړ نور سامانونه یې کابل ته راورسیدل او ټول ماشینونه نصب شول او د خرادی، او ولدنګ، آهنګری دبټری چارجولو، د موټر ترمیمولو د چارو د پاره پکار واچول شول، د دغو ترکونو فنرونه او براکتونه د بل او باډی یې جوړی شوی، کوم عمده اجراآت چه په دغه ورکشاپ کښې شوی دی هغه د «۱۰٤٦» لاریو ترمیمول دی چه د هغو فعالیتو له امله د وزارت نقدی عایدات د پلان په دریم کال کښې د ترانسپورت له درکه «۱۲۱۳۹۲٤۹» افغانیو ته زیات شول، د هغه د عایداتو د زیاتوالی او د ډیر فعالیت د پاره د ترمیم څو نور ماشینونه په دغه ورکشاپ کښې نصب شول.

### په څلورم کال کښې

د ترانسپورت د لوی مدیریت دورکشاپ اجراآت: د ۵۳ عرادو موټرانو باډی جوړی شوی دی

دخورلسو مو ټرو مخکینې بر اکټو نه اود پنځو مو ټرو دشا براکټو نه ډبل کا ری شوی‌دی دشپاړسوموټرو دماشین فریمو نه هم ترمیم شوی‌دی .سربیره پەدی متفرقه‌ترمیمو نه‌هم شوی‌دی «۱۷۷» لاری پە فعالیت کښې‌وی، پنځه دیرش‌لاری‌دسینډل اونورسامان دماتیدوداەامله ولاړی دی ؛دخولاریو دمخکښې او شاکمانیو دپټیوډنه‌ی‌اصلاح‌اوترمیم‌شوی‌دی.دهغو مواد واحصائیه چه وړل شوی دی اوپه مقابل کښې یې نقدی واردات شوی‌دی په لاندی ډولده.

| دموادوډول | په کیلو | افغانۍ |
|---|---|---|
| سکاره | ۱۷۳٤۲۸۰ کیلو | ۷۰۱۱٥۰۷ |
| سمنټ | ۲۲۱٤۸۰۰ کیلو | ۱۰٥۰۳۳۱ |
| مالگه | ۱۹۳٦۱۳ کیلو | ۱۰۲۹۳٦ |
| متفرقه | ۰ | ۱٤۰۹۷۸ |
| میلاس | ۲٤۷۳۰ کیلو | ۱۸۷٦۰ |
| غنم | ۳٤٥۰۳۸ کیلو | ۱۸۷۰۲٥ |
| ټول | ۱٤٥۰۷۹٦۱ کیلو | ۸٦٥۱۸۱٥ |

## پەپنځم کال کښې

دترانسپورت لوی‌مدیریت پخپلو«۱۰٤»لاریوډبری‌سکاره‌اونورکانی‌موادد مطلب ځای‌ته رسولی‌دی‌اوعلاوه پەدی‌درسمی‌دوایرو،موسسواونورومالونه هم‌وړی اوراوړی‌دی .

## دجیالوژی‌سروی‌دپلان‌پەلومړی‌اودوهم کال کښې

دجیالوژی‌څانگی‌دمملکت‌دمهمو برخودسروی‌مقدماتی‌چاری‌برابری‌اوځینی کارونه‌یی‌هم‌بشپړ شوی دی‌اومفصلی‌سروی‌مخ‌پەزیاتیدودی. پەپنجشیر،سرخ اوپارسا،شینډنډ اونورو سیمو کښی درادیو اکتیف‌موادترکتنی‌لاندی نیول‌شوی‌دی او دمملکت د هغو نورو چارو زیاته سروی روانەده .

## پەدریم کال کښی

دلویدیځ‌المان څخه‌شپږتنه‌ماهران‌دهغه‌مملکت دتخنیکی مرستودپروگرام‌له لیاری کابل تەراورسیدل اوپەکارئی‌شروع‌وکړه،دسیارلابراتوار سامان‌اودضرورت و ړعرادې دا ستفادی له پاره دوی تەورکړی‌شوی.

ددوی‌دکارځای‌ټاکل‌شواوافغانی‌مرستیالان دکاردپرمختگ‌دپاره لەدوی‌سره‌پە کارکښی داخل‌شول،دځمکی د کارتو گرافی‌دچارودا جراسره‌سم‌پە نورو فنی‌کارو لکه درپو ټـــو او دځمکې پیژندلو دنقشو پە برابرولو لاس پوری شو، دځمکی پیژندلو ماهرانو پەچا ریکارو کښې دیوه نوی ښار د ودانی پە برخەکښې داوز دوکتنوڅخه وروسته دفوایدعامی دوزارت سره مناسبه فنی مرسته وکړه،دعکاسی‌خونه او د میکرو باینټولوژی‌د لابراتواردنل ځځو لو کار سرته ورسېد او دکیما دلابراتوار کار دوام‌لری دصحرایی چاروکتنه او د هغو دنقشو اخستلو کار دجوړ کړی پروگرام سره سم له هرات څخه اوبی ته ، او دهیر مند د ناوې



ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم په سرپل کښې د«یتیم تاق» ذ تجربوی‌څاه دپټرولودجریان چارې ګوري اود موظفو
کسانوڅخه‌توضیحات اوري.



دکانو او صنایعو وزیر ښاغلی دکتور محمد یوسف په قندزکښې د تیلو ایستلو د فابریکې د پرانستلو له امله خپله وینا کوي

په اوږدو تر پنج آبه او له هغه ځايه دسرخ اوپارسا اوميدان له لياری کابل ته دڅوميلو په اندازه اجرا او نقشى‌به يى ژرتدوين شى .

سربيره په دى دسکرو له نظره دسيغان دسلسلې کتنه د ترتيب شوى پروگرام سره سم روانه ده، دکر کرا و پلخمرى د سيمې سيستماتيك کتنه تکميل او د ستر اتوگر افی له نظره دغزنى اوقندهار دسرك‌ترمنځ دجنوب‌شرقى‌سيموکتنې وشوې، فضائى عکسونه دځمکې د طبقو د فوتو جيولوژى د پاره د ترتيب شوى پروگرام په اساس ترتيب او اجرا شول .

مترالوژى : د راديو اکتيف د موادو د سروى‌کارونه دپنجشير،سرخ‌اوپارساو د کابل اوهرات دسرك د اوږدو په شا وخوا کښى وشول ار دپنجشير،سرخ‌اوپارسا او شين ډنډ په شاوخوا کښى د راديو اکتيف د موادو موجوديت وکتل شو او سروى به‌يى‌له شين ډنډ نه علاوه دمملکت په نورو ځايو کښى هم دوام وکړى، ددرندوکانو د پيدايښت له نظره په جگدلك‌کښى ددووماهرانوپه واسطه دسيندى ترتيبباتوسروى، روانه ده سربيره په دى دلوگر او غوربند سيمى هم سروى او وکتلې شوى .

د سيندو د شگو کتنه : دوه تنه ماهران د فرانسى د تخنيکى مرستى له لياری څخه د جگدلك او لو گر په سيمو او د غو ر بند په در و کښى د شگو مينځلو د کتنو له پاره استخدام شول .

د جگدلك سيمه : دغه سيمه دياقوتو د درلودلو له نظره ترکتنى لاندى و نيول شو ه او د لازمو څيړ نو او د شگو مينځلو نه وروسته يو څه لعل لاس ته راغلل اوپه غالب گمان سره د رښتنى ياقوت موجوديت وليدل شود. دغه مطلب د پاره د زياتو او اسا سى کتنو له امله يو مکمل هيأت چه ټول سامانونه او وسايل ورسره‌وو دغى سيمى ته‌وليږل شو .

د لوگر درى سيمه : دغه سيمه د پلاتينو د موجوديت له‌نظره تر اساسى کتنى لا ند ى ونيول شوه او د شگو مينځلو کار به يى په راتلونکى کال کښى په سيستما تيکه ډول ســـره وشـــى .

د غوربند سيمه : په دغه برخه کښى هم يو څه زياتى سمندرى شگى شته چه مينځل‌يى د کانى موادو د موندلو د پاره مهم دى . په دغه کال کښى د سمندر ى شگو د منځلو نه غرض د راتلونکى کال د پاره د مناسبو سيمو انتخاب دى .

د راديو اکتيف مواد : د پخوانيو څيړ نو او د فرانسى د اتوميك دانرژى دکميسيو ن دپيشنهاد په نتيجه کښى د کانو او صنايعو وزارت لازمه وگڼله چه د راديو اکتيفى موادو د استفادى وړ ذخيرو د موندلو د پاره خپلو څيړ نو ته د هيواد په بيلو بيلو بر خو کښى دوام ورکړى . د دغه اصل‌له مخى‌يى د اتوميك د طاقت‌دکميسيو ن پيشنهاد ومانه اودهغه د تطبيق د پاره‌يى يوهيأت د کابل اوقندهار ترمنځ‌سيمواو دقند هار د ولا يت د شمال‌ټولو برخو ، هرات ، هزاره جات ، مزارشريف، ننگرهاراوبدخشان -سيموته وليږل شو اوپخپلو څيړ نويى لاس پورى کړ . له کتنو څخه داسى معلومه شوه چه د بدخشان‌اوننگرهارحوزى د راديو اکتيفى موادو دموندلو دپاره مساعدى دى او بايد په دغو ځايوکښى ډيرى مفصلى څيړنى وشى . دغه‌ما هرا ن اوس د رپوټ په ليکلو لگيا دى او که له دغو ذخيرو څخه

دبنې استفادې امکان په نظر کښې راشي نو دايستلو د پاره بهيي بيله موا فقه وشي .دکانو اوصنـايعو وزارت دوه کاله پخوا په دغه باب کښې اقدامات کړي دي او د راديو اکتيفي موادو وړانګېيي دبدخشان، باميانو او بلولي په سيمو کښې موندلي دي او د کرا ن او منجان په برخو کښېيي په سلوکښې له ځلويښتو څخه تر ځلورځلو پښتو پورې ديورانيم موجوديت تخمين کـړی دی .

## په ځلورم کال کښې

د سکرو د ذخيرو دسيستماتيك کتنې رواني دی لکه چه دکرکر پهکان کښېدجيولوژي نقشه اوتخنيکينمونه ددغهکان دسکرو دکوك دوړکيدو د پاره اخستل شوي ده او د المان دتخنيکي مرستيلهلياري جرمني ته ليږل کيږي، لهدغو نمونوڅخه دسکرو دجنسيت تحولات دميلان دطبقو د ذخيرې له امتداد څخه دطبقي د استراتيك له امتداد سرهکتل کيږي .دالمان دتخنيکي مرستو دماهرانو ديو ګروپ او افغانيکونتر پارتانو په واسطه د غزني اوقندهار ترمنځ د ـرك په جنوب شرقی ساحه کښې فو تو جيولو ژي او د ځمکې ستړا تو ګرافي د هغو سا ختما نو له نقطه نظره رواني دي چه دنفتودپيدايښت دپاره مساعدوي، يوزرکيلو متره مربع په دغو درو مياشتو کښې فتوجيولوژي او لومړني نقشهيي دميکرو پالئنيولوژي په لابراتوار کښې چه نوي تکميل شوي دي سرته رسيدلی ده، ۱۹۹ نمونې ئې تجزيـه او د ميکروسکوبيکتنې دپاره آماده دي او ددغه لابراتواردتکميل نه علاوه دکيمياييولابرا توار هم دلاز مو سامانو پهرارسيدو او دهغو په نصبېدو دپلان سره سم تخميناً پهلوکښېنويتکميل شوی دی، دفوتوګرافي دلابراتوار څخه هم په عا د ی ډول استفا د ه کيږ ي ، د قندهار د ولايت دافغانستان دجنوب دصحرائي سيمو لومړنی سروې دحوتپه مياشتکښې درسوبي طبقو د پيدايښت لهنظره اجرا شوې ده .

مترالوژي : دپروګرام سره سم د راديو اکتيف د موادو دپلټلو دپاره د ريکو ساس سروی د هندوکش د شمال په سيمو او دهيواد په نورو برخو کښې پرته د بدخشان دسيمو د فرانسي د د تخنيکي مر ستو دګروپ په وا سطه سرته ر سيد لي دي ا و نتيجې يي د ر پو ټ او د جيو لو ژ ی د نقشي په ډ و ل د جيو لو ژ ی سروی ته و ر کړه شوه اودسيند دترسبا تو تحقيقاتي چا ر ی د فرانسي د تخنيکي مر ستو د ګروپ د قرار داد ترنوي کو لو پو ر ی معطلي د ی . د شمال په فضايي عکسو د نومو ابښو دلو د چار و کار دشوروی دتخنو اکسپورت دماهرانو اودافغاني توپو ګرافانو په واسطه سرته و رسيد اوپه دغه ترون پوری دځمکې د کنترول چاري تکميلشوی. دی په ترون پوری مر بوطې دځمکو چاريهم دفيرچايلد دکمپنيله خوا دپروګرام سرهسمی ختميشویدياوپهخارج کښې يي دنقشو تد وين روان دی .

## پهپنځم کال کښې

دغزني اوقندهار دسړكدجنوب شرق دسيمو دجيولوژي چاری دشمال (کر کر، شپشتې دره صوف اوهرات) دسکرو تحقيقات اودکابل اوخوست ترمنځ سيمې دستړا تلګرافي کار



دکتورمحمدیوسف دکانو اوصنایعو وزیر هغه‌وخت‌چه دجاپان له لوی سفیر سره
د بایسکل؛ پلاستیک اوبوتل جوړولو دفابریکی تړون لاسلیک کوی



بناغلی انجنیرمحمدنعیم «ضیایی» دغوری دسمنټو اودبرښنا دفابریکی رئیس هغه
وخت‌چه دچکوسلواکیې دتخنواکسپورت‌له نماینده سره دغوری دسمنټ‌ددوهمې فابریکی
تړون لاسلیک کوی .

ACKU



په شبرغان کښې دیتیم تاق د پټرولو د بر مه کارۍ یوه منظره .



د شبرغان په سرپل کښې د پټرولو د تفحصاتو د ریاست ځینې ودانۍچه
استفاده تری کېږي

دوام لري . دهیرمند دناوی ددیپرشن دشمال دنساجی دجیولوژۍ نقشه دفرنجل اوغو ربند دمازانه درې دبرایت پلټنې دسرخ اوپارسا دمسو پلټنې هم جاري دي، په پاسنی پنجشیر کښې دبیرل دتحقیقاتو دافغانستان دجیولوجي نقشو دتدوین او یو په یو ه میلون او یو په پنځو ملیو نو اودفوتو گرافي چارې دوام لري، دکمپنگ سامان، دفیلډ کار سامان او درافتنگ سامان او ړل چه دداخلي جیولوجیستانو دلسوتنو معاونانو دپاره ضروري دي ځکه چه له کونتر پار تانوسره دفیلد سامان ضروري دي، فنی قرطاسیه باب او دجیولوجي دنقشو ددرا فتنگ سامان را وړل شوی دی، اوددوی دتقویې دپاره دروسنی تن سکشن ، پتوگرافي او میکرو باینتولوجي دلابراتوار ضروری تجهیزات دفرانسی دتخنیکی مرستی له لیاری دسیندد ترسباتو دذخ رو دکتنې چارې ددوا ړو دولتو دموافقې په اساس دوام لري. دفرانسی دانرژۍ دکمیساری د گروپ په مرسته درادیو اکتیف دموادو پلټل اودکتنې چارې اودکتابخانې او دجیولوژۍ دکوټې تنظیم اودهغو کتابونو رسول چه دسروی کانو محلي او متفرقه نقشو اخیستلو دپاره ضرورت ورته پیداکیږي اودافغانستان دتیږو او کانو دموزیم دچار و ترتیبات نیول شوی دی او ځینې کارونه یې هم اجراشوی دی .

دجیولوژۍ دسروې د موسسې دپاره دعصری اواختصاصی ودانۍ ځینې چارې اجرااو په دارالامان کښې دسروی جیولوژۍ دودانۍ په ملحقاتو کښې گاراژته نژدې دترا نسپور ت له تحویلخانه سره دگاراژ او دموټر دترمیم ځای ودانۍ جوړه اودتجزیې دلا براتوار او نورو نلو نه غځول شوی دی .

## دتوپو گرافي چارې دپلان په لومړي او دوهم کال کښې

دتوپو گرافي مقدماتي چارې داسې ترتیب شوی دي چه دفیرچایلډ کمپنې دمملکت د جنوبی اودشوروی تخنواکسپورت دمملکت دشمالي برخو څخه عکسونه تهیه کوي، د دغې چارو نقشې دترتیب په حال کښې دي، چه په وروستنیو کالو کښې به دهغوی ځینې کارونه بشپړ شي .

## په دریم کال کښې

دهندوکش په فضائي عکسو باندې چه د شوروی تخنوا کسپو رت د ماهرانو په وا سطه اخیستل شوی دي او په افغاني توپوگرافیو باندې چه پخوا اخیستل شوی دی نومونه ایښودل کیږي او په سلو کښې اتیادغه کار سرته رسیدلی دی . په همدغه ډول دهندوکش دجنو بی سیمو دهوایی سروی دعکس اخیستلو پروژه اودځمکې دکنترول چارې دترون سر ه سمې دفیرچایلد له کمپنۍ سره ر وا نی دی او په تخمیني ډول سره یې کار په سلو کښې پنځه ا تیا سر ته رسیدلی دی اوهیله ده چه پاتې کار یې دپلان د څلورم کال په لومړیو دوو میاشتو کښې سرته ورسیږي .

## د کارتو گرافي فضائي سروی

دهندوکش دجنوبی سیمو دعکس اخیستلو ترون له فیر چایلد سره اجرا او په سلو کښې نوی چارې ئې تکمیل اودفضائي عکس ا خیستلو کا ر په سلو کښې پنځو س اجرا او هیله ده

چه دپلان دځلورم کال په دوواومړیو میا شتو کښی بیخی پای ته ورسیږی ، دنورو عکسو دبرابرولو اوکتنو دپاره دعکس اخیستلوسامان خارج ته فرمایش ورکړ شوی‌دی، د مملکت دشمالی سیمودعکس اخیستلوتړون‌دشوروی دتخنواکسپورت‌سره له تړون‌سرهسم سرته رسیدلی اواحتمال لری چه دغه فضائی عکسونه د پلان‌دځلورم کال په‌سرکښی دتخنواکسپورت څخه لاس ته راشی .

سربیره په دغو اجراآتو د هوا او ځمکی دسروی په برخو کښی دغه پیشرفتونه شوی دی :

## الف ـ دفیرچایلډ کمپنی په واسطه

۱۲۷٤ میله هموار کاری‌شوی‌ده، دشوران اوگریت شوران دکرښو فوتوگرافی عملیات د۱۶۹۸ میلو په اوږدو کښی دکرښی په ډول اوپه ٤۱۱۲۸ مربع میله‌ساحه باندی‌شوی‌دی .

دپولیگرانومتری‌دتراورسونو اجراکیدل‌دهندوکش دشمال په‌برخه‌کښی دتخنوا کسپورت په واسطه سرته رسیدلی‌دی .

داسترانومی شپاړس نقطی سروی په عمومی ډول‌سره دبلولی، شین ډنډاوا در سکن په برخه کښی دشمال‌دبرخی‌له پروژی دجنوب‌سره دساحی په‌نظرکښی نیولو ځایوباندی نومونه ایښودل شوی دی اودشوران په ۱۷و۱۲ ټکی په رښتنی عمومی صورت سره وصل‌شوی دی .

۱) دجنوب دبرخی دموزائیک‌د۸۶ لومړنیو نقشو نقل دجنوب دبرخو د۷مهمو ښارو له موزائیك سره دیوپر ۲۵۰۰ اویوپر ۵۰۰۰ په مقیاس دفیرچایلډ دکمپنی په واسطه دکانو اوصنایعو وزارت ته و سپارل شو .

۲) ۱۱۱۶۶ هوائی عکسونه او ۲۱۶ دعکسو لارښوونکی دهغو له ۹۳ نگتیفونو سره دار۵۰۰۰ په مقیاس دشوروی تخنواکسپورت په واسطه دغه وزارت ته سپارل‌شوی دی .

۳) دنومو ایښودلو ۲۶٤ تصحیح شوی پاڼی دنقشی داکمال دپاره تخنوا کسپورت ته وسپارل‌شوی، دهیواد دبیلو بیلوسیمو پاتی برخو دنومونو دټاکلو دپاره ور تیاری وشو ل .

## په څلورم کال کښی

دشوران دکنترول او دهندوکش دجنوب سیمو دهوایی عکس اخیستلو چاری د امریکا دفیر چایلډ له کمپنی سره دتړون په اساس سرته‌رسیدلی‌دی، په دغه‌کال کښی داخستل شوو عسکوله جملی څخه‌یوځه کابل‌ته رارسیدلی‌دی اودعکسوپه آرشیف کښی قید اودمراجعینو داستفادی دپاره آماده دی .

## په‌پنځم کال کښی

دافغانستان دتوپوگرافی د نقشو په پروفو باندی دنومو ایښودلو چاری شروع او دوام لری، دغه نقشی دفیرچایلډکمپنی په واسطه تدوین اورا لیږل کیږ ی .

## دهوائی سروی چاری

دمراجعینو دپاره دهیواد هوایی عکسو نه برابر اودفوتوکاپی لابراتوار تنظیم، دهوایی عکسو او نقشو آ ر شیف ز یا ت تر تیب شو ی د ی ، د مخصو صو کبینتو نو را و ړل



دقطغن پەولایت کښې ددهنەغورۍ دسمنټو دفابریکې ځینې ماشینونه چەدهغوىعمراني اوتخنیکي چارې بشپړ شويدي.



دقطغن دولایت ددهنه‌غوری دبرښنا دنوی فابریکی دماشینو یوه څنډه . . !

ACKU

اودهوایی عکس اواصل نقشو دنګتیفونو دساتلو دپاره دفایر پروف او مخصوصی تحویلخا نی هم جوړ شوی‌دي .

## د نفتی موادوچاری دپلان په‌لومړی اودوهم کال کښی

دشوروی دتخنواکسپورت موسسی دافغانستان په‌شمالی‌سیمو کښی چه دشبرغان په مناطقو کښی واقع دي د پترولو دپلټنی چاری ترلاس لاندی نیولی اوعملیات یی په‌سرپل کښی هم روان دی،جیو لوژی کتنی په بیلوبیلو برخو کښی‌شوی‌دي، مفصلی سروی لکه دبرمه‌کاری سسمو ګرافیك سروی،دهوایی مقناطیسی نقشوترتیب اودمملکت‌په‌جنوبی برخوکښی دپټرولو دپلټلو کتنی هم روانی‌دی :

## په دریم کال کښی‌دپترولوپلټنه

د تخنوا کسپور ت سره د شوی تړون سره سم د پلان په دریم کال کښی د غه چار ي سر ته‌رسیدلی دی :

۱ـ دپلان سره سم په‌یوه «۷۰۰۰» کیلومتره‌مربعه‌سیمه‌کښی په‌عمومی‌صورت‌دجیولوژی تحقیقات تکمیل اوتخمیناً په‌سلوکښی‌اویاددغو برخودنقشو ترتیبول اجراشول،دانګوت‌په‌غرب کښی په شبرغان اودخواجه ګروك دیتیم تاق په برخه کښی په‌یوه دوه سوه مترومربع کښی دجیولوژی تحقیقات سرته ورسیدل .

۲ـ د«۴۳۰۰۰» کیلومتره‌مربع واټن هوایی مقناطیسی‌نقشه تکمیله شوه .

۳ـ دصحرا او دښتو فوتو جیودیتیك دترتیب شوی پروګرام سره سم‌سرته ور سیده .

۴ـ د«۱۰۰۰۰» کیلومتره مربع اودوه سوه کیلومتره مربع په واټن دڅاکلوبرخو په کرښوباندی سایزمیکی‌کارونه تکمیل شول.

۵ـ په سرپل اونویوساختمانو کښی دبرمه کاری کارونه شوی‌دی .

الف : «۲۰۰» ټنه دژوری برمه کاری سامان او لوا زم له کلفت څخه د ا نګوت غره اوسرپل ته راوړل شو اویوه برخه مهم کارونه یی اجرا اودبرمه کاری دپاره آماده شول .

ب : دانګوت‌دغره په‌سا ختمان‌کښی «۱۴۷۳» متره برمه کاری‌وشوه‌همدارنګه‌دانګوت دغرد دانتی کلین دڅاه اودهغی‌دطبقودمعلومولودپاره‌مفصلی‌کتنی‌وشوی.

ج ـ دشبرغان‌دیتیم‌تاق‌په‌غره کښی‌دبرمه کاری‌لومړنی‌کارونه‌اودتوربین‌لرونکی‌برمی‌دجوړولو چاری و شوی ، سر بیر ه په د غو اجرا آتو دغه فعالیتو نه هم شوی دی .

۱ـ د مزار شریف په‌مرکز اودکار په‌برخوکښی دودانیو دجوړولوکار روان دی .

۲ـ دجلال آباد دکلی‌نه دیتیم تاق ترانتی کلین پوری دسرك‌دهوارولوکار سرته‌ور سید اوتخمیناً دبرمه کاری‌سل‌ټنه‌سامان یتیم‌تاق ته‌ولیږدول‌شو .

۳ـ دشمال په برخو کښی دپلټنو دساحی څخه دباندی د جیولوژی عمومی ر یکا نس سر ته ورسید .

٤ـ سایز میکی‌سل‌ساعته کورس‌له‌یوه بل‌کورس سره دریاست دموټروانانودروزنې د پاره جوړشو، دهغه دودانیو دجوړولواودسامانودبرابرولوپه‌باره‌کښې دغه اقدامات شوی دی :

۱ـ په‌مزارشریف‌کښې دری‌نوی‌ودانۍ چه‌دوه‌یې پوره‌پخې دی‌او شپاړس کوټې لری‌سرته رسیدلی دی.

۲ـ په‌سرپل‌کښې دخارجی‌مستخدمینو داستوګنې دپاره‌یوه‌نوی‌ودانۍ‌چه‌پخه‌ده‌اوشپېز ویشت خونې لری جوړه شوی ده.

۳ـ په مزار شریف کښې‌یوه نوی‌ودانۍ چه دوه پوړه ده جوړه‌شوی‌ده اودستګاوی یې‌هم درول شوی دی .

٤ـ دموټردپاره ګاراژونه هم‌جوړشوی‌دی.

٥ـ په‌مزارشریف کښې‌داوبودذخیری‌یوبرج‌ددولسومترو‌په‌لوړوالی جوړ او دستګا وی ئې نصبې شوی دی.

٦ـدخارجی مستخدمینواودفتر داوسیدودپایوساما نو نه اووسایل‌تهیه شوی‌دی .همدارنګه ۱ر۲۰۰۰۰ په مقیاس دڅلوروزرو کیلو مترو په مساحت اودا۱ر۲۵۰۰۰ په مقیاس دیو سل اونوی کیلومتره مربع په‌مساحت‌اودا۱ر۵۰۰۰۰ په‌مقیاس‌دنوی کیلومترو‌په‌مساحت‌دجیولوژی نقشه واخیستله‌شوه،ددولسوزرو کیلومترو په‌مساحت دمکرانوتره اودڅلورو سووکیلو مترو په مساحه سایز میکی پلټنې و شوی .

## په‌څلورم کال کښې

دپټرولو پلټنې : دجوړشوی پلان اوپروګرام سره‌سم دغه چاری‌سرته رسیدلی دی :

۱ـ دعمومی‌جیولوژی‌دتحقیقاتوکارونه دپلان‌سره‌سم‌داندخوی‌د محمدجان ډګر، دشت‌ګنج اودتاشقرغان سزمیك نقشی اود«۸۸۰» کلومتره مربع‌پروفیلونه تکمیل شوی دی .

۲ـ دپلان سره‌سم مفصل‌جیولوژی‌کارونه د«۸۵۰» کیلومترو په‌مساحت دا۱ر۵۰۰۰۰ په مقیاس شوی دی .

۳ـ دسرپل‌لومړۍ برمه‌کاری په‌عمومی ژورتیاکښې دکراتاژعملیات ددیمناژ دتطبیق سره له ټولو ماشینو دبرمه کاری اودبرمی‌دبرج نوری چاری سرته رسیدلی دی .

ب : دشبرغان دیتیم‌تاق په غره‌کښې «۹۲۲» متره ژوره برمه کاری .

ج : دلوی ځنګل په غره کښې «۱۲۱٤» متره برمه‌کاری وشوه .

د : دشیرم په ساختمان کښې دهیمنتاژ له تکمیل څخه وروسته برمه کاری شوی ده .

## په.پنځم کال کښې

دذخیری ټاکل او د برمه کاری د دستګاه په واسطه د ایستلو دپاره یو نفت لرو نکی میدان آماده شو .

دنویو میدانو اکتشافی پلټنې‌لپاره له‌یوه نه تردوو پوری‌ځاګانې‌کیندل شوی دی .

د۱ر۵۰۰۰۰۰ په مقیاس‌د٧٤کیلومترو په‌مساحت دپلټنې ساحی‌په‌اوږدو کښې‌دجیولوژی تحقیقات شروع شول .



په‌قطغن کښې ددهنهٔ غورې د برېښنادفابريکې داوبو لګولو تونلونه چه ددې تونلونو پواسطه اوبه له‌حفر شوی کانال څخه فابريکې‌ته‌رسول کيبږي.



دقطغن دو لا یت په دهنه غوری کښې دبرېښنا دفابریکې نوی‌بندچه‌دسبزکال ترنیمائې یې مهمې چارې سرته رسېدلې دی



دقطغن د ولایت په‌دهنه غوری کښې دبرېښنا دنوې فا بریکی دودانیو یوه منظره.

د ۵۰۰۰۰۰ر۱ په مقیاس ۹۰۰۰ کیلومتره مربع‌ساحې په پراختیاد گراومترۍ تحقیقات شروع شول .

د ۴۳۰۰۰ کیلومترو په ساحه کښې دسایزمیکې دتدقیقاتو چارې دوام لري. دبرمه‌کارۍ دکورس د جوړیدو په واسطه یو شمیر افغاني برمه‌کاران روزل شوي دي .

## دسکرو چارې دپلان په لومړي اودوهم کال کښې

دکرکر اوشپشتې د سکروکانونه دتولید په حال کښې دي اودتولیداتو دزیاتولو دپاره نوې‌سامانونه ورکړل‌شوي‌دي‌اودهمدغه منظورد پاره‌یوتړون دچکوسلواکیې له‌استرواکسپورت سره لاسلیك‌شو، له‌دغوکانو څخه هرکال په‌اوسنیو وختوکښې‌څلورینشت زره ټنه‌سکاره‌لاس‌ته‌راځي اوپه آینده کښې به زیات‌شي .

## په دریم کال کښې

### دتیبزو سکاره

دکرکر د سکرو کان :

دکار تو گرافي چارې او داوبو دپیژندلو مربوط گرا فونه دکان په هغو برخو کښې سرته ورسیدل چه دننوتلو امکان‌ئې موجودو، دکرکر دکان دپر اختیا او ددود کش نقشه تهیه او ترتیب شوه، دوا کونو دنقلیې په‌صوف‌کښې فلزي ستنې ودرول شوې او زیر زمینې ئې نوي متره سروري جوړې شوې .

یوه تحو یلخانه چه ددرو سوبتریو د چارج ظرفیت ولري جوړه شوه، د څلورو سووتنو عملي دپاره کورونه جوړشول، یوزرو پنځه سوه متره اوزدد سکرو دواگو نو د نقلیې په صوف کښې داوسپنې پټلې وغځول شوې، صوف‌ته دننوتلو برخه په عصري صورت جوړه شوه دغه اجراآت دسکرو داتحادیې په مرکز کښې وشول :

۱) په سل جر یبه ځمکه کښې نیالگې کېښودل شول .

۲) په درې سوه پنځوس جریبه ځمکه کښې چه پخوا نیالگې ایښودل‌شوي‌و ودوچو شویو نیالگیو په ځای نور نیالگې کېښودل شول .

۳) په اشکمش‌کښې درې سوه پنځوس جریبه‌ځمکه واخیستله شوه او په‌هغې باندې‌شروع وشوه چه دذخیرې دبې دپاره سمه اودکښت او کرووړشي.

۴ ــ دکرکر بې‌وپلورل‌شواو‌په‌هغه‌کښې‌دلښتیو‌په‌ایستلو‌او‌دپخوانیو‌چارو‌په‌سمون‌یې‌لاس‌پورې‌شو

۵ ـ د مامورینو د ا ستوگنې د پاره د شپږ و کو ټیو ددرو بلاکو د نجارۍ کار ختم او ودانې یې تکمیل، لس‌گار اژونه ا و د آهنگرۍ او و اد نگ کارۍ ددستگاه ودانې جوړې شوې اوتعمیرات ترمیم شول .

۶ دورکشاپ‌دستگاه تکمیله‌شوه، دغه دستگاه دارې، رندې پریکړې‌او خرادۍ په ماشینو مجهزه ده او دهوا نل ماشین هم تهیه‌شوي دي.

۷ دنجارۍ دستگاه تکمیله‌شوی ده، دغه دستگاه‌داری،رندی،خرادی، اودحلبی جوړولو یوه کارخانه‌لری.

۸ ـ ددوه سوه پنځو س کلیواټو په ظر فیت دبر ښناد تولید ولو ددستگاه در ول او ودانی جوړول او مربوطی چاری یې دسرته رسیدو په‌حال کښی دی .

۹ ـ داتومات تیلفون یوه دستگاه نصب او پکار اچول شوی‌ده.

۱۰ـ دبر ښنا تربند پوری دکرکر دکان دبرښنا ستنقی نوی اوسمنی شوی دی.

د شپشتی دسکروکان: د د غه کان د زیر ز مینی په هغو برخو کښی داوبو پیژندلو گراف او کارتو گرافی سروی وشوه چه دننوتلو امکان یی در لود ، دکان دپراختیا نقشه تکمیله اوپه یوه زیر زمینی کښی چه دوه سوه پنځوس متره اوږده ده دترانسپورت سامان تهیه شوی‌دی ، دهوا د روښانولو د پاره دبر ښنا سامان او دکان داو سپنی دپټلیو سامان تهیه‌شوه د ځلورمی زیرزمینی‌څخه تر پنځمی زیرزمینی پوری دبدرفت فلزي نلونه نصب او یو سرك او داوسپنی پټلی اوه‌سوه متره وغځول شوی. دوه سوه پنځوس کلیواټه بر ښنا تولید او د عمومی سرك ترځنګ دیوی دستگاه ودانی‌سرته ورسول‌شوه، دکان اوسنی ودانی ترمیم شوی، دشپشتی دسکرودکان تولیدات اوس دوره‌ی دپنځه دیر شواو ځلو یښتوټنو په شاوخوا کښی‌دی، هیله ده چه دکارگرانو په‌زیاتیدو سره یی حاصلات زیات شی، په تالقانو کښی به یوه تحویلخانه او یو پل‌جوړشی،دکانو دکارگرانو دپاره یو عمومی‌حمام جوړشو

دهرات دسکروکان : ددغه کان سروی‌سرته‌ورسیده، ددغه‌کا ن‌کار د و زارت او دهرا ت د نایب الحکو مگی ترمنځ دتړو ن سره دوام‌لری، د هر ات دکرخ دکان څخه د سکرو په ا یستلو شروع وشوه .

دصوف ددری دسکروکان، دسرکاری کلا ا وسمنگانو ترمنځ سرك اتیا کیلو متره او ږد جوړشو اودغه سرك دسرکاری‌کلانه دتورتر خولی پوری وغځول شو چه په‌دغه ډول د صوف ددری دسکرو لوی کان‌دسمنگانو له‌لیاری‌له مزارشریف او کابل سره هم‌وصل‌شو، په‌معدن کښی دخارجی‌تخنیك پوهانو داستوګنی دپاره‌ځایونه جوړشول .

## په څلورم کال کښی

دډبرو سکاره او دسکرو تحاد یه :

دشپشتی‌دسکروکان : له‌دغه‌کان‌څخه «۱۰۰۰۰» ټنه سکاره را ایستل‌شوی‌دی‌اودودانی دچارونه‌ئي‌علاوه‌دبریښنادتولیدولو«۲۵۰»کیلواته‌دستگاه تکمیله‌اوداستفادی‌دپاره آماده‌شوی‌ده دکر کر له کان‌څخه (۱٦۹۰۰) ټنه سکاره ایستل شوی دی اونوری چاری‌ئي‌چه دپلان له محی‌په‌نظرکښی نیول‌شوی وی ختمی شوی دی‌اوعلاوه‌په‌دی دغه‌اجراآت‌داتحادیی په مرکز کښی‌شوی د ی :

۱ ـ دکرکردبریښنا دلرگی‌ستنولین‌تکمیل‌شوی‌دی .

۲ـ‌اته‌کیلومتره‌دتیلفون‌ستنی درول‌شوی‌دی ،



د قطغن د ولایت په دهنه غوری کښې د سمنټو جوړولو د نوی فابریکې یوه برخه



د قطغن د ولایت په دهنه غوری کښې د سمنټو جوړولو د نوی فابریکې
د ملحقاتو یوه برخه چه اوس یې مهمې چارې بشپړې شوې دي .

ACKU



په قطغن کښې دکرکردسکرو دکان یوه منظره



د قطغن په ولایت کښې د غوری د سمنتو دفابریکې نوې ودانۍ چه په عصری ډول جوړی شویدی

۳ــ دبرېښنادوه سوه کیلواته دستگاه مخ په تکمیل ده، دودانی او حوض اوچت کار و نه ختم شوی دی .

د صوف ددری دسکروکان : دسمنگانو اودصوف ددری دمرکز ترسر کاری کلاپوری دسړك کارچه د۳۷ کال په دوهمه نیمایی کښی شروع شوی او س دوه نوی میله اوزدتکمیل شوی دی چه زیاته برخه یی تیر کال او۱۸ نیم میله یی دسږ کال دعقرب په میاشت کښی سرته ورسید . ددغه سړك په یوه برخه کښی یه په گور دره کښی دکانکر یتو یو پل جوړ شی ، دکانو او صنا یعو دوزارت دکا نو د ایستلو مدیریت یو معلوماتی اومقدماتی تشکیل ترتیب کړی دی چه دصوف ددری د سکر و کان په کار واچوی اوسربیره په دی کوم سکاره چه پخوا ایستل شوی وو دذخیری د کا ن د پاسه وراړول شوی او خرڅ شوی دی .

## په پنځم کال کښی

دسکروپه اتحادیه کښی دبرېښنا دلین اودنل دغځو لودچارونه علاوه کوښښ کیږ ی چه د سکر و دا یستلو اندازه دپلا ن په پنځم کال کښی له څلویښتوزرو ټنوڅخه پنځو س زرو ټنو ته زیاته شی .

دصوف ددری سکاره : ۱ــ دمزارشریف اوعسکری قشلې دضرورت دپاره دد ر وررو ټنو په اندازه سکاره ایستل شوی دی .

۲ ــ دایستلوپه عملیاتو کښی انکشافی صوفو ایستل .

۳ـ دسکرو دذخیرواودجیولوژی دتدقیقاتو دچارودپیشرفت وارسی چه دانجنیری له عملیاتو سر ه یی کارسمدم پرمختك کړی و .

٤ــ دصوف ددری په سرکو نو باندی شگی اچول شویدی، دغه سرکونه دپلان په څلورم کال کښې جوړ شویدی.

دهرات سکاره: دمزارشریف دپاره له یوه څخه تریو نیم زرو ټنو په اندازه سکاره ایستل شویدي، ددوهم پنځه کلن پلان دپاره د۱۰ زرو ټنو ایستلو دپروژی ترتیب او دلومړ نیو چارو کارونه بشپړ شوی دی .

## دغیر فلزی کانو مواد دپلان په لومړی اودوهم کال کښې

ددی موضوع چاری دتیرو کالو په شان دوام لری مگر دهغی انکشافی پروژی ترکتنی لاندی نیول شوی دی چه دهغو څخه لوی چاری په راتلونکو کالو کښې اجرا کیږي .

## په دریم کال کښې

مالگه : داندخوی دمالگې تولیدات؛ سږ کال یوڅه لږ زیات خو دکلفگانو دکا ن حاصلات بڼه دیرزیات شول ، دمزارشریف دکان تولیدات دکال په لومړیو شپږو میاشتو کښې دتقاضا دنشتوالی له امله په سلو کښې ۴۲ راښکته شول .

دپلان ددریم کال په وروستیو شپږو میاشتو کښې دیارلس زره، اوه سوه دیارلس ټنه او شپږ زاویا کیلو مالگه ددغه کان څخه ایستل شویده .

دسلیت تېږه : دسلیت‌دتېږی دکان دایستلو دپاره نوی‌نقشه جوړه‌شوه، ۳۸ کال‌دحمل‌له لومړی نیټی څخه د۳۸ کال دسرطان تردریمی نیټې پورې‌دمیدان دکهنه‌خمار دسلیت دکان ایستلوکارروان ؤاوپه‌دغه موده کښې‌له‌دغه کان‌څخه ۱٦۱۳ مترمربع‌دسلیت‌تېږه ایستل‌شوی ده خواوس‌څرنگه چه‌دخرڅلاو بازارنلری تولیدول‌ئې ټال‌شویدی .

لاجورد :دلاجوردایستل دهوادخرابی په‌نسبت د۱۳۳۷ کال دعقرب په پای کښې معطل شول او دپلان ددریم کال په‌لومړی نیمایې‌کښې ۱٤۰۰ کیلو گرامه لاجوردکابل ته‌راوړلی شویدی .

له‌امریکا څخه‌یوه پایه کمپرسیور وپلورل شو .

ترکان پورې‌دجیرې دنوی‌سرك جوړول دوام‌لری اودنوی‌کان دپیداکولو په برخه کښې زیاتی پلټنې روانی د ی .

څلورسوه پنځوس کیلو لاجورد برش اویوه برخه‌ئې په‌دغه‌ډول‌سره درجه‌بندی‌شویدی .

| | |
|---|---|
| لومړی‌درجه | ۲۱۷ گرامه |
| دوهمه‌درجه | ۷٤۷ » |
| دریمه‌درجه | ٦ کیلو گرامه |
| څلورمه‌درجه | ٤۹ » » |
| ترڅلورمی درجی ښکته | ۹۵ » » |

له‌تخنوا اکسپورت‌سره‌دقرارداد‌په‌اساس‌دشوروی‌اتحادیوماهردجیولوجی‌دنقشی‌دترتیب‌اودلاجوردو دکانو دذخیرو دکشفولو دپاره استخدام اوله‌یوه افغانی انجنیر‌سره دلاجوردو دکان دبرخو دجیولوجی دنقشې‌دترتیب له‌پاره ولیږل‌شو، دایستلو په‌کارباندی شروع اودهغه نو ې‌کان دجیولوجی دنقشی دتکمیل نه‌وروسته‌چه‌دوه‌سوه‌څلورپنځوس‌منه‌لاجوردلاس‌ته‌راغلل‌وایستل‌شول .

## په‌څلورم کال کښې

**دمالگی‌کانونه،**

دمالگی‌دکان دایستلوکار دپروگرام سره سم روان دی اوپه‌دغه اندازه ایستل شوې او خرڅه شوی ده :

| کانونه | دایستل شوی‌اندازه | دخرڅی‌شوی بیه |
|---|---|---|
| تالقان | ٤٦ر٦٤٨۳ټنه | ۳۲۲٦٤٦٤ افغانی |
| اندخوی | ۳۵ر٤۳۷۸ » | ۲۹۰۳٤۲٤ » |
| کلفگان | ۲۹ر۸۵۸ » | ٤۳۵۱۰۷ » |
| مزارشریف | ۷۱ر۲۵۲ » | ۲۰٦۳۵٦ » |
| ټول | ۸۱ر۱۱۹۷۲ » | ٦۷۷۱۳۵۱ » |

سلیټ: د ډبری دا یستلو کار دهوا اوخرڅلاو د بازاردنه مساعدت په‌نسبت معطل ؤ . دسلیټو دتیږو اونمونی دبرابرولو دپاره لومړنی اقدامات د ښوونځیو دپاره د درسی تختو دجوړولو اودکورونو دفرش‌دپا ه شوی‌دی .



پخوا دکرکر دکان‌دډبروسکاری دوا گـونو پو ا سطه وړل کیدل او اوس
دغه سکاری دلوکوموتیفو په ذریعه انتقالیبزی



په‌خواجه غارکښې د پنبې د ندافی د نوی فابریـکی یوه څانګه چه فنی
کسان په‌کښې په کار لګیا دی



د مزار شریف په ولایت کښې د(۳۲۰)کلیواته د جنریټر نوی ودانی چه‌د برښنا دشرکت له خوا جوړه شویده



د قطغن دولایت په خواجه غار کښې د دیزلی د برښناخوپایی‌عصری ماشینونه‌چه‌نوی پکا ر اچولی شویدی .

## لاجورد

دلاجوردو يو ماهر چه دلاجوردو دنوی کان د موندلو او د بدخشان د لاجوردو د ساحې دجيو لوژۍ دتکميل د پاره ليږل شوی و دکار له سرته رسو لو او دبدخشان په سيمه کښې د۳۸ کال دجوزا له ۲۵ نيټې څخه دڅلورو مياشتو له تيرولو نه وروسته دخپلو پيشنهاد و او لومړ يو نظريو رپوټ د لاجوردو دساحې دجيولوژۍ له خو نقشو او دلاجوردو دنوی کان له څو سکيچو نو سره دغه وزارت ته تقديم کړی دی. دغه ماهر د۳۸ کال دجدی به لومړۍ نيټه مسکو ته لاړ. دهغو لاجوردو او کانی نمو نو څخه چه له بدخشان څخه ئې له ځان سره راوړې وی يو څه ئې له رپوټ او نقشو سره دافغان جيولوژی جيکل سروی موسسې ته وسپار لې او نورې نمونې ئې دوزارت په موافقه دلابراتوار دتجزيې او دڅورو کتنو دپاره مسکو ته وړی دی چه آخری رپوټ به ئې ژرد غه وزارت ته راورسيږی.(۲۰٤)من لاجورد چه سږ کال دانجنير احمد علی عاکفی په واسطه وايستل .شول دارګ تحويلخانې ته راوړل شو لدغه کلی درې کسيز هيئت په واسطه معاينه او له سورت اودرجه بندۍ څخه وروسته په دغو درجو سره وويشل شول .

۱ـ لومړۍ درجه بې برشه لاجورد له کانی ډبری سره ګډ ۲۲۰ر۹ کيلو ګرامه

۲ـ دو همه درجه نابرشه لاجورد له کانی ډبری سره ګډ ۱۱۰ر۱۰ کيلو ګرامه

۳ـ دريمه درجه لاجورد چه برش شوی دی دکانی ډبری سره ګډ ۱۸۰ ر ٤٤ کيلو ګرامه

٤ـ څلور مه درجه نابرش شوی لاجورد له کانی ډبری سره ګډ ۱۵ ر ۲٤۵ کيلو ګرامه

۵ـ نورپاتې لاجورد دبرش وړ له کانی ډبری سره ګډ چه له برش څخه وروسته سورت او درجه بندی کيږی ۱۰ر۱٤۸٦ کيلو ګرامه

ټول ۷٦٤ر۱۷۹٤ کيلو ګرامه

له سورت کارۍ وروسته چه په اوسنيو لاجوردوو شوه له يولړ خبرو وروسته دپيکنګ ار تساند کرامتس دکمپنۍ دمراجعې په اثر د۱۹٦۰ کال داپريل په ۱۱ نيټه داولسی چين دجمهوريت دلوی سفارت تجارتی نمايندګانو سره تړون لاسليك شو چه دهغه په اساس د غه کمپنۍ د( ۳۷ ۹٦۵ ) پونډ وسترلنګو په معادل لاجورد اخلی.

ددغو لاجوردو زياته برخه به په ۱۹٦۰ کال کښې هغې کمپنۍ ته ورتسليم کړل شی .

ګوګړ : دمزار شريف دچمتال دګوګړو دکان په کاراچولو د پاره او لومړۍ تياری شوی دی

بير ا يټ : د پترولو د پلټنو د ر يا ست د ضرورت په اثر د غور بند دفرنجل ار اوت دګروپو نو په ذريعه ۳۱۸ ټنه اومه بيرايټ وايستل شول او د بريکت سازۍ په فابريکه کښې ۲٤۸ ټنه پاخه بيرايټ په مزار شريف کښې دپترولو دپلټنی رياست ته ور وړل شول .

## په پنځم کال کښې

لاجورد :

۱ـ دذخيرو د حقيقی ټاکلو په غرض دلاجوردو دذخيرو دجيولوجی تدقيقات دوام لری.

۲ـ دايستلو دپروژۍ ترتيب: دلاجور دودلوړی درجې څخه يوه پوره اندازی ايستل شوی کابل ته را ور سول شول .

ACKU

۳ـ دودانۍ دتزئیناتی تېزو په حیث دلاجوردو دټیټې درجې یوڅه تېزه راوړلی شوې .
بیرایټ:

۱ـ دپلان په پنځم کال کښې لەدوه وزرو ټنو څخه تر دریوزروټنو پورې دبیرایت ایستل دوام لرې .

۲ـ پەآینده کښې دډبرې ایستنې دپاره دکان دآماده کولو په غرض عملیات دوام لرې .

۳ـ دکان دآمریت دودانۍ دپاره یوه ساحه چەدوه جریبه پراخەده خریداری شویده .

٤ـ یوه داسی ودانۍ چەددفتر ، دسامان دتحویلخانی او نورو کوټې پکښې وی جوړه شوی ده .

دزرشوئی چاری.

دزرشوئی دتدقیقاتو چاری دوام لرې اوطلا لرونکی شګی دذخیرو لپاره ټا کل شویدی.
بیریل:

۱ـ دلسوټنو پەاندازه پەدره نورکښې دبیریل دایستلو عملیات شروع شول .

۲ـ دچینی جوړولو دفابریکو دضرورت دپاره دکورس فیلد دتیږی ایستل دوام لری .

## دفلزی کانو چاری دپلان پەلومړی اودوهم کال کښې

دفلزی کانو چاری دتیروکلونو پەشان دوام لری اوددی موضوع دپراختیا له پاره نوی ترتیبات نیول شوی دی چەدهغو ځینی چاری پەوروستنیو کالو کښې اجراشوی دی .

## پەدریم کال کښې

دبیرل کان : لەهغه کان څخه پنځه شپیته ټنه بیرل ایستل شوی اوپیښور ته لیږل شوی دی اودترون لەمخی بەدبرتانوی فلزاتو کمپنۍ ته وروسپارل شی .

اوسپنه : دهغه ترون پەاساس چەدشوروی اتحاد ددوو تنو ماهرانو داستخدام پەهکله لەتخنو اکسپورت سره لاسلیک شوی ؤ دشوروی اتحاد دوه تنه ماهران کابل ته را ورسیدل اود پخوانیو رپوټونو دکتلو اودوزارت لەداخلی اوخارجی ماهرانو سره دخبرو وروسته یې دجبل السراج پغمان حاجی علم، اسدکلا، دقندهار دخاکریز اودهرات دپلنګسار دکانو پیداوارو کتل او پەدغه باب کښې یی وزارت ته لیکلی رپوټ ورکړ ،ددغه رپوټ پەاساس د اوسپنی ذخیری په دغو ځایو کښې پەعمومی ډول دشلو زرو ټنو په حدودو کښې دی اوښەیی دجبل السراج ، حاجی علم، قندهار او د هرات دپلنګ سار ده ، دجبل السراج دذخیرو ایستل دکوکس دسکرو دنشتوالی لەامله اودحاجی علم ذخیری دکجکی دبرېښنا دتاسیس تروخته پوری چەاوسپنه بەیی دبرېښنا د قوی پواسطه پەدغه دستګاه کښې ویلی شی ټال شول.دپلنګسار داوسپنی کان یو الحی هغه کان دی چه د تولید طاقت یې ترټولو زیات دی اوددغو ماهرانو دپیشنهادو سره سم بەپەدغه ذخیرو باندی دجیولوژی زیاتی پلټنی اوکیمیایی تجربی وشی اواوسپنی دویلی کولو د فابریکی دجوړولو په طرز دغو ماهرانو کتنه وکړه اولګښت یی ٥٥٩ ملیونه افغانۍ ټاکل شوی دی .

## پەخلورم کال کښې

سره زر: د کوکچې د سیمې د زر شوئې دانکشاف اوښو کولو په غرض د شوروي اتحاد

| شماره | نوع تولیدات | واحد مقیاس | تولیدات در سال ۱۳۳۴ | تولیدات در دورهٔ پلان: سال اول | سال دوم | سال سوم | سال چهارم | سال پنجم | تناسب سال آخر پلان با سال ۱۳۳۴ (۱۳۳۴=۱۰۰) | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | برق | میلیون کیلوات ساعت | ۲۷ | ۳۵ | ۴۵/۸ | ۵۳/۸ | ۸۳/۹۷ | ۱۱۸/۲۵ | ۴۳۸ | |
| ۲ | منسوجات نخی | میلیون متر | ۱۷/۵۰ | ۱۶/۷۵ | ۲۲ | ۱۹/۷ | ۱۸/۵ | ۲۸/۱ | ۱۶۰/۵ | |
| ۳ | قند | تن | ۶۰۴۷ | ۴۷۵۷ | ۴۷۱۳ | ۴۷۲۳ | ۴۴۹۸ | ۴۵۰۵ | ۷۳ | |
| ۴ | ذغال سنگ | تن | ۲۲۱۸۰ | ۲۹۴۰۴ | ۲۲۳۷۹ | ۳۷۲۸۲ | ۴۷۱۶۲ | ۵۲۰۰۰ | ۲۳۵ | |
| ۵ | گوگرد | هزار درجن | ۸۳ | ۱۸۴ | ۲۹۵ | ۶۸۷ | ۴۸۸ | ۶۶۰ | ۷۹۰ | |

د تیاژ پروم اکسپورت له موسسی سره یوتړون لاسلیك شویدی چه له هغه سره سم یوسرا نجنیر ددوو میاشتو د پاره د طلا دزر شویی دکتنی او پلټنی دچارو دپاره راځی .

اوسپنه : دکابل ،قندهار اوهرات دشاوخواؤ دځینو کانو لومړنی سروی داستخراج دمدیریت تر کتنی لاندی دشوروی تخنواکسپورت دماهرانو په واسطه وشوه، دغه سروی داوسپنی دویلی کولو اودفولادو دتولیدولو دوی وړی فابریکی درویکارکیدو دپاره شوی ده ، ددغی موضوع دمربوطو کتنو اوسروی داکمال دپاره مفصل اقدامات روان دی، دشوروی ماهرانو هیأت چه دتړون سره سم دهیواد دکانو لومړنی سروی وکړه یوځه نمونی یی دتجزیی دپاره مسکو ته ولیږل شوی دتجزیی نتیجه به دکال په نیمایی کښې راورسیږی.

## په پنځم کال کښې

دپلان دتیرو کلونو په شان دفلزی کانونه چاری دوام لری اودهغی پر مختګ ددې اډوړدی او په نظر کښې نیول شوی دی چه په دوهم پنځه کلن پلان کښې زیاته پراختیا ومومی .

## دصنایعو دریاست چاری

## دبریښنا قوه دپلان په لومړی اودوهم کال کښې

دبریښنا دتولیدولو له پاره په بیلو بیلو ځایو کښې ترتیبات نیول شوی دی اوهیله کیږی چه دپنځه کلن پلان دپنځو کلو په موده کښې دصنعتی موسسواو کورنی لګښت دپاره دبریښنادتولیدولو چاری پرمختګ وکړی .

دسروبی داوبو دبریښنا فابریکی دپلان په لومړی کال کښې د۲۲ زرو کلیوا ټو په ظرفیت په کارشروع وکړه، دوی وړی دیزلی دستګاوی په میمنه او اندخوی اوداوبو دبریښنا یوه دستګاه په فراه کښې پکار واچوله شوه .

دخان آباد داوبودبریښنادمرکز چاری د۷۰۰ کیلواټو په ظرفیت چه تر ۱٤۰۰ کیلو اټو پوری زیاتیدی شی شروع شوی دی ، هغه ستری پروژی چه پلان یی ترتیب شویدی دنغلودبریښنا دتولیدولو مرکزدی چه تقریباً شپیته زره کیلواټه ظرفیت به ولري ،داوبو دبریښنا دبل مرکز دجوړولو کار دنهوزرو کلیواټو په ظرفیت په پلخمری کښې شروع شویدی .

## په دریم کال کښې

دخان آباد دبریښنا دستګاه

ددغې دستګاه جوړول دبریښنادقوې د۷۰۰ کیلواټو په ظرفیت په سلو کښې اتیا سرته رسیدلی دی هیله ده چه په وروستی مرحله کښې دهغې ظرفیت ۱٤۰۰ کیلواټو ته زیات شی .

دکانال کاریی په سلو کښې ۹۰،دماشینو کارئې په سلو کښې پنځوس اودور کشاپ دودانیودجوړول کار ئې نژ دې سرته ر سیدلی دی ، داوبودذخیرو اوتوربین دنل دنصبولو چاری یی په سلو کښې نوې سرته ورسېدې.دخان آبادڅخه ترقندز پوری د عمومی خطوطو ستنې ودرول شو ې او ددوو توربینو دمنتاژ لومړنی چاری شروع شوې .

ACKU

دپلخمرۍ داوبو بریښنا: ټول کارییې په‌سلو کښې دیارلس اوددستگاه‌دفرعی ودانیو جوړولو کارییې لکه‌دپښانو دکارخونې، ورکشاپ، تحویلخانه‌او نجارخانه په‌سلو کښې پنځوس، پهره‌دارخانه، اونور بشپړاودیرش زره متره مکعبه خاوره وړل شوی اوهواره‌شوی‌ده .



دقطغن‌دولایت‌دغوری‌په‌دهنه‌کې‌دبریښنادنوی‌فابریکی یوه‌برخه

دنغلو داوبو بریښنا: دهغې لومړۍ سروی سرته ورسیده اوپه‌پروژه‌کښې ځینې تعدیلات وشول چه‌د دستگاه‌ظرفیت یې دځلوېښتو زرو کیلواټو څخه‌شپیتو زرو کیلواټو ته زیات کړ دقیمتونو دسنجش محاسبه دافغانۍ اواسعارو دلګښت له مخې‌و شوه‌اوځرنګه چه‌دلوړومقاماتو له‌خوا تصویب‌شوه تړون به‌یې‌لاسلیك‌او په کاربه‌ئې شروع‌وشي‌خواوس‌دشوروی‌دتخنوپروم‌اکسپورت دکانواوصنایعو دوزارت له‌خوا د ډبرین و اریانټ په‌عوض د کانکریټی و اریانټ دانتخاب په‌اثر لاتر اوسه په‌دغه باب کښې خپلې کتنې سرته نه‌دی رسولې او ددغې پروژې د تړون دلاسلیك دپاره نه‌دی حاضر شوی .

دفراه داوبوبرېښنا : دودانيټولکارونهپې سرته رسيدلي دى او د ښارى شبکى يوځه سامان را رسيدلی دى او د پاتى سامان درسيدلو سره سم دغه پروژه سرته رسيږى .

د قندهار ډيزلي برېښنا : د جنريتراوسوچبورد د ودانى دجوړولوکار سرته ورسيد عمده مزى يې غزول شوى اوستنىيې درول شوى او په کار اچول شوى د ى .

## په څلورم کال کښى

دخان آباد دبرېښنا دستګاه : د دغى دستګاه ظرفيت «۱۴۰۰» کيلواټه د ى او په ۳۵ر۳ر۱۲ شروع او اوس تکميله شوى د ه .

دپلخمرى برېښنا : دغه پروژه د۱۳۳۸کال دحمل په لومړى نيټه ( د ۱۹۵۹ د مارچ په ۲۱) د۹۰۰۰ کيلواټو په ظرفيت شروع او تراوسه په سلو کښى ۴۱ تکميله شوى ده .

دنغلوبرېښنا ، د دغى دستګاه ظرفيت «۶۰۰۰۰» کيلواټه دى چه ترونيې د شو روى له تخنو اکسپورت سره لاسليك شو او ورپسى دنغلو دساختمان رياست تاسيس شو .

د ارغنداب برېښنا : د دغى پروژى ظرفيت «۶۵۰۰» کيلواټه دى چه پخواد هيرمند دناوى د رياست له لياري اجرا کيده خو په دى ورستيو وختو کښى دپلا ن د وزارت د کانو اوصنايعو دمديريت د۳۸ر ۹ر ۲۵۵ر۶ليك په اساس دکانواوصنايعو وزارت دهغې په وړاندى بيولو موظف شو او پروجکټ اګريمنت ( دپروژى موافقه ) چه پخوا د هير مند د ناوى او د«آى ، سى ، اى» ترمنځ لاسليك شوى وه بايد تعديل شوى واىخو کلهچه په دغه باب کښى کتنى وشوى او له څو غونډو وروسته چه دکانو اوصنايعو وزارت او د « آى ، سى ا ى » نمايندګان پکښى موجودوو بل پروجکټ اګريمنت تهيه شوچه په څو ورځو کښى د کانو او صنايعو د وزارت دمقام او د آى،سى،اى له خوا لاسليك شو .

دفراه ديزلي برېښنا: ددغى دستګاه ظرفيت ۱۲۶ کيلواټه دى، ددغى پروژى دساختمان کار تکميل شوى دى.

## پهپنځم کال کښى

دغورى د اوبو برېښنا : دغه پروژه د پلان په پنځم کال کښى سرته و رسيده .

دنغلو د اوبو برېښنا : د دغى دستګاه ساختمانى کار ۲۷،۵ سرته ورسيد .

د ارغنداب دبرېښنادستګاه : دغه پروژ ، د لومړنى کتنى نه ورو سته دوهم وار هم تر کتنى لاندى ونيول شوى ، ددى پروژى دظرفيت د لوړوالي لهکبله چهنورىلويىچار ې هم ورسره زيات شوى دى هيله کيږى چه د هغوى اساسىکار د دوهم پنځه کلن پلان په لومړى آال کښې شروع شى .

## دنساجىچارى دپلان پهلومړى او دوهم کال کښى

د ګلبهار دنساجى فابريکه : د دغى فابريکى مقدماتى چارى بشپړى شويدى او نورى لويى چارى ئې د پر مختګ په حا ل کښىدى چه د دغى فا بريکى د جوړو لو کار

دساده ټوکرد«۳۵»ملیو نو متر و. اوشپاړس ملیو نه رنګه ټوکر په ظرفیت سر ته رسیدلی او هیله ده چه په وروستیو کالو کښی بیخی بشپړ شی او پخپلو تولیداتو پیل وکړی .

## په دریم کال کښی

دغه پروژه چه د «۳۵» ملیو نه متره ساده ټوکر او شپاړس ملیو نه متره رنګه ټوکر د تولید دولو قوه لری دغه برخی ئی بشپړی شویدی .

داو بدلو دځانګی ودانی سر ته رسیدلی ده، دځو ماشینو ځخه په پر ته چه د ترانسپورت په وخت کښی خراب شوی و نور ټول نصب شول .

د نختابی ودانی جوړه شوی او په سلو کښی ۹۸ ماشینو نه ئی درول شویدی، ددی ځانګی و دانی د تایل د تیږو او د ځمکی دقیر کو لو نه په پر ته نوره سر ته رسیدلی او ماشینو نه ئی په سلو کښی اتیا درول شویدی، د کانالایزیشن، دیپو او ورکشاپ او نور کارو نه ئی په سلو کښی پنځه نوی سر ته رسیدلی دی همدارنګه د کابل دامید د سنډ د نساجی فابریکه پرانستل شوه او په تولیداتو ئی شروع وکړه .

## په څلورم کال کښی

د ګلبهار د نساجی د فابریکی پروژه چه ۱۳۳۲ کال په ۲۰۲ شروع شوی وه د پلان د څلورم کال په لوم ړیو دروم یاشتو کښی تکمیله شوه. ددغی فابریکی تولیدات په کال کښی ۳۵ ملیو نه متره ساده ټوکر او شپاړس ملیونه متره رنګه ټوکر دی .

## په پنځم کال کښی

ددغو فابریکو د چارو پر مختګ ده اووړدی او د مملکت په مختلفو بازارو کښی دهغو د شکلو مصنوعات په خورا نبه شان هر کلی کیږی، د کابل په مرکز او د ځینو ولایتو په مختلفو سیمو کښی ددغو فابریکو خو نمایندګی پرانستل شویدی .

## د سمنټو چاری په لومړي او دوهم کال کښی

د پلخمری د سمنټو د فابریکی چاری چه ظرفیت ئی تر څلورسوو ټنو پوری پراخیدی شی ترلاس نیول شویدی. دغه فابریکه دهغو ودانیو د پاره دودانیو داساسی موادو د تولید دولو له نظره چه د پلان له مخی په نظر کښی دی خاص اهمیت لری او د پلان په پنځم کال کښی سر ته رسیږی .

## په دریم کال کښی

د پلخمری د سمنټو جوړولو د ودانی د جوړیدو د ماشینو د راوړلو او بسته کاری تړون لاسلیک شویدی او تعمراتی کارونه ئی په سلو کښی دوه سر ته رسیدلی دی.

## په څلورم کال کښی

## د پلخمری سنمت

ددغی دستګاه ظرفیت دورځی څلورسوه ټنه دی، دغه پروژه د ۱۹۵۹ کال د جون په دیرشمه نیټه شروع شوه او د پلان د څلورم کال د ۲۳، ۷ نه دوروستیو شپږو میاشتو ترپایه پوری تکمیله شود .


برق
۱۳۰ ملیون کیلوات ساعت
۱۲۰ ملیون کیلوات ساعت
۱۱۰ ملیون کیلوات ساعت
۱۰۰ ملیون کیلوات ساعت
۹۰ ملیون کیلوات ساعت
۸۰ ملیون کیلوات ساعت
۷۰ ملیون کیلوات ساعت
۶۰ ملیون کیلوات ساعت
۵۰ ملیون کیلوات ساعت
۴۰ ملیون کیلوات ساعت
۳۰ ملیون کیلوات ساعت
۲۰ ملیون کیلوات ساعت
۱۰ ملیون کیلوات ساعت


پارچه نخی
۳۰ ملیون متر
۲۸ ملیون متر
۲۶ ملیون متر
۲۴ ملیون متر
۲۲ ملیون متر
۲۰ ملیون متر
۱۸ ملیون متر
۱۶ ملیون متر
۱۴ ملیون متر
۱۲ ملیون متر
۱۰ ملیون متر
۸ ملیون متر
۶ ملیون متر
۴ ملیون متر
۲ ملیون متر

ACKU


گوگرد
زغال سنگ
شکر

## په پنځم کال کښې

دغورې سمنت، دغه پروژه دپلان په پنځم کال کښې بشپړه شوېده .

## دکابل او قندهار دوړیو او بدلو فابریکې دپلان په لومړي او دوهم کال کښې

ددغو دوو دستگاو دجوړولو چارې شروع شويدې او په نظر کښې ده چه ددغو دوو دستگاو دتوحید کار سرتـه ورسيږي، هيله کيږي چه منجمله دپلان په پنځم کال کښې به دهغو دتوحيد د کار يوه لو يه برخه سرته ورسيږي.

## په دريم کال کښې

دقند هار دوړيو او بد لوفابريکه: ددغې فابريکې دپراختيالومړنۍ مراحل د پولينديې ماهرانو په واسطه تکميل او په دغه باب کښې له دوې څخه گټور او مفصل رپوټ اخيستل شوېدی، يوڅونور ما شينونه را نيول شوي اودپخوانيو ماشينو دتر ميم دپاره فالتو سامان قند هار تـه ورسيد او بسته کا ر ي يې شروع شو ه .

دکا بل پشمينه با فی : ددغې دستگا ه چارې دپو ليندې ما هرانو په واسطه وکتل شو ې او په نتيجه کښې په بيل ډول سره دهغې داصلا ح اوپراختيا څخه صرف نظروشو اودقندهار د پشمينه بافی سره دد غې د ستگاه دتو حيد د سروې کار اوکتنې تکميل اودوا کمنومقاماتو دتصميم اوفيصلې سره سم به د غه پروژ ه عملی شي .

## په څلورم کال کښې:

دقندهار دوړ يو اوبدلو دستگاه: دغه پروژه د۳۸ کال دحمل په لومړ ی نيټه شر و ع او دپلا ن دڅلورم کا ل په اوم ۔ يودرې مياشتو کښې تکميل شو ی ده، د د غې دستگا ه کا لنی ظرفيت «۲۷۰۰۰۰» متر ټوکرد ې .

دکابل دوړيو او بد لو دستگاه: دقند ها ر دوړيو او بداوله دستگاه سره ددغې دستگاه دتوحيد موضوع دپولينډې ماهرانو اودقندهار د وړيو اوبد لو له رياست سر ه ترخبرولاند ې ده، ژر به يې کارونـه شروع شي .

## په پنځم کـال کښې:

دکابل اودقند هاردوړيو او بدلو ددستگاودتو حيددکارو يو ه ستر برخه سرتـه ورسيده.

## دقندهار دميوې ساتلو دفابريکې چارې دپلان په لومړ ی او د و هم کال کښې

په قند هار کښې دميوې ساتلو دفابريکې چارې تر کتنې لاند ې نيو ل شوې دي چه په وروستنيو کلو کښې دهغې ودانۍ جوړه او بشپړ کيږي او دغه فابريکه ميوې او شربت ساتي اوسربيره په دې يو څه ميوه وچوي او انډې ورته تړي، په دغه صورت سره دغه فابريکه ددغې سيمې دميوې دخرڅولو دپاره مساعد شرايط برابروي اودد نيا بازار ته دوچې ميوې دمحصو لاتو په وړاندې کولو سره به

دمملکت اسعاری عایدات زیات کړی اوهیله کیږی‌چه دلومړی پنځه‌کلن‌پلان‌په‌پاء،کښی‌یی په‌سلو کښی‌نوی‌تعمیراتی اوماشینری کارونه سرته ورسیږ ی

پەدریم کال کښې

دقندهارصنعتی سمې

ددغې پروژې لومړ نی‌سروی دکانتیننتل دکمپنی‌دماهرانو په واسطه‌سرته‌ورسیدې او وروستی رپوټ یې داسد په ۱۵ نیټه دای، سی، ای له خوا وزارت‌ته سپارل شوی اوتر کتنې لاندی ونیول شو.

په څلورم کال کښې

دقندهار دمیوی ساتلو پروژه : دغه پروژه د ۳۸ کال د حمل په دوهمه نیټه شروع شوه اودپلان‌دڅلورم‌کال دلومړیو شپږو میاشتو تر پایه پوری‌په‌سلو کښی‌۵۵ تکمیله‌شوی ده .

په پنځم کال کښې

دقندهار دمیوی ساتلو دستګاه:دقندهار دمیوی تعمیراتی‌اوماشینری چاری په سلو کښی نوی سرته ورسیدی.

دصنعتی‌ور کشاپونوچاری‌دپلان‌په‌لومړی‌اودوهم کال کښې

دصنعتی‌ورکشاپونو پروژی ددوو کلونو په‌ترڅ کښی‌دمربوطو موسسواودوایرولەخو اتر تیب شوی دی چه دەغوی غټ کارونه په ترتیب سر ه په ورستنیو کلو نو کښی اجرا کیږی .

په دریم کال کښې

دجنګلك ور کشاپ

ددغه ورکشاپ ټول لازم ماشینونه‌درول شویدی.

تعمیرات:دبرېښنااو ماشینری‌مونتاژ، دموټرو تر میم او آهنګر ی دڅانګـو اودماشین کاری‌کارونه ئې تکمیل‌شوی دی، داوسپنې‌دویلی‌کو لو ودانی ئې جو ړه شو ی ده‌او دەغې دماشینری دیوی برخی بسته کاری هم شوې‌ده،تعلیمی‌دستګاه ئی هم سرته ور سیدله، داخلی اوخارجی ښوونکو په نظری او عملی درسوشروع وکړه.

دزنده بانانو ور کشاپ

کوم کارونه ئې چه په افغانی اداری پوری مربوط دی‌لکه‌دودانیو اونوری چاری ټو ل تکمیل‌دی او کو م‌کارونه چه د(ای،سی،ای ) په‌اداری‌پوری‌مربوطدی‌ددو ی دځینو معاذیرو له امله دپروګرام څخه پاتی دی.

په‌څلورم کال کښې

دجنګلك ور کشاپ

دپروژی نیټه د۳۷ر۱۰را ده اودپلان‌دڅلورم کال په‌لومړ یودریومیاشت‌کښی تکمیله شوه

دغه ورکشاپ دموټرو دترمیم او دباډۍ جوړولو او دنورو مکمل سرویس لرې .

### دزنده بانانو ورکشاپ

دغه پروژه د۱۳۳۵ کال دحمل په لسمه نیټه شروع شوه چه په سلو کښې ٦٤ کارونه ئې دپلان دڅلورم کال دلومړیو شپږو میاشتو تر پایه پورې ختم شویدي.

### دقندهار ورکشاپ

کوم کارونه یې چه په افغانی اداري پورې مربوط وو هغه ختم شویدي خو کومې چارې یې چه په ای، سي، ای پورې مربوطې دي لکه دسامانو او نورو لوازمو موادو رسول دځینو معاذیرو له امله له پروګرام څخه پاتې او په دوو، دریو راتلونکو میاشتو کښې چه سامان راورسید پروژه ختمیږي او تراوسه پورې په سلو کښې شپیته دهغې کارونه ختم شویدي.

### په پنځم کال کښې

دزنده بانانو ورکشاپ : ددغه ورکشاپ ټولې چارې سرته ورسیدې او دهغو نور کارونه دېر مخ تګ څواته روان دي،

دقندهار ورکشاپ: ددغه ورکشاپ چارې هم بیخي تکمیلي شوې او داستفادې وړدی .

### دکنف چارې دپلان په لومړی او دوهم کال کښې

په بغلان او قندز کښې دکنف دکرلو له پاره ترتیبات نیول شوي او ددغه مقصد لپاره څو پروژې هم تنظیم شویدي.

### په دریم کال کښې

په بغلان او قندز کښې دکنف دکرلو مثبتې نتیجې ددې موجب شوې چه دغه پروژه سروې اودسروې دریپوټ نه وروسته دقندهار په صنعتي سیمو کښې عملي اقدامات وشي او دغه پروژه په کار واچوله شي .ددغې پروژې سروې اکمال او اقتصادي مثبتې نتیجې یې ورکړې او دغه پروژه دقندهار دصنعتي سیمو په پروژو کښې داخله شوه .

### په څلورم کال کښې

دغه پروژه دقندهار په صنا عتي سیمو کښې شامله شوې وه نو کوم وخت چه د قندهار دصنعتي سیمو پروژې عملي کیږي دغه پروژه به هم اجراشي.

### دپلان په دریم کال کښې نور صنعتي تشبثات

دقندز دچینې جوړولو فابریکه:ددغې فابریکې مربوطې چارې تکمیل او په تولید یې شروع وکړه.

دشاکر دچینې جوړولو فابریکه : دکاشي جوړولو لازم ماشینونه راورسیدل او ودرول شول دستروماشینودپکاراچولو یوه برخه سرته ورسیده، نوی داش جوړشو او دفابریکې په تولیداتو کښې لازم زیاتوالی راوستل شو.

دقندز دتیل ایستلو اومارگرین‌فابریکه :ددغی فا بریکی و دانی په سلو کښې سل او ماشینری یی په سلو کښې ۷۵تکمیل شویدی .

دقندز دصا بون جوړولو فابریکه :ددغی پروژی توسعوی چاری‌دپلان په‌دریم کال‌کښې دپلان‌سره سم سرته رسیدلی‌دی، دماشینو زیاته برخه راورسیده اوودرول شو ل.

دمزار شریف دتیل ایستلو فابریکه: دهغی دلازمو ماشینو دخریداری قرارداد دوزارت او تخنوا کسپورت‌دکمپنی ترمنځ‌لاسلیك شواودهغی په‌اثر یو چکوسلواکی ما هرددغی‌پروژی دتعمیرا تودپاره مزار شریف ته راغی اوتعمیراتی‌کاریی شروع‌شو.

## په څلورم کال کښې

دقند ز دتیلو ایستلو او مار گر ین فابریکه :د غه پروژه د۳۸ر۱ر۲ نیټه‌شروع شوه او د۳۸ کال تر پایه پوری سرته ورسیدله اواوس دهغی کارونه‌په سلوکښې‌سل‌تکمیل شویدی .

## په پنځم کال کښې

دمزارشریف دتیلو ایستلو دفابریکی چاری تکمیل شویدی‌اونژدی دی چه دیرا نیستلو ته‌وروسته پکار واچول‌شی.

## دهایدرولوژی‌او هایدرومتری‌چاری‌دپلان‌په‌لومړی‌اودوهم کال کښی

په نظر کښې‌ده‌چه‌یو ټولګی آلمانی ماهران دآلمان دتخنیکی مرستی‌دپروګرام‌له لیاری کابل ته را شی دکا بل دناوی‌او نوری‌سیمولکه سرو بی، نغلو، غو ربند ، پنجشیر اوکنړ داوبودا ندازی کولو اودهغو دچټکی دټاکلو دپاره پکار پیل وکړی .

## په‌دریم کال کښی

یو ټولګی آلمانی ماهران چه کابل ته دآلمان دتخنیکی مرستی د پرو ګرام‌له لیاری کا بل ته را غلل او دکابل دناوی او نورو سیمو لکه‌سروبی ،نغلو،غوربند، پنجشیراوکنړ داوبو داندازی اودهغو دچټکی دټاکلو دپاره‌یی په کارشروع وکړه،په ټاکلو ځا یو کښې مخصوص سامانونه ودرول شول او میاشتنی احصاییو ی معلومات ئی راغونډشول.

دنوی کال‌دهیدرولوجی‌اوهیدرومتری ورکشاپ دسیم غځولوکار سرته ور سید . له دغه ورکشاپ څخه دسامانو دجوړولو اوتر میمولو دپاره استفاده کیږ ی

دبرمه کاری اوخرادی ماشینونه نصب‌او دقندهار دمیوی ساتلوپه فابریکه‌او د کابل‌په دا رالمعلمین‌کښی ژورې څاګانې وکیندل شوې ددغو څا ګانو دسامان‌یوه‌برخه‌لکه پلاستیکی نلونه او نورو فرمایش جرمنی ته ورکړل شو .

## په څلورم کال کښې

الف—هیدرو متری: دهغو پیګلونوپه‌ذریعه‌چه دکابل‌دحوزې په سیندبا ندی درول‌شوی دي میاشتنی معلومات راغونډ شول او دننګرهار په ولایت کښې دوه نوی پیګلونه نصب شوی دی

ACKU

ب : د برمه کارې چارې : د څرخي د پل په قشله کښې د المان د تخنیکي مرستې د درنډې برمه کارې د دستګاه په واسطه نوې متره ژوره یوه څاه کیندل شوې ده او د ملي د فاع د وزارت د فرمایش سره سم له نل او فلترسره سرته رسید لې ده . همدارنګه د نل او د پلاستیك د پنړو د خریدارۍ د پاره المان ته پنځه زره دالره انتقال شول چه د ژورو څاګانو کیندلو د پاره ترڅمکې لاندې او بو د استفادې د پاره واخیستلې شي، په زنده بانانو کښې د سرویس د شرکت په ورکشاپ کښې یوه ژوره څاه تکمیله شوې ده ، د موسسې د برمه کارې د تحویلخانې د جوړېد و چارې تکمیلیدو ته نژدې دي، دیو نو د هیدرو لوژۍ ماهر د هید رولوژۍ او برمه کارې د څانګې د تقویې د پاره مفصل رپوټ ترتیب کړ چه د پلان د جلیله وزارت له لیارې د ملګرو ملتو موسسې ته وړاندې شي چه که امکان ولرې له افغانستان سره په دغه باب کښې دیونو د سپیشل فند څخه مرسته و شي.

## په پنځم کال کښې :

د هایدرو لوژۍ چارې : د کابل د سیمې هایدرو لوژي سیستماتیك او د هایدرو لوژۍ نقشې او لابراتوار ترتیب او د جیولوژۍ د سروې په موسسه کښې د اوبو د تجزیې چارې شروع شوې دي. همدارنګه په لومړۍ درجه د اندخوی د پاره او په دوهمه درجه د قندز د پاره د تحت الارضي اوبو د تهیه کولو په باره کښې کتنې او اجراآت دوام لري .

هایدرومتري: د هیواد په نورو سیند و نو باندې پیګلونه نصب او مربوطي احصاییې راغونډې شوې دي.

د برمه کارې چارې : له خارج څخه یو لړ ماشینونه لکه نلونه پلاستیکي فلترونه، د څاګانو د اوبو د انډازه کولو پمپونه، د کیندل شویو څاګانو د عمودیت د ازما یلو آله، د برمه یي څاګانو د پاره د مکروب په ضدلازم مواد راوړل شوي او د ځینو نورو چارو لازمي سامانونه هم تهیه شوي دي.

## د اشخاصو روزنه د پلان په لومړي او دوهم کال کښې

د پوهنې وزارت له خوا د مسلکي ښوونځیو ځینې شاګردان او د پوهنتون له خوا د پوهنځیو څو تنه فارغ التحصیلان د کانو او صنا یعو وزارت ته معرفي شول چه تو ل په بیلو بیلو څانګو کښې شامل کړل شول او د دوو کالو په ترڅ کښې څو تنه اداري او فني مامورین هم د عالي تحصیلاتو د زده کړې لپاره خارج ته ولیږل شول.

## په دریم کال کښې

د پلان په دریم کال کښې په دغه شمیر اشخاص د لوړو تحصیلاتو د پاره په بیلو بیلو شقوقو کښې خارج ته ولیږل شول .

۱ ) داوبو پیژندلو په څانګه کښې امریکاته دیوه کال د پاره یو تن .

۲) د پترولو دانجنیرۍ په شق بیروت او امریکاته درې تنه د څلورو کلو د پاره .

۳) د پترولو د انجنیرۍ په برخه کښې لویدیز آلمان ته دوه تنه د دوو کلو د پاره .

٤ ) د چیني جوړولو په څانګه جاپان ته یو تن د شپږ و میاشتو د پاره، علاوه په دې اته تنه

ACKU

نور هم په بیلو بیلو شقوقو کښې دلویدیز المان دتخنیکی مرستې له لیاری هغه مملکت ته ولیږل شول .

## په څلورم کال کښې

څلور تنه دبرېښنا له شرکت څخه دبرېښنا دتخنیك او پنځه تنه دبغلان د قند جوړو لو د شرکت څخه دتخنیك په چارو کښې دفیلو شپ په ډول دیوه کال دپاره دالمان د تخنیکی مرستې نه لیاری هغه مملکت ته ليږل شوی دی. همدارنګه د جنګلك دکار خانو نهه کار ګران او میخانیکان او ۳٤ تنه کار ګران او میخانیکان د پېرولو دپلټنې در یاست څخه د نهو میاشتو دپاره دفیلو شپ په ډول دجدی په میاشت کښې شوروی اتحاد ته دما شینو دتخنیك او همدارنګه دپېرولو دپلټنې څخه دری تنه دبرمه کاری په چارو کښې دتحصیل دپاره د۳۸ کال دکب په میاشت کښې ددوو کلو دپاره برما ته لیږل شوی دی .

## نوی قوانین

دلومړی پنځه کلن پلان په ترځ کښې دهغو شرکتو دوظیفو او حقوقو دتنظیم دپاره نوی قوانین تسوید شوی دی چه دهغوی په اساس دپېرولو او کانو تولید او پلټنې کوی. هیله ده چه ددغو قوانینو له تصویبیدو نه وروسته به داخلی او خارجی پانګی اچوونکی په دغه لیاره کښې برخه واخلی او دافغانستان دنقشی قیمتدارو موادو او نورو کانو له ذخیرو څخه به په عصری ډول استفاده وکړی .

# دافغانستان دنساجي عمومي شرکت د تشکیلاتو گراف



# دروغتیا چارې لومړی پلان په پنځو کلونو کښې

## اداری چارې دپلان په لمړی او دوهم کال کښې :

دروغتیا دوزارت اوصحی موسسو داداری پراختیا اوښیګڼی پروګرام عملی‌شو، دو لایاتو دروغتیا مدیریتو نه دروغتیا په لویومدیریتونو بدل شول ، دمخدره دواودتهیی او پلو ر نی دکنترول‌دپاره‌دمخدره دواځانګه‌تاسیس‌شوه.



ع،ص‌دکتورعبدالرحیم‌دروغتیادوزارت معین

## په‌دریم کال کښې

دولایاتودروغتیادلویومدیریتونو اودمخدره دوا ګانو دځانګی د پراختیا چار ی مخ په تکامل دی اودهغوانکشاف هم په زړه پوری مخ‌په و ړاندی روان‌دی

## په څلورم کال کښې

په اداری‌ځانګه کښې هغه پرو ژی چه دانکشافی پلان‌دتیروکلو نو په مو ده کښې تطبیق شوی‌وی جاری او مربوطی و ظیفی یی سرته رسید لی دی .

## په‌پنځم کال کښې

دمزار شریف اوهرات دروغتیا په لویومدیریتونو کښې و قایوی طب تطبیق شوید ی .

## دروزنی چاری دپلان په لمړی اودوهم کال کښې

دعامی روغتیامودسسی دودانی کار شروع اودوام درلود ، دفنی کسانو دروزنی دپا ره یوشمیر کورسونه لکه صحی پلټونکی ، روغتیاپال ، د لابراتوار فنی کسان،دقابلو معاونان پرستاران اودغابنوجوړولو دمعاونانو کورسونه تاسیس شول اوددغو ځانګو دپاره فنی کسان تررروزنی لاندی ونیول شول ،

## په دریم کال کښې

دعامی روغتیا دموسسی دجوړونی کار دوام لری اودپلان په دریم کال‌کښې ئې کار په سلو کښی اتیابشپړ شو . دصحی پلټونکو په ګډون دلابراتوار د۱٤۰ فنی مامورینو ، ۲۸تنو پرستارانو ، دلابراتوار د۱۸ تنو معاونانو۳۱ تنو قابلو ، دغابنو۷۸تنو معاونانواو ۳۲تنو درمل جوړونکو دروزنی دپاره تربیتی‌کورسونه تاسیس‌شول او۱۳تنه دتکنیشن له‌کورس‌څخه او۱۳ تنه‌دروغتیاپال‌له‌کورس‌څخه‌فارغ التحصیل اوپه‌مربوطو پروژوکښی بکار وګمارل شول.

## په‌څلورم کال کښې

دعامی روغتیا دموسسی دودانی کار جاری‌واواوس نژدې دی چه سرته‌ورسیږ ی، تربیتی کورسونه په لاندی ډول جاری وو :

دسنترین کورس له ۱۳ تنوسره،دلابراتوار تکنیشن‌له۱۲ تنوسره، دلابراتوار د معاونانو کورس د«۱٤٥»تنو اوداکسریز کورس‌له ۱٤ تنوشاگردانو سره جاری ؤ .

## په‌پنځم کال کښی

په دغه کال کښی دتیروکلونو په اساس دروزنی چاری دوام لری او له فنی کورسونو اوځینو صحی ښوونځیو نه‌گټه او نتیجې اخیستل شوید ی د عامی روغتیا دودانۍ پاتی کار چه پخوا شروع شویؤ دپلان په پنځم کال کښی به سرته و رسیږی .

## د قایوی طب دپلان په لمړی او دوهم کال کښی

دساری ناروغیو په ضد په پراخه پیمانه مجادله وشوه .

نژدی‌ده چه‌ملاریا بیخی‌محوه شی‌له۱،۵ ملیونونه زیات‌کسان دکوی اولکی‌لرونکی‌تبی په مقابل کښی واکسینشن شول ، صحی تبلیغات دحفظ الصحی له‌مراعات کولوسره دخلکو دآشناکولو دپاره په دایمی‌ډول دروغتیا دوزارت‌دصحی تبلیغاتو دڅانگی اودمجادلوی ټیمونو له خوا دمجادلوی عملیاتوپه حال کښی اجراء شوی‌دی .

## په‌دریم کال کښی

دساری ناروغیولکه کوی اونورو په مقابل کښی پراخ پروگرامونه په‌لاس کښی نیو ل شوی‌دی . اودمملکت په ټولوسیموکښی داجباری ستنوو‌هلو دپاره ور تجهیزات تهیه شو ی اودهغو په تطبیق پیل‌شوی‌دی «٦۰۷۲۱٥»تنه‌دکوی په مقابل‌کښی‌تزریق شوی‌دی اودلکی داری تبې اودلیونی سپی‌په‌ضدمجادله‌پراخه شوی‌ده او«۷٤۰۰۰۰»تنه ددغی‌تبی‌په‌مقابل کښی تزریق شوی دی.

سیار یونټونه په‌آلاتواودوامجهزشوی اودبدخشان، قندهاراوننگرهار د ولایتونودروغتیا دمدیریتو سیازیونټونه په‌کاراچول شوی‌دی، دقطغن‌دولایت د سیاریونټ‌طبی‌وسایل‌اوتجهیزات اونقلیه وسایل تهیه شوی اوله مرکزڅخه دلیری خلکو دصحی وارسۍ دپاره دقطغن ولایت ته لیږل شوی دی .

## په څلورم کال کښی

دکوی مجا دله دعمومی پروگرام په‌اساس شروع شوه اوخلك په‌لاندی ډول وا کسینشن شوی دی :

دکابل په ولایت کښی «۹۳۱٤۹»تنه اوپه ولایاتو کښی «۲۷۳٦٤۸» تنه دکوی په ضد واکسینشن شوی‌دی. همدارنگه‌دلکی‌داری‌تبی‌مجادله دڅلورم کال‌په‌لمړیو دریومیاشتو کښی شروع شوی اوپه یوزیات شمیرخلکو اوکورونو باندی د«دی،دی،تی» پو ډر تطبیق شو چه دڅلورم کال دشپږو لمړیو میاشتو وروستی دری میاشتی یی دوام وکړ .

## په پنځم کال کښی

د کـو ی ، لکی لـر و نکی تبی او نو رو ساری نـاروغیو په مقابل کښی‌به‌مجادله پراخه شی .



ACKU

والا حضرت شهزا ده محمد نا در درو ز نتون آفتخاری ر ئیس د ۱۳٤۰ کا ل
دکوچنیانودجشنِ پهورځ کښې یوه ماشومِ ته دښکلیتوب جایز ه ورکوی



دزيږنتون مديره پيغله نظيفه محمود غازي د روغتياد ورځې په مناسبت په جوړ شوي محفل کښې وينا کوي

# د روغتیا د وزارت تشکیلات



## دپلان په لمړي اودوهم کال کښې صحي تبليغات

دنشراتو اوتبليغاتو څانګو خپلی معمولی وظيفی په خورا ښه ډول اجراکړې اودروغتيا زيری دجریدی‌اودروغتیادمجلی په وسيله اودکابل راديودصحي پروګرامونوپه لړ کښی ئې خپلووظيفوته دوام ورکړی اوځینی پامفلټونه ئې هم خپاره کړي دي .

## په دريم کال کښی

دصحي چارو اودحفظ‌الصحی مراعات ته دخلکو دتوجه دراګرزولو دپاره د ډو ل ډول تبليغاتو لکه دمقالو خپرولو، دکنفرانسونو ورکولو، دننداړتو نو اودصحي فلمو نو ښو دلو په وسيله‌هر ډول اقدامات وشول ، هغه وسايل اوتجهيزات‌چه‌دوقايوی‌طب دپاره خر يداری شويدی دچار تو نو دترميم له آلاتواوسامانو،دصحي‌فلمونو دښودلو دپاره لهږرو جکتو رونو او دصحي تبليغاتوو‌پاره له لود سپيکرو نو،تيپ ريکاردرونواودعکاسی دپاره دفوتوګرافی له مکملی‌دستګاه ،تبليغاتی وسايلو او نو رو څخه عبارت دی.

## په څلورم کال کښی

دمرکز او ولاياتو دخلکو دعامه افکارو دروښا نولو دپاره درادیو او ا خبا رو په وسيله لازمه تبليغات شوی او دصحي فلمونو ښو دنه جاری‌وه. په ټول مملکت کښې صحي نشريه خپره شوه‌او سر بيره په دی دصحي تبليغا تو تيمونوو‌طبی‌تبليغات‌هم کړی‌اودپروګرامو دتطبيق په باره کښې يې آسانتياوی برابری کړی‌دی، همدار نګه د صحي تبليغا تو دپاره دغه لاندی آلات او سا ملونه رانيول شوی دی:

مکرافون ،ادی،دياسکوب،درسمو نواويا په صحي‌کتابونو کښې‌د عکاسيو دښو دلو دپاره دصحي تبليغ دپاڼو دچاپولو دپاره دديتو ماشين‌او دصحي تبليغاتو دپاڼو د چاپولو دپاره دګستدنرماشين.

## په پنځم کال کښې

په دی کال کښې هم صحي تبليغاتوته پراختياورکړی شواوځینی‌نور مواد او و سايل په مجهز ډول برابر شول.

## دپلان په لمړي او دوهم کال کښی‌روغتونونه، کتنځيونه او لابر اتو ارونه

پدی کلو کښې په ولاياتو کښې د شپږونو يو شفاخانوجوړولوتر تيبات برابر شول په نورو شفاخانو کښې ډیری اسانتياوی په تيره‌بيادبسترودزياتولوله لياری‌برابری‌شوی دځلورو نويو شفا خانو دجو ړولو سامانونه تهيه شول چه اوس له هغی جملی‌څخه دکابل سل بستره ايزه شفاخانه ده چه دهغی چارې، نږدی‌دی چه بشپړ ی‌شی،په پنځو ولايتـونـو کښې دپنځو مجهزوسيارويونټونو اودعاښو څلورو‌کلينکونـو او لابراتـوارونودتاسيسولو زمينی برابری شوی، دکابل دواکسين جوړولو لابراتوار هم‌په‌لمړی‌کال‌کښې‌تاسيس شو.

## په دریم کال کښې

دکابل دسل بستره ایزی شفا خانی دودانی کار پر مخ تللی اوپه‌سلو کښې ۲۵ یې‌بشپړ شوید ی ، دکڼ واز لس بستره ایزه‌شفاخانه چه د پلان په دوهم کال کښې بشپړه شویده تراستفادی‌لاندی ونیوله شوه.

په فراه کښې دنسایی شفاخانی دتاسیس دپاره لمړنی ترتیبات ونیول شول .

دلو گر دلس بستره ایزی شفاخا نی دودانی کارپه بیړه‌روان دی‌اوپه‌سلوکښې۲۰ بشپړ شوی‌دی، دابن سینا د لس بستره ایزی‌شفاخانی دودانی کاردپلان‌په‌دریم کال‌کښې شروع‌شو، او ددریم کال په موده کښې په سلوکښې ۲۵ بشپړشوی دی،

په‌فراه‌کښې دغاښو جوړولو موسسه تاسیس او تر استفادی لاندی ونیوله شوه.

دمیمنی داعلی حکومت دلاپرا توار لازم‌وسایل‌اوفنی‌تجهیزات‌بشپړ او په کارېې پیل‌وکړ.

## داوسنیواسانتیاؤ زیاتوالی

دابن سینا دشفاخانی داکسریز کار بشپړشواوهم دننگرهار دولایت داکسریز کارسرته رسیدلی او په کارئی پیل وکړ.

دمزارشریف‌داکسریز ددستگاه پاتی تجهیزات تکمیل شوی اوهمدارنگه‌د میمنی‌اوغزنی داکسریزونووسایل‌تهیه اولیږل‌شوی‌اولمړنی‌کارونه‌ئی بشپړ شوی‌دی، په‌مختلفوشفاخانو کښی‌په بستروکښې په لاندی ډول زیاتوالی راغلی دی .

۱ـ دقندهار دولایت په شفاخانه کښې په پخوانیو بسترو سر بیره لس بستر ی زیاتی شوی دی.

۲ـ دقطغن دولایت‌په‌ملکی‌شفاخانه‌کښې‌په پخوانیو بستروسربیره‌لس‌بستری زیاتی‌شوی‌دی.

۳ـ دمیمنی په ملکی شفاخانه‌کښې په پخوانیو بستروسربیره‌لس بستری زیاتی‌شوی‌دی.

٤ ـ دبدخشان په ملکی شفاخانه‌کښې‌په پخوانیو بستروسربیره‌لس‌بستری‌زیاتی‌شوی‌دی.

٥ـ دخان‌آباد په ملکی شفاخانه‌کښې‌په پخوانیوبستروسربیره پنځه‌بستری‌زیاتی‌شوی‌دی.

٦ـ دارگون په ملکی شفاخانه کښې په‌پخوانیوبسترو سربیره‌پنځه‌بستری‌زیاتی‌شویدی،

دفراه په ملکی نسائی شفاخانه کښې داوبورسولوسیستم،دکابل دمحبس‌اومیمنی‌ملکی شفاخانه اصلاح شوه اودغزنی دشفاخانی‌داوبورسولو وسایل‌تهیه‌اونصب‌شو.

همدارنگه دمزار شریف د ملکی شفاخانی اکسریز، زیږنتون او دمستوراتو دشفاخانی داوبو رسولو بسته کاری سرته رسیدلی ده.

شپږ دیزلی جنریترونه له خارج څخه راوړی‌شوو، د غزنی‌اوننگرهارپه‌ملکی‌شفاخانو کښې دبرق ددوو دیزلی دستگاو تنویر سرته رسیدلی‌اوپه کارئی پیل‌وکړ، دمزارشریف داکسریز دبرېښنا دلین غزولو کار سرته رسیدلی اوددغوموسسودبرېښنا دضرورت وړجنریټر لیږل‌شوی، همدا رنگه دمیمنی دملکی شفاخانی برق تکمیل شوی‌اوپه کاراچول شوی دی. اودغه راز دمیمنی په ملکی شفاخانه کښې دبرېښنا دتولیددیزلی جنریټر نصب شوی‌اودملکی شفاخانی اوداکسریزدموسسی دتنویر دپاره برق ورکوی.



په زیږنتون کښې دقابلګۍ دکورس دوروستۍ دورې دشاملینو دآزموینې یوه ننداره.



دزیږنتون دقابلګۍ په کورس کښې ځینې زده کوونکې دخپلو ښوونکو تر کتنې
لاندې دیوه نوي زیږیدلي ماشوم دپاکولو او مینځلو طریقې په عمل توګه زده کوي.



په‌زیږنتون کښې دنوی زیږیدلی ماشوم دساتنې او د هغه د مور دمراقبت لپاره ځینې مؤظفې قابلې په‌کار بوختې دي .



دکابل په‌ښوونځیو کښې دکولرا دواکسین دتطبیق‌یوه منظره.

ACKU

## په څلورم کال کښې

ـ کابل د سل بستره ایزې شفاخانې د ودانۍ کار جاری دی او د هغې د عمومـــی ودانۍ کار ۴۵ په سلو کښې او د هغې د جنوبی الحاقی برخې کار ۴۵ په سلو کښې تکمیل شوی دی .

دفراه د اعلی حکومت د پولیکلینك نقشه د دغې ودانۍ د لګښت د یو څه پیسو له تخصیصیې سره مخکښې لیږل شوی او د ودانۍ کاریې جاری‌د ی .

د لوګر شفاخانه چه د هغې دعصری ودانۍ‌کار پخوا شروع شوئ جاری دی او هیله ده چه په راتلونکی وخت‌کښې د هغې چاری بشپړې‌شی .

## دابن‌سینا شفاخانه

د ودانـــۍ کـــارئـــی جـــاری دی او د هغـــې عمومـــی ودانـــۍ او تهداو نـــه تکمیل شوی او دګرمۍ مرکز او د اوبو رسولو د سیستم او د برښنا دلین دغځولو د کار بشپړ کول‌ئی له خارجی کمپنیو سره قرار داد شوی دی .

د ننګرهار ، پکتیا ، قطغن او فراه د غاښو جوړولو مو سسې چه د ا نکشافی پلان په جریان‌کی پرانستلی شوی او په کار اچولی شوی وی خپل فعالیت‌ئی جا ری کړ ی او د مراجعینو په تداوئ‌ئی لاس پوری کړی د ی .

د قطغن ، غز نی ، پروان او میمنی لابرا توارونه چه په تیروکلو نو کښی دایر شوی وو خپل فعالیت‌یی جاري کړی دی .

د ارګون د شفاخانی د بسترو زیاتوالی سامان او لوازم لیږل شوی او ژر به په کار واچول شی .

د پروان او ابن‌سینا د اکسریز دستګاه خریداری شوی د ه،د میمنی د اکسر یـــــز دستګاوی تکمیلی او پرانستلی شوی دی، د غزنی د دوو دستګاوو بسته کاری بشپړ ه شوی او د برښنا د لین غز و لو کارئی هم پای ته رسیدلی دی.هیله ده چه د فنی پرسونل له تهیه‌کولو نه وروسته په‌کار واچولی شی.دمزارشریف د اکسریـــز و سایل تکمیل شـــوی او بسته کـــاری بـه‌یـــی ژر شـــروع شـــی. دخوست‌اکسریز تکمیل اود هغه د دستګاه دجنریټر د کوټی ودانی تر کار لاندی دی، د برق د وایرنګ او نورو نقشه بشپړه شوی، د جنریټر د و دانۍ له بشپړ کیدو وروستـه بـــه د هغی بسته کاری شروع شی .

## د اوبو رسولو سیستم

د ا بـــن سینـــا د لس بستر ه ا یـــز ی شفا خـــا نـــی ، د پـــــروان د پولیکـلینك او د مزارشریف د شفاخانی د دوبی خانی (دکالی پر یمینځلو ځای) د اوبو رسولو سا ما ن او لوازم‌تهیه شوی ، لیږل شوی اود بسته کاری‌کارئی شروع شوی دی .

د مزارشریف ، میمنی او غزني د شفاخانو ډیزلی جنریټرونه چه پخوالیږ ل شوی و و

په میمنی‌اوغزنی‌کښې نصب او په‌کارو اچول شول او د مزارشریف بشپړ کید و ته نژدی دی د میمنی دشفاخانی دلین غزول او وایرنګ‌کاری سرته رسیدلی او د پروان دپولیکلینک د برښنا تنویر عملی کیدوته نژدی شوی دی .

## په پنځم کال کښې

د سل بستره ایزی شفاخانی د و دانۍ کار چه پخوا شروع شوی‌و په دغه کال کښې دوام ورکول کیږی .

د پروان ، غزنی اومیمنی د مستوراتو شفاخانی په کار اچولی شوی دی . او دلوګر، ابن‌سینا او سرایخواجه د لس بستره ایزو شفاخانو عمرانی چاری نـږدی دی چه سرته ورسیږی .

د پکتیا ، قطغن ، فراه او شبرغان د اکسر یز مو سسی به بسته کاری او په کار واچولی شی د ولایاتو د پنځو شفاخانو د بسترو شمیربه چه مراجعین‌یی زیات دی‌لس لس بستری زیاتی.شی همدارنګه دولایاتودمستوراتود شفاخانو شمیر چه مراجعین یی زیات دی لس‌لس‌بستری زیاتی‌شی .

د پکتیا دولایت او د میمنی د اعلی حکومت په سیمو کښې د ماشومانو او میندو د حمایی ځانګی پکار اچول شوی دی .

## نوری متفرقه چاری

ګرزند یو نهٔو نه : د پنځه‌کلن پلان په څلورم کال‌کښې د هرات اوپکتیا د ولایاتو د ګرزند یونهٔونوطبی اوترانسپورتی وسایل برابر شوی او د ضرورت وړفنی کسان د برابرولو نه وروسته دغو ولایتونو ته ولیږل شول او پکاریی پیل وکړ او هم یو مجهز ګرزند یونټ د کوهدامن ذ سیمی خواته د ځینو ساری نا روغیو د مجادلی په مقصد ولیږل شو .

## د واکسین د تهیه کولو موسسه

د پلا ن پـه څلو ر م ا و پنځم کـا ل کښې د مجا د لو ی و سا یلو له پلوه لکه واکسینونـه او نور ضروری شیانوته‌پراختیاورکړه شوی ده ، د هغی دنوی ودانی کار چه د پلا ن د دریم کا ل په دوهمه نیمایی کښې شروع شوی ؤ ا و س بشپړ کیدو ته نژدې‌ده».

ACKU



پهعلاؤالدین کښې دکوچنیانو اومیندو دروغتیادساتنې دکلینیك دپرانستلو لهمراسمو څخه



دروغتیادوزارت دمختلفوڅانګو دپراختیاپه لړکښې پهعلاؤالدین کښې دما شومانو او
میند و دسا تنې دمرکز یوه قابله د وظیفې داجراکولو په وخت .



دکولرا او کوی دمجادلی یوگر ځند هیأت د کوهدامن خواته رهی د ی .



د مزار شریف دولایتدښځو په شفاخانه کښی دیوی ژوری ځاه د برجودانی
چه نوی جوړه شوی ده.



دعدلیې وزارت تشکیلات
دعدلیې وزیر
معین
دتمیز ریاست
دجمعیت العلما ریاست
حقوقي غړي
جزائي غړي
دلیک مدیریت
دجزا څانګه
دحقوقو څانګه
دمخصوص قلم مدیریت
دپلټنې مدیریت
د اداري لوی مدیریت
دعامو خدمتو مدیریت
د پانو څانګه
دمحاسبې مدیریت
د مامورینو مدیریت
د بودجې مامورین
دپانو داجرائیې څانګه
دخزانې څانګه
دکابل ولایت
دهرات ولایت
دقندهار ولایت
دقطغن ولایت
دننګرهار ولایت
دمزار شریف ولایت
دپکتیا ولایت
دفراه اعلی حکومت
دغزني اعلی حکومت

# دعدليې دوزارت چارې

## يوه عمومي کتنه

دروان مالي کال په‌ترڅ کښې دتيرو کلونو په شان دعنعولوايحواومقرراتو ( اصولنامو اوتعليمات نامو)په تدوينولو کښې اقدام شوی دی چه محاکموته دعغوی‌په مربوطو شر عی او اداري چارو کښې په ښه ډول لیاربښونه کوی . هغومحاکمواودوايروته‌چه‌په‌مربوطو چارو کښې‌مشکلات وينی دهغوی دمراجعې اوپوښتنې په اثردفقهې‌اوتاکل شوو مقرراتو په استناد قناعت‌ور کوونکی اومثبت‌ځوابونه ورکړل شويدی په هغو موارډو کښې چه اصولنامو يا تعليما تنامو کوم مواد دضميمې يا په مستقيم ډول ايجاب کړی‌دی موضوع دخپلې قانونی لیارې‌نه تسويه‌اوخپل مراتب ئی طی کړی اوتطبيق شوی‌ده .



ع،ج ښاغلی‌سيدعبدالله‌دعدليې‌وزير اودداخلې دوزارت وکيل

## قانونی فعاليتونه

دودوبو اصولنامه ترتيبه شوی اونکاح ليك‌چه۲۷ مادی لری تطبيق شو يدی .

## هغه مواد چه دقوانينو په څنگ کښې اجرا شوی‌دی

۱ـ دمشبوهواسنادو په هکله دوثايقو داشتباه تعليمات نامه په«۲٤» مادو کښې .

۲ـ دوثايقو داشتباه اودهغو داجراآتو دطرز په‌برخه کښې دوثايقودليکنې د تعليماتنامې په«۹» ماده تبصره .

ج- په (٤۰۰) قطعو کښې دوزارت دعلمې ټولنې‌په‌تصاويبو کښې‌علمی‌اوقانونې لارښوونې.

## پرقضايي چارو دنويو فارغ‌التحصيلانو گمار ل

د۳۹ کال دحمل له لومړی نيټې‌نه د ۱۳٤۰ کال ترابتداء پور ی دشرعياتو دپوهنځی ۱٦ تنه، دکابل دعربی‌دارالعلوم ۸ تنه،دمزارشريف داسدیې‌دمدرسی٦ تنه‌اودننگرهار دولايت دنجم‌المدارس٥تنه فارغ‌التحصيلان دپوهنی دوزارت له خوا معر فی ا و په عد لی څانگو اوقضايې محاکمو کښې گمارل شوی دی.

## دعدلی محاکمو پلټنې

ددغه وخت په جریان کښې دکابل دولایت دوڅابقو محکمه اودبگرامیو، ارغنداب ،دند کوهستان دهراوود ،وازه خوا ، مقر، قره باغ،جاغوریو ،کشنده ،کرخ ،نوزاد ، پغمان او داقچې محکمې اودغوراتو مرافعه محکمه اودغوراتو داعلی حکومت پورې تړاې د پرچمن ابتدائیه محکمه پلټل شوی دی.

## تبلیغی وسایل

دالفلاح میا شتنی مجله قضایې، تاریخی،علمی اواجتماعیمطالب علاقه‌لرو نکو ته‌ورانده کوی، دغه خپرونه دقضاتو اومفتیانو مسلکی مرستیاله گڼله کیږی.

## دتمییز چاری

لاندینی فقری‌دتمییز دعالی‌ریاست له خوا غورسی اوانفصال‌شوی‌دی :

الف جزائی :
تاییدی_ ۸۰۰
تزئیدی_ ۵۰۶
تخفیفی_ ۳۹٤
دنواقصودبشپړولوپه‌غرض مستردی_ ٦٥۷

ټولی ۲۳۵۷ فقری

ب_ حقوقی:
تاییدی _ ۱٦٦
مستردی _ ٤٦

ټولی ۲۱۲ فقری

چه ټولی ۲۵٦۹ فقری کیږی

## د داخلي دوزارت تشکیلات



# دداخلي دوزارت چارې

## دروان مالي کال په ترڅ کښې د نورو کلونو پشان

دداخلي وزارت همیشه دمملکت دعمومي انتظام په ساتنه کښې کوښښ کړی او دپخوا په شان داقتصادی ، مالي ، عرفاني او همدارنګه نورو انکشافي فعالیتو ممد او مرستیال شویدی او دهمدې مسائلو په تعقیب ئی د عمومي مجرا یمو پا ملرنه کړې ده .

### مهم مسائل

له هغو مهمو چارو څخه چه دداخلي وزارت په تیریو کال کښې د هغو په سر ته رسولو موفق شویدی دمختلفو ولایاتو مربوط دری سوه شپېږ ویشت ناقلین او مهاجرینو دکورونو له نقلولو او هستو ګنځیوور کولو څخه عبارت دی . سربیره پر دې ئی دنفوسو شمیر لو دیوی نوی احصائیې داخستلو لپاره ئی څلورټاکلی ګروپونه دهولو وسایلوسره دبدخشان اعلی حکومت ته استولی دی .

### په تشکیلاتو کښې تعدیل

د خوزیاتو لمړی درجه حکومتدهغه دمربوطودپچیرو آګام دوهمې درجې علاقداری دشیرزادو دوهمې درجې علاقداری سره دحصارك دریمه درجه حکومت په ضم کولو تعدیل شویدی



دپولیسو دعالي ښوونځي فارغ التحصیلان او ځیني اداری او تدریسي استادان

۲ – یو شمیر کلي چه دهو نی کوتل لمرختو خواته واقع او د بهسودو دلمړی برخې دعلاقداری پوری مربوطه وه څرنګه چه دبهسودو علاقداری مرکز څخه تقریباً (۱۲) کروه مسافه درلوده دبهسود ودلمړی برخې د علاقداری څخه منفك او دجلریزود علاقداری پوری چه تر هغه ځایه (۳) کروه مسافه ده مربوط او ملحق شویدی .

دلمړی رتبې په چپرکات دننګرهار په ولایت کښې یو تن مرستیال منظور او ټاکل شویدی .

# دماليې دوزارت چارې دلومړي پلان

## په پنځو کلونو کښې

دماليېوزارت ددولت ددستګاه‌دمالي رکن په حيث ،داعهده لري چه ددولت د ضروري مصارفو چه دقانوني عوايدو له لارې تحصيليږي،ځايونه ،لارې، دعوايدواودمصارفو دپيماني توازن،دبودجې اودټولو حسابي فعاليتونو د انسجام په وسيله ، او ددولت مالي اداره‌دطرح كولو له‌لارې او دبودجې دحساب د مؤثر سيستم معرفي کول ا و د هغه د تطبيقو لو دمراقبت چه دمملکت په ټولو د وا ئرو او مالي څانګو کښې‌صورت مومي‌ادراك‌وکړي.

دغه وزا رت سره ددې چه دغه پو رتني بنسټونه په‌نظر کښې‌ئي‌دي دلمړي پنځه کلن پلان په د و ر ه کښې لا ند ینی مسا ئل چه دهغه دوظائفو اساسي نقطې‌تشکيلوي هم‌خپل نصب‌العين ګڼلي، اوددغو مسائلو نپاره ئي حتی‌الامکان کوشش کړی دی .



ع،ج‌بناغلی‌عبدالله‌«ملکيار» دماليې‌وزير اودهلمنداوارغنداب‌دسيمې‌دانکشاف‌لوی‌رئيس

١ــ دمالي پلان ترتيبول ، او د مالياتو دقوانينو دپروژې تهيه‌کول اوتطبيقول.

٢ – دعوائدو تحصيلول ، لکه ګمرکي محصولات ،ماليات پر عائدات اونور.

٣ – ددولتي دوائرو دمصرف‌دتخصيصاتو توزيع اوويشل دبودجې په‌مطابق .

٤ – دبودجې دقانون ترتيب ، نظارت ،اواجراء .

٥ – دمرکزی‌محاسبې تنظيمول، د حسابي ستندردو فورم تعينول، دوزارتونو اودنورو دوائرومحاسبه‌کول .

٦ – ددوائرو حسابي کنترول دبودجې دتخصيصاتو له لارې .

٧ – دولاياتو دمالي‌اوضاعو له مخې عمومي مراقبت .

٨ – دقرضي معاملاتو ته رسيدګي .

٩ – دبانکي‌دوائرو اومؤسساتو دنظم اونسق مراقبت.

١٠ – دقرضونو په باره کښې مذاکرې .

١١ – دسکې وهل اودسکو کوطبع کول.

دماليې‌وزارت دلمړي پنځه کلن پلان په موده کښې وکړای شوچه دعادي پروګرامونو او د انکشافي پروژودمخکښې بيولولارې تأميني کړي ،اونوموړی‌مبالغ‌دبودجې‌اودمحاسبې دمقرراتو سره سم متدرجاً دتخصيصاتو د صادريدو له‌لارې ددوائرو په تصرف کښې کړي .



د وزارت مقام
اداری معین
مالی معین
مشاوران
دخصوصی قلم مدیریت
دلیک شانګه
دستخبارات شانګه
د داخلي شاوران شانګه
د بانډنیوشاوران شانګه
د اداري لوی مدیریت
دپلټنې مدیریت
د ګرک مدیریت
دتقاعد مدیریت
دهیسي مدیریت
دمحاکماتو مدیریت
مرستیال
دلیک شانګه

پهدی ترتیب کهځه هم لمرنی پنځه کلن پلان ددولت دمصارفومیزان دپلان په ټوله دوره کښې دعا دی اوا نکشافی امورو لپاره ټول (۹۱۷۲۱٦٤٥۰۰) افغانی پیش بینی کړی ، مګر هغه مبالغ چه ددی دوری پهموده کښېدعادی اوانکشافی پروګرامودانجامولولپاره تخصیص شوی ؤ ( ۱۳٦۳۹۹۰۲٦۹۳ ) افغانیوته رسیده ، اودغه تخصیصات بی لدینه چه د متذکره مالیاتو په نرخو او دمحصولاتو په عو ائدو کښې تحقق اوتحصیل شویدی د لومړ ی پلا ن لهپیشبینی نهډیروو.

کله چه د دولت فعالیتونه او دهغه دمالی معاملاتو حجم مخ پهډیروالی واودولت دصنعتی زراعتی، عرفانی ،عمرانی ،مواصلاتو ،مخابراتو،روغتیا اودنورو امورو دانکشاف پهلاره کښېو نودغه انکشاف اودغه دمعاملاتو ډیروالی دا ایجابوله چه دعوائدو دمحاسبی دمصارفو دبودجی، اودخزائنو داموروسیستمدانکشافیمسائلودایجاباتوسره یورنګ وی. ددی ضرورت له مخی ددولت دبود جی اودمحاسبی سیستمونه دمالییه وزارت کښې دتدقیق او مطا لعی لاند ی ونیول شو تر دی چه یوثابت اومؤثر سیستممنځته راشی اود دولت انکشا فاتو سره موا فق وی. بالاخره وروسته له یو لړ مطالعاتو اوکتنو دبودجی سیستمدمالی (۳۸ـ۳۹)کال په اول کښې په عصری وضع سره تعدیل و مو ند ، چه د هغه په تطبیقو لو ددولت ، دبودجی تر تیب او د هغه اجراء کول خو ر ا ښه کنترو ل شی . همد ا ر نګه د محاسبی سیستم دمالی ( ۳۸ـ۳۹ ) کال په اول کښې په امتحانی ډول ددوائرو په یوه برخه اومتعاقبا په خینو نورو دوائرو کښې تطبیق شو چه د محاسبی کنترول او قانونی دوظایفو د ا خـتـلاط نقیصه لری ، او د حسابی استفادو له تمرکزه چه د ډیرو مشکلاتو باعث کیـدله مخنیو ی او همدارنګه د محاسباتو د دیوان پخوانی ویزه چه د حسابی معاملاتو د اجـر ا کیـدو د تاخیر سبب شویوه له مینځه ولاړه . او سر بیره پردی دحساباتو له تراکمه او ډیر والـی چهقابل تصفیه اوورځ په ورځ ئی دهغه پرحجم زیاتوالیکاوه حتی الامکان لیز والی ومو ند لکه څنګه چه د محاسبوی سیستم د تعدیل له تاریخه تردی روستنیو وختو نـو د مخـکینې محاسبوی سیستم دمعاملات لهبابته (۹۱۳۷۱۷٥۰۱)افغانیتصفیه اوتحصیل شوی دی .

د بودجی د محاسبوی قانون پروژه د ما لیی د وزارت لـه خـوا تهیه ، او د دولـت له منظوری او د تقنینیه مراجعو له تائیده وروسته د مالی ( ۳۸ ـ ۳۹ ) کال لـه او له مرعی الاجراء وګرځیده . هغه لوائح ، تعلیماتنامې ، او فورمې چه دآمرینو او محاسبینو وظیفوی تکا لیف او د حسابی معاملاتو د اجراء ا و ثبت لاره د محاسبو ی قـانـون او د بـودجی د تصر یحاتو سره سم ، او د محاسبوی سیستم د بنسټونو په مقتضی شرح کوی په دوائرو تعمیم شو . په دی ضمن کښې د بودجی او محاسبی څو کورسونه وخت پـه وخـت منځ ته راغلی ا و د دوا یر و یو شمیر مامورین د مربوطه متخصصینو په واسطه د بودجـی او د محاسبی د سیستمو ، د ترتیب د طر یقی ، ثبت او کنترو ل سـره ئی آشنا شـول . د خزائنو په امورو او کارو کښې د محاسبوی سیستم په اساس بیا د تادیاتو په لـړ کښې ډیر تغیر ا ت منځ ته راغلل چه د مبالغو د قبلولو او د هغه د ادا م کولـو پـه حصه کښې

د مراجعینو او دوائرو لپاره په معاملاتو کښې ممکنه تسهیلات پیدا شوی ، او د خزاینو حساب خورا ښه کنترول کیدای شي .

اسعاری پیسی په لازم وخت د پروګرامو د تطبیقولو او دانکشافی پروژو د وړاندی بیولو لپاره د تجارت دمالو د قیمت له مدرکه د افغانستان بانك د صادراتو په وسیله په لومړی پنځه کلن پلان کښې په لازمه اندازه تهیه او توزیع شوی دی .

همدارنګه د مملکت د تجارتی مالونو اسعار د هغه سیستم په وسیله چه د اسعار و نظارت کوی د افغانستان بانك له طرفه کنترول شوی دی .

په عوائدو کښې د حسابی امورو د اصلاحاتو په لړ کښې له یوه طرفه د عائداتو د انواع په تصنیف کښې چه په بابونو او فصلونو سره دی او له بل طرفه د حساب او د عوائدو د فورمو په ترتیبولو کښې تعدیلات شویدی چه د عائداتی منابعو انکشاف او هم د هغه تنقیصات ښه او روښانه ښو دلای شي .

ځینی احکام ، قوانین ، او مالی لوحی چه د تعبیر او د توجه وړ وی یا دا چه مبهمی وی د مالیی په وزارت کښې د مطالعی او کتنی لاندی ونیول شوی او د اصلاح کولو په منظور موجوده نواقص اود قاطعو احکامو تثبیت چه په مالیاتی قوانینو او د دولت د عوائدو د قانون په پروژه کښې دی د اهل فن او د متخصصینو له خوادنهائی تدقیقاتو لاندی نیول شوی او د قانونی مراحلو له طی کولو نه وروسته د تطبیقولو ساحی ته به وځی .

د دولت د عوائدو میزان په لومړی پنځه کلن پلان کښې د پلانو د پیشبینی په نسبت قناعت بخش دی او په هر مالی کال کښې د دولت د پروګرامو او د پرژو د مصارفو لپاره تکافو کړیده .

د دولت او د افرادو د املا کو د تثبیت په قسمت او ل کښې ښه کامونه اخستل شویدی چه د پروژی د اصولنامی له تقد یمولو ، د احصائیی له ترتیبولو او د املا کو



دمالیی په وزارت کښې دولایاتو اواعلی حکومتونو دمستوفیانو وروستی سیمینار چه دهغه وزارت په مرکز کښې جوړ شوی ؤ .



مقایسه مصارف بودجه مالی
۳۸+۳۹ و ۳۹ و ۴۰
امور اداری
۱۵۵
۱۶۵
خدمات اجتماعی
۳۹۶
۴۷۷
امور تجارتی و مالی
۱۰۴
۱۷۶
خدمات عامه
۸۹۳
۸۹۱
ترانسپورت و مخابرات
۱۴۴
۱۶۴
دفاع و امنیه
۶۲۳
۷۶۴
۸۳۰
۱۴۲
۴۳۰
۵۴۱


عوائد داخلی
۷۰ فیصد
۳۰ فیصد
استقراض خارجی


عوائد استقراض
۳۳ فیصد
دیگر عوائد ٦ فیصد
عواید تصدیهای دولت ۷ فیصد
تکسهای مستقیم ۸ ½ فیصد
۲۳ فیصد
تکس های غیر مستقیم و محصول گمرکی
عواید فروش ویا استعمال پول وملکیت
٦ فیصد منابع اکتشافی جدید

دثبتولو څخه عبارت دی . دغه پروژه د صلاحیت لرونکو مراجعو له خوا تصویب او منظور شوی او د هغی په موجب د دولت د املاکو عمده قضیی د افرادو ، دعدالت د ایجاباتو ، د افرادو دحقوقو د احترام سره سم حل او فصل او دبی ځایه تصرفاتو څخه مخنیوی شوی . همدارنګه د دولتی املاکو د استفادی په باره د املاکو د اجاری تعلیماتنامه ی ترتیب او مربوطه مراجعوته تسلیم شویدی او هیله کیږی چه د املاکو د اداری انتظام د عوائدو د ډیروالی نتیجه ورکړی .

د دولت د املاکی د فاتر و داصلاح په هکله چه په اعدادو او ارقامو او د املاکو دانواعو په تفصیل لکه: آبی ، للمی ، خرابه ، بلند آبه ،لامزروع او نور سره دی ممکنه اقدامات منځ ته راغلی دی .

دګمرکاتو په لړ کښی چه فعلا د دولت د عمده عوائدو له منابعو څخه ګڼل کیږی د اصلاح په غرض هم مطالعی او کتنی شویدی . همدارنګه په هغو مالونو کښی‌چه د محصول وړدی توجه شویده او د اداری چارو ، ګمرکو ، او د ګمرکی معاملاتو د دوران لپاره په مربوطه د فاترو کښی مطالعی اوکتنی شویدی او هیله ده چه مثبته نتیجه ورکړی .
د اموالو د توزیع کولو او هغو شیانو لپاره چه‌ددولتی دوائرو په ضرورت‌کښی‌دی اقدامات شویدی او ضروری شیان د محتاجو دوائرو په تصرف کښی ایښودل شوی دی . سره له دی اقدامه ددیپوګانو له موجوده ذخائرو چه یوه ډیره پیمانه‌ئی درلوده په‌مصرف‌کوونکو دوائرو توزیع شو او په دی ترتیب هم د سرمایی له عدم فائدی اورکود او هم د مالونو خرابیدو لهاحتمالاتو څخه حتی‌الامکان مخنیوی وشو.

هغه قضیی چه د مالیی د وزارت په نظر کښی د تفتیش او پلټنی وړګڼل کیدی تر تفتیش لاندی نیول شوی او د وسیه یی د دولت دنورو ادارو د تفتیشی دوسیو سره چه د موضوع له حیثه ئی ارتباط درلود دمالیی وزارت‌ته رسیدلی او دغه وزارت پکښی قانوناً تحقیق کاوه اوکه بیا به ددغو دوسیو فیصلی محاکموی جنبه‌درلوده نومحاکمی ته به تقدیم شوی اوکه ئی‌نه درلوده نو په اوامرو او یا اداری تصویبو سره حل او فصل‌کیدلی.

د مالیی دوزارت خپرونه چه د ( وتڼه) په نامه سره یادیږی دلمړی پنځه کلن‌پلان‌په‌اول او دوهم کال کښی ددری ورځنی‌جریدی اوبیاوروسته د میاشتنی مجلی په شکل ګرځیده په‌دغه مجله کښی مسلکی مضامین اوهغه خبرونه چه په مالی چارواړه ولری لیدل‌کیږی .
او په عین حال کښی لوستونکو ته د محاسبی او د بودجی مرعی الاجراء سیستمو نه وړاندی کوی .

همدارنګه دمالیی‌وزارت دمربوطه دوایرویه تشکیلاتو کښی نوی نظر کړیدی او داسی تشکیلات‌ئی‌منځ‌ته‌راوړیدی چه‌دکار-حجم دتشکیل دېراخی‌سره متناسب دی اوحتی الامکان دموظفینوصلاحیتو نه‌ئی تعین اوپدی‌ترتیب‌سره مربوطه‌کارونه‌په‌خپل‌وخت اوځای کښی اجراء کیږی‌دهمدغه منظورله‌مخی دمالیی‌وزارت له‌خوادا-ی مقررات‌تهیه‌شوی چه‌دداری مدیریتونو دوظایفودلایحی په‌نامه‌سره‌یادیږی اوصلاحیت لرونکومقاماتوته رسیدلی‌دی او ددولت په ټولو دوایروکښی مرعی‌الاجراء ګرځیدلی‌دغه‌لایحه‌له‌یوه طرفه‌ددولت‌داداری شعبو تشکیل‌چه دکارو دحجم په‌تناسب جوړشوی او له بل‌طرفه داداری شعبو مسؤلیتونه تفریق او دشعبو دموظفینو صلاحیتونه‌اومسئولیتونه ښکاره‌کوی .



په پلخمری کښی دسیلودنوی ودانی یوه منظره چه دلومړی پلان په پنځو کلونو کښې جوړه شوی ده .

همدارنگه دپیژندلو طریقه، دماموریت داو طلبونه او داستخدام طریقهٔ ای او د مامورینو دسوانحو دفترونه چه مکمله اوفوری معلومات لری دمامورینو ، دخدمت دوره ، اختصا صی متنو ع معلومات ، په موجوده وظیفه کښی قدا مت، تعلیمی سویه په انفرادی اواجتماعی ډول دمطالعی اوکتنی لاندی نیول شوی اودمالیی په وزارت کښی دامتحان په ډول عملی شو او هیله د ه چه په راتلونکی نژدی وخت کښی په اساسی توگه دتطبیق موردو گرځی. دغلی دتهیی او دخلکو درفاهیت په باره کښی عملی توجه شویده ، دخوراکی موادو داحتکار د ورکولو په غر ض دپلان په پنځو کلو نو کښی ددوستو مملکتو له کومکه او مرستو څخه ا ستفا د ی شوی اودبلی خوانه دپلخمری اودمرکز سیلو د وړاو ډیخی ډوډی په ویشلو دخلکو احتیاجات رفع اود غلی دنرخ په تنزیل چه دعامو خلکو لپاره په بازار کښی موجودی دی ښه خدمتونه کړیدی همدارنگه دپټرولو اوبوری له تهیی اوتوزیع کولو څخه ډیری آسانتیاوی پیدا شوی ، اودپنځو کلونو په موده کښی زیاروایستل شوچه ټول خلك له پټرواو څخه بی له کوم قیده استفادی وکړي ا و د خلکو سره ئي دترانسپورت اودحمل اونقل له لاری ډیر کومکونه کړیدی .

دغه دمالیی دوزارت او دمربوطو شعبو خلاصه اجراآت وچه په پنځو کلونو کښی منځ ته راغلی ، سره له دی هم ډیر نواقص او کمبودی شته چه ددغو وارو اصلاح او تکمیل د موظفینو اودعا مو خلکو په کاراوزحمت پوری اړه لری، اوهیله ده چه دهمکاری په روحیی سره ټول مشکلات حل اوپه راتلونکی وخت کښې مملکت اوملت دیوی روښانی دوری استقبال وکړی. (پای)

# دتجارت دوزارت چارې

دتجارت وزارت داقتصادی او مړی پنځکلن پلان په اساس داوسنی مالی کال په ترڅ کښی دنورو کلونو په شان له یوی خوادا کثرودو ـ تواوخصوصاً دګاونډیو هیوادوسره دافغانستان تجارت ته پراختیا ورکړې **اوله** بلی خوائی دمملکت داقتصادی کړنلارد ټاکلواودتجویز شوی پنځکلن پلان سره سم دافغانستان دتجارت دپراختیا دعواملو په راغونډولو ، دتجارت ، اقتصاداو بانکونو په لیار کښی دخنډونو دلری کولو ، تجارتی مالونو ته دنویو بازارودپیداکولو ، په بین ا لمللی ننداړتونو کښې دمملکت د صادراتو او پیداوارو د ایښودلو ،دنړی دتجارتی اواقتصادی په ګټورو سیستمونو کښی کتنی او دهغود تطبیق دعواملو په راغونډولو کښې ، دتړونولاسلیک ، دوارداتو او صادراتو توازن ،دتجارتی مقرراتو اوقوانینو تدوین، دبین المللی بازارو دتقاضاو سره سم دمملکت دصادراتی مال التجاره په ښه کولو، دمملکت په فعالو ساحو کښې دداخلی اوخارجی نویو پنګو په کاراچولو ،دتجارتی اوترانسپورتی اونورو عام المنفعه شرکتو او موسسو جوړولو په لیار کښې په خپل وارټاکلی زیار ګاللی اوخپلی وظیفی ئی په ښه شان سرته رسولی دی او ویلای شو چه له یوې خوائی دنړی دیو شمیر هیوادو سره دقرارداداو متقابله روابطو په اساس تجارتی ښه روابط ټینګ کړی اوله بلې خوائی دبین المللی تجارتی اواقتصادی ګټورو اساساتو په پیروی دد غه هیواد تجارت په یوه نظام درولی چه په راتلونکی وخت کښې دهرډول تحول ، پراختیا اوانکشاف زمینه برابره شوې ده چه لنډیزئې په لاندې ډول وړاندی کیږی :



ع، ج ښاغلی غلام محمد «شیرزاد» دتجارت وزیر

AcKU

## الف :ـ د تجارتی چارو دښه کولو لپاره مطالعات او اقدامات

په افغانستان کښی دمارکټنګ دچارو په شمول دصادراتی اموالو دکیفیت او کمیت په لحاظ دښه کولو اودنیمګړتیاو دلری کولو لپاره دتجارت وزارت په ۱۳۳۹ کال کښې دنړی داوسنیو سیستمونو سره سم دنویو اختصاصی ادارو دتشکیل او تاسیس په فکر کښې شو چه له دی لیارې نه د مملکت دتجارتی بازارو اودتجارت سیستم ښه کړای شی .

دغه تشکیل د«مارکټنګ» په نامه دصلاحیت لرونکو مقاماتو له خوا منظور شو او سږ کال دلاندنیو مسایلو په خوا او شاکښې کتنی او په یوه مطلوبه طریقه دهغو په مقدماتی اجراآتو پیل کیږی:

مثلا دغه تشکیل دسورتې اوستندرډ دڅانګې پهذریعه دهیواد پهټولو بازارو کښې دمملکت دصادراتی مالونو دسورتمند د اصلاح کولو پههکله لازمې کتنې کړی او ددغو او ضاعو اود بازارو دموجوده اشکالو اوانواعو اودهغوی دراتلونکې اصلاح دکتنو دبشپړ کولو لپارهئې د صلاحیت لرونکو او دمار کټنګ دمتخصصینو پهګډون څو هیئتونه عمده ولا یاتو ته لکه قندهار، هرات، مزارشریف، قطغن اوننګرهار تهواستول چهدپاسنیومطالبوسرهسمئې دولایاتو عمومی اوضاع وکتل اوپهدی هکله ئې خپل رپوټونه وزارت تهوړاندې کړل.

همدارنګه د مارکټنګ څانګو دمیوو دصادرولو لپاره چه دمملکت دصادراتو یو مهـم قلم دی لازم اقدامات کړیدی . اوسم دستی ئې د قندهار پهولایت کښې چهد میوو په لحاظیو عمده ولایت دی دمیوو دوچولو لپاره دیوې عصری اولوئی دستګاه دودانۍ دجوړولو پهلیار کښې اقدام کړیدی . همداراز ئې دنورو تجارتی موادوپه ترخ کښې د قالینو دپیکنګ او ستندرد په هکله چه هغههم دمملکت باارزښته مواد ګڼل کیږی د خارجی مارکیټونودخوښولو سرهسم اقدام کړی دی .

لهیوې خوائی په داخلی او خارجی بازارو کښی دافغانی مالالتجاره دنرخواو پلورلو په هکله مرتب رپوټونه تهیه کړی دی او په یوهواحد د مملکت داوزانو د ستند رد کولو د تاسیس او کله دمتریك په سیستم دهغه اندول کولو په هکله د اوزانو او پیمانو په ا حاظد تجارتی اوسنیو مشکلاتواونیمګړتیاو دلری کولو د اصلاحی اقداماتو په ترخ کښې اجراآت شوی دی .

همداراز د خپرونو څانګې د مارکټنګ د تعریف او وظیفو پـه هکـله او دممیزو د صادراتی اوضاعو د ښهکولوپه غرض ګټورې خپرونې کړی دی چه لومړی منظوریې دمار کټنګ په مختلفو موضوعاتو کښې زیاته پر اختیا ده .

همدغسی ئی دورځپاڼواوراډیو پهذریعه دموضوعاتو پههکلهزیات معلومات وخت پهوخت لو ستونکو او اوریدو ونکو ته وړاندی کړیدی همدارازدمار کټنګ څانګودمملکت دمیوواو نورودمعرفی او عرضه کولولپاره ددغو موادودپلور لوپه غر ض دقند هار په هوایی بین المللیډ ګر کښې دیوې لوې او عصری مغازې دتاسیس په فکر کـې شو اویوه اندازه اقدا مات یې هم په د ی هکله کړی دی.

دما ر کټنګ څانګو دتشکیل دوخت نهراپه دیخو ازیار ویستلې چهدټاکلیو پروګرامو نو سره سمدتجا رتی ستندرډ داصلاح او ترویج اود بازار داری چارو ته په عملی سیستمو نو پر اختیا ورکړی ،لکه چه دمملکت دتجارتی مهمو صادرا تی اقلامو لازمی سروی طرحه او دمملکت په دو همه تجا رتی پنځه کلن پلان کښې ځای شوی دی.

## ب: دتجارتی روا بطو پراخول اودترونولاسلیك کول

دتجارت وزارت په۱۳۳۹ کال کښی دتیروکلو نو په شان دمملکت داقتصادی اوتجارتی پراختیاو دهیلو سره سم دنړی داکثرو پر مختللو هیوادوسره یولړ نوی تجارتی تړ ونو نه وکړل او یا یی دمخکښینیو تړونو موده اوږده کړه چه لندیزئې لاندی وړاندی کو و:


د وزارت مقام
د تجارت وزارت تشکیلات
معین
د پلټنې لوی مدیریت
د اداري لوی مدیریت
د خصوصي قلم مدیریت
مشاوریت
د مارکټنګ لوی مدیریت
د محکمو او حکمیت مدیریت
ثابت شاخګه
ګرځنده شاخګه
د محاسبې مدیریت
د ارشیف مدیریت
د مامورینو مدیریت
د تدقیق مدیریت
د سوروت مدیریت
د ذخیرو مدیریت
د تمیز محکمه
د ابتدائیې محکمه
د احصائیې مدیریت
د اجرائیې شاخګه
د افلاس شاخګه
د ثبت شاخګه
ننګرهار
میمنه
مزارشریف
قطغن
غزني
قندهار
هرات
د مرکز شاخګه
تحویلخانه

لو مړی-د۱۹۶۰ کال داگست په دوهمه نیټه دافغانستان دشاهی دولت اوداولسی چین د جمهوری حکومت تر منځه هغه وخت چه داولسی چین دصدر اعظم معاون ښاغلی چین یی په کابل کښې ودودهمی دوری لپاره داموالو دتبا دلې او تادیاتو تړون لاسلیک شو اولومړی د وره ئې ددو و کالو لپاره د۱۹۵۷ کال دجولائې د۲۸ نه لاسلیک شوی وه . نوموړی موافقه لیکدیولړ متقا بلو خبرواترونه وروسته نوی شو.

دوهم-په ۱۳۳۹ کال کښې دافغانستان دشاهی دولت اودچکوسلواکیې دجمهوری حکومت ترمنځه داموالو او قیمتو نو دتبا دلی داومې دورې پروتوکول چه هر کال په خپل خپل وار په کابل او پراگ کښې لاسلیک کیږی د۱۳۳۹ کال دمیزان په ۱۲ په کابل کښې لاسلیک شو. دغه پروتوکول افغانستان ته دچکو سلواکیې له خوا دراليږل شوی هیئت اود افغانی صلاحیت لرونکی هیئت ترمنځه دیو لړ خبرواترو اوموافقی نه وروسته لاسلیک شوی دی .

دریم-د۱۹۶۰ کال دستمبر په ۲۲ دافغانستان دشاهی دولت اودشوروی سوسیالستی جمهوری حکومت ترمنځه داموالواوقیمتونودتبادلې دلسمې دورې پروتوکول چه هغه هم په متناوب ډول په کابل او مسکو کښې لاسلیک کیږی په مسکو کښې دلاز موخبرواترونه وروسته لاسلیک شو چه ور پسی ئې خپل قانو نی مراحل تیر کړل.

څلورم-د۱۹۵۹ کال دجولائی په ۱۷ نیټه دافغانستان اوهند دحکومتونو ترمنځه د یوه کال لپاره موافقه لیک لاسلیک شوی واوله دی کبله چه دواړو خواویوتر بله د هغه د فسخ کو لو خبرورنکړ دنوموړی موافقه لیک د(۵) حکم په اساس تړون تر یوه کاله پو ری خپله اوږدشواو دد تجارتی چارودجریان د تنظیم لپاره ئې دهند تجارتی هیئت کابل ته راغی اودافغانی هیئت سره ئې مفاهمه او خبری تری وکړې اوپه نتیجه کښې په متقابل ډول ددواړو مملکتو دتجار تی چارود جریان دتنظیم لپاره دافغانستان نه یوافغانی هیئت هند ته واستول شو چه دهندی صلاحیت لرونکو هیئتو سره مفاهمې اوخبری اتری وکړی اودخپلو خبرو او مفاهمو نتیجې ئې په دغو زمینو کښې دتجارت دوزارت مربو طو څانگو ته وسپارلې.

پنځم-د۱۳۳۹ کال دسنبلې په ۲۸ نیټه دافغانستان اوپولند تر منځه یو تجا ر تی مو ا فقه لیك چه داعتبار موده ئې د۱۹۶۰ کال داگست دلومړۍ نیټې پورې تماکل شوې او له هغې نه وروسته پای ته رسیدله په کابل کښی دپو لند دراستول شوی هیئت او دافغانی صلاحیت لرونکی هیئت تر منځه لاسلیك شو .

دغه مو افقه لیك داموالو دتبادلې پرتجارتی، دتاد یاتو ،د اقتصادی، علمی او تخنیکی همکاری پرمو افقه نامو ،دعلمی، تخنیکی موافقه نامی دپروتو کول اوداموالود تبادلې د موافقه نامی دپروتوکول سره پردغو ټولو موافقه لیکو نوشامل دی.

شپږم - دگاونډیو هیوادوسره دتجارتی روابطو دتحکیم اوپراختیا په منظور د۱۳۳۹ کال د قوس په ۱۹ نیټه هغه وخت چه دایران پخوانی صدر اعظم شریف امامی کابل ته راغلی و دنو موړی هیواد دلوی سفارت په غوښتنه اودکابل په دربار کښې دایران دشاهنشاهی حکومت دپخوانیو پیشنهادو دموجودیت او د افغانستان دشاهی حکومت دمتقابله حسن نظر سره سم د افغانستان او ایران تر منځه لومړی تجارتی موافقه لیك په کابل کښې لاسلیك شو چه اوس دغه موافقه

لیك خپل قانونی مراحل تیروی او هیله ده چه ددغي موافقي پهلاسلیك کیدوسره به دافغانستان او ایران ترمنځه تجارتی روابط په مطلوب ډول شروع شی .

اوم ــ د ۱۳۳۹ کال دقوس په۱۹ نیټه دایټالیادجمهوری حکومت په پیشنهاد دافغانستان او ایټالیا دحکومتو دتجارتی هیئتو د یو لړ خبرواترو نه وروسته دافغانستان او ایټالیا ترمنځه دتجارتی، تادیاتو او داقتصادی اوتخنیکی همکاری لومړی موافقه لیك پهکابل کښی لاسلیك شو چه دهغه په اساس دافغانستان او ایټالیا ترمنځه تجارتی روابطاو اقتصادی اوتخنیکی همکاری ټینگي شوی او ددواړو هیوادو ترمنځهئی دوستانه گټور روابط سره کلك کړی دی .

اتم - په ۱۳۳۹ کال کښي دلومړی ځل لپاره دافغانستان اوچکوسلواکیا تر منځه دعلمی اوتخنیکی همکاری تړون تجارت د وزیرښاغلی غلام محمد شیرزادله خوا هغه وخت لاسلیك شو چه پراگ تهتللی و .

نهم ــ دافغانستان او نورو نړۍ د هیوادو ترمنځه د تجارتی او اقتصادی روابطو د پراختیا په لړ کښي سږکال دلومړی ځل لپاره دافغانستان اوبلغاریي ترمنځه د تجارت او تادیاتو موافقه لیك پهکابل کښی دجوزا په ۱۳ دهغه هیئت چه دبلغاریي نه افغانستان ته را استول شویواودافغانی تجارتی هیئت ترمنځه لاسلیك شو چه دغه موافقهلیك اوس خپل قانونی مراحل تیروی او هیله ده چه ددغه موافقه لیك په اثربه دنړۍ دنورو هیوادو سره تجارتی روابطو دافغانستان یوه بله تجارتی رابطه زیاته شی .

سر بیره پرپاسنیو اجرا آتو اواقداماتوچه دتجارت د وزارتله خوادنړۍ دنورو هیوادو سره دتجارتی روابطو دټینگولو په ساحهکښي شوی ددغهوزارت دقراردادو او دخارجه ارتباط دڅانگي په ذریعه په لاندنی ډول اقدامات او تشبثات شویدی :

دممیزو دسورټ او پیکنگ داصلاح کولو لپاره چه دمملکت دصادراتو یو عمده قلم دی دقراردادونو د څانگي له لیاري اقدام شوی دی او دممیزو دپاکولو او د هغو دسورټ او پیکنگ دیوې عصری مجهزې دستگاهدتورید په هکلهئي د المانی، امریکائی او ایټالي کمپنیونه دپلورلو «افرونه» لاسته راوړې دی او په نظر کښي ده چه دکانواوصنایعو د وزارت په مشوره اوهمکاری به ډیر ژر دکابل دمیوې دصادراتیشرکتلپاره یوه مکمله اومجهزه دستگاه پیرودل شوی او په کار ولویبزی .

دافغانی تاجرانو اوخارجی کمپنیو ترمنځه دروابطو دټینگولو په لیاره کښي هم اقدامات شوی دی چه افغانی تاجران دغو کمپنیو او دغه کمپنی دغو تاجرانو ته و روپیبزنی .

همدارنگه دتجارت دوزارت دخارجیارتباط دڅانگي لهلیاري ټو لوخارجی اوبینالمللی مراجعاتو په خارج او داخل کښي ددوایرو،موسسو اونورو سره تماس نیولی دی. د آسیا او لری ختیز د کنفرانسویانې د همدغې څانگي له لیار ي مربوطو وزارت خانو ته استول شوې دی او د ۳۹ کالپه ترڅ کښي ځوځلی افغانی نمایندگان اوهیئتو نهآسیائی،افریقائی او دهغو ممالکوکنفرانسوته دگډون لپاره استول شوی دی چه د افغانستان سره تجارتی او اقتصادی مراو دې لری .



دتجارت وزیرښاغلی غلام محمد شیرزاد او په کابل کښې دایران لوی سفیر ښاغلی رشیدی حایری هغه وخت چه دداړو هیوادو ترمنځ تجارتی تړون لاسلیک کوی



دتجارت دوزارت معین ښاغلی محمدسرور «عمر» دبلغاریې دتجارت دوزارت له معین ښاغلی ویرکف سره ددواړو مملکتو ترمنځ دتجارت او داموالو دمبادلې تړون لاسلیک کوی



دپولینددپوزنان په بین‌المللی نندارتون کښی دافغانی غرفی یوه څنډه .

ج ـ په هیواد کښې د وارداتو او صادراتو موضوع

دتجارت دوزارت دمهمو او اساسی وظیفو څخه یوه دهیواد دوارداتو اوصادراتو د تنظیم اودموازنی‌مسئله ده چه ددغه وزارت دپا اهمیته چارو څخه گڼل‌کیږی.له همدې امله زیار ویستل‌شوی دی چه حتی‌الامکان داسې عوامل راغونډکړی چه دتجارتی قرارداد ونو دتړون، دتجارتی روابطو دپراختیا اونورو په توسعه کښې اغیزه ولری چه دهغو په مرسته دمملکت دصادراتی مال‌التجاره صادرول مخ په زیاتیدو شی .

اوس به په دې هکله د ۱۳۳۹ کال د اقداماتو لنډیز وړاندې کړو :

الف ـ بارتړی‌هیوادوته‌دوړیوصادرول

په ۱۳۳۹ کال کښې دتجارت وزارت دوارداتو اوصادراتو په ذریعه موسسو او انفرادی تاجرانو ته اجازه ورکړه چه ۶۶۰۰ ټنه وړی‌شوروی اتحاداوچکوسلواکیی ته‌صادرې کړی اوهمدارنگه ددې لپاره‌چه دقوی اسعارو په حوزه کښې دهیواد یوه اندازه وړی صادرې شی دغه صادرونکی مکلف شول چه دصادراتو دمقدار په نظر کښې نیو لو سرړ۵ دخپلی بار تړې په حوزه کښې په سلو کښې ۲۵ـ۳۰ دغو حوزوته‌هم واستوی‌چه دهغو د پلورلو داورواسعارونه‌هیوادته‌گټه ورسیږی.

ب ـ دبار تړی‌هیوادوته‌دپنبی صادرول

په ۱۳۳۹ کال کښې‌صادراتی موسسو ته اجا زه ور کړ ای شوه چه ۷۶۲۰ ټنه پنبه دشوروی اتحاد، چکوسلواکیی اودپولنډ هیوادوته صادر کړی ا وهمدارنگه د غه مو سسې مکلفی شوی چه دوړیو دصادراتو پشان په سلو کښې شل ئی په لوړو اسعاروصادری کړی .

ج ـ دبار تړی په حو زه کښې دپوټکو صادرات

همدغه ډول تاجرانو اومر بوطو موسسو ته اجازه ورکړه شوه‌چه دمیږواوزو ۶۸۰۰۰۰ دوریو ۲۵۵۰۰۰ پوټکی شوروی اتحاداودوریو ۸۰۰۰۰پوټکی چکوسلواکیې‌ته‌صادرکړی .

د ـ دنورومواد و صادرات‌دبارتړی په حوزه کښې

همدارنگه په تیر کال‌کښې تاجرانو اوموسسو ته اجازه‌ورکړه شوه‌چه۱۹۰۰ټنه کونځلی ۲۸۰۰ ټنه زغری، ۷۷۰۰ ټنه‌ممیز ، ۶۰۰ټنه بادام او ۱۰۰۰ټنه پسته‌اوغوزان‌شوروی‌اتحادته او ۳۰۰ ټنه زغرې، ۱۵۰ ټنه ممیز ، ۵۰۰ټنه پنبه دانه او۸۰۰۰۰کړه کولمی‌چکوسلواکیې ته او ۹۰۰ټنه زغرې‌پولنډ ته‌او دپوټکو د۹۰۰۰۰ جلدو سره انډول ۲۶۵ ټنه دغوایانو خام پوټکی ایران ته واستوی.

همدارنگه په ۳۹ کال کښې دهغی تجارتی موافقی په اساس چه دافغانستان اوهند تر منځه د۱۹۶۰ داکتوبر په ۳ لاس‌لیک شوې وه د۵۰ر۳کروړو کلدارو په انډول‌افغانی‌مال‌التجاره هند ته صادر شوید ي .

اوسربیره‌پردې له‌دې کبله چه یوه اندازه میوه اونور افغانی پیداوار په‌داخل‌کښې موجودوو

ACKU

هند ته دافغانی لیبزل شوی هیئت له خوا په هندکښې دمربوطو مقاماتو سره‌دهغو دصا درولو په‌هکله‌خبری اترې وشوې اوپه نتیجه کښې ئې دیو کروړ او پنځه ویشتو لکو افغانیو په اندول هند ته دافغانی مال‌التجاره لکه میوه ، داوزی اومیبزو پو ټکی او نو رو صادرولو موافقه لاس ته راوړه .

اوهمدارنګه دغه هیئت وکولای شول چه په تیر کال کښې یوه داسی موافقه‌لاسته‌راوړی چه په هند کښې دافغانی ثبت شو وتاجر انو نه سربیره لس نور افغانی تاجران‌او موسسی‌په هند کښې ثبت کړی .

دوهم—واردات

الف: دصادراتی‌مال‌التجاره په مقابل کښې دبارټری له حوزی واردات د ۱۳۳۹ کال په جریان کښې دتجارت وزارت داموالو دتبادلې دموافقی سره‌سم‌نژدی، ۱۰۰۰ ټنه آهن‌څادر ٦۰۰ ټنه ګول میخونه ، ګول‌اونعلی دارفولاد،د٦۷۰۰۰۰ډالر و په اندول دو دانیو هنداری د۱۸٦۰۰۰۰ ډالرو په اندول عرادې او ډول ډول موټر او۱۱۷۱٦۰۰۰ متره نخې ټکر ان له شوروی اتحاد نه او۱۹۷۰۰۰ پونده عرادی اودهغو پرزې له‌چکوسلواکیې‌نه وار د کړی دی چه‌دغه ټول دانفرادی تاجرانو ،دولتی دوایرو اوموسسو دبارټری په حوزه کښې دصادراتی مالونو په مقابل کښې تورید کړی دی. سربیره پردی یوه‌اندازه نور مالونه‌هم ا نفرا دی تاجرانو دصادراتی مالوپه مقابل کښې ددغو حوزو له لیاری مملکت ته واردکړی دی .

ب—دوارداتواوصادراتو په هکله د کنترول اقدامات

یوبل اقدام چه دتجارت دوزارت له خوا شوی دی اودهغه دسرته رسولو په هکله‌تریوی اندازی بریالی شوی هم دی هغه‌دوارداتو اوصادراتو دنظم اونسق لپاره دکتابو نودتنظیم او اوترتیب موضوع ده چه ددغه منظور له پاره سبز کال لازم ترتیبونه نیول شوی دی او هیله ده چه په راتلونکو کلونو کښې به دوارداتو اوصادراتو داجازی اوتوزیع په هکله لااساسی اقدامات وشی.

ج— خارجی کمپنیو اوتاجرانو ته په افغانستان کښې داسانتیاوبرابرول

لومړی-دوزارت‌دجوازلیکو نوڅانګودهغوخارجی‌تاجرانو، کمپنیواوموسسوداسانتیاوپه‌منظور چه‌غواړی‌په افغانستان کښی‌تجارت وکړی‌اودافغانستان دتجارت‌جوازلیکولری‌دنویومقرراتو په‌ټاکلولاس پوری‌کړی اودغه‌مقررات ئی‌په‌داخل اوخارج کښی دمطبوعاتی و سایلو په‌ذریعه علاقه‌لرونکوته خپاره‌کړیدی چه‌دهغودتطبیقولو نه دډادوړنتیجی‌لاسته‌راغلی‌د ی .

دوهم - همدارنګه‌سبزکال‌دخارجی نمایندګیو، موسسواودتاجرانودراجسترا وثبتولو لپاره بشپړترتیبات نیولی‌دی‌چه‌دهغوپه وسیله‌سربیره‌پردی چه‌نوموړوتاجرانو دجوازلیکونو اخستلو داقامت‌اوخروج ویزی‌اونور راغونډوی په‌افغانستان‌کښی دیوه‌خارجی تاجرپه هکله هویت او لازمی کتنی‌په‌مطلوب‌ډول‌هم‌ثبتوی .

دریم ـ همدارنگه‌په افغانستان کښې‌دسرمایوداچولو دقانون سره‌سم د تجارت د وزارت دمربوطوځانگو له‌خوادفزانسي دتعمیراتو د و دانو اویـوه اوی شرکت تـه چه دومېز نومیبزی‌په‌افغانستان کښې‌دسرمایې‌داچولو موافقه‌ورکړای‌شوه چه‌دغه‌شرکت‌دافغانستان درهغې او تعمیراتې‌بانك‌اودنورو تعمیراتي‌شرکتو په گډون دودانیواوساختمانو په‌برخه‌کښې افغانستان ته‌کار کوی،

څلورم ـ همدارنگه‌دپخوانیو موافقوسره سم بوشمیر خارجي تاجرانو، تجارتي کمپنیو نمایندگیواو موسسو ته په‌افغانستان کښې‌دتجارت جوازلیك‌ورکړشو .

## دداخلي تجارت‌په‌ساحو کښې‌دنویوسرمایوپه کاراچول

دتجارت‌وزارت‌سبزکال دخپلې‌دموسسواوشرکتو څانگې‌په‌وسیله یوه‌اندازه نوی‌سر مایه‌چه په‌راکډول‌داشخاصوسره‌موجوده وه‌ددغوافرادو په‌ذریعه‌دتجارت‌په‌فعالوساحو اوپولې دوران کښې‌دمملکت په‌داخل‌کښې‌په کارواچوله .

دغه‌سرمائی دبریښنادتنویر اوتدویر،ودانی، ترانسپورت اودامو‌ال التجاره دصادراتو او وارداتو‌په‌لار‌کښې پەلاندې‌ډول په‌کاراچول‌شوې‌دی: .

۱ـ دبریښنادتنویر اوتدویر ساحه:

په‌مزارشریف کښې دمزارشریف دبریښنادشرکت په‌نامه د(۱۰،۰۰۰،۰۰۰) افغانیو په سرمایه‌اویوبل شرکت دسنائې بریښنا په نامه‌په‌غزنی کښې د(۱،۵۰۰،۰۰۰) افغانیو په‌سرمایه جوړشوی دی .

۲ـ دودانیو‌په‌ساحه کښې :

په‌کابل‌کښې‌یوشرکت دباختر تعمیراتي شرکت‌په‌نامه‌د(۳،۰۰۰،۰۰۰) ا فغانیو‌په‌سرمایه اویو‌بل‌شرکت‌د نویوودانیو‌په‌نامه‌د(۳،۰۰۰،۰۰۰)افغانیو‌په‌سرمایه‌په کابل‌کښې‌په کارپیل‌وکړ .

۳ـ څلور نور نوی شرکتونه‌دهاشمی‌لمټدپه نامه‌په(۲۰۰۰،۰۰۰)افغانی‌سرمایه‌په‌مزارشریف کښې،خلیل اوورونه لمټدپه(۲،۰۰۰ ،۰۰۰) افغاني سرمایه په کابـل ا و حید ر لمټد په (۲،۰۰۰،۰۰۰) افغاني‌سرمایه په‌کابل‌اوسعادت لمټدپه( ۱،۲۰۰،۰۰۰) افغاني سرمایه په کابل‌کښې‌جوړ او‌په‌کارئې‌پیل کړیدی .

٤ـدترانسپورت‌په‌ساحه‌کښې‌یو شرکت‌دملگرو ترانسپورت‌په‌نامه‌د (۱،٤۵۰،۰۰۰ )افغانیو په‌سرمایه‌په‌کابل‌کښې تاسیس‌او‌په‌کار اویدلی‌دی.

## ددو لتي تصدیاتو اوبانکو‌په‌هکله‌دچارو دښه کولولپاره اقدامات

یو‌بل‌اقدام چه‌دتجارت‌دوزارت‌دتصدیاتو دڅانگې‌له‌خوا‌ور‌کښې زیار ویستل شوی‌دی هغه ددولتي‌تصدیاتو اوبانکونودچارودښه کولو،هغوته‌دلازمو مشوروورکولواودهغو روانو پیښو ته درسیدگۍ لپاره‌دگډوکوښښو اوهمکاریو‌نه‌علاوه په‌دې‌باره کښې‌لاندني‌تشبثات شوی‌دی .

لومړی‌ـدتجارتي‌چارو اوبانکداری دتحول‌دایجاب سره سم ددولتي تصدیاتو ا و با نکو اساسنامې په‌عمو مي‌ډول ترغور‌لاندې‌نیول‌شوې‌اوهمدارنگه‌ددغومو سسودمدیره‌هیئتونودرپوټونو

په هکله غوراوتدقیق شوی او دلزوم په صورت کښې دوزارت اصلاحی ټکی دغو مو سسو ته رسول شوی اودهغو دعملی کولو مراقبت شوی دی .

دوهم ــ ددولتی تصدیاتو اوبانکونو فعالیتونه ترمراقبت لاندی نیول شوی او دهغو دمشکلاتو دلری کولو له پاره داساسنتیاوو په راغونډولو کښې لازمی همکاری شوی دی .

دریم ــ همدارنګه په ۱۳۳۹ کال کښې دبانکونو لپاره دوظایفو دلایحــی طرحــه او ترتیب دوزارت دتصدیاتو دڅانګی لخوا په نظر کښې نیول شوی دی چه دهغی پراساس دبانکو وظیفی تثبیتیږی چه دهغوی دیو تر بله فعالیت په ساحه کښې دا حتمالی غیرقانونی تشبثاتومخه نیوله کیږی .

## بین المللی نندارتونونه

دتجارت وزارت په ۱۳۳۹ اوکال او د ۱۳٤۰ کال په سر کښې دنندارتونو دخپلې څانګې دلاری دهیواد دپیداوار دمال التجاره دمعرفی په منظور په مدنی ، اجتماعی ، تجارتی، صناعتی، زراعتی او نور مختلفو ساحو کښې دهیواددوروستیو پرمختګونو دتمثیلولو اودافغانی مال التجاره دعرضه کولو لپاره دنړیو بازارو پیداکولو په غرض دافغانستان په بین المللی نندارتونو کښې دنړۍ د انکشافی علمی، او تخنیکی پر مختګونو د نمایش او عرضه کولو په لاره کښې لاندی اقدامات کړی دی.

## الف — په بین المللی ننداردتونو کښې ګډون

۱ ــ افغانستان د قاهری په زراعتی بین المللی نندارتون کښې چه د فروری د پنځلسم نه شروع او د ۱۹٦۱ کال د مارچ تر آخره پوری ئی دوام در لود ګډون وکړ . په دغه ننداړ تون کښې د افغانستان له خوا آلات، یو شمیر ترکی او قره قلی پسونه، او د افغانی فابریکو او بدل شوی نخی، سندی و ریښمین ټکران ، د قره قلی پوټکو ډولونــه ، دهیو ا د پیداوار تیږی، د قالینو او قالینچو صنایع ، دوچو میوو قسمونه ، دهیوا د دوریو ، پنبی وریښمو نمونی چه په خارجی بازارو کښې ښه پیریدونکی لری و ښود ل شول ،

۲ــ همدارنګه افغانستان د پولنډ د پو زنان په بین المللی ننداړتون کښې چه دستمبر په لسمه شروع اود ۱۹٦۱ کال دستمبر د ۲٤ نیټی پوری ئی دوام در لود ګډون و کړ اوپه دغه ننداړتون کښې ئی هم دمملکت د پیداوار واقسام، اومه مواد ، د ماشینی اولاسی صنایعو نمونی او نور و ښودل چه د ننداړچیانو له خوا ئی تود هر کلی وشو.

## ب ــ په افغانستان کښې د ۱۳٤۰ کال بین المللی ننداړتون اودځینی هیوادو

## دایمی ننداړتون دپرانستلو لپاره لازم تدبیرونه

۱ ــ د ۱۳٤۰ کال دبین المللی ننداړتون دپرانستلو دپاره چه دافغانستان دخپلواکی د ٤۳ کالیزی په موقع کښې په کابل کښې پرانستل کیږی او همدا رنګه دتیر کال د ننداړتون لپاره د و زارت لخوا لازم تد بیر ونه نیو ل شوی اوڅه مقررات هم وضعه شوی دی چه دهغو په اساس لازمی اسانتیاوی راغونډی شوی او همدارنګه په خارجی ژبو بیلی بیلی خپرونی چاپ شوی چه په هغو کښې د ګمرکی، ترانسپورت، ترانزیتی، اسعاری ، مقررات اوډګډون کوونکو دآرامی وسایل، دپلورلو او ننداری وختونه او نور ټـول یادونی وړ ټکی

ځرګندی شوې اوترمخه هغو میوادو ته استول شوی چه په دغه بین المللی نندارتو نکښی د ګډون کولو سره علاقه لری.

همدارنګه د نرخ اکثرو هیوادو ته پهدغه نندارتون کښی د ګډون کولو بلنه ور کړه شوی ده چه اکثروئی منلی ا و ګډون کولو ته چمتو شوی دی .

دوهم ـ دهغو هیوادو سره چه په افغانستان کښی ئی د دایمی نندارتونوپرانستلغوښتل لازم مساعد تو نه او مرستی شوې دې چه په نتیجه کښی ئې شوروی اتحاد، ایتا لیا، پرلند هند اوچکوسلواکیا په افغانستان کښی خپلی دایمی غرفی پرانستلې او پههغو کښې دخپلو هیوادو صنایع او پیداوار د دواړو کلونو دجشن په موقع کښې ښئې.

## قوانین او اصولنامې

د احصایې دعمومی مدیریت دتدقیق او کتنو مدیریت چه دخپرونو، تدقیق او کتابځانو په څانګو مشتمل دی د تجارتی قوانینو او اصولنامو او نورو په لړ کښې د د غو لاند نیو قوانینو په تدوین او نافذ کولو بریالی شوی دی :

لومړی ـ دتجارتی قوانینو او محاکماتو په تدوینولو ا و دقانونی مرا تبو د تیر و لو لپاره صلاحیت لرونکو مقاماتو ته د هغو وړاندې کول .

دوهم ـ د تجارتی نښو د ثبتولو د اصولنامې تدوین چه دقانونی مرحلو دتیرولو نه ئې و ر و سته اوس حکم نافذ دی .

# شرکتهای تجارتی و موسسات ملی و انفرادی کشور

| اسم | اندازه سرمایه به افغانی | موضوع و آدرس | اسمای هیأت مدیره | رئیس و معاون |
|---|---|---|---|---|
| پښتنویووالی | ۱۱۳۱۵۰۰۰ | سهامی ، مزارشریف | حاجی‌سورگل<br>ضیاءبای، حاجی<br>امین‌الله، نظرگل<br>فضل‌جان، جان‌زندی | حاجی زندی<br>فضل‌جان |
| اتحادیه‌میمنه‌واندخوي | ۳۲۶۲۵۰۰۰ | سهامی، جاده‌شاهی | قلی‌بای، جمعه<br>محمدنبی، ملاچاری | قلیج‌بای<br>محمدقاسم |
| صادرات‌قره‌قل | ۱۶۷۱۵۳۰۰ | سهامی، میرویس‌میدان | میرمحمد<br>محمدامین<br>سراج‌الدین | حاجی‌عبدالرحمن |
| رشتیابلخ | ۲۳۱۱۶۰۰۰ | سهامی، مزار شریف | سلطان‌محمد<br>نظرگل | الماس خان<br>نظرخان |
| ستوری | ۷۰۰۰۰۰۰ | سهامی، سرای‌برادران | غلام‌حسن<br>محمد ابراهیم<br>محمد جان | غلام نبی |
| سهیل | ۲ ۰۰۰۰۰ | سهامی، بازارمرادخانی | خیرالدین<br>محمدرسول<br>سلطان‌محمد | حسین گل |
| شرکت‌پروان | ۱۰۰۰۰۰۰ | سهامی، جاده میوند | حبیب‌الله‌طرزی<br>محمدنعیم<br>پیرمحمد | پیرمحمد |
| شرکت‌شجاع | ۱۰۰۰۰۰۰ | سهامی، جاده‌اندرابی | ...... | غلام‌محمد |
| خرم‌فضای‌سنگ‌چارك | ۲۱۳۸۰۰۰ | سهامی، مزارشریف | ...... | ........ |
| واردات‌رخت‌مزارشریف | ۱۵۰۰۰۰۰۰ | سهامی، اندرابی‌مارکیت | عبدالقیوم<br>سلطان‌محمد<br>جمال‌الدین | عبدالقیوم<br>محمد نبی |
| اتحادیه مزارشریف | ۵۰۰۰۰۰۰ | سهامی، مزارشریف | ..... | ..... |
| اتحادیه بلخ | ۲۳۱۱۶۰۰۰ | سهامی، نمایندگی‌متصل‌شفاخانه‌مستورات | | .... |
| اتحادیه پنبه | ۲۰۰۰۰۰۰ | سهامی، جاده‌نادرپښتون | .... | .... |
| شرکت کلمو | ۳۰۰۰۰۰ | سهامی، جاده نادر پښتون | .... | .... |
| شرکت‌صادرات‌پشم | ۶۰۰۰۰۰۰ | سهامی، اند رابی | .... | .... |

ACKU

| اسم | اندازه سرمایه به افغانی | موضوع و آدرس | رئیس و معاون |
|---|---|---|---|
| تجارتی کوپراتیف | ۲۰۰۰۰۰۰ | کوپراتیفی، نخاس | ..... |
| شرکت زیمنس | ۵۰۰۰۰۰ مارك | سهامی، جاده میوند | ..... |
| آریانا افغان هوائی شرکت | ۴۰۰۰۰۰۰ دالر | سهامی، جاده میوند | فیض محمد احمدزی (رئیس) |
| شرکت صادرات قالین | ۱۵۰۰۰۰۰۰ افغانی | سهامی، جاده نادرپشتون | سیدنعیم ، خروش |
| شرکت میوه کابل | ۷۵۰۰۰۰۰ | سهامی، پشتون مارکیت | سلطان محمد |
| شرکت میوه قندهار | ۷۵۰۰۰۰۰ | سهامی، پشتون مارکیت | ..... |
| شرکت کنجدوزغر | ۲۰۰۰۰۰۰ | سهامی، جاده نادرپشتون | وزیرگل |
| حبوبات مزارشریف | ۲۵۰۰۰۰۰ | سهامی، مزارشریف نمایندگی چوك جاده میوند | ..... |
| شرکت رخت احمدشاهی | ۵۰۰۰۰۰۰ | سهامی، سپاهی گمنام | ..... |
| صادرات پت | ۵۰۰۰۰۰۰ | سهامی، پشتنی تجارتی بانك | جنت خان غروال |
| سهامی ودان | ۳۰۶۰۰۰۰ | سهامی، اپارتمان ۱۴ جاده نادرپشتون | محمدگل |
| د اعرابو سهامی شرکت | ۳۵۰۰۰۰۰ | سهامی، میمنه | محمدایوب |
| ملگرو لمتد | ۱۲۰۰۰۰۰ | لمتد سرای قالین | نوراحمدزکریا |
| بادغیس هرات | ۴۰۰۰۰۰۰ | سهامی | ...... |
| سهامی مشرقی | ۲۰۰۰۰۰۰ | « ننگرهار | ...... |
| « ودانی | ۲۰۰۰۰۰۰ | « جادهٔ اندرابی | حاجی محمدابراهیم |
| حبوبات قطغن | ۲۰۰۰۰۰۰ | « قطغن | ...... |
| حاجی صلاح الدین لمتد | ۲۰۰۰۰۰۰ | « سرای شهزاده | حاجی صلاح الدین |
| حکیم او عمر لمتد | ۲۰۰۰۰۰ | لمتد « | محمدحکیم، محمدعمر |
| شرکت تعمیراتی | ۲۰۰۰۰۰۰ | سهامی، جادهٔ شاهی | ...... |
| « ناشر لمتد | ۱۰۰۰۰۰۰ | لمتد، قندوز | غلام سرور ناشر |
| «عمران جدید | ۳۰۰۰۰۰۰ | سهامی، ده بوری | ..... |
| « نوری لمتد | ۱۰۰۰۰۰۰ | لمتد، سرای شهزاده | حاجی نوراحمد |
| « حبیب لمتد | ۲۰۰۰۰۰۰ | « جاده میوند | ..... |
| « عبدالقیوم « | ۲۰۰۰۰۰۰ | « سرای شهزاده | (محمداسحق سدوزایی |
| « سلیمی لمتد | ۱۰۰۰۰۰۰ | « « ۱۲۶ | عبدالرحیم) |
| « سینا لمتد | ۱۰۰۰۰۰۰ | « | ..... |
| « صداقت | ۲۰۰۰۰۰۰ | سهامی، جاده میوند | ..... |
| «فضل برادران | ۳۲۹۴۰۰۰ | لمتد | ..... |
| هاشمی لمتد | ۲۰۰۰۰۰۰ | « مزارشریف | خیر محمد |
| قطغن او بدخشان اتحادیه | ۱۷۰۰۰۰۰ | سهامی، قطغن | ..... |

ACKU

# دمطبوعاتو دمستقل ریاست چاری

د مطبوعاتو مستقل ریاست په لو مړی پنځه کلن پلان کښی برخه نه در لوده نو په تیر شوی کال کښی له یوه طرفه د نشر ا تی سویی په انکشاف ، دهنري او ثقافتی سطحی په لوړولو او د خا رجی منابعو څخه د اطلاعاتو د تهیه او برابرولو په زمینه کښی چه د خلکو افکار پري روښانه کیږی او له بله طرفه خارجی نړی ته د مملکت دمعرفی کولو په لاره کښی یی سعی کړیده. سر بیره پر دغو دوو هدفو نو چه دمطبوعاتو دفعالیتو نو هسته ګڼل کیږی د مطبو عاتو د راتلو نکی انکشاف او پرمختګ لپاره یی دښو لیارو دپیدا کو لو په باره کښی په ګټورو اقداماتو لاس پوری کړیدی. دنشراتی مؤسسو او مطبوعاتی ارګانو سره دمطبوعاتو دمستقل ریاست تماس کول او ددغه مرام دسر ته رسولو لپاره دوا ړو ګډه کوښښو نه، دنشراتو دساحی دپراختیا و لپاره دمرکز اودولایاتو دنشراتی مؤسسو سره همکاری اودکریدتونو ورکول ، د جرایدو اوورځپاڼو د معنوي سویی لوړوالی دښبرغان دمطبوعاتو منځ ته راوړل، دمطابعو پیاوړی کول اودطباعت دعصری وسائلو په کار اچول له مثبتو ګامو څخه دی چه دنشراتو د ترقی اود صحافت دښه والی لپاره ګټور واقع شوی دی .



د کتور «سهیل» دمطبوعاتو مستقل رئیس

د خلکو د ملی ارزو ګانو په لاره کښی خد مت کول ، د تو لنی اصلاح ا و ښه و ا لی د بین المللی قضایاؤ او د جهانی چارو په برا بر کښی د افغا نستان د موقف معرفی کول دننني ژوند اوننني نړی سره دخپلو خلکو آشنا کول ، نړی ته د خپل ملك معرفی کول ،او دنړی له پیښو اوعلمی پرمختګو څخه خبرول دمطبوعاتوله کارو څخه دی ، دمعاصرو لیکوا لو او فاضلانو د آثارو په خپرو لو اود تیر شویو د آثارو دژو ندی کولو په هکله ئی توجه کړیده ، یوشمیر آثار د پوهانو له خوا د انتقاد او کتنی لاندی و نیول شول ا و له اصلاح او تصحیح څخه وروسته د دغو آثارو په طبع کولو کښی اقدام و شو .

په دغه ترتیب سره په تیر شوی کال کښی مربوطی شعبی موقع و موندله چه یوشمیر تألیفونه او ترجمی په پښتو اوفارسی ژبو طبع او خپاره کړی او د غه کار له یوی خو ا د مطالعی خاوندانو ته اوله بلی خو ا د علمی ا و ادبی ذ خیری د ډیرښت لپا ر ه خد مت کړیدی ، بل د ښه موفقیت لپاره تعدیلاتی نظر منځ ته راغلی چه د مطبوعاتی جوائز و په کمیت او کیفیت کښی به یومؤثر نقش پر یبزدی .

دلارښوونی مدیریت ددینی تبلیغاتو تعمیمول ، داسلامی تمدن او ښکلو نو سره دخلکو اشنا کول ، دحق اودباطل دتمییز په غرض دعامه افکارو په کار اچول، دپیام حق په مجله کښی یو لړ دینی . اجتما عی او علمی مطالبو خپرول . دموعظو ترتیبول په غاړه لری او په لاز مو او مناسبو مواقعو کښی یی ورته اقدام کړیدی اوکوی یی .

ACKU


د ریاست مقام
مرستیال
مشاور
مدیریت
دمطبوعاتو دمستقل ریاست تشکیلات
د اداری ریاست
د ثقافتی ارتباط لوی مدیریت
د کورنیو خپرونو لوی مدیریت
د ترجمانی مدیریت
د بهرنیو خپرونو لوی مدیریت
د ارتباط مدیریت
د کتابخانی مدیریت
د فلم اخیستلو مدیریت
د عکاسی مدیریت
د توحید مدیریت
د مامورینو مدیریت
د محاسبی لوی مدیریت
د کنترول مدیریت



دمطبوعاتو مستقل رئیس دکتور جیل دملی بانک په سالون کښې دګرځندوی دسیمینا ردپرانستلو په نسبت وینا کوی. په دغه سیمینار کښې دافغانستان هند، اندونیزیا، نیپال او پاکستان نمایندګانو ګډون کړی وو.

دباندنیو نړیو ته دمملکت دمعرفي کولو، دفلمونو په ښوونو سره دخلکو دذهنیتو دتنویرولو او روښانه کولو وظیفه اداکوي او خارج ته دافغانستان دزعماؤ دسفرونو د خاطرې، همدارنګه افغانستان ته د خارجي خلکو د راتګ نوی خاطرې ښودلی دي او ښئي ئې. دمطبوعاتو دمستقل ریاست دفلمبردارۍ دستګاه د مستندو او اخباري فلمونو په تهیه کولو کښې چه په رنګه، تور او سپین دول سره وي او دخلکو په طبیعي ژوندا وملي اخترونو اړه لري ښه موفقیت موندلی دی.

دخارجي نړیو سره د افغانستان د ثقافتي روابطو په ټینګولو او خارجي موسسو او فرهنګي مراجعو ته د افغانستان دمختلفو موضوعاتو په ورکولو سره ښه فعالیت کړیدی.

خارج ته دمطبوعاتي او هنري هیئتونو لیږدول، همدارنګه له خارج نه دداسي هیئتونو رابلل ډیری اغیزې وړدي چه خارجي نړۍ دافغانستان دثقافت او هنر او د افغانستان خلک د نورو دکلتور سره اشناکوي. په همدغه ترتیب سره دسفر دامکاناتو تهیه کول او د نړۍ له مختلفو ځایو څخه د سیاحینو جلبول او دعلمي، تاریخي او هنري مرکزونو او دمملکت دطبیعي مناظرو مشاهده کول زمونږ او دخارجي ملتونو په منځ کښې د پیژندګلوۍ یو مهم اثر لري دمطبوعاتو دلمړي پنځه کلن پلان وضعیت چه په دوهم پنځه کلن پلان کښې موقع اخستې یو له مثبتو تشبثاتو څخه دی چه دمطبوعاتو راتلونکی انکشاف تضمینوي.

ددې پلان په اساس مطبوعات به په پنځو راتلونکو کلو کښې موقع پیداکړي چه خپلې تبلیغاتي خپروني قناعت بخشي او ډیری کړي او عصري عمارتونه او نور لوازم او ضرو ریات چه د مطبوعاتو د پرمختګ په لاره کښې کومک کوي جوړ او تیار کړي او دهمدې پلان په واسطه به له یوې خوانه مجلې او جریدې دکمیت او کیفیت له لحاظه ښه انکشاف وکړي او مطابع به ښه شي او له بله طرفه به دمملکت اطلاعاتي دستګاوې او هغه شعبې چه دتدوینو لو او نشرولو لپاره مواد او معلومات برابروي قوي او ښې شي.

تیاتر او تمثیلي هنرونو تحول کړیدی یعني له دغې هنري او فرهنګي ځانګې څخه به دفني متخصصینو په جلبولو سره دراتلونکو ممثلینو دروزنې انتظار وشي.

ددې لپاره چه پلان په موفقانه ډول تعمیل شي او مطبوعات د پرمختګ په لوري روان شي نوله ټولو څخه اول دیته ضرورت پیښ شو چه دفن خاوندان او په صحافت او ژورنالیستۍ کښې پوه کسان ډیر شي نو همداو چه دمطبوعاتو مستقل ریاست دادبیاتو په پوهنځي کښې دژورنالیزم څانګه تاسیسه کړه او همدا رنګه ئې د مطبوعاتو په مرکز کښې دژورنالیزم مستعجله کورسونه پرانستل چه شاملین ئې سابقه لرونکي مامورین، دریاست دمسلکي شعبو او دمرکز او ولایاتو دنشراتي مؤسسو غړي دي او دخارجي پروفیسرانو له خوا درسونه ورکول کیږي. ور وسته لدېنه چه د پوهنتون او دمطبوعاتو دژورنالیزم شاملین خپله تحصیلي دوره پای ته ورسوي نو دمطبوعاتو دراتلونکي انکشاف ضرورت به اداء کړي او دغه عمده ملاحظې په ترتیب سره بیانې شوي دي.

## کورنۍ خپرونې

دکورنیو خپرونو لوی مدیریت دنشراتي مؤسسو او مطبوعاتي مرکزونو علاقه دمطبوعاتو دریاست سره ټینګه کړیده او په دې باره کښې ئې له خپلو کومکو نو څخه څه ندی سپمولی. همدارنګه دفلمونو په تو ر ید ولو سره د مربوطه شعبو سره همکاري او مرسته شویده، دخلکو دذوق سره ئې سم یو شمیر ښه فلمونه وارد کړیدي. دکالنۍ په تدوینولو او دعصري ژورنالیزم د بنسټونو په تعمیمولو کښې دفني پرسونلو او دلازمه لارښوونو له لارې ئې کوښښونه کړیدي.

سره دغو اقداماتو دلاندنیو آثارو پهطبع اونشر کښې یې توفیق موندلی د ی:

۱ـد ژورنالیزم اساسونه

۲ـ دفرحت اشعار

۳ ـ فضیلت

٤ ـ سپوږمی

٥ ـ داستاد خلیلي اشعار

٦ ـ دشخصیت اصلاح

۷ ـ پوهنهاو پرمشنوی باندې دهغی تأثیر

۸ـ کوچنی لهز ېږیدنی نه ترشپږ کلنی

۹ ـ دری نکلونه

۱۰ ـ ننني نړی

۱۱ ـ دافغانستان موقف

۱۲ ـ په اسلام کښې دانسان حقوق

۱۳ ـ زمایادونه (یادداشتهای من)

۱٤ ـ سخنور معاصرین

د مطبوعاتی جوائزو دنوی لایحې دتدوینولو پهاساس یوشمیر دترجمې اوتألیف کړورو آثارو ،دنظم او نثر پارچو اوښه هنری آثارودمطبوعاتو پهجوائزو کښې برخه و اخسته .

د مملکت د هنرمندانو دتشویق لپاره درسامی،مجسمه سازی ، خطاطی ، او موسیقی دجوائزومعیار لوړو کرځول شو او پهدی ترتیب سره دمملکت دهنری آثارو د ژوندی کولو لپاره یونوی ګام واخستل شو .

دکتابداری دانکشاف اود کتابخانی د ښهوالي او عصری کیدو لپاره توجهاو په دی باره کښې ئی دخارجی متخصصینو دکومك په جلبولو کښې کو ښښونه کړیدی .

د باندنی خپرونی

دکال به جریان سربیره په کتابونو، مجلو اونورو ګټورو موادوچه وخت پهوخت ئې په خارج کښې دافغانستان سیا سی او کلتو ری نما یندګیو اودمملکت پهداخل کښې دخارجی مملکتونو نمایندګیو ته لیږلی دی ،یو شمیر خارجی اشخاصو او موسسو ته ئی دمملکت په مختلفو شقو قو کښې دغو ښتنی سره سم معلومات ورکړی دی، دافغانستان دانکشاف پهباره کښې ئی دافغانستان اطلاعاتی دوائرو ته چه په لندناو قاهره کښې دی موضوعات او مطالب لیږلې دی ،چه پهلندن کښې د افغانی اطلا عا توددائری لخوادوطن دننني فعالیتو نو مضا مین دره دفوتو ګانو د(افغانستان نیوز) په مجله کښې په انګلیسی، المانی او فرانسوی ژبو خپر یږی چه یوه زیاته برخه یې دهمدی اداری له خوا ټولو خارجی مملکتوته لیږ ل کیږی او یوه اندا زه ئی دمملکت په داخل کښې د باند نیو خپرو نو له خوا خارجی موسسو او نمایند ګیوته ور کول کیږی .



د افغانستا ن مطبوعاتي هيأت چه د اتحادي آلمان د مطبوعا تو په بلنه هغه هيوادته تلى ، په هوائي ډگر کښې د مطبوعا تو د مستقل رياست د کارکونکو سره چه د هغوى د مخه ښې د پاره ورا غلي ؤ .



ښاغلی گل پاچا «الفت» د پښتو ټولنی مشر او د افغانستان او شوروی اتحاد د دوستی د ټولنی رئیس چه د دواړو هېوادو تر منځ د ښو روابطو د پراختیا په نسبت وینا کوی.

همدارنګه په قاهره کښې د افغانی نمایندګی اداره په میاشت کښې یو ځل د افغانستان مجله په عربی ژبه خپروی. چه دغه مجله هم د خارجی ممالکو او نمایندګیو او دمملکت په داخل کښې دخارجی نمایندګیو او داخلی موسسو تر استفادې لاندې ایښودله کیږي. همدارنګه د تیرو کلو نوپه شان سږ کال هم د وطن د ټولو شقوقو او څانګو فعالیتونه د پلان په پنځم کال په لندن کښې د افغانی نمایندګی اداری ته ولیږل شول ترڅو چه دیوی فوق العاده خپرونی په حیث طبع او وویشل شی.

د افغانستان پیژندلو مدیریت سربیره پر نوموړو خپرونو د مملکت د ښه معرفی کولو لپاره له هر دوه میاشتو څخه وروسته په مرکز کښې د (افغانستان آریانا) په نامه په انګلیسی ژبې خپرونه کوی چه اوله ګڼه ئی د سږ کال د جون په میاشت کښې له طبعې څخه ووتله او د مملکت په خارج او داخل کښې وویشل شوه.

## ثقافتی روابط

د دوستو هیوادو سره د کلتوری روابطو پراختیا، په خارج کښې د افغانستان د فرهنګی نمایندګیو او د بین المللی فرهنګی موسساتو سره ارتباط ساتل، د بین المللی مؤسسو د ثقه موادو او اسنادو د تاریخچی تهیه کول، د دوستو هیوادو سره د خپل مملکت د اقتصادی سیاسی، فرهنګی، او هنری اسنادو او موادو ساتل، د مطبوعاتو او د افغانستان د ځینو نشراتی مؤسسو د تاریخچی راغونډول، د ملتونو د حرکتونو، د بین المللی اخترونو او د ملی ورځو د تاریخ تلو نو په باره کښې د معلوماتو راټولول، د ثقافتی مرکزونو او علمی ټولنو (پښتو ټولنه، د تاریخ ټولنه، د کابل پوهنتون) د تاریخ په شاوخوا کښې تحقیق کول. د دوستو ملتونو او د افغانستان د ثقافتی مرکزونو په منځکښې علاقه لرل، په افغانستان کښې د بین المللی مهمو ورځو د تجلیلولو د راپورونو تهیه کول او د اطلاعاتی وسائلو مطالعه کول د فرهنګی روابطو د لوی مدیریت له عمده وظایفو څخه ګڼل کیږي، چه د بین المللی ارتباط تر عنوان لاندې د تشبث او کتنی مورد ګرځیدلی دی. سره د دغو وظائفو چه پورته یاد شول، په کابل کښې د شوروی اتحاد د هنرمندانو د اثارو د ننداړتون په ترتیبولو کښې مرسته کول، د یو مصور پامفلت چه د شوروی اتحاد د نقاشانو او رسامانو د هنری آثارو څخه نمایندګی کوی په انګلیسی او پښتو شرحو خپرول د افغانی نقاشانو او رسامانو د بیوګرافی تهیه کول، د افغانی هنرمندانو د تابلوګانو عکس اخیستل او معرفی کول او په روسی ژبه ئی طبع کول، او په شوروی اتحاد کښې د افغانستان د رسامی ننداړتون د افتتاح په وخت کښې ئی ویشل، په افغانستان د متحدو قومونو د ورځی او د افغانستان او د شوروی اتحاد د دوستی د خلویښتمی کالیزې، د ټاګور د زیږیدنی د کال او د نورو مهمو ملی او بین المللی ورځو تجلیلول، د افغانستان او شوروی اتحاد د دوستی د څلویښتمی کالیزې په مناسبت د رسالې خپرول، همدارنګه په دوه سوو مخونو کښې لا زیات خارج ته د افغانستان د مشرانو، د مسافرت او افغانستان ته د نړۍ د مشرانو د راتګ د موادو او اسنادو او د هغو د خبرو او د ګډو اعلامیو تهیه کول هم د دغه مدیریت له کارونو څخه دی چه د کال په جریان کښې ورته توجه شویده.

ACKU

له دی کبله چه ثقافتی موسسو اودباندنیو دولتو نو سفارتخانو دتللپاره د مطبو عا تو دمستقل ریاست څخه دموقوته جرائدو، ورځپاڼو اومجلواوپه افغانستان کښی دخپر وشو و پښتو اوفارسی کتابونو نوموته غوښتل دپاڼو ځای دکتابونو، دمطبو عا تو دکتنا بخانی، د پښتو ټولنی اودتاریخ دټولنی دکتابونو، دکورنیو خپرونودلوی مدیریت دکتابونو اودپو هنتو ن دخپر و نو فهرستونو ته دمراجعی سره سره ددی لپاره چه دبین المللی ارتباط دمدیریت کار کوونکودمتحا به ملتو سره دافغانستان دثقافتی، اقتصادی اوسیاسی مناسباتو سره بلداو اشناشی یوویشت دوسیی فهرستونه ترتیب شویدی چه دغه دوسیی اودخارجی دولتونو په منځکښی دسیاسی مناسبا تو دتأسیس احصایی، دکلتوری، فرهنګی اوهنری هیئتونو دتګ اوراتګ موادو، متحا به دو لتو ته دافغانستان دمشرانو مسافرتونو، دمسافرتونو خرنګوالی، بیاناتو او ګډ واعلا میه ؤ، متقا بله عرفانی اوکلتوری کومکونو، دکلتوری موافقتنامو نقلو، ددوستی اوعدم تعرض پیمانو سره شاملی دی اوله (١٠٠٠ نه تر ٥٠٠٠) مخونو ته رسیږی .

بله دو سیه ( د ژور نالستانو او ګر ځند و عقاید ) په نامه دافغانستان په بار ه کښی چه له (١٥٠) مخونه زیات مواد اواسناد لری د نړی دمختلفو مملکتو له مجلو اوجریدو څخه ترتیب شویده دوه نوری دوسیی دمتحدوملتو نودمؤسسی دتاریخچی اودهغی د فعالیتونو چه په همدی کال کښی ئی کړیدی تهیه شوی دی، دغه دوسیی دملتو نو دمؤسسو نقش د بی انکشافو اودلږ ارتقاء مملکتو نو داقتصادی اواجتماعی سوئی دلوړوالی خصوصاً ا فغانستان اودافغانستان دمطبوعاتو اونشراتو نقش دملتو دمختلفومؤسسو دفعالیتو نو دمعرفی کولو په لړ کښی ګټور ثابت کیږی .

## عکاسی او فلم اخیستل

دفلم اخیستلو مدیریت د١٣٣٩ کال له سنبلی نه د١٣٤٠ کال ترسنبلی پوری دغه راتلونکی فلمونه تهیه اوتکمیل کړیدی .

١ـ دګران وطن دآزادی ددوه څلویښتم کال دجشن رنګه فلم چه طولی (٢٧٠٠) فټه او خبری ئی په پښتو او انګلیسی.

٢ـ اخباری مستند فلم دپولیند دښاغلی صدراعظم له سفرنه چه کابل ته ئی کړیدی طول ئی ١٢٠٠ فټه وینا په پښتو او انګلیسی.

٣ ـ اخباری مستند فلم دآلمان دصدارت دمعاون اودهغه دتجارت وزیر ښاغلی ارهارد له مراسمو څخه طول ئی (١٦٢٠) فټه وینا په پښتو اوانګلیسی.

٤ ـ اخباری مستند فلم دنیپال دپاچا اعلیحضرت مهندرا شاه دسفر له مر اسمو څخه طول ئی ١٣٠٠ فټه وینا په پښتو او انګلیسی.

٥ـ اخباری مستند رنګه فلم داعلیحضرت معظم همایونی له سفرڅخه چه مصرته ئی کړی دی.طول ئی ٢٨٥٣ فټه په پښتو، فارسی، انګلیسی.

٦ـ اخباری مستند رنګه فلم داعلیحضرت معظم همایونی له سفر څخه چه یوګوسلاویا ته ئی کړیدی طول ئی ١٦٦٥ فټه، وینا په پښتو، فارسی او انګلیسی. (پاته په ٣٣٣ مخکښی)

## په باندنیو هیوادو کښې د افغانستان سیاسی نمایندګان



ښاغلی غلام یحیی «طرزی» په
انقره کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی جنرال محمد قاسم په
بغداد کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی داکتر غلام فاروق په بن
کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی جنرال محمد عارف په بلګراد
کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی سردار اسدالله «سراج»
په پاریس کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی سید قاسم «رښتیا» په پراګ
کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی عبدالصمد په پیکنګ
کښې افغانی لوی سفیر



ښاغلی دوکتور عبدالمجید
په توکیو کښې افغانی
لوی سفیر



ښاغلی محمد عثمان «امیر»
په تهران کښې افغانی
لوی سفیر

ACKU

## په باندنیو هیوادو کښې د افغانستان سیاسي نمایندگان



ښاغلی عبدالحمید «عزیز» په‌جگار تا کښې افغاني لوی سفیر



ښاغلی جنرال محمدعمر په ډیلی کښې افغانی‌لوی سفیر



ښاغلی محمدشعیب مسکینیار په‌روما کښې افغانی‌لوی‌سفیر



ښاغلی صلاح الدین «سلجوقی» په‌قاهره کښې افغانی لوی‌سفیر



ښاغلی محمدکبیر «لودین» په لندن کښې افغانی‌لوی‌سفیر



ښاغلی عبدالحکیم «شاه‌عالمی» په‌ماسکو کښې افغانی‌لوی‌سفیر



ښاغلی محمدهاشم «میوندوال» په‌واشنگټن کښې افغانی لوی‌سفیر



ښاغلی جلال الدین «طرزی» په‌بمبئی کښې افغانی جنرال قونسل



ښاغلی غلام حسن (ساپی) په‌پېښور کښې افغانی قونسل

ACKU

## په کابل کښی دباندنیو هیوادو سفرا او سیاسی نمایندګان



ښاغلی میخاییل ګوینا جلت
دبرتانیی لوی سفیر



ښاغلی احمد فرید ابوشادی دعربی
متحد جمهوریت لوی سفیر



ښاغلی هوتنګ دولسی چین
لوی سفیر



ښاغلی هانری بایرود دامریکی
لوی سفیر



ښاغلی خان عبدالرحمن
د پاکستان لوی سفیر



ښاغلی داکتر هانس شمیدت هوریکس
دفدرالی آلمان لوی سفیر



ښاغلی آرنود دواندوران دومایسی
دفرانسی لوی سفیر



ښاغلی عبدالامیر رشیدی حایری
دایران لوی سفیر



ښاغلی پیترا یوکوویچ
دیوګوسلاویا لوی سفیر

ACKU

## په کابل کښې د باندنیو هیوادو سفرا او سیاسی نمایندگان



ښاغلی جگن ناث دهامیجا
دهندلوی سفیر



ښاغلی انتونوف سیرگی دشوروی
اتحاد لوی سفیر



ښاغلی داکتر فولکو ترابلزا
دایتالیا لوی سفیر



ښاغلی جان چك دچکوسلواکی
لوی سفیر



ښاغلی ادوارد کولک
دپولیند لوی سفیر



ښاغلی دکتور سوگیارتو
داندونیزیا لوی سفیر



ښاغلی فردریك شتاین په تهران
کښې داتریش لوی سفیر او په کابل
کښې دهغه دولت مختار وزیر



ښاغلی سید عزت طایر الکتبی
دسعودی عربستان دسفارت
شارژدافیر



ښاغلی کوروکوای شیدا دجاپان
دلوی سفارت شارژدافیر

ACKU


د تجارت وزارت تشکیلات
د وزارت مقام
معین
د محکمو او حکمیت مدیریت
د مارکتنګ لوی مدیریت
مشاوریت
د تجارت د پراختیا ریاست
د مخصوص قلم مدیریت
د اداری لوی مدیریت
د پلاننی لوی مدیریت
د تمیز محکمه
د ابتدائی محکمه
د تدقیق مدیریت
د سورت مدیریت
د خپرونو مدیریت
د کورنی تجارت مدیریت
د باندنی تجارت لوی مدیریت
د ماموریت مدیریت
د آرشیف مدیریت
د محاسبی مدیریت
د لیک څانګه
ثابته څانګه
د احصائیی مدیریت
د تحویلخانه
هرات
قندهار
غزنی
تخار
میمنه
ننګرهار

# دکابل د پوهنتون چارې دلومړي پلان

## په پنځو کلونو کښې

### دپوهنتون چاری او غټ هدفونه په لومړی او دوهم کال کښې

دمختلفو ودانیو جوړول لکه دپوهنتون ودانی ، دانجنیرۍ اوزراعت ودانی ، دپو هنتون کتا بخانه، دجیلوجی دودانی سروی، دمستوراتو شفاخانه، مرکزی کلینیك ، دساینس دپوهنځی ودانی، دطب دپوهنځی دباکترلوژۍ لابراتوار ، دعلی آباد دشفاخانی دلوست خونه اود ښځو دطب دپوهنځی دعمومی لابراتوار دو دا نیو کارونه اوددغو ودانیو دمقدماتی چارو دزمینی برابرول اونورستره برخه ددغو کلو نو په ترڅ کښی عملی شوی دی چه ځینی نوری چاری پــه وروستنیو کالو کښی بشپړې شوې دی .



ع ، ص پوهاند دکتور محمدعثمان
انوری دپوهنتو ن نوی رئیس

### دپوهنتون مرکزی چاری په دریم کال کښی

دپوهنتون دتالیف اوترجمی د اجرت له پیسو څخه تقریباً په سلو کښی ۱۵ په تا لیف اوترجمه باندې لګولی شوی دی.

په بودجه کښی دودانیو دهدف له منظوری څخه په سلو کښی ۹۲ مصرف شوی دی، دلابراتوار دطب دپوهنځی باکترلوژۍ، دعمومی لابراتوار ودانی اودطب دپوهنځی ودانی تقریباً بشپړ ی شو ې او دملالی دلیسی دالحاقیه ودانی کار دښځو دپوهنځی داستوګنی دپاره جاری شو .

### په څلورم کال کښی

دپوهنتون مرکز دځپلو ودانیو له منظوری څخه په ۳۸ او ۳۹ مالی کال کښی تقریباً په سلو کښی سل ځپله مصرف کړی دی اوهغه پیسی چه دطب پوهنځی ته تخصیص کړی شوی دی دطب دپوهنځی دودانی دا کمالولو له درکه دی چه دا باك دشرکت په وسیله لګول شوې دی. همدارنګه دکابل ولایت ته دباکترلوژۍ ـ اودجراحی سرویس ددوو ودانیو دتکمیل دپاره تخصیص ورکړی شوی دی چه کارئی جاری دی. دغه راز دپوهنتون دودانیو قرارداد دمالیی له وزارت، دفوایدعامی له وزارت اودهوختیف له کمپنی سره شوی دی . چه دودانیو دجوړونی کارئې شروع شوی دی.

دکتابونو اونورو نشراتی اړتیاو دخریداری دپاره په سلو کښی ٦ر٥ منظوری تصویب شوی ده چه په هغو باندې دپوهنتون دمرکزد کتا بخانی دپاره ۱۰۳ ټوکه کتابونه پیرودل شوی دي، دغه راز نشراتی لوازم لکه دګستدنر رنګ، ګنډلو ماشین، سپین کاغذ، کارتن اوالبم پیرودل شوی دی.

خارج ته دمحصلینو دلیږلو دپاره د(۳۸ـ۳۹) مالی کال دتخصیصیی څخه په سلو کښی ٦۳ مصرف کړی شوې ده چه په دغو پیسو دشرعیاتو له پوهنځی څخه (۳) تنه ـ دښوونی اوروزنی له موسسی

څخه (۱۰) تنه ـ دانجنیرۍ له پوهنځی څخه (یو) تن او دساینس له پوهنځی څخه (۳) تنه مصر، ترکیې لویدیز المان، امریکې، سویس، شوروی اتحاد، لبنان او فرانسی ته دزده کړې لپاره لیږل شوی دی.

له دغې پروژې څخه چه په سلو کښې ۷۵ منظوری ئې دنقلیه وسائلو دتجهیزاتو او مواصلاتو دپاره لګولی شوی ده، له دغه مدرک څخه نقلیه وسائل او مواصلات لکه موټر او بایسکل خریداری شوی دي.

له دغې تخصیصیې څخه تقریباً ۷۱ په سلو کښې دلیلیه لوازمو دپیرودنې دپاره لکه چپرکټ ځوکۍ، مسی لوښی، کوچ، دپلخمرې سان، بخاری، الماری او کمپل لګول شوې دی .

## په پنځم کال کښې

دپوهنتون دنیمکاره ودانۍ چاری دوام لری، دسپورت میدانونه او دپوهنتون ستدیوم ځینی کارونه هم شروع او تر یوې زیاتی اندازې بشپړې شویدی .

دپوهنتون نوی ودانۍ : دپوهنتون نوی ودانۍ چه لومړی واحد یې دانجنیرۍ اوزراعت دپوهنځی لیلیه، دپوهنتون کتابخانه او اجتماعی پوهنځی دی په سلو کښې پنځوس بشپړه کړې شوه دپوهنتون دمرکزداداری او تدریسی هیئات کمبود تکمیل شو، دضروری کتابونو او د نشر د لوازمو او دپوهنتون دکتابخانې دتهیه کولو په باره کښې جدی اقدامات و شول .

خارج ته دشاګردانو لیږل د تیرکال په اندازه دوام وکړ .

د علمی چارو دتتبعاتو د تشویق له پاره مستحقینو ته پنځګونی جایزې ورکړې شوی دتالیف او ترجمې ښستې پیاوړې کړې شو .

اداری او تدریسی سامان اولوازم : ددفتر او لیلیې اثاثیه دتشکیل دزیاتوالی او دلیلیې د شاملینو په اندازه تهیه شو .

دپوهنتون په مرکز کښې یوه نوې مجله چه «دبدنی روزنې» په نامه یادیږی خپره شوه.

## دپوهنځیو چاری دپلان په لومړی او دوهم کال کښې

داقتصاد، انجنیرۍ، زراعت اوددواجوړولو پوهنځی تاسیس شول. د « آی ، سی ، ای » کار کوونکو دانجنیرۍ اوزراعت دپوهنځیو دپاره یولړ لکچرونه تهیه کړی دي، دامریکې دکلتوری موسسې په نامه او لویدیز المان دکلتوری موسسې په نامه دوې نوې موسسې تاسیس شوې دښوونې اوروزنې موسسه چه پخوا تاسیس وه په منظمه ول دپلان په چوکات کښې ونیوله شوه .یو زیات شمیر خارجی پروفیسران په بیلو بیلو پوهنځیو کښې دتدریس دپاره استخدام او راوبلل شو ل . د افغانی پوهنځیو ډیر ښوونکی په خارجی پوهنتونو کښې د زده کړې دپاره ولیږل شول.

دلا براتوار سامان ، درسی لوازم او کتابونه او دتدریسی معیاردښیګڼې دپار کتابخانو ته نور کتابونه وپیرودل شول .

## په دریم کال کښې

دحقوقو پوهنځی :څلورو تنو خارجی استادانو په تدریس پیل وکړ او دګیتتندنر یو نوی ماشین وپیرل شو .

دساینس پوهنځی :دلابراتوار دسامانو مقدماتی چاری تهیه اوترتیب شوی او د یو زیات شمیر کتابونو دلاس ته راوستلو دپاره ترتیبات ونیول شول .

ACKU



ښاغلی سردارمحمدداؤد صدراعظم ملك‌الشعرا استادبیتاب دادبیاتو دپوهنځی
استادتۀ دعلمی درجی تصدیقنامه ورکوی



پهعلی آباد کښې دیوسل لینه تیلفون ددستگاه دپرانیستلولهامله دپوهنتون رئیس
ښاغلي پوهاند محمد اصغر دری رنګه نوار قطع کوی



ښاغلی-ردارمحمدداود صدراعظم چه د کابل د پوهنتون د نوی ودانی
د جوړولو له امله خپله وینا اوروی



ښاغلی-ردارمحمدداود صدراعظم هغه وخت چه د علی آباد په لمنه کښې د کابل
د پوهنتون د نویو ودانیو د بنسټ تیږه ږدي



ACKU

دپوهنتون رئیس پوهاند محمد اصغر دپوهنځیو داستادانو استادانو دی د مخصوصو کالیو دتوزیع کولو نه وروسته خپله بیا نیه ایرادوی .



دکابل دعلی آباد په‌لمنه کښې دپوهنتون د نویو ودانیو ځینې برخې چه‌بنسټ
یې ا وس ایښود شوی او مهمې چارې یې مخ په وړاندې روانې دی .



په پایتخت کښې دسبز کال دلیسو ځینې فارغ التحصیلانې دپوهنتون دشاملیدو
لپاره دکانکوردازموینې په حال کښې

دادبیاتو پوهنځی : دوایمنگ دپوهنتون دتیم یوشمیرخارجي ښوونکي په دغه پوهنځي کښې دتدریس دپاره تیارشول، اودضرورت وړ مفروشات اولوازم چه دټولو بیه شل زره افغانی کیدی وپیرل شول .

دنجونو پوهنځی دکتابونو دخریدارۍ دهدف له منظوری څخه په سلو کښې ٦٤ شمیر دضرورت وړ کتابونه وپیرل شو ل .

دشرعیاتو پوهنځی

علمی کتابونه پیرل شوي دي .

دانجنیرۍ اوزراعت پوهنځی

دخارجي استادانو استخدام: دوایمنگ دپوهنتون دتیم غړي ددغه پوهنځي دتدریسي چارو په باره کښې په خپلو فعالیتونو لگیادي .
ددرسي خونو اومهمانخانې دپاره مفروشات اونور لوازم خریداري شويدي .

داقتصادپوهنځی

دخارجي استادانو استخدام :پنځه تنه خارجي پروفیسران په دغه پوهنځي کښې په تد ریس وگمارل شول.
اداری اوتدریسي لوازم لکه دگستدنر ماشین،دټایپ ماشینونه څوکۍ میز ونه او نو ر وپیرل شول .
دکتابونو دپیرنې دهدف پیسې په سلو کښې سل مصرف شوي لهداخل او خار ج څخه علمي کتابونه تهیه اووپیرل شول .

دطب پوهنځی

۱ـ د لابراتوار دضرورت وړ لوازم تهیه شول .
۲ـ د غه هدف چه اداري لوازم دي په سلو کښې ٥٠ پیسې یې ددو ا جوړولو د پوهنځي په مصر ف چه جلا بودجه ئې نه درلوده او د شاگردانواو ښوونکو په زیاتو شوو لگښتو نو سر ته ورسید .
په خارج کښې تحصیل: دطب په څانگه کښې دلسوتنو شاگردانو تحصیلا تو ته په خارج کښې دوام ورکو ی شو .

دعلي آباد صحي مؤسسې

ماشین ، آلات : لهدغه مدر ك دتیلفون سل لینه دستکاه ، دابو رسولو نلکي او نور آلات اودواگانې تهیه شول .

په څلورم کال کښې

دحقوقو پوهنځی : په د غه پوهنځي کښې د کتابونو د خریدارۍ له تخصیصپې څخه په سلو کښې ٤٦د٤٧ ټوکو کتابونو دخریداری دپاره مصرف شويده .

داداري اوتدريسي سامانو اواثاثيي دتهيه کولو لهپروژي څخه د۳۸ـ۳۹ مالي کال له پيسوڅخه پهسلوکښي د۲٦ پهلګښت ددفتر درې پا ئې ميزونه، برقي بخارۍ اودشاګرانو دپاره ميزونه اوچوکۍ تهيه شوىدي.

له دغیپروژي څخه ددغه پوهنځي د ری تنه دپوهنتون درياستلهليارى مختلفوملکو تهدزده کړي دپاره ليږل‌شويدي چهپهدغو شپږمياشتوکښي دهغوي مصرف له تخصيصي څخه په سلوکښي ٦١ کيږي .

لهدغی پروژی څخه دترجمي اونشرياتو مصارف اويو څه سامان‌اوقرطاسيه‌خريداری‌شوي ده.همدا رنګه ددووډوکو کتابونو دترجمی دپاره‌چه‌ترترجمې لاندی دی حق‌الزحمه‌ورکړي شوىده چهلهدغه د رکه تقريباً پهسلوکښي ۱۲ پيسی مصرف شويدي .

## دساينس پوهنځي

له۲۳۱ پروژي څخهپه سلوکښی۸ر٤دکارتونو ددوو الماريوپه‌خريداری‌باندي‌لګيدلی‌دي ددغی پروژي ډولی پيسی دکتابخانی‌دپاره د٤٤۱ ډوکوکتابونو پهخريداری‌باندی‌لګيدلی‌دی ٦۱۰ دغه هدفونه پهروسيه اولويديز ا لمان کښې ديولسو تنو محصلينو پهتعليمی‌خرڅ‌باندی لکيدلی دي .

## دادبياتو پوهنځي

ددغه هدف پهسلوکښی ۲۳ پيسی دميزونو اوڅوکيو پهخريداری‌باندي‌لګيدلی دي .
ددغی پروژی څخه ٤٤ ټوکه کتابونه دکتابخانی دپاره خريداري شوىدي .

دادبياتو لهپوهنځی څخه يوتن دليدرشپ پهډول پهخارج کښې پهزده کړهبوختدي.همدارنګه لهدغی پروژي څخه درياست مرکز هم استفاده‌کوی اويا پهخارج کښی د نورو پوهنځيود شاګردانو دتعليمی‌لګښت دپاره ورکړي شويدي چه‌ټولی‌پهدغو شپږومياشتو کښې پهسلوکښی ٦۲ لهدغی تخصيصی څخه مصرف شويدي .
تقريباً پهسلوکښی ٥٦ دادب اوونی دنهوسوومجلوبيه ورکړي شويده .

## دنجونو پوهنځی

دسامان او اثاثيې دخريداری له پروژي څخه په سلو کښی ۹ د د فتر ديو شمېرلوازمو دپيرودلو دپاره لکهدکاغذ دسوري کولوماشين ، رنګ، کاغذ دانیددفتراواداري په اثا ثيه مصرف شويدي .

## دشرعياتو پوهنځی

سامان اواثاثيه لکه دمحصلينو دپاره سپينی کتابچی ۱۰٤۲ ټوکه، کماندار کارتنونه ۳۲ ټوکه- دټاپې رنګ شپږبوتله، سرښ ۲٥ بوتله- ددفتر دپاره يودټايپ‌ماشين ، کمپلو نه دستمالونه ،قاشقی اوپنجی اونورلوازم‌خريداري شوي دي .



درمل جوړولو د پوهنځي يوه ډله شاگردان چه د خپلو درسو د علمي کولو په مقصد لگيا دي .



دد رمل جوړولو په پوهنځي کښې ځينې شاگردان د تا بليټ جوړولو په څا نگه کښې تطبيقات کوي .

ACKU



دانجنیری دپوهنځی محصلین دتطبیقاتو په ـ ال کښې



دانجنیری دپوهنځی دودانی یوه منظره چه ځینی شاگردان پکښی دتطبیقاتو په حال کښی ایدل کیږی



دکرهنی دپوهنځی د شاگردانو یوه ډله چه دهغه پوهنځی په ځمکو کښی دخپلو درسونو دعملی کولو په وخت کښی لیدل کیږی .



دطب دپوهنځی یوشمیر شاگردان دتطبیقاتو په حال کښی .



دساینس دپوهنځی الکترو نکس لابراتوار .



دطب دپوهنځي یو ټولګی شاګردان د تطبیقاتو په حال کښې .



دپوهنتون دپوهنځیو یو شمیر فارغ التحصیلان او فارغ التحصیلاتې د ۱۳۴۰ کال د دپلوم له اخستلو څخه وروسته



دکابل‌دپوهنتون‌د فارغ التحصیلاتو یوه دله دخپلو بری‌لیکونو داخستلو نه‌وروسته .




دسائنس دپوهنځي يوه ډله شاګردان دتطبيقاتو په حال کښي.



دطب‌دپوهنځي دیوه ټولګی‌شاګردان‌دخپل‌استاد‌علمي توضیحات اوري .

## دانجنیرۍ اوزراعت پوهنځی

تقریباً په‌سلو کښې ۲ر۶ دمبل اوسامان په‌خریداری‌لکه یوشمیر میزونه او څو کی او اومفروشاتو باندی لګیدلی دي .

## داقتصاد پوهنځی

له‌دغی پروژی څخه سل په سلو کښې پیسی د ا و سنیو اتوپایو ماشینو ، ددفتر دلوازمو اودقرطاسیي په‌خریداری باندی‌لګیدلی‌دی او ۳۱ټوکه‌کتابونه‌دکتابخانی‌دپاره‌پیرودل‌شویدي .

## دطب پوهنځی

دمبل اوسامانو خریداری: ټوله‌تخصیصیه‌دتایپ دڅلورو ماشینو ،۲۲ یوکسیز ه میز ونو اوڅوکیو ،سلوپایو بازوداروڅو کیواودوو برقی ببوزو اونورو سامانو په‌خریداری‌لګیدلی‌دی
دطب پوهنځی دکتابخانی دپاره ۵۳ټوکه کتابونه له‌داخل‌څخه او۷ټوکه له خارج څخه خریداري شوی‌دی .

دتخصیصیي په‌سلوکښی شل‌په‌خارج کښې دطب‌دپوهنځی دیوولسو شاګردانو دخرڅ دپاره ورکړی شوی دی .

اداری اوتدریسی سامان: دتخصیصی په‌سلوکښی ۳۲ دګستدنر دیوڅه کاغذ اود ټایپ د کاغذ اوکاربن پیپر اوهمدارنګه دلیلیی‌دیوې‌اندازی سامان اولوازمو لکه‌یو منزله چپرکټ ترخنګ میز، تلتکونه اونورو په‌خریداری اوتهیه‌کولو لګیدلی‌دی.دغه رازیوشمېر کتابونه لکه نسائی ناروغی ، انتروپول لوژی ، د تشریح رسمونه او دبیوشیمی هډوکی هم دداخلی ناروغیو دډاکتر سیدعبدالله او نورو له‌خوا تالیف اوترجمه شویدي .

## ددوا جوړولو پوهنځی

په‌دغو شپږو میاشتو کښې‌ددغه پوهنځی له خوا ۵۸ ټوکه کتابونه خریدار ی شوي دی تراوسه پوري لادغه پوهنځی له‌اداري پلوه دطب په‌پوهنځی پوری مربوط دی ، نویوه اندازه دلیلیی سامان اولوازم اودلابر اتوار سامانونه‌دغه پوهنځی‌ته‌یوځای تهیه‌شویدي .

## صحی مؤسسی

دتخصیصیي په‌سلو کښې ۲۸ دهغو ماشینو اوتجهیزاتودګمرکی محصول‌دپاره چه‌له‌پخوانیو فرمایشونو څخه‌راوړل کیږی له‌دغه‌درکه دکابل‌دګمرك حساب‌ته‌نقل شویدی.همدارنګه‌یوشمیر بولدانی اودناروغانو تذکری خریداری شوې‌دی او دلابراتوارده۴۵ قلمه سامان دخریداری دپاره دجرمنی فابریکی‌ته۵۴۰۵ طلائی مروجه مارکو نه ورکړي شوې‌دي .

۲۳۱ _ په دغه تخصیصه با ندي دغه سا ما ن اولوازم تهیه شو یدي : لس پا یی اوزدی‌څوکی،۴۰ پایی،میزونه ،۹۵ پایې‌څوکی-۱۴سیټه سه تکه‌پایی-۱۵پایې‌الماری همدارنګه لاسی‌کراچی ،میزونه او څوکی ، وسائل اومبل،با نکسی زینه،برقی چای‌جوش برقی نغری ،چودنی بخاری‌اودوینو بانک سامانونه خریداری شویدی .

ACKU

داوبو رسولو تجهیزات اولوازم .یوه اندازهٔنلونه اوداوبورسولونورساما نونه دعلی آباد دشفاخانی دپاره خریداری شویدی.

دښوونی او روزنی موسسه

داداری او تعلیمی ساما نو دخریداری‌دپاره دد غی یر وژ ې په سلو کښې ۲۱ پیسې لگیدلې‌دی.

داجتماعی‌معلوماته په نامه رسالی ،زراعتی کتابونه اوپه‌اسلامی‌ملکوکښې‌ننی مجاهدی کتاب اولمړنی تعلیمات نامه تهیه شویدی.

## په پنځم کال کښې

### دحقو قو پوهنځی

اداری اوتدریسی متفرقه لوازم په زیا ته اندازه خریداری اوتر استفادې لا ندې ونیول‌شول .

دپوهنځی دکتابخانی‌لپاره نوی اختصاصی کتابونه‌راوړی شول .

خارج ته د تد ر یسی هیئت لیږلوته دتیر کال به اندازه اقدام وشو.

داداری او تدریسی هیئت شمیر زیات‌شو .

تالیف او تر جمې‌د تیر کال په اندازه دوام وکړ.

### دساینس پو هنځی

دلابراتوار سامان او لوازم د تیر کال په اندازه تهیه شول.

دپوهنځی دکتاب‌خانی‌د پاره ډیر کتابونه راوړې شول.

خارج ته د تدر یسی هیئت لیږلوته دتیرکال په اندازه دوام ورکړی‌شو.

د داری اوتدریسی هیئت شمیر زیات شو .

دپوهنځې تالیف ، ترجمه اونشریات پر اختیا وموندله .

ددرس خانو اودفترونوسامان اولوازم تهیه شول.

### دادبیاتو پوهنځی

دمفروشاتواودرسی لوازمو دتهیه کولو په باره کښې جدی اقدامات وشول .

دپوهنې دکتابخانې دپاره د پلا ن‌دپنځم کال په موده کښې ډیر کتابونه تهیه شول

خارج ته ددا خلی تد ر یسی هیئت لیږلو ته دتیر کال‌په اندازه دوام ورکړ ی شو .

داداری‌او تدریسی هیئت تکمیل ته‌هڅه وشوه .

نشریات اوترجمه تقویه شول.

### دنجونو دادبیاتو او سیانس پو هنځی

ددغه‌پوهنځی دپاره داداري او تدریسی ځانگو دپر اختیاپه‌وجه‌نوې اثا ثیه‌اوسامان تهیه اونقلیه وسایل وپیرودل شول.



دادبیاتو د پوهنځی یو شمیر شاګردان دخپل تدریسی هیأت سره



دادبیاتو دپوهنځی دلمړی ټولګی شاګردان‌د عمومی ژورنالزم په‌ساعت کښې.



ACKU

ښاغلی پوهاند محمداصغر د پوهنتون رئیس په هغه غونډه کښې چه د سږکال د پوهنځیو د فارغ التحصیلانو د برې لیکو نو
په مناسبت د حقوقو په پوهنځي کښې جوړه شوې، وه خپله وینا اوروي .



دعلومود پوهنځی یوه‌ډله شاگردان‌چه دکیمیاپه لابراتوارکښی‌دخپلوماهرو استادانو ترکتنی لاندی تطبیقات‌کوی .



دکابل دښوونی اوروزنی‌دموسسی‌هیأت چه‌د ۱۳۴۰ کال په لمړیوورځو کښی په‌یو تربیوی سیمنار کښی دگډون‌لپاره کندهارته‌تللی‌ودزرغونی‌انادښوونځی له‌ښوونکو اوزده‌کوونکوسره .



دښوونی اوروزنی په موسسه کښی دتجربوی ښوونځی دشاگردانو میندی دخپلو کوچنیانو بشپړ شوی کارونه گوری

ACKU



پەکابل کێشی دنێوونی اوروزنی دەوسسی دژمنیو کورسو نوێخینوێنوونکوداودلوپەخانگەکێنی بەکارلگیادی .

دکتاب خانې دپاره یو شمیر کتابونهوپیرودل شول.
دصنفونو دلوړ تیا له غوښتنی سره سم اداري اوتدریسی هیئت زیات کړې

## دشرعیاتوپوهنځی

ډیر خارجی استادان استخدام شول.
ددفتر داثاثیې اوسامان ـددرس خانو اولیلیې‌په تهیه کولو کښی ا قدام‌وشو
اوهم د تدریسی‌هیئت دپاره‌نقلیه وسایل تهیه‌شول.
دضروري‌کتابونو په باره کښې ددغه پوهنځی اړتیاوې ډیرې کمی کړې‌شوې .
دداخلی تدریسی او اداری هیئت په‌تکمیل کښی کوښښ و شو .

## دانجنیری‌او زراعت پوهنځی

دپوهنځي‌دپر اختیاسره سم نو ې ا ثاثیه اوسامان وپیرودل شو .
دداخلی‌تدریسی اواداری هیئت شمیر زیات شو .
دترجمې اونشریاتوتقویه کولو ته د تیر کال په‌اندازه دوام‌ورکړې‌شو.

## داقتصا د پوهنځی

دپوهنځی دمحصلینو اوتدریسی اوادارې هیئت دزیاتوالې په و جه نو ې سامان اواثاثیه تهیه شول.
داختصاصی کتابخانی دپاره ډیر علمی کتابونه وپیرودل‌شول .
په داخلی‌تدریسی‌هیئت کښې دری تنه زیات شول .
دترجمی اونشریاتو په تقویه کولو کښې ډیر اقدامات وشول.

## دطب پوهنځی

دلابرتوارسامان او لوازم د تیر کال په اندازه تهیه‌شول.
دکتاب خانې دپاره ډیرکتابونه خریداري شول.
په‌خارج‌کښې دزده کړې لپاره‌دتدریسی هیئت لیږلو ته‌دوام ورکړ ی شو.

## ددواجوړولوپوهنځی

دپلان دپنځم کال دضرورت وړاداری اوتدریسی سامان او لیلیه تهیه شول.
دلابراتوار دسامان په تهیه کولو کښې د تیر کال په‌اندازه اقدام‌وشو.
دلیکنی دماشینو پیرو د لو ته د وا م ورکړی‌شو.

## صحي‌موسسې

دلابراتوار سامان‌اولوازم‌دتیرکال داندازی په‌نسبت زیات‌تهیه‌اونور سا مان او لو ازم د تیر کال‌دا ندازی نه‌زیات‌خریداری‌شول‌دپلان دپنځم‌کال له ضرورت سره سم دادارئ تشکیل په‌بشپړ کولواقدام‌اوداوبو رسولوتجهیزات اولوازم تریوی‌اندازی پوری‌تکمیل‌شول.

## دښوونې او روزنې موسسه

تعلیمی او اداری سامان د تیر کال په نسبت زیات تهیه او د موسسې کتابخانه تر پخوا ډیره پراخه او داخلی اداری او تدریسی هیأت تکمیل کړی شول. همدارنګه د تالیف او ترجمې تقویه کولو ته د تیر کال په اندازه دوام ورکړی شو.

دامریکې کلتوری اداره: دا ثاثیې دفتر او نورو لوازمو ئې تکمیل شول.

دلویدیز آلمان کلتوری اداره: د کار له پراختیا سره سم د اداری هیأت بشپړ کیدو ته اقدام وشو.

## هغه غټ تکې چه د پنځه کلن پلان پر چارو علاوه تطبیق او بشپړ شوی دی

دحقوقو په پوهنځی کښې: دمملکت د اجتماعی انکشافو په ترڅ کښې لومړی وار یو شمیر محصلات په دغه پوهنځی کښې شاملې شوی او د دغه پوهنځی علمی سویه د پاریس د حقوقو د پوهنځی په درجه لوړه شوه او د دیپارتمان اساس هم تشکیل شو.

دادبیاتو په پوهنځی کښې: د نورو تعلیمی څانګو پر علاوه د ژورنالیزم څانګه او د ژبې پیژندلو څیړنې موسسه پرانستل شول. او د انګلیسی ژبې د تدریس لپاره د کولمبیا د ټیم له خینو غړیو څخه استفاده وشوه. او د ښځو دادبیاتو د پوهنځی محصلات د نارینه و د پوهنځی له شاګردانو سره یو ځای شوی او پخپله زده کړه ئې پیل وکړ.

دساینس په پوهنځی کښې دری تنو استادانو د یونسکو له خوا او دوو تنو استادانو د امریکې د اطلاعاتو د اداری له خوا په تدریس پیل وکړ. د نورو او سنیو لابراتوارو پر علاوه دفزیک یو لابراتوار دیونسکو له خوا او بل د ذروی فزیک لابراتوار د ذروی قواو د بین المللی انجمن په مرسته په دغه پوهنځی کښې په کار اچول شوی دی.

داقتصاد په پوهنځی کښې ٦ تنه خارجی استادان استخدام شول داکتر حسنین د پلان د وزارت مشاور او نور دوه و تنو استادانو د امریکې د اطلاعاتو د اداری له خوا د مرستې په ډول په تدریس پیل کړیدی داقتصادی څیړنې مجله خپره شوه، د احصاییې او محاسبې د لابراتوار اساس کیښودل شو او د دغه لابراتوار د چارو د پرمختګ لپاره د حساب «١١» او د تایپ «٥» پائې ماشینونه خریداری او د مبکر الصوت او ضبط الصوت ماشینونه هم تکمیل او وپیرودل شول.

په صحی موسساتو کښې: د تیلفون یو سل لینه دستګاه د علی آباد په صحی موسساتو کښې په کار اچول شوې او یوه عصری د کالی منځلو (دوبی خانه) دستګاه هلته پرانستل شوه، د تشنابو سامان داوو واحدونو له پاره خریداری او د اطفایی په ضد (٣٠) واحدا او دغه ضروری ترانسفارمر تهیه او چاری بشپړې شوی دی.



د۱۳۳۹ کال‌دښوونې اوروزنې‌دموسسې دژمنیو کورسونو ځینو ښوونکو دآرټ په څانګه کښې په کارلګیادي .



والاحضرت شاهدخت بلقيس هغه وخت چه د پرستارۍ د ښوونځي د يوې فارغ التحصيلې برى ليك وركوى
اوهغې ته د موفقيت مباركي وايي .



د پرستارۍ د ښوونځي يوه ډله فارغ التحصيلات .



دپوهنتون رئیس ښاغلی پوهاند محمد اصغر په هغه غونډه کښې چه د سږ کال د نرسنګ د ښوونځی د فارغ التحصیلانو د بری لیکو نو د ویشلو په مناسبت جوړه شوې وه د پرستارۍ په شاوخوا کښې وینا کوی .



والاحضرت شهزاده شاه محمود پداسی حال کښې چه د نرسنګ مخصوصه
نښه د یو نرس په سینه ږدي



د کرهنې د پوهنځي ځینې شاګردان هغه وخت چه د غنمو په فارمونو کښې تطبیقات کوي.

ACKU

# دملکی هوایی چاری دلومړی پلان په پنځوکلونوکښې

## دهوا پیژندنی پروژی په لومړی اودوهم کال کښې

داشخاصوروزل : یوشمیر شاگردان په ځینو ځانگو کښې دلوړو تحصیلاتو دپاره خارج ته و لیږل شول او یو شمیر ئی په داخل کښې تر روزنې لاندی نیول شوی اودهغوی د ضرورت وړ سا مان تکمیل شو او ټاکلی پروگرام یې په ښه توگه ، خ په وړاندی درو می .



ښاغلی عبدالکریم «حکیمی»
د ملکی هوائی رئیس

درادیوساندد کورس سامان چه له ډبلیو،ام، او(دهواپیژندلو جهانی موسسی)څخه اخستل شوی وراورسید اویوه اندازه کمیا یی دوا ، بالون اونورهم تیا ر شو ی د ی او د دغه کورس دپرانستلو ترتیبات ونیول شول.

دبالون د پایلو ت ځا نگی شا گر دان دیوه تن خارجی متخصص تر نظارت لاندی په دارالامان کښې خپلی کتنې سرته ر سو ی ، درادیویی پلټنې بوه اخیستو نکی د ستگا په دارالامان کښې پکار واچوله شو ه .

دمترو لوژ ی د مو سسی د لابر ا تو ار او ورکشاپ لوازم وپیرودل شول اودمترولوژی په ودانی پوری ترلی لا بر ا تو ار بشپړ او آلات ئې هم نصب شول .

### په دریم کال کښې :

یو تن ز ده کو و نکی د فـو ر کا ست « پیشگو یی » ا و یـو بل زده کوو نکی داقلیم پیژندنی دزده کړی دپاره خارج ته ولیږل شول ا و یو بل د هیتر سپیشن په ځا نگه کښې پکار بوخت شو. دوه تنه نوردیوه خارجی متخصص په مرسته اولارښوونه دفور کاست په ځانگه کښې دعناصرو په تحلیل اوچارت کولو اودهوا دحالاتودپیشگو یی په تهیه کولو لگیا د ی د ر ا ډ یو ساند دکورس مر بوط سامانونه چه له ډبلیو،ام ارڅخه اخستل شوی وورارسیدلی دی اویو ه اندازه کیمیا وی دوا، بالون او نور ضروریات هم برابر شوی اونو موړ ی کور س پرانستل شو اوزده کوو نکو ئی خپل لو ست شروع کړی د ی چه نظر ی درسو نه ئی تکمیل شوی دی او چه یوه قوی ا خستو نکی د ستگاه تهیه شی دهغوی عملی درسونه هم شروع کیږی

دبالون دپایلوت دځانگی شاگردان هم دیوه خارجی متخصص تر نظارت لاندی په دارالامان کښې خپلی کتنې کوی، کوم وخت چه دبالون دپایلوت ه کتنو څخه دلوازمو اوراډیوساند دخریداری په باره کښې آخرنی تصمیم ونیول شی نو دقند هار په بین المللی میدان کښې دراډیو ساندیوی دستگاه اودهرات او مزار شریف دبالون دپایلوت ددستگاه اوپه غزنی او فراه کښې به دسکند بالون ددوو دستگاو په پرانستلو کښې کوم مشکلات پاتی نشی .

## دمترولوژۍ د ستګا ه

دمترولوژۍ معلوماتو دآخستلودپاره‌راډیو ئی‌پلټنی یوه‌آخستو نکی دستګاه‌په‌دارالامان کښی پرانستلې اوپه‌کار واچوله شو ه .

دمترولوژۍ دموسسی دلابراتوار او ورکشاپ‌لوازم‌خریداری شوی‌اودمترولوژۍ‌په‌ودانی پوری تړلی‌لابراتوار بشپړ شو ی او آلات ئې نصب شو ل .

## په‌څلورم‌کال کښې

دهوا پیژندنی دښوونی اوروزنی چاری هم دپخوا په شان جاری دی .

## دهواپیژندنی تاسیسات

دملکی هوائی‌ریاست ودانۍ : ددغی ودانۍ کار ۳۰ په‌سلو کښی‌پای‌ته‌رسیدلی‌دی،دکتنی ددریمی درجی دستګاه سامان بشپړ رارسید لی‌اودفراه اوګرشك دهوا پیژند نی د ستیشنو لوازم رارسیدلی د ی‌او دوه ستیشنو نه‌ئې پرانستل‌شوی‌او‌یو بل‌ستیشن‌په‌بګرام کښی تا سیس‌شو دجلال‌آباد اوقند هاردمیدان ستیشن هم نصب شو .

## دبالون پایلوت

دغه کورس د۳۸کال دجوزا‌په میاشت‌کښی شروع شو او په میزان کښی پای ته و رسید اودهغه‌کتونکی فارغ شول. اودورځی دبالون‌دپایلوت یوه کتنه دهواپه لوړو طبقوکښی دباد سمت‌او چټکی معلوموی .

داقلیم پیژندلوځانګی‌دمیزان په میاشت کښی په کا ر پیل وکړ او و ر و سته تر هغه دافغانستان دتیروستیشنونو میاشتنی‌رپو ټونه تر تیب شوی او پولیتنونه ئی خارجی ملکو او داخلی موسسو ته په‌دوام دارصورت لیږل شوی دی .

د راډیوساند کورس : ـ دغه کورس دجوزا په میا شت‌کښی شروع او د دلو ې په میاشت کښی‌ختم شو او کتنی ئی شروع شوی .

ورکشا پونه : د هواپیژندنی‌په مرکزکښی تأسیس‌اواستفادې‌لاندی و نیول‌شو ل.

## په‌پنځم کال کښې

دلومړی‌پنځه‌کلن پلان‌په پنځم کال کښی دملکی هوانوردی دښوونځی د « ۵ ۷ » تنو شاګردانوله جملی‌څخه چه دخپلو تحصیلا تو په دریم‌کال‌کښی تروروسته پوری بو خت وو «۴۵» تنه فارغ‌التحصیل شول‌چه «۳۰» تنه‌یی دکابل دهوانوردی دعملی روز نی په مر کز د هواپیژند نی‌دتخنیك په کورس‌کښی ترروزنی‌لاندی ونیول شول‌اودهغوی کورس د پلان د پنځم‌کال په مود ه کښی د وام لری .

دمیترولو ژ ی دراديوساند دامپریترونو دروزنې دپاره ۱۲ تنه په کور س کښی شا مل کړی، شول‌اوددغه کال‌په مود ه کښی به خپل‌کورس‌بشپړ کړ ی .

سر بیره‌په‌دی دسیانس دپوهنځی اودکابل دپوهنتون‌دموافقې‌په اساس شل‌تنه زده‌کوونکی دد غه پو هنځی د هواپیژ ندنې په‌څانګه کښې شامل کړل شول او دپلان په پنځم کال کښی دهغوی تدریس دپو هنځی دپروګرام سره‌سم‌دوام‌لری.

# د ملکي هوائي رياست تشکيلات



همدارنګه د پوهنی دوزارت اودپوهنتون دریاست د جلاموافقې په اساس دسیانس دپوهنځی د او سنی دریم ټولګی دریاضی اوفزیك د څانګی شاګردان دهواپیژندنی دڅانګی د پاره تخصیص ورکړل شو چه دپلان په پنځم کال کښی دهغوی درسونه په دغه پوهنځی کښی دوام لری

دپنځو تنولایقو کتونکولیبزل چه مخکښی د هندد حکومت د۵۹ کال دنومبر د میا شتنی د۱۱ تاریخ د لیك په اساس اودتخنیکی مرستی دپاره دبود جی دنلرلو په وجه چه پنځم کال ته کو :کی، په د غه پوهنځی کښی دهواپیژندنی په څانګه کښی شامل کړی شوی اودپلان په پنځم کال کښې ټاکل شوی وو په پنځم کال کښی خارج ته ولیبزل شول، سربیره په دی د۳۹ کال دجوزا د میا شتی دلومړی نیټی د۳۰٤٦ لیك په اساس اودپوهنتون دریاست په موافقه دبوریادوه تنه فارغ التحصیلان داقلیم پیژندنی اوهیدانووری په څانګو کښی خارج ته ولیبزل شول.

دپلان دپنځم کا ل په آ خر کښی دفیض آ باد، پلخمری، جبل السراج، ګردیز، پنج آب اوشبرغان دهوا پیژندنی ستیشنونه بشپړ شول او ددغو ستیشنو تر څنګ دری فامیله کو رونه او په فیض آباد کښی یوه څلور فامیله ودانی جوړه کړ ل شو .

## د هوا نوردی چارې د پلان په لومړی او دوهم کا ل کښی

د هوا نوردی د څانګی ټاکلی پروګرامونه هم په زړه پوری په مخ روان دی، سربیره په هغه د څلورو سوو تنو زده کوو نکو له جملی څخه سل تنه نوی شا مل شوی او په ز ده کړه بو خت دی .

## په دریم کال کښې

د اشخاصو روزل :

د یکه توت د هوا نوردی کورس د هغه له ټاکلی پرو ګرام سره سم د وام د ر لود اوله پخوانیو شاګردانو سره سره ٦۸ تنه نورهم نوی شامل کړی شوی دی .

د قندهار د هوا نوردی کورس داوم لری او د ټایپ پنځوس پایې ماشینونه د شاګر دانو په کار اچو ل شوی دی او دمخابراتی اسا نتیاؤ د پاره لوړ غبزی نصب شوی ا و ۱۹۸ تنه شاګرد ان د ۳۷ کال د حوت دمیاشتی د شلمی نیټی په از موینه کښی بریالی شوی وو، د ۳۸ کال د حمل د میاشتی په ۲۵ تاریخ د کولمبیا دټیم د ټاکلی پروګرام سره سم دانګریزی ژبی دلوړی روزنی د څانګو په زده کړه کښې د تخنیك هوائی ترافیك د کنتر ول د هوا نوردی د مخابری د طرز دټایپ دتج سیستم دا لکتر انیك دنظری تعلیم او نو ر و علمی او نظری مضامینو په زده کولوئی پیل کړی دی. سر بیره په هغه سل تنه زده کو ونکی چه د څلور و ـ وو کاندید شوو کسانو له جملی څخه نوی ټاکل شوی دی دماشینو علو مو دځینو لومړ نیوشقو قونه علاوه دکولمبیا دټیم دټاکلی پرو ګرام په مطابق دانګریز ی ژبی په ز ده کولو هم بوخت دی.

## په څلورم کال کښې

ښوونه او روزنه :

دکوچنیانولومړ نی کورس :د دغه کورس: شاملین اوس (۱۲۵) تنه دی او تحصیلا تئی جاری دی.

د سلوتنو په گډون دوهم مستعجل کورس : د دغه کورس سل تنه شاملین دز ده کړې دپاره قندهار ته ولیږل شول چه له هغو ۲۰۵ تنوزده کوونکو سره چه په قند هار کښې‌دې يو ځاې په زدکړه بوخت شي . د کابل مستعجل کورس اوس لغوشوی دی.

## د علمي روزنې‌مرکز او د ترافيك ښانگه

د دغه کورس شاملين ٤٣ تنه دی اوتحصیلاتئی دوام لري.

## دهوا نوردی تخنیکی کورس

د دغو شاگردانو زدکړه جاری ده او دهغوی ددرس دوره دري کاله ده. دهغو لو مړی گروپ ۱۸۷۰ تنه به خپل تحصیلات پاې ته ورسوی او د هوا نوردی‌په بیلو بیلو بر خوکښې به وظيفه اجراء کړی .

خارج ته د فني مامورینو لیږ ل، دهغو زده کوونکوله جملې څخه چه د هو ا نوردی او هوا پیژندنی په بیلو بیلو ښانگو کښې دلوړو تحصیلاتو د پاره خارج ته لیږ ل شوی دی لس تنه په بریا لیتو ب سره بیر ته وطن ته را غلی دی.همدا رنگه پنځه تنه نو ر په بیلو بیلو ښا نگو کښې خا ر ج ته لیږل شوی د ی.دغه را ز د دغه ریاست ا ته تنه فني او اداری مامو رين دلوړو تحصيلاتو په غرض امریکا ته لیږل شوی دي .

## پنځم کال کښې

دهوانوردی‌ښوونه‌اوروزنه:

دهوانوردی ښوونځی:

دپلان‌په پنځم کال پەموده‌کښې بەد ٦٣ تنور دکونکو زده کړه چه‌دهوانوردی دلمړنی ښوونځي پەلمړنی تحصیلی دوره‌کښې‌دی دوام‌کړی‌او سربیره پەدی بەد٤٧٠ تنوزده کونکو له‌جملې‌څخه‌چه‌ددریم‌تحصیلی کال‌په‌دوره کښې‌دی‌دهغوی‌د کورس‌دوره‌سرته‌ورسیداودلوړوتعلیماتو دپاره‌بەد متروډلوژی پەښانگه کښی دکابل ده وانوردی دروزنې‌پەعلمي مرکز کښي شامل کړی شو .

دمعارف دعالی تخنیك پەښوونځی کښی‌دهوانوردی کورس:

د۳۰ تنو هغوشاگردانو روزنه بەچەاوس پەدغه‌کورس کښې‌تررو زنې‌لاندې نیول‌شوی دی و درادیو،دمراقبت پەښانگه‌تکمیل‌شو اوعلاوه‌لەدې پەشل‌تنه‌نور په دغه کورس کښې تر روزنې لاندې ونیول شي.

دهوانوردی دعملي‌روزنې‌دمرکز کورس:

اوس ۱٦ تنه‌زده کوونکی درادیو دحفظ اومراقبت پەښانگه‌کښې په دغه‌کورس کښې تر روزنې‌لاندې‌نیول شوی‌او چه‌دغه زده‌کوونکی بەدپلان دپنځم کال پەموده کښې خپلی زده‌کړی تەدوام‌ورکړی،اوددغه‌کال پەآخر کښې بەفارغ‌التحصیل شي سربیره پەدی به‌١٦ تنه نور چه‌د برق ددستگاه‌او دمیخانیکی پەښانگه کښې تررو زنې‌لاندې و دپلان پەپنځم کال کښې خپل تحصیلات سرته ورسوه او شل تنه شاگردان چه‌دعالي تخنیك له‌ښو ونځي څخه فارغ الحصیل

او دراډیو دحفظا ومراقبت په ځانگه کښې ترروزنی لاندی ونیول شول چه د پلا ن په پنځم کال کښې دهغوی تحصیلات بشپړ شول.سربیره پرهغو ۳۰ تنه نور شا گردان د برق په دستگاؤ اوددستگاؤ دمیخانیك پهځانگه کښی پهمربوط کورس کښی شامل کړېشول او ۱۲ تنه نور د اطفائیی دپلټنی اونجات پهځانگه کښی ترروزنی لاندی ونیو لشول .

دقند هار دهوانور ی د روزنی مر کز

٦٤ تنهشاگردان دهوائی ترافیك دمراقبت پهځانگه کښې او۸٥ تنه دراډیو دمتصدیانو، ٦۹ تنه دراډیو دحفظ اومراقبت، ۳٤ تنهدبرق دقوی ددستگاه دمیخانیکی ، ۲۰ تنه د ا طفائیی اونجات



په قندهار کښی دملکی هوایی ریاست دښوونځی یوه ډلهشاگردان چهدمخا بـری پـه ځانگه کښی خپلی وظیفې اجراکوی

دکتو نکو اوشل تنه دالکترو نیك دمیخانیکانو پهځانگو کښې دپلان دپنځم کال پهموده کښې خپلو تحصیلاتو تهدوام ورکړیاودهوایی ترافیك دمراقبت دځانگی څخه ۳۰ تنو،دراډیو دمتصدیانو لهجملی څخه« ٥۰ »تنواودراډیو د حفظاومراقبت لهځانگی څخه ۲٥ تنوخپل تحصیلات تکمیل اوپه مربوطو ځانگو کښې پهعملی کارونو بوخت شویدی .

۹ تنه فنی اواداری مامورین دهوانوردی په بیلو بیلو ځانگو کښې دلوړو تحصیلاتودپاره دآی، سی، ای پهلگښت اوپنځهتنه نورپهبیلو بیلو ځانگو کښې د ملکی هو ائی ریاست په لگښت خارج ته واستول شول .

## دهوانوردۍ تأسیسات دپلان په لومړی او دوهم کال کښې

دهګرو مربوط کارونه: دقندهار دبین‌المللی میدان دجوړولو چاری په ښه و جه په مخ درومی او یوه ستره برخه یی ترکار لاندی نیول شویده .

دکابل، هرات، میمنی، مزارشریف ،قندز اوجلال آباد دهګرو کارونه همدډاډ ول اومخ په وړاندی روان دی .

## په دریم کال کښې

دقندهار بین‌المللی هوایی ډګر :ددغه میدان دجوړونی فنی کارونه په شدت جاری دی او دترانسمیټر په برخه کښې د۶۰ فټو په لوړوالی ۱٤ ستنی او د «۲۱۰» فټو په لوړو الی یوه ستنه نصب شویده چه ۵۰ په سلو کښې کاریی سرته رسیدلی دی.دوی،اف، آر،دستګاه دا حاطی اودپهره دار خانی دودانۍ کار ۷۰ په سلو کښې بشپړ شویدی .

دمنځ ی دلیکی خاورې لری کول اوقیراچول د۳۲۰۰ مترو په اوږدوالی او د«٤۵»مترو په پلنوالی اودمنځی له لیکی سره څنګ په څنګ دځغش دلیکی کارونه د څټك زاهکش دسیستم دګردش له دریو ځایو سره د۷۵ مترو په اوږدوالی او ۵۰ مترو په پلنوالی د،هنګر کارونه دهغه له مربوطو دفترونو او شاپونو سره د۷۰۷ برځنګ دوله جټ الوتکو دپاره، د هنګر دمخامخ دریدځای کانکرت ،دهنګردننه کانکرت ، د ترمینل مخامخ اپرون، بیکن د وارد منځی دلیکی ددواړو خواؤ دڅراغونو نصبول ،د ترانسمیټر دواټ ودانۍ تی باداو د میدان کټاره ۶۵ په سلو کښې سرته رسیدلی دی .

همدارنګه دځغش دلیکی دشمالی او جنوبی واټونو پخته کاری اودقیر اچول، دالو تکو ددریدلو دځای کانکریت، دځغش دلیکی اودالوتکو ددریدو ځای دڅراغونو نصبول،دځغش دلیکی دبازوګانو قیراچول،دهنګر دپاره دژوری څاه کیندل او د اوبو برابرول،له هنګر څخه دفاضلو اوبود ایستلو دپاره دنلونو ایستل، د۶ کیلو مترو په اوږدوالی دمیدان دسرك جوړول اوقیر کول. دمنځ ی دلیکی دنښو ټاکل،دنلونو غزول، دبرېښنا تمدید او دهنګر د ننه دتودولو دسیستم کارونه ۵۰ په سلو کښې پای ته رسیدلی د ی .

دقندهار دپخوانی میدان دترمینل دودانیو کارونه: دهوټل،دپاسپورټ خونه، دګمرك دپرواز دمعلوماتو خونه ،دمخابری اودتاور دکنترول خونه ۱۰۰ په سلو کښې اودهنګر دنور ودانۍ ۸۰ په سلو کښې ،دهنګر دنور ملحقه ودانۍ سل په سلو کښې ،ددیپو و دانۍ سل په سلو کښې دبرق دقوی دکنترول دجنریټر ودانۍ سل په سلو کښې، درستورانت ترڅنګ څلور ګراجونه سل په سلو کښې، د«ای،سی،ای » دانجنیرانو ددفتر دپاره دبشپړی ودانۍ کار سل په سلو کښې د اکسیجن دوسایطو دځایولو دپاره دستری پخی کوټی کارسل په سلو کښې سرته رسیدلی دی دبیکن داحاطی ددیوال اود ساتونکو دوه پوړه ودانۍ ،دپخو ګار اجونو اوددفتر د څلورو کوټو کارونه هریو ۷۰ په سلو کښې سرته رسیدلی دی .

دمیدان داحاطې ددیوال کار ۴۰ په سلو کښې ،دهوا نوردې ددوه پوړیز ښو ونځي کار ۷۰ په‌سلو کښې اوهمدارنګه دلومړي ليليې کار ۸۰ په‌سلو کښې،ددوهمې ليليې کار ۴۵ په‌سلو کښې ، دکلوپ دوداني کار ۴۰ په‌سلو کښې اودمامورينو داستوګنې دکورونو کار ونه ۶۰ په‌سلو کښې سرته رسيدلې‌دي.دانجنيرانو داستو ګنې دپاره‌دوې ستري‌وداني‌په‌اجاره‌و اخستلې شوې‌اوېوه بله‌وداني چه‌ټول‌عصري لوازم‌لري‌وپيرودله‌شوه. همدارنګه دراډيوئي بيکن دپاره د ۱۵۰ فټو په لوړ والي يوه‌پايه اودرې‌پايې د۶۰ فټو‌په‌لوړ والي‌او دمخابرې د آ حذې


ACKU

دقندهار په‌بين‌المللي‌هوايي‌ډګر کښې‌دترمينل‌بلدنګ دنويوودانيو‌يوه‌برخه‌چه‌دهغه دجوړولو مهمې‌چارې نژدې دي چه‌سرته ورسي

اومرسلې دپاره آ نتنو نه له لو د نګ او دهغو د برېښنا دسيستم سره‌لس، کيلـوواټه پټرولي جنر يټرونه او دهغودټېلو ټانکونه او درې ۷۵ ر۱۸ کيلوو اټه ډيزلي جنر يټرونه د مخا برې‌دسيستم دتنوير دپاره نصب‌شوې اوسل په سلو کښې سرته‌رسيدلي دي .دراډيواوله هواڅخه ځمکې ته ټکي په‌ټکي مخابراتو ، دبيکن‌دپاره دويلکاکس‌دليېزونکودستګاوې‌چارې او دعملياتو فريکونس اودعملياتي کانسول برجونه د۸ ۱ميګاسايکلو فريکوانس برج«وي اچ ، اف » اودقندهار_ تهران ، کراچۍ_ قندهار،کابل اوډيلي ترمنځ‌ټکي په ټکي‌دلاسي مخابراتو دپاره دآخذې موقتي دستګاه نصب شوې اوتکميله شويده.

نور هوايي ډګرونه

دکابل هوايي ډګر : دعصري‌ترمينل اودمراقبت‌دبرج‌دوداني‌پلان‌او نقشه‌اودمنهې‌دليکې

دخزش دلیکی پەچټکی سره دگرزیدو دځاې جوړېږنه دفواید عامې دوزارت له خوا شروع شوی چه د هغه د پلا ن او نقشې کارپنځه‌لس پەسلو کښې پای‌ته رسیدلی د ی .

دگمرگ ، ویزی ، روغتیااوبانک ودانی سل پەسلو کښې سرته رسیدلی‌اوترااستفادی لاندی نیولی شوی‌دی ، په پغمان اوحضوری چمن کښې دملکی هوایی ریاست د کلوبونو د ودانیو اودهغو احاطه اوملحقات همسل پەسلوکښې سرته رسیدلی دی ، داطفائیی‌دماشین آلات او داورضد سامانونه اودهغی‌دجاموفرمایش ورکړی شوی اوځینی سامانونه هم‌رارسیدلی‌دی.

## دهرات هوایی ډگر

دترمینل کار ٦٠ په سلوکښې پای‌ته رسیدلی دی،دجنریټر اوگاراج دخونی کار ۷۰پە سلو کښې پای ته رسیدلی او د استفادی وړ گرزیدلی‌دی. دآخذی‌او مرسلی مو قتی ټیسن بیخی بشپړ شوی او دبرېښناجنریټرونه هم‌نصب شوی‌دی،دری پایی د۶۰ فټوپه اوږ دوالی‌او یوه پایه د«۱۵۰» فټو په لوړوالی نصب شوی اومخابره دهغی له ټولو تاپ لود نگونو سره پەدایمی ډول جاري اوبشپړه شوه دی . پەښارکښې دننه دهوایی کلوپ و د انی او د هغی ملحقه ودانی ترکارلاندی دی او ٦٠ په سلوکښې کاریی پای ته رسیدلی دی، د «۲۵۰۰» مترو په اوږدوالی او ٤٥ مترو په پلنوالی دمنډی دلیکی دجوړولو او قیر کولوپەباره کښې دخزش دلیکی او درید ځای دجوړولو اوقیر کولو پەباره کښې لازم اقدامات جار ی د ی اوپه نظر کښې دی چه له‌یوه خارجی قراردادی سره چه زمونږ په گټه‌وی قراردادوکړی‌شی داطفایی دسامان اوداورضد جامو فرمایش ورکړی شوی‌دی ژر به ر اورسیږ ی .

د ۲۱۰۰۰ گیلنو په مجموعی ظرفیت دیوډول امریکائی سو ن دموادودذخیر ی‌ټانکونه خریداری شوی اورارسیدلی دی اودمربوطو کارونو له سرته‌رسیدو وروسته‌به دملکی‌هوائی ریاست دتخنیکرانو په وسیله دهغونصبولو ته اقدام وشی، درادیودبیکن دپاره د ۱۵۰فټوپه لوړوالی یوه‌پایه د ۶۰ مترو په لوړوالی دیوی آخستونکی او لیږونکی دستگاه د پاره‌دری پایی دهغو ټولو تاپ لودنگ آنتنونو اودبرېښنا له‌سیستم سره او له هوا نه ځمکی ته ټکی پەټکی‌دراډیودبیکن دپاره‌دویلکاس لیږونکی دستگاوی بیخی سرته‌رسیدلی دی. همدا رنگه دآخذی‌دستگاوی او دراډیو دعملیاتی دستگاه‌ډیزلی جنریټر یوه پایه نصب شوی‌ده .

## دمیمنی هوایی‌ډگر

دعصری ترمینل دودانی او دمراقبت دبرج جوړولو دالوتکو د پاره چه پەمجموعی ډول د ۲۱۰۰۰۰ پونډه درندوالی دبرداشت مقاومت و لری دمنډی دلیکی‌جوړولو،دردیدځای خواته دچټك گردش دځای او دخزش‌ د یوی‌لیکی دجوړولو او د الوتکو ددرید ځای نقشه اخستل شوی او دهغوکار به ژردفوایدعامی دوزارت له‌خوا شروع‌شی . دمزارشریف‌پەاوسنی میدان کښې یوه موقتی ودانی چه لس کوټی لری جوړه شو ی اوتر استفادی لا ندی نیول شوی‌ده. دمخابری آخذه‌مرسله ټیسن بشپړ شوی او پەکار اچول شوی‌دی‌اودآخذی‌اومرسلې دریم ټیسن بەدترمینل دودانی له بشپړ کیدونه وروسته نصب‌شی. د ۲۰۰۰متر و اوږدوالی او ٤٥ مترو پلنوالی دمنډی دیوی‌لیکی دجوړیدواوقیر کولو اودخزش‌دیوی لیکې‌د جوړیدو



دکابل په هوایی ډگر کښې د ترمینل بلډنگ دودانۍ یوه منظره چه
دجوړولو کارونه جاری دی



دکابل په هوایی ډگر کښې دډبری ماتولو یوماشین دفعالیت په حال کښې



په‌دار الامان کښې د ملکي هوايي ر ست د هوا پيژندلو د څانګې ځينې فني غړي
چه د فورکاست په برخه کښې تطبيقات کوي .



په کندهار کښې داوسني هوايي ډګر دودانيو يوه منظره چه
پدې وختو کښې سرته رسيدلي ده

او قیرکولو ددریدځای دجوړولو اوقیرکولو پهباره کښې چه (۲۰۰ متره اوږد ۱۰۰ متره سور وردی لازم اقدامات جاری دی، داطفایی ماشین آلانو اود اوروضد جاموفرمایش ور کړی شوی، پهمجموعی ډول د ۲۱۰۰۰ ګیلنو پهظرفیت دسون دیوډول امریکائی موادو د ذخیری ټانکونه خریداری شوی اورارسیدلی دی اودهغو دنصبولو کار به ورو ستهلههغه چهمقدماتی کارونهئی بشپړشی شروع شی، دتشنابونو اوبرق دپارهدعصری سامانو اولوازموفرمایش ورکړی شوی دی او یوهبرخه ئی رارسیدلی ده .

## دجلال آباد هوایی ډګر

دمنډیدلیکی دجوړونی او قیر کولو پهباره کښی چه ۳۰۰۰ متره اوږدوالی او ۴۵ متره سور لری او پهمجموعی ډول دالوتکو د ۱۰۰۰۰۰ پوند ودروندوالی دبرداشت اود پو رته کیدو په مقابل کښیدټولو الوتکو لکه کانویر ۳۴۰ (سی-وی) ډولو الوتکو مقاومتولري دخزش دیوي‌لیکي لهجوړولواوقیرکولوسره چهدغهپاسنی خصوصیاتولري‌اوددریدځاي‌دجوړونی اوقیرکولو پهباره کښی چه ۲۰۰ مترهاوږدوالی او ۱۰۰ متره سور او پورتنی خصو صیات ولري اقدامات شو یدی او په مجموعی ډول د ۲۱۰۰۰ امریکائی ګیلنوپهظرفیت دسونی دیوډول موادوذخیری ټانکونهخریداری شوی او رارسیدلی‌دی ، البته دلازمو کارو نو لهبشپړ کیدو وروسته بهدهغو نصبولوته اقدام وشی.داطفائیی دماشینی آلاتو اوداور دضد جا مو فرمایش ورکړی شوی دی ژربه را ورسیږی، دبرق سامان اوعصری لوازم دتشنابونو دپاره فرمایش ورکړی شوی دی اویوه برخهئی رارسیدلی ده.

لهدیسرهسرهدغزنی‌پهټیسن کښی دمخابری دیوی موقتی دستګاه نصبول پایته رسیدلی اودهغه ځای دمخابری ددایمی ټیسن دطرحی اومساحی چاری همسرته رسیدلی دی.

## په څلورم کال کښې

دقندهاربین‌المللی هوائي ډګر: دمنډي دلیکی پخول اوقیر کول او منډي لهلیکی سره ځنګ په ځنګ دخزش لیکه دچټک ګردش له دریوځایوسره داوسپنی هنګر په ساختمان کښی لــه مربوطو دفترونواوشاپونو سره کانګریت، دهنګر مخامخ دریدځای کانکریت، دمنډی او خزش دلیکی ددواړوخواو دخراوغونو نصبول، لهټولو مربوطوماشینو سرهدترانسفارمرونو ودانی، دالوتکو ددریدو ځای، دمنډي دلیکیدشمالی اوجنو بی واټونو کانکریت ، دخز ش دلیکی دباز و ګانو پخول اوقیرکول، دهنګر دپاره داوبو برابرول اودژوری‌څاه کیندل اوله هنګر څخه دفاضلو اوبوایستلو دپارهدنلونو غزول‌اودشپږو کیلومترو په اوږ د والــی دیـو سړک جوړول اوقیرکول، دمنډی اودخزش دلیکودنبوایښودل، اپرونونـه او د نلو نـو غځول اودهنګر دننه دبــریښنا اوټودلو دسیستم دلینوغزول سل په سلوکښې پایتـه رسیدلی دی، همدارنګه ترنسمیتر اود «آن، ډی، بی» دستګاه دودانی پهبرخه کښی لهټولــو مر بوطـو ســا ما نو او لوازمو سره هریویی ۹۰ په سلوکښې سر ته رسیدلی‌دی اودبیــن‌المللی میدان

دآخذی د الی دبرج دبنسټ ایښودل، دپټرولو موقتی ذخیره او موقتی ترافیك، دکنترول دبرج جوړول او د الوتکو دلارښوونی دپاره دوی اچ افدستگاه په موقتی ډول سرته رسیدلی دی. دمیدان اوده «وی، او، آر» دودانی دسړك دپخولو کار ۷۰ په سلو کښی او دبرق ددوو جنریټرونو دستگاه دنصبولو کار ۷۰ په سلو کښی پای ته رسیدلی دی، دمیدان دسرسبزی د پاره شپږ زره نیالگی هم کښینول شوی دی.

## دایمی کارونه

د راډیوئی بیکن دپاره د ۱۵۰۰ فټو په لوړوالی د یوی پایی او مخابری د آخذی او مرسلی له ټولو ټاپ لودنگ او دهغو دبرق له سیستم سره دشپیټو فټو په لوړ والی د دریو پایو او له تیلو سره ددؤو جنریټرونو او په مربوطه ودانی کښی دبیکن د دستگاه او ددریو دیزلی جنریټرونو او دلیزونکی دستگاه او دترافیکو د کنټرول ددستگاه نصبول او د ترمینل ودانی او دلوز هنگر ملحقه ودانی، ددیپو ودانی او داستوانت ترڅنگ دڅلورو گراجونو ودانی، درستورانت ودانی او د «آی، سی، ای» دانجنیرانو دپاره بشپړه ودانی، داکسیجن ودانی، او دبرق دجنریټرونو دوه کوټی او بیکن سل په سلو کښی پای ته رسیدلی دی. همدارنگه دهوانوردی دښوونځی دودانی کار ۹۰ په سلو کښی او ددغه ښوونځی مربوطه لومړی لیلیه ۷۰ په سلو کښی او ددغه دوهمه لیلیه ۷۵ په سلو کښی، دپخوانی میدان دریاست کلوپ ۵۵ په سلو کښی دپخوانی میدان پهره دارخانه او ددیوال احاطه ۸۰ په سلو کښی، داریانا د الوتکو دمراقبت دپاره دنوزهنگر ودانی ۸۰ په سلو کښی، دیوه برج د جوړولو دپاره د او بو رسولو دپاره دنلو نو غزول ۹۵ په سلو کښی، دمترولوژی ددوو کورونو دپاره ودانی ۹۰ په سلو کښی، دقندهار دهوانوردی په ښوونځی کښی دزده کوونکو دتدریس دپاره مخابراتی تاسیسات ۸۰ په سلو کښی سرته رسیدلی دی. همدارنگه پنځه ملیونه پخی خښتی، پنځه سوه خرواره چونه د قندهار دبین المللی میدان دپاره تهیه شوی دی.

## نور هوایی میدانونه

## د کابل هوایی ډگر

د عصری ترمینل ودانی، دمراقبت دبرج ودانی، دمنډی او خزش د لیکو دچټك گردش دځای جوړلوول او دالوتکو د دریدو ځای جوړول، دفواید عامی دوزارت د کار دقواؤ په وسیله شروع شوی چه دهغو تفصیل به دفواید عامی د وزارت دکار دپر مختگ په رپوټ کښی ولوستل شی.

دکابل په هوائی میدان کښی د گمرك، روغتیا، ویزی، بانك او د مراقبت دموقتی برج و دانی دمخابری له ټولو دستگاه او دمیدان احاطه، دمحافظینو برج او موقتی آخذه او مرسله د ستگاوی او دبرق جنریټرونه او په پغمان او حضوری چمن کښی دملکی هوائی ریاست و دانی هر یوه سل په سلو کښی او دتربیوی مرکز کار ۷ په سلو کښی سرته رسیدلی دی.

## د هرات هوایی ډگر

د څلویښتو کوټو په ظرفیت دنوی ترمینل ودانی په عصری ډول دتشنابونو او د برق



په کندهار کښې دملکي هوايي ښوونځي يوه ډله شاگردان



په کندهار کښې دملکي هوايي ښوونځي ځيني شاگردان دهوايي ترافيك په څانگه
کښې په خپلو فني تعليماتو لگيا دي



دکندهار په بین المللی هوایی ډگر کښی دمخابری ځینی ماشینونه چه نوی پکار اچول شویدی



یو افغانی کارکوونکی دکندهاردبین المللی هوایي ډگر دمخابری دڅانگی دیوه ماشین دنصبولو په حال کښی

ACKU

د سیستم د نصبولو کارونه ۸۰ په سلو کښې ، د جنریټر کوټه او گاراج ۸۰ په سلوکښې دآخذی‌او مرسلی موقتی ټیسن او د برق جنریټرونه سل په سلوکښې د۶۰ فټو په‌لوړوالی د مخابری ددریوپا یو اوله ټاپ لودنگ سره د ۱۵۰ فټو په لوړوالی د یوی پا یی نصبول په دایمی ډول سل په سلو کښې پای ته رسیدلی دی .

د میمنې هو ا یی ډ گر

د منډی د لیکی داو ارولو او د او سنی تر مینل د و دانی‌کار چه لس کو ټی لر ی او د آخذی‌او مرسلی د او سنی دستگاه کار سل په سلو کښې سرته رسید لی دی .

د مزار شریف هوا یی ډګر

د دوو موقتی ودانیو کار ۹۵ په سلو کښې او د مخابری دټیسن کار سل په سلوکښې سرته رسیدلی دی .

د قندهار هوا یی ډ ګر

د ترمینل د موقتی ودا نی ا و د آ خذی او مرسلی د مو قتی ستیشن کار سل په سلو کښې پای ته رسیدلی ، د ۶۰ فټو پـه لوړوالی د څلورو پایو او له ټول ټاپ لـودنگ گروندایریل‌سره د مخابری د ۱۵۰ فټو په لوړوالی د یوی پائی او د هغی د برق د سیستم نصبول ۹۵ په سلو کښې سرته رسیدلی دی .

د جلال‌آباد هوایی ډ ګر

د نوی ترمینل د ودانی کار ۶۰ په سلو کښې د سړك خواته دمیدان داحاطی کار ۳۰ په سلو کښې او د مخابری د څلورو پایو دړول په ۶۰ فټو لوړوالی او په ټاپ لودنگـــك گروند ایریل سره د مخابری د ۱۵۰ فټو په لوړوالی یوه پایه او د هغی د برېښنا سیستم سل په سلو کښې، مساحی چاری، دساحی د ټاکلوچاری او دترانسپورت د ودانی په ساحـه کښې دنښو د کېښودلو چاری په مخ تللی دی،سربیره په هغه دآخذی اومرسلی‌دستگاه‌دړول شوی او په کار اچول‌شوی ده، پخوانی کوټی ترمیم شوی او رنگ شوی‌دی، له هغه نه علاوه په عصری سیستم سره د جنریټر د ودانی کار۵۰ په سلو کښې او دڅلورو برجونه چاری ۷۰ په سلو کښې او په فراه کښې شپیته فټه مخابره او دمخابری د یوی موقتی دستگاه نصبول او د مخابری د دایمی ټیسن د طرحه اومساحی چاری هم یو پـه سلـو کښې سل سرتـه رسیدلی دی .

په پنځم کال کښې

د شیرپور په پخوانی ډګر کښې د ملکی هوایی‌ریاست د مرکـزی ادا ری ودانــی ځینی چاری شروع شوی دی اویوه ډېره برخه یې هم دپرمختگ خواته‌روانه د ه او دځینی نورو ودانیو د اړتیا سامانونه‌هم‌تهیه شوی د ی .

دقندهاربین‌المللی هوائی ډګر: دهغه دودانیوجوړونی کارونه‌په‌لاندی‌ډول اجرا شول :

د بین ا لمللی تـر مینل د عصر ی میـد ا ن و د ا نـی چـه پـه ټو لو لو ا ز مو او و سا یلو مجهزه ده ، د مخا بر ی د لیبز و نکی ساحی ودانی له ټولو مربوطو دستگاو

داطفايي ودانۍ دهغې‌له ټولولازموساما نو اولوازموسره ، په ميدان کښې دعصر ی هو ټل ودانۍ له ټولو عصری وسايلوسره ، ديوی څلور بستره ايزی شفاخانۍ په گډون د خو ب د۱۲ کوټو لرونکی‌شل -ويلې لس حويلۍ‌چه د خوب دری کوټی‌لری‌لس حويلۍ چه‌دخوب څلور کوټی‌لری،دتخنيکی گدام‌ودانۍ چه‌هنگر ترڅنگ بناشوې هره‌يوئې پنځوس په‌سلوکښې څلور اپارتمانونه چه د ۱٦ فاميلوگنجايش لری اتيا په سلوکښې جوړی شوی دی .

د ۵۰۰۰۰۰ امريکائی گيلنو په ظرفيت د هوانوردۍ د سون د موا دو د ذخا يـر و نصبول ديـ ش په سلو کښې وشو .

د هوانوردۍ د څلور دولو د سون د موادو د ويشلـو د هايدرانت د يوه سيستم نصبول د الوتکـو په در يد ځای کښې د تر مينل د ودانۍ په مخکښې و شو ا و د غه سيستم چه د لازمو نلونو د غځولو په وسيله له دغو ټانکيو سره وتړل شو ۳۰ په‌سلوکښې بشپړشويدی.

د هوائی ميدان او د ښار ترمنځ دمخابری دپاره د تيلفو ن دسيستم تهيه کو ل شل په سلو کښې سرته ورسيد .

د بين‌المللی هوائی ميدان د مربوطو ودانيو دپاره دڅلور سوه لينه اتو ما ت تيلفو ن د يوه سيستم تهيه کول او نصبول ديرش په سلو کښې وشو .

د يوی ۵۰۰۰۰ گيلنه ټانکی نصبول د هغې د ويشلوله سيستم سره د بين‌المللی ميـدان ټولو کورونو او د اطفايی د ضرورت وړ اوبو دپاره ۲۰ په سلو کښې سرته ور سيد .

د۷۵۰ کيلو اټو توليد ظر فيت د برق د يوه جنريټر نصبول دهغه د و يشلو له سيستم سره دهوائی ميدان اوټولو کورونو دپاره ۳۰ په سلوکښې سرته ور سيد .

دفاضلو اوبو دبدرفت سيستم دټولو کورونو اوبين‌المللی ميدان دپار ه ديرش په سلـو کښې سرتـه‌و ر سيد .

دهوائی بين‌المللی ميدان او دکورونو دساحی ترمنځ دځ۵ کيلو مترو په اوږ دوالی ديوه سړك دجوړونې،پخولو او قير کولو پاتی کار پنځوس په سلو کښې سرتـه و رسيـد . دميدان د زا ايستلو دسيستم دجوړونی‌کار پنځوس په سلوکښې سرته ورسيد. داطفايـی دو ه موټراند اوبو يوه ټانکۍ‌له اورسره دمجادلی وسايلوټول‌فالتو سامان اوپرز ی او د اطفايی دعملی لباس سل په سلو کښې تهيه شود، مخابری سيستم او د قندهار د بين‌المللی هوا ئ ی ميدان دترافيکو دکنترولو سيستم ۳۰ په سلوکښې سرته ورسيـد .

## داخلی ډگرونه

د کابل بين‌المللی هوائی ميدان :

الف : په تخنيکی کارو سربيره‌لکه دمنډی ليکه، دخزش‌ليکه، دگردش‌ليکه، دا لوتکو ددريدځای، دتيلودويشلوسيستم،دميدان دترمينل‌ودانۍ،دهوائی‌ترافيك‌دمراقبت‌له‌برج، داوبو اوبرق دسيستم نه‌چه دفوايـد عامی دوزارت له‌خوا اجراء کيږ ی او د پنځه‌کلن پلان دپنځم کال‌له‌هدفو څخه‌دی ددغه وزارت څخه دپلان وزارت ته وړاندې شول .

دملکي هوايي رياست ودانۍ د دې بې د ستېشن يوه ودانۍ د مخابرې له دستګاه او «٦٠» فټو لوړوالي دڅلورو برجونو اود «١٥٠» فټو په لوړوالي ديوه برج سره سرته ورسېده .

له دې امله چه بايد دليږونکو اواخيستونکو دستګاوو او دهوايي مراقبت دبرجونو د دستګاه نصبول د ترمينل په ودانۍ کښې وشي نو ترڅو پورې چه د ترمينل دو دانۍ کار و نه تکميل او د هوايي رياست په واك کښې ورانشي د دغو دستګاوو نصبول په امکان و نلري ؛ البته ډير ژر به د ترمينل ودانۍ بشپړه شي او بيا به دغه دستګاوې په هغو کښې نصب شي .

داطفايي دوه موټران له ټولو فالتو سامانو اولازمو پرزواو داوروژلو له جامو سره سل په سلو کښې تهيه شول .

## دهرات هوايي ډ ګر

دهرات په هوايي ډګر کښې د پلان په پنځم کال کښې دغه لاندې کارو نه اجراشول :

دمنډې ليکه چه «٢،٥٠٠» متره اوږدوالي او ٤٥ متره سور لرې پخه اوقير ريزې اوسل په سلو کښې جوړه شوې ده .



دهرات د ولايت په ملکي هوايي ډګر کښې دنويوساختمانو يوه منظره چه دهغه د ډګر دپخولو چارې اوس هم دوام لري

دخزش ليکه چه ۳۲ متره سور لرې د منډې دليکې له مرکزي برخې څخه دا لوټکو د دريدځاې خواته د ترمينل ودانۍ ته مخامخ پخته کارې او قيرريزې شوې سل په سلو کښې سرته ورسېده .

په ۱۱۳ × ۲۳۰ سيمه کښې دالوتکو ددريد ځاې پخته کارې او قير ريزې سل په سلو کښې سرته ورسېده ، د ترمينل ودانۍ به له عصرې لوله کشۍ اودبرق له تنوير سره د هوايي ترافيك برج چه د ترمينل په ودانۍ پورې مربوط دې د مخابرې په ټولو عصرې و سايلو سل په سلو کښې مجهز شويدې ، دهوانوردۍ ديوډول تيلو دپاره د۱۲ زر و ګيلنو په ظرفيت دپټرولو يوه ټانکۍ پنځوس په سلو کښې په کارواچولې شوه ، او بو ر سو لوسيستم له ټو لو لا زمو

وسایلو سره داو بو دژورې خاه کیندل، داطفایی یو موټر او لازم فالتو اسبابونه او سامانونه اوداطفایی دعملی جامی سل په سلو کښی دمنځې اوخزش دلیکو ددواړو خواودچراغونو نصبولو اوتنویریی پنځوس په سلو کښی اجرا شوي دي .

دمزارشریف هوایی ډ ګر

د دغه میدان دتر مینل نوی او عصری ودانی دلو له کشی او نلونو غزو لو او د بر ق له تنو یر سره سل په سلو کښی سر ته ورسیده .

د مخا بر ی آخذه او مرسله ودانی به سل په سلو کښی سر ته ورسیده ، د(ان-ډی-بی) و دانی دمخا بری له ټو لو وسائلو اود ۶۰ فټو په لوړ والی د دریو پایو او د ۱۰ فټو په لوړوالی اویا په سلو کښی سر ته ورسیده.

داطفا یی یو مو ټر له فا لتو سامانو او لوازمو سره او د اطفایی له جا مو سره سل په سلو کښی تهیه شو .

دقندز هوا یی ډګر

د د غه میدان تر مینل نوی او عصر ی ودانی د لو له کشی او د نلو نو غزو لو اود برق له تنویر سره سل په سلو کښی‌سر ته ورسیده .

د ۲۰۰۰ مترو په‌اوږدوالی‌او ده۴ مترو په پلنو ا لی د منځ ی لیکه پنځوس په سلو کښی پخته کاری او قیر ریزی شوه .

تر مینل ته مخامخ د منځ ی د لیکی له مرکز ی برخی څخه دالوتکو تردرید ځای‌پوری د ۳۲ مترو په پلنو الی د خزش لیکه پنځوس په سلو کښی پخه اوقیر ر یزی‌شوه .

په‌یوه ۱۰۰ × ۲۰۰ مساحه کښی دالـوتکو در ید ځای پنځوس په سلوکښی پخته کاری او قیرریزی شو .

د ۲۱۰۰۰ ګیلنو په ظرفیت د الوتکو د سو ن د یو ډول موادو دتیلو د ټانکیو نصبول د هغو له مر بو طی لو له کشی سره پنځو س په سلو کښی بشپړ شول.

له لو له کشی سره د ۵۰۰۰ ګیلنو په ظر فیت داو بو د ذخیری ټانکی اوخاه سل‌په‌سلو کښی‌وکیندل شو.

د آن دی بی و دانی او د هغی د مر بو طو د ستګا و و نصبو ل سل سلو کښی سر ته ورسیدل .

د اطفایی یو موټر او د اطفایی فالتو سامان ا و جا می سل په سلو کښی تهیه شول دمیدان ا حاطه او د مخابری ودانی سل په سلو کښی سرته ور سیدی .

دمیدان دآخذی او مرسلی ، مخابراتی د ستګاه سل په سلوکښی سرته ورسیده.

د جلال آباد هوایی ډ ګر

د دغه میدان د ترمینل عصری او نوي ودانی له لو له کشی او د نلونو له غزولو او دبرق تنویر سره سل په سلو کښی سرته ورسیدې.

د تر مینل د و دانی د هوایی مر ا قبت برج د ټولو مخابر اتی دستګا وو سره سل په سلو کښی مجهز شو .



دکندهار په هوایي ډگر کښې د آریانا افغان هوایي شرکت په یوه تخنیکي ورکشاپ کښې ځینې شاگردان دفني متخصصینو تر کتنې لاندې دالو تکو
دماشینو نو د پرزو د ترمیمولو چاري زده کوي



په کندهار کښې د آریانا افغان هوایي شرکت دالو تکو دماشینو نودپرزو او سامانو
د تحویلخا نې یوه څنډه .



په کندهار کښې دآریانا افغان‌هوایی‌شرکت دروزنې دکورس ځینې‌شاگردان‌چه
دخپلـو فنی‌در سـونوپه‌زده کړه بوختدی،

د«آن، دی ،بی» ودانی له‌ټولومربوطو دستګاووسره،داطفاییو موټراودهغه مربوط سامانونه اوداطفایی دعملی مخصوصی‌جامی، دمیدان داحاطی‌دیوال‌اودمخابری دستګاه‌اودمیداند آخذی اومرسلی دمخابری دستګاه ټولی‌چاری بشپړی‌شویدی .

دهوایی لارو ترمنځ دمخابری سټیشنونه :دافغانستان‌په‌بیلوبیلو ځایوکښی دهوایی لیارو ترمنځ دمخابری‌دلسو سټیشنونو دپاره لازمی دستګاوی سل‌په‌سلو کښی تهیه شو یدی .

دجبل السراج دسټیشن ودانی دمخابری له‌ټولو مخابراتی وسایلو او دمخابری اه‌شلورو ۶۰فټه‌ایزوپایوسره سل‌په‌سلو کښی سرته ورسیده.

دفراه دمخابری دسټیشن ټول وسایل او دغزنی دسټیشن دنوی‌ودانی ټولی چاری تکمیل اودمخابری له‌پاره چمتو اوپکار اچول شویدی .

## دآریاناافغان‌هوایی‌شرکت‌چاری‌دپلان‌په‌لومړی اودوهم کال کښی

دروزنی‌چاری: څوتنه افغانی مامورین په‌داخل کښی ترروزنی‌لاندی ونیول‌شول اودهغو څوتنو له‌جملی څخه چه‌دپیلوټی په‌ځانګه‌کښی‌دلوړو تحصیلاتودپاره‌امریکی ته‌لیږل شوی‌وو ۹ تنه‌یی دتحصیل له بشپړ کولونه وروسته بیرته وطن‌ته‌ر اغلی‌دی اوڅلورتنه‌نوردانجنیری په‌ځانګه‌کښی امریکی ته تللی‌دی چه‌تراوسه دهغوی زده کړی دوام لری .

## په‌دریم کال کښی

تقریباً «۲۱۰» تنه‌افغانی مامورین په بیلو بیلو ځانګو او شقو قو په افغانستان کښی دننه‌روزول شویدی اوپه‌نظرکښی‌دی چه‌په‌پخوانیو لسوتنوسربیره‌لس‌تنه‌نور دپیلوټی‌په ځانګه کښی‌دلوړو تحصیلاتو دپاره امریکی ته‌ولیږل شی‌اوهم‌په‌نظرکښی‌دی‌چه پنځه‌تنه نوردانجنیری په‌ځانګه کښی هم‌امریکی‌ته ولیږل شی ترڅوچه‌دهغوی‌معلومات‌بشپړشی .

## په‌څلورم کال کښی

دهغو۱۳ تنو له‌جملی‌څخه چه‌پخوا دپیلوټی په‌ځانګه‌کښی دلوړوتحصیلاتو دپاره امریکا ته‌لیږل شوی‌وو ۹تنه‌ئی دخپلی‌زده کړی له‌بشپړ‌کولو نه‌وروسته بیرته وطن‌ته‌راغلی‌دی،همدا رنګه دهغولسو تنو له جملی څخه چه‌دانجنیری په‌ځانګه‌کښی امریکاته لیږل شوی وو څلور تنه‌یی بریالی بیرته وطن‌ته راغلی‌دی .

۳۴۰ تنه‌نورفنی‌اواداری‌مامورین په‌مختلفو ځانګو په افغا نستان کښی دننه ترروزنی لاندی نیول شوی‌دی .

## په‌پنځم کال کښی

دپلان په‌پنځم کال کښی دپیلوټی‌دری تنه شاګردان چه د پخوانی ګروپ له‌ډلی څخه‌په امریکا کښی‌دی وطن ته‌بیرته راغلل او۱۲ تنه شاګردان په‌افغانستان‌کښی ترمقدماتی روزنی وروسته دپیلوټی‌په‌ځانګه‌کښی دلوړو تحصیلاتودپاره امریکاته‌ولیږل‌شول اوپنځه‌تنه‌شاګردان چه دمیخانیکی په ځانګه کښی په امریکاکښی په‌زده‌کړه بوخت وو دپلان په‌پنځم کال کښی بیرته وطن ته راغلل ، پنځه تنه انجنیران او دوه تنه محا سبان د زده کړی د پاره امریکا

ته ولیږل شول. دآریانادشرکت اداری اوفنی مامورین چه اوس ددرس په کوټو کښې دوظیفی داجرا کولو په حال کښې دی دشرکت په بیلو بیلو څانګو کښې روزل کیږی. دهغو ی تربیتی چاری دپلان په پنځم کال کښې هم دوام لری اوسربیره په دی «۲۰۰» تنه نور مامورین تر ر و زنی لاندی نیول شوی دی .

## نوری فنی چاری د پلان په لومړی اودوهم کال کښې

دپلان په لومړی اودوهم کال کښې فنی چاری د تیرو کلو په شان دوام درلود مګر دهغو انکشافی برخی په وروستیو کالو کښې ترپروژی لاندی ونیول شوی چه لوی لوی ټکی اوغټې چاری ئی دپلان په دریم ،څلورم اوپنځم کال کښې اجراشوی دی .

## په دریم کال کښې

دوه «ډی، سی، فور» الوتکی اودری «ډی،سی، تری» الوتکی چه د لازمو ترمیماتو د پاره انګلستان اویوه «ډی،سی، تری» الوتکه چه هندته لیږل شوی وه له اساسی ترمیم نه ورو سته بیرته رارسیدلی دی، سربیره په دی دفرانکفورت دسرویس دشروع کیدو دپاره لازم ترتیبات ونیول شول اودارو پا په برخه کښې د«وی،اچ،اف» دلوړ سیارفریکورنس د مخابری د پار ه دعملیاتی ایجاباتو داهمیت په نسبت د «ډی،سی،فور» دواړو الوتکو مخابر ا تی سیستم ته دفرانکفورت دسرویس له شروع کیدو نه مخ کښې تغییرورکړی شویدی اود«وی،اچ،اف»یو بل سیستم په هغو کښې نصب شو .

دقندهار، کابل، قندز اومزارشریف دهوایی خطوطو الوتنه دالوتنی په لیاره باندی دبلریت په غرض عملی شوی ، دالوتکو فالتوسامان اولوازم وپیرودل شول اوتقریباً ۸۰ په سلو کښې دغه سامانونه وارد شوی دی .

## په څلورم کال کښې

دهغه تړون له مخی چه دآریانا دشرکت اوپان امریکن د شرکت ترمنځ لاسلیك شویدی یوه «ډی،سی،٦» ډوله الوتکه خریداری شوه چه اوس په امریکا کښې تر ترمیم لاندی ده اوممکنه ده چه ژر له هغی څخه استفاده وشی .

## په پنځم کال کښې

دانکشافی پوره په اساس چه آریانا غوښتنه کړی وه دغه شرکت به دخپل بین المللی سرویس له پاره یوه دی ،سی،٦ الوتکه وپیرودله اوپه نظر کښې ده چه دپلان دپنځم کال په پای کښې دداخلی هوایی ډ ګرونو دمساعدت اوددغه پور دلاس ته راتلو په شرط به دوی «٤٤٠» کانویر ډوله الوتکی دخپلو داخلی الوتنو دپاره وپیری .

(پای)

# دکابل ښاروالۍ تشکیلات



# پههیواد کښی نایبالحکومگان او اعلی حاکمان



ښاغلی میرعبدالعزیز دکابل والی



ډگر جنرال خانمحمد دقندهار
دولایت نایبالحکومه او
عسکری قوماندان



ډگر جنرال فیض محمد
دپکتیا دولایت نائبالحکومه
اوعسکری قوماندان



ښاغلی غلامرسول (پرهماچ) دمزار
شریف دولایت نایبالحکومه



ښاغلی عبدالرحیم (واحد) دهرات
دولایت نایبالحکومه



تورن جنرال خانمحمد دننگرهار
دولایت نایب الحکومه او
عسکری قوماندان



ښاغلی محمد جمعه (صدیقی)
دقطغن دولایت نایبالحکومه



ښاغلی سیدعباس دغزنی اعلی حاکم



ښاغلی میرغلامرسول دپروان
اعلی حاکم

ACKU

# په هیواد کښې اعلی حاکمان



ښاغلی دین محمد (دلاور)
د بدخشان اعلی حاکم



ښاغلی محمد طاهر (هاتف)
د فراه اعلی حاکم



ښاغلی سید احمد شاه (هاشمی)
د میمنی اعلی حاکم



ښاغلی جبار محمد د بامیان
اعلی حاکم



ښاغلی روښندل ( وردك )
د شبرغان اعلی حاکم



ښاغلی دکتور عبدالقیوم
د گرشك اعلی حاکم



ښاغلی محمد حنیف د غورات
اعلی حاکم



ښاغلی محمد شریف د ارزگان
اعلی حاکم

ACKU

# دکابل دښاروالۍ څلورکلن پلان په پنځوکلونو کښې

دروزنۍ پروژه په لو مړی ،دوهم او دریم کال کښې

په خارج کښې دمامورینو روزنه : دښاروالی دوه تنه کار کوونکی دنړ ۍ درو غتیا مؤسسې له لاری دفیلوشپ په ډول خارج ته وا ستول شول ،څوتنه خارجی متخصصا ن دقیر اچولو ، کانکریت،داوبو رسولو او دنقشی ایستلو دچارو لپاره‌له خارج څخه استخدام‌شول چه ځینو یې‌په عین‌عملیاتو کښې دښارو الی دکارکوونکو روزنه هم کړې‌ده،دغه چار ی ددې کالو دپروژې‌په‌ترڅ کښې‌په نظر کښې نیول شوې‌وې‌چه غټ‌کارونه‌یې دپنځه کلن پلان په وروستیو کالو کښې اجرا اوبشپړ شویدی.



ښاغلی محمدصدیق کابل ښاروال

په څلورم کال کښې

د جوړونو ، نقشه ایستلو ، اوبو رسولو قیر اچو لو اودکانکریت د سنجو لو لپاره لاندینې متخصصأن استخدا م شوې دی.

دکانکریت لپاره یو تن آلمانی‌انجنیر
د جوړونی لپاره یو تن اتر یشی مهندس
داو بو رسولو لپاره یوتن‌جاپانی‌متخصص
دموټر دترمیم لپاره یوتن روسی متخصص
دقیر اچولو لپار ه یوتن رو سی متخصص
دقیردلابرانت لپاره یو تن‌روسی متخصص

په‌پنځم کال کښې

یو تن خارجی متخصص دښارې او جوړونی دچارو دپاره استخدام شو.

داو بورسولو پروژې په لومړی، دوهم او دریم کال کښې

دڅا گانو کیندل: له ۵۰ مترونه‌تر ۷۵ متره‌پوری دژورو څاگانو کیندل ددې کالو په پروژو کښې نیو ل شوی او داوبو دبمبې دیوه سټیشن د جو ړولو د چارو ترتیبات و نیول شول چه ځینې کارونه یې په روستنیو کا لوکښې عملې او بشپړ شوېدې، داوبو رسولو‌نلونه

دښار په بیلو بیلو ځایو کښې نصب شول. عمومی مخزن دپغمان‌داوبو له مخزن سره وتړ ل شو، دپغمان دنوی مخزن کار دوام وموند ،دده‌افغانان‌په پخوانی مخزن کښې دپغمان‌دفلتر د ساتلو دپاره دیوې ودانۍ دجوړولو پروژه ترتیب شوه اویوماشین ددی لپاره وپیرودل شو چه دقیر شوی سړکو لاندې داوبو دنلو تیرولودپاره کیندنی وکړي .

## په څلورم کال کښې

دپغمان دپخوانی نل دځینو برخو تېرول: په‌شیرشاه مېنه‌کښې ۴۲۰متره اودارالمعلمین ته ورڅرمه د۲۸ کورونو دپاره«۱۲۰۶»متره اودپغمان‌داوبو دفلتردساتلودپاره دده‌افغانانو په پخوانی مخزن کښې دیوې ودانۍ جوړول جریان لرې.

## په پنځم کال کښې

داوبو رسولو او ښارې شبکی ددوهمی پروژی په‌تطبیق‌پیل‌وشو اوددغی‌پروژی دمربوطو چارو پر مخ تګ دواړ وړدی .

## دجوړونې(ساختمان) چارې په‌لومړی،دوهم‌اودریم کال کښې

دپروان‌مېنې دلومړی برخې دودانیو چاری شروع اودپرمخ تګ‌خواته‌روانی‌دی، دنوې ښار جومات بشپړ شو، دښاروالی‌دنوې ودانی‌ستری‌برخی‌کار دوام لرې، دپل‌خشتی دجومات دجوړونی چارې په‌بېړه روانی دې او دهغه دتودولودمرکز چاری‌هم دوام‌لری،دظاهر شاهی پارك دګل خانی کار سرته ورسید.

## په څلورم کال کښې

دپل خشتی جومات: دپلان دڅلورم کال په اول کښې دهغه دجوړونی‌چاری په بیړه‌دوام درلود اوپه جومات کښې دننه یوه برخه مرمر کاری هم سرته رسیدلی ده ، هغه دکانونه اوپارتمانونه چه دهغه جومات تر احاطی لاندی راغلی وران شوی دی . هم له تړون سره دهغه جومات‌دګنبدی، او دمنار دپوښلو دپاره «۸۰۰» متره کاشی دها ینمن له کمپنی څخه غوښتل شوی دی.

دښاروالی نوی ودانی :دښاروالی دنوی ودانی دوهمه‌اودریمه برخه بشپړه شوې‌ده اویوالحی دهغی دمرکزی پوښښ یوه برخه لاپاته ده چه دپلان دڅلورم کال ترختمیدلو پوری‌به‌بشپړه شی او دښایسته کولو کار به یې دوام ومومې .

دجشن په‌سیمه کښې‌دشاهی کمپ ودانی‌له ټولو لوازمو سره جوړه شوی ده د غه رازیو مخصوص کمپ دجشن دپاره دمرنجان‌په غونډه‌کښې دننداره کوونکو دپاره جوړ شو ی دی دپل‌خشتی دجومات دتودولو دمرکز چاری چه پیل شوی‌وی ددی کال ترآخره به‌یې‌ددستګاه ددرولو کارهم سرته‌ورسیږی.

آبروونه اوبروقونه: دښار په بیلوبیلو ځایو کښې لکه په شیرشا مېنه ، و زیر آباد او او نوې ښار کښې اته بروقونه جوړ شوی دی اودزاړه ښار دننه آ برروونه زیاتره پا ك او ځینې تر میم شویدی.



دکابل هو ټل دنوي او دا نيو يوه منظره



دکابل په ظاهرشاهي بڼ کښې دنوي گلخانې يوه منظره

ACKU

### په پنځم کال کښې

دښار والی نوی ودانۍ جوړه او دهغې د تودولو مرکز اودرېنا کولو چارې بشپړې شوی دآریا نا دسینما ودانۍ پایې ته ورسیده ، دبی بی مهرودبازار جوړو نه بشپړه او دپل خشتی نوی پل هم جوړ شو، دڅلورمې کارتې دچارو قرارداد ترکتنې لاندې دی او دهغه تطبیقی چارې به ددوهم پنځه کلن پلان په لومړی کال کښې شروع شي.

### تفریح ځایونه په لومړی، دوهم اودریم کال کښې

تفریح ځایونه: ظاهرشاهی پارك اود بریکوټ پارك بشپړشول، دپروان مېنې پارك جوړ شو، دده بوری دپارك په کار پیل وشو .

په ظاهر شاهی پارك کښې دکوچنیانو لو بځیو نه تر کارلاندې ونیول شول .

سینما گانی : دپارك دسینما دجوړونې چارې بشپړې شوی ، د آریانا دسینما چارې روانې دی، دسینماسکوب دوه ماشینونه اودسینما نور سامانونه وپیرودل شول .

### په څلورم کال کښې

دپروان مېنې پارك جوړ شو او څوړولډول نیالگې پکښې کېښودل شوی اوسربیره پرهغه په ظاهرشاهی پارك ، د بریکوټ په پارك اوزیاتو سړکو باندې نیالگې کېښودل شوی دی ،د نوی ښار گلخانه بیخی بشپړه شوې، ده او سربیره پرهغه په همدغه پارك کښې دکو چنیانو لوبځیو نه له ټولو لوازمو سره په رسمی مراتبو سره پرانیستل شول او کوچنیان لوبې پکښې کوی .

سینماگانی : دپارك دسینما دښایسته کولو چاری دوام لری او دهغې د تکت پلورلو په کړ کیو کښې دمرمرو دبری ایښودلی شوی دی اوسربېره پههغه دهغې سینما دپاره دسینماسکوب دوه ماشینونه په قسطونو پیرودل شوی او دلومړی قسط «۳٤٤٤» ډالره دزیمنس کمپنۍ ته ورکړ شوی دی ، دغه راز دپارك دسینما دپاره فالتو سامانونه پیرودل شوی دی .

### په پنځم کال کښې

دپارکونو چاری په پراخه اندازه اصلاح شوی دی .

### دحفظ الصحی چارې په لومړی ، دوهم او دریم کال کښې

بدرفت : د محمد جانخان واټ دنل تیرولو چاری برابرې شوی اوځینی کارونه یې هم بشپړ شول .

مبرزونه : څوعمومی مبرزونه دښار په بیلوبیلو ځایو کښې جوړ شول .

دغوښوپلورلو دکانونه په ښه اومحفوظ ډول دښاروالی په مرسته تیار شول .

### په څلورم کال کښې

حفظ الصحه: دغوښوپلورلو ددکانونو جوړول (دښاروالی په مرسته) پخپله دمغازه والاو په واسطه په ښه اومحفوظ ډول سرته ورسیدل .

دښار عمومي مبرزونه : په پغمان کښې ددوړنو يومبرزوجوړولواوهلته دپخوانيو مبرزو په ترميمولو پيل‌شويدی‌او دښارپه لسوځايوکښې له‌و-پنی اوسمڼتو څخه دلسونويو مبرزو کار دمربو طوڅانګوپه‌واسطه‌جريان‌لري .

## په پنځم کال کښې

دښار عمومي نوی‌مبرزونه په مختلفو ځايوکښې جوړشوی‌دی .

## دسړکونوچارې په اومړی ، دوهم او دريم کال کښې

دسړکونو پخول : دښار دسړکونولويه برخه په‌پاخه‌ډول جوړه اوقير اچولوته‌چمتوشوه.
قير اچول ؛ نژدې‌دښارپه ټولو سړکو باندی قيراچول‌شوی‌دی اوپه‌ځينو فرعي سړکوهم قير اچول‌شوی‌دی .

## په څلورم کال کښې

کوم‌سړکونه‌چه‌دترميمولو وړوو ترميم اوقير اچولوته چمتو شول ، دغه‌راز داوبوله نفوذ څخه دقيردسړکودساتلو‌دپاره‌د-ړک دځنډې کانکريټول دمړمنوله مؤسسې‌څخه شروع شويدي او دشيرپور ترجوماته‌پورې‌يې کاربشپړ شوی‌دی اوپاته‌برخه‌يې‌دوام لري‌يعنې دشيرپورله‌څلور لارې څخه دانصاري تر څلور لارې پورې يې کاردوام‌لري .
قيراچول ؛ دپلان‌په‌څلورم کال‌کښې (۱۵) کيلو متره سړک په‌دريوطبقو-ره قيرشو او سربيره په‌هغه‌د قيراچولو کارپه‌بيړه پرمخ درومی .

## په پنځم کال کښې

ښاری سړکونه : د لسو کيلو متر و په اوږد والی د پليو لار ی په پاخه ډول جوړی شوی‌دی .

## دښار دړڼاکولو پروژې په اومړی ، دوهم‌او دريم کال کښې

دسړکو رڼا کولولومړی پروژه ترتيب‌اوځينې چاری هم‌اجراشوی‌دی اودښار مهم‌سړکونه په بريښنارڼاشوی دی. دښارپه نوروبرخو کښې ددغه‌پروګرام دپرمخ بيولواوتطبيقولو دپاره ډير سامانونه پيرودل‌شويدی اوپه‌-لوکښې ٥٠ دښاردرڼا کولودوهمه‌پروژه عملي شوی‌ده،ظاهر شاهی پارك،دپغمان عمومي بڼ‌اودپروان‌مينې عمومي‌بڼ‌رڼا کړی‌شول .

## په څلورم کال کښې

دښاردرڼاکولو ددوهمې‌پروژې پاته‌چاری‌په‌سلو کښې پنځوس بشپړی شوی اودبريښنا ۱۷۰ ستنې‌خاص‌دجشن‌دمنطقې‌دپاره‌دزيمنس‌له‌کمپنۍ څخه‌وپيرودلې‌شوی‌اوله‌جشن‌څخه‌پخواودرولې‌شوې ظاهرشاهی پارك ،دپغمان‌عمومي بڼ اودپروان مېنه‌رڼاکړی شول،-ربيره پرهغو دښاری‌سړکو دپاره ۱۱٥۰ مخصوص ګروپونه‌دزيمنس‌له‌کمپنۍ څخه‌پيرودلی شوی.دغه‌رنګه‌دمحمدجانخان واټ دلومړی‌برخې دبريښنا ۲۰ نوی‌ستنې‌هم‌له زيمنس‌څخه‌پيرودلی شوی‌دی .

ACKU

## په پنځم کال کښې

دښارمهم سړکونه رڼاکړی شرل او ددوهمې پروژی چارې بشپړی او دهغی در یمه پروژه ترکتنې‌لاندی ده .

## د سامانو او لوازمو چاری په لومړی ، دوهم اودریم کال کښې

دکابل‌ترافیك‌په‌عصری‌سامانواووسایلو مجهزشو اودښاری‌تنظیفاتو ځومخصوص موټرونه وپیرودل شول .

## په څلورم کال کښې

دضرورت وړسامانو دپیرودلو او واردولو دپاره‌دشوروی‌له‌نمایندګی سره یو تړون وشو چه لاندی سامانونه پکښې شامل دی :

پخپله دشیانوغورځونکی موټر ۱۴ عرادې افغانستان‌ته را رسیدلې‌دي .
سرویس موټر ۱۲ » » »
باز موټر ۱ » » »
د «هوا رولو دپاره» ګریدر ۱ » » »
بلدوزر ۲ » » »
د جارو اواوبو پاشلو ماشینونه ۳ » » »

د نقشی ایستلو سامانونه او لوازم دکانکریټو لږ زولوله یوه‌ماشین‌سره‌دهانمن له‌کمپنی څخه پیرودل شوی‌دی‌دغه راز دجنازی‌دوه موټرونه داندمارله‌کمپنی‌څخه پیرو دل شویدی‌چه د پلان په‌څلورم کال‌کښې‌کابل ته راورسیدل، سربیره پر هغه دپښتونستان واټ د میدان او دمبارك‌ارګ د ختیځی درو ازی دپاره‌منوره فواره دزیمنس له کمپنی څخه پیرودل‌شوی اوراوړل شوی ده .

## په پنځم کال کښې

دتنظیفاتو سامانونه‌لکه داوبوپاشلو اوجاروموټران او داوبو ایستلوسامانونه‌پیرودل‌شوی او دکابل د ترافیك ځینی نور مهم سامانونه برابر شول .

(پای)

# دهلمند دناوی دپراختیا چاری دلومړی پلان په پنځوکلونوکښې

## دسروی ګانو پروژی دپلان په لومړی اودوهم کال کښې

دهلمند پروژه دهغو لویو پروژو څخه ده چه د هغه ځای دخلکو دژوندانه دسویې لوړولو د پاره پری لاس پوري شوی دی او دهغی د اقتصادی انکشاف د اهمیت دلویو سیندو نو لکه هلمند ، ارغنداب اوپراخوځمکو دوجود له کبله دی . دا پروژه مختلف هد فو نه لری لکه دځمکودپاره کافی اوبه، دناقلینوددایمی استو ګنی وسایل، دکروندی ځمکی برابرول، داقتصادی انکشاف په غرض د محرکه قوي تولید، دصنایعو پراختیا اوتشویقول چه ټول یې په ترتیب سره تراجرالاندی نیول شوی دی اوپه راتلونکو کالو کښې نوموړی چاری تطبیق اوپرمختګ یې کیدی .

### په دریم کال کښې

هغه فنی سروی ګانی او څیړنی چه دهلمند دناوی اوار غنداب دکر هڼی او انجنیری دپروژودانکشاف دپاره دپلان په دریم کال کښې په فیصدی دول صورت موندلی په لاندی ډول دی:

دکرهڼی سروی ګانی دموریسن دکمپنی په ذریعه :

الف ــ دهغی خاوری سروی چه د موریسن دکمپنی په ذریعه صورت موند لی فیصد ی کاری یې په لاندی ډول دی :

۱)دترنك دسیمی سروی په سلو کښې( ۱۰۰ )دسروی لاندی ټوله سیمه نژدی «۱٤۷۸۲۰» جریبه د (٤٤۲٦۲) هکتارو معادل ځمکه .

۲)ددرویشان د سیمی سروی په سلو کښې( ۱۰۰ )دسروی لاندی ټوله سیمه نژدی ( ۱٤۷۸۲۰) جریبه د(۲۹۵٦٤)هکتارو معا دل ځمکه.

۳)دمر کزی ار غنداب دسیمی سروی په سلو کښې(۹۰ ) د سروی لاندی ټوله سیمه نژدی (۲٦٤٤٤۰)جریبه د(۵۲۸۸۸ )هکتارو معادل ځمکه .

٤)دشمالی ار غنداب دسیمی سروی په سلو کښې (۹۵) د سروی لاندی ټوله ر قبه نژدی (۱۳۵ ۳۵۰ ) جریبه د(۲۷۰۷۰ )هکتارومعادل ځمکه .

۵) دشمالان دسیمی سروی په سلو کښې( ۱۰۰ )دسروی لاندی ټوله رقبه نژدی (۱۳۲۰۰۰) جریبه د(۲٦٤۰۰) هکتارو معادل ځمکه .

ب: د ځمکی لاند ی داوبو اوزیم ویستلو سروی دموریسن دکمپنی په ذ ریعه :

۱ )دترنك دسیمی سروی په سلو کښې( ۱۰۰ ) بشپړه شوی ده .

ACKU

۲) دشمالی ار غنداب دسیمی‌سروی په سلو کښې (۷۵) بشپړه شوی ده.
۳) دشمالان دسیمی‌سروی‌په سلوکښې(۱۰۰)بشپړه شوی ده .
ج: دارغنداب‌دخړوبولو سروی‌چه دموریسن‌دکمپنۍ په ذریعه‌دپلان په دی‌کال کښی‌ئی صورت موند لی‌په سلو کښې (۱۰۰) بشپړه شوی ده .

«د کدسترل(ملکیتونودتصفیې)سروې»

د ملکیتونو دتصفیې چاری چه دهلمند دناوی دملکیتونو دتصفیې دریاست له خوا اداره کیږی اواجراآت‌ئی دهلمنددناوی‌دملکیتونودتثبیت اوتصفیې څخه‌عبارت‌دی‌اودمالیی‌دتحصیل اودخلکو ددعوو دپریکړو په غرض‌ئی ځمکی هم جریب کړی دی‌په دی‌کال‌کښی‌دجریبونو تثبیت اوتصفیه‌په لاندی ډول ده :

۱)دکتوزائی قریه‌دسنګین‌د علاقه داری مربوطه(۳۸۱۵)جریبه
۲)دبوستان‌زائی » » » (٦٤٠٤) »
۳) سنګین » » » (۹۸) »
٤)دخلج، خسرآباد اوسرخدوزقریبی دناوی دعلاقداری مربوطی(۱۱۲۱۹) جریبه
٥)دګرشك داعلی‌حکومت مرکز (٦٠٠) »
٦)دګرمسیر سیمه (٦٦٨۳) »
۷)دنهرسراج‌سیمه (۹۲۲۱) »
۸)دشمالان‌سیمه (۹۳) »

دهایدرولوژی سروی ګانی : دهلمند دناوی‌دهاید رولوژی دځانګی‌په‌ذریعه‌ها یدرلوژی سروی ګانی چه په دی کال کښی‌شوی‌اولا ادامه لری د هلمند دناوی‌دهاید رولوژی‌ځانګی خیلی‌هایدرولوژی ګانی چه داوبودا ندازی اخستلو،داوبو دریکاردونو ترتیب او دستیشنو نو دترمیمولو څخه عبارت دی په لاندی ځایونو کښی یی پر له پسی ترسره کړی دی :
د د هرا و د ستیشن د هلمند د سیند دپاسه ، د تیر ین ستیشن د هلمند دسیند دپاسه ، د کجکی دبند کاسه ، دارغنداب د ذ خیری بند ، د کجکی کوزستیشن د هلمند دسیند‌دپاسه،دسراج‌کانال‌اودبغراکانال‌دګرشك‌د پاسه، ددرویشان ستیشن دهلمنددپاسه ، دچار بر جك ستیشن د هلمند په سیند ، دارغنداب ستیشن د ارغند ا ب د بند څخه بر، دارغنداب دبند څخه ښکته ستیشن ، دارغستان ستیشن دارغستان پرسیند . دبست دکلاستیشن دارغنداب په سیند ، دخاشرود په سیند، دفراه ستیشن دفراه‌په سیند،دظاهر شا هی و یا لی ستیشن په قند هارکښی، دترنك کانال ، دبغرا اوشمالان یو شمیر ورخونه ، دمترو لوژی دریکاردونو ترتیب اوراټولونه. دچخانسور،کنګ‌کلا، لشکرګاه اوددایزنګی‌پنجاب.

په څلورم کال کښی

دکدسترل (ملکیتونو تصفیې) سروی‌ګانی :

دملکیتونو دتصفیې‌چاری‌دهلمنددناوی دملکیتونودتصفیې‌دریاست په ذریعه چه و ظیفه ئی

دهلمنداوارغنداب‌دسیمو دملکیتونو تثبیت‌او تصفیه ، دمالیی دتحصیل په‌غرض دځمکو جریبول اودخلکو ددعوو پریکړه ده اجرا آ تئی په لاند ې ډ ول دی :

۱) د نهرسرکار قریه دگرشك داعلی حکومت مربوط ۲۳٦ ۱۵ـ جریبه
۲)دبابا جی‌قریه دگر شك داعلی حکو مت مربو ط ۱۰٦۸ ـ جر یبه
۳)د مالگیر قر یه د گرشك د اعلی حکومت مربو ط ٥٦ ـ جر یبه
چه ټوله ۱٦۳٦۰ ـ جریبه کیږی

هایدرولوژی سروی‌گانی:

دهلمند دناوی دهایدرولوژی خانگه تل په مختلفو ستیشنو نوکښی‌داوبو په‌اندازه لگولو



د«فراه‌رود»دسیند پل‌چه‌دهلمند دناوی‌دپراختیادلوی ریاست‌له‌خوا جوړشویدی

اوریکار دونو په‌ترتیبولو بوخته ده، برسیره پردې‌ئی په‌ستیشنونو کښی‌پرله پسی‌ترمیمونه هم کړی دی چه فعالیتو نه‌یې‌په‌لاندی مختلفو ستیشنونو کښی عملی کیږی :

۱: دهلمند د سیند د پاسه :
الف : دد هراو د ستیشن
ب : دتیرین ستیشن
ج : دکجکی دبندذخیره
د : دکجکی بندنه کوزستیشن
ه : دسراج کانال
و : دبغرا کانال‌دگرشك پا سه
ز : ددرویشان ستیشن
ح :دچار برجك ستیشن
ط : دخرخ دشیلی ستیشن
۲: دارغنداب د سیند د پا سه

الف : دارغنداب دبند ذخیره
ب : دارغنداب دبند نه پورته ستیشن
ج :دارغنداب‌دبندنه‌کوز-تېشن
د: دبست دکلا ستیشن‌دارغنداب په سیند
۳-دارغستان په سیند ستیشن
٤- ددلارام ستیشن دخاشرود په سیند
٥- دفراه‌ستیشن دفراه په سیند
٦-په‌قندهار کښې دظاهر شاهی ویالی ستیشن
۷- په‌قندهارکښې دترنک دکانال ستیشن
۸- دبغرا دشمالان یو شمیر ورخونه
۹- دمترولوژی د ریکاردونوراټولول او ترتیبول:
۱۰-دچخانسور دکنک‌کلا ، لشکرگاه ، اودایزنګی‌پنجاب

دپورتنیو ستیشنونو داندازی لګولونه پرته‌چه دځینو تخنیکی‌معاذیرو له‌امله‌خراب‌شوی اوکارنه ورکوی دهایدرولوژی دمؤظفوکسانوپه‌ذریعه وړځایونوته‌په‌مجهزو‌تخنیکی ترتیباتو وړل‌کیږی اوجوړیږی پەدی شپږو میاشتو کښی چه دارغنداب پەستیشن کښی ځینی نیمګړ تیاوی لیدل کیدی بلوړ ځای ته‌نقل شو .

## په‌پنځم کال کښی

څرنګه‌چه‌د هلمند دناوی دځینو پروژوسروی ترغور اومطالعی لاندی وه‌نو ځکه‌ددغسی پروژو د تکمیلیدلو اوددولت دموافقی سره‌سم‌دهغوی چاری‌دپلان په‌پنځم کال کښی شروع شوی،په‌ممدغه‌اساس په۳۹ـ٤٠ کال‌کښی یوه‌اندازه‌پیسی دناتصنیف شووپه‌نامه‌دافغانی‌د-ګتاه ریاست ته‌داحتیاط په‌دول پیشبینی شوی وه چه‌دهغو نه دضرورت په وخت‌کښی استفاده شوی ده .

## دسړکونو اوپلونو چ ری دپلان‌په‌لومړی او دوهم کا ل کښی

دچاه انجنیر، مارجی، لشکرګاه، نادعلی، شما لان‌اوګرشك ترمنځ دسرکونوترمیم او دهوارولو چاری ترپروژی لاندی‌نیول‌شویدی اوهیلہ کیږی چه‌دراتلونکوکلونو په‌موده‌کښی دهغوی‌کارونه اجرا اوبشپړشی .

## په‌دریم کال کښی

دچاه انجنیر،مارجی، شمالان‌اولشکرګاه ترمنځ دسرکونو ترمیم دافغانی‌دستګاه‌په‌ذریعه دوام‌لری اودپروژی په‌داخل‌کښی د۳٥٠ کیلومترو په‌اوږدوالی سرکونه هوا راوترمیم‌شوی دی ،برسیره‌پردی دچاه انجنیر اوهرات ترمنځ د٥٠٠ کیلومترو په داوږدوالی سرك وخت په‌وخت د وړلو راوړلو دآ-انتیا دپاره ترمیم اواصلاح شوی‌دی .

## پلونه

دجیجی‌د راى پل په سلو کښې سل شپږ شوی‌دی .

دشین‌ډنډ پل‌په‌سلو کښې سل‌تمام شوی‌دی .

دپښتون پل کار لزوماً ځنډول شوی او‌سامان ئی دهاشمی پله د جوړ ولو دپاره هرات ته وړل شوی‌دی .

د هاشمی پل مقدماتی چاری سر ته رسیدلی دی .

## په څلورم کال کښې

دافغانی دستگاه په ذریعه دچاه انجنیر ،مارجی، لشکرگاه ، نادعلی او گرشك ترمنځ دسر کونو دهواریدو ،ترمیمیدو، گریداکیدونه‌برسیره دچاه انجنیر او‌هرات تر منځ «۵۰۰» کیلومتره سړك وخت په‌وخت دسامان دراوړلو دآسانتیا دپاره ترمیم شویدی ،د لشکرگاه، مارجی اوگرشك دډیزلی‌برېښنا دجریان اوداوبو رسولو دسیستم‌خارنه اوساتنه اودلوی‌ریاست دمختلفو څانگو نورفرمایشونه دافغانی‌دستگاه په‌ذریعه اجرا کیږی ، برسیره پردی کومی چاری چه‌افغانی‌دستگاه په‌دې‌موده کښې په‌لشکرگاه کښې سرته‌رسولی په‌لاندی‌ډول دی :



په هرات کښې «هاشمی پل»چه دهلمند دناوی دپراختیا دلوی ریاست له خوانوی جوړ اوپکارلویدلی‌دی

۱ـ دلشکرگاه دښار کوڅه بندی‌د«۲٤٥۰»متروپه اوږدوالی اود«۱٦» مترو په پلنوالی دانجنیری اوساختمانی دټولوچارو‌سره په‌داسی‌ډول چه‌دانجنیری ټول مشخصات د کانکویټی یاقیر سړك دپاره مراعات شویدی سرته‌رسیدلی ده .

۲ـ یوگلدان د«۱۸۰۰» متروپه‌اوږ دوالی اود«٥» مترو په‌پلنوالی دیوی مرکزی جادی په‌منځ کښې جوړ شویدی .

۳ـ دوه‌پارکونه هوار اوتهیه شویدي .

٤ـ یوژورپخوانی کانال چه‌دلښکرگاه دښار په‌منځ کښې پروت و دځونور و کندو سره ددی دستگاه په‌ذریعه ډك‌شویدی چه‌پدي کښی «۳۵۰۰۰» متره مکعبه‌خاوره‌اچول‌شوي ده ،دا خاوره‌دلښکرگاه دخواوشا سیمو اوغونډیوڅخه‌ددستگاه دماشینونو په‌ذریعه‌راوړل شو یده .

دافغانی‌دستگاه‌ریاست برسیره‌په پورتنیو فعالیتونوچه‌په‌لښکرگاه کښی‌یی کړی‌دی دهاشمی پله دجنوب څخه، یوسړك دغوریانو خواته‌د «۱۷۰۰»متره په‌اوږدوالی دلگړو اوغونډیوپه‌منځ ایستلی‌دی چه اتلس واړه پلونه لری اوپه‌ټولوکښې «۹۵» بشپړ شویدی .

هاشمی پل :

داپل‌د (۲۹۷ر۷٤) متروپه‌اوږدوالی اود(٦ر٤۰) متروپه‌پلنوالی‌په(٤۰) وایواو (۱۲۳) پایو ودان شوی‌دی .

ددې‌پله‌کار‌دکاریگرو دنشتوالی له‌کبله څنډیدلی‌خوو‌په‌دی‌شپږو میاشتوکښې‌یی بیا کار شروع اوپه‌سلوکښی ۷۵ بشپړ شوی‌دی ، دهاشمی‌پله په‌رته‌افغانی دستگاه یوځوړندپل دشبرغان په‌لگړه دچاه‌انجنیرد کمپ جنوب‌ته د(۱۲۰)متروپه‌اوږدوالی اود(۱ر۲۲) متروپه سورد کار گرو دتلوراتلو دپاره ساز کړیدي. په‌همدی‌ډول‌ئی دشمالان‌په‌سیمه‌کښې «۱۱ر٦۰»متره او ږو «٦۰» سانتی‌پلن دپلیو دپاره‌ئی یوکانکریټی پل جوړ کړیدی .

## په‌پنځم کال کښی

دلښکرگاه پخوانی پل د«۸۵» متر په‌اوږدوالی او٤ر٥ متروپه‌سوردلشکر گاه‌دښاردښت دتیږې‌ایښودلو له‌شروع څخه مخکښی‌دچارو د آسانتیا لپاره په‌موقتی ډول جوړ شو ی ومگر اوس دترافیکی‌تګ‌اوراتګ‌لپاره‌مساعددي اوهم‌دارنګه‌نوموړي پل هرکال دسیلابونو په اثر صدمه وینی نویوعصری پل چه‌پیاده رو هم‌لری دلښکرگاه په‌نوی‌ښار کښی‌جوړ شویدی .

## دبرېښنا چاری‌دپلان په‌لومړی‌اودوهم کال کښې

دگرشك‌دبریښنا فابریکه اودقندهار دډیزلی برق د۵۰۰ کیلو واټو د دوو جنریټرو نو چارې تر پروژی لاندی نیول شوی او مقدماتی کارونه یی هم‌تهیه شوی دی .

## په دریم کال کښی

دبریښنا کوټونه

دگرشك دبریښنا: دگرشك‌دبریښناکارخانه اودهلمند دسیمې لین غځول سرته‌رسیدلی‌دي. دبریښنادکارخانی‌دوداني‌ددووجنریټرونواوتوربینونودرولوکارچه‌هریویې(۱۵۰۰)کیلواټه‌قوه لري بشپړ شوي‌دی‌اودگرشك دبریشنا دفابریکی څخه‌لین غځول هم‌دگرشك دښار،چاه‌انجیر ، نادعلی ، مارجې اولښکر گاه پورې سرته‌رسیدلی‌دی خود بغرا دویالی دبرنۍ حصی دترمیم په‌نسبت چه‌دبریښنادفابریکی دپاره‌اوبه‌تهیه کوی دبریښناتولیدات‌معطل‌دي‌اوتراوسه دنوموړی حصی‌ترمیم په‌سلوکښې ۳۰ سرته‌رسیدلی‌اودهغی مرمت کاری د لاندی چارو څخه عبارت د ی

الف: دڅلوروکیلو مترو په‌اوږدوالی دکانال داړ خونواستر کاری او ترمیم‌دبغرادبند څخه دبریښنا ترکار خانی پوری.

ACKU

ب: د سربند څخه تر کارخانې پورې د بغرا په دواړو خواو کښې د جرونو ا یستل .
ج: د اوبو رسولو د پاره د بغرا په کوزه برخه کښې موقتي کانال ایستل .

## دقندهار ډیزلي برېښنا (دموریسن د کمپنۍ په ذریعه)

دا کار چه د برېښنا کوټو جوړولو او ددوه پنځه سوه کیلواټو ډیزلي جنریټرونو درولو اود قندهار د ښار دلین غځولو څخه عبارت دي بشپړ شوي دي .

داسې پیشن به دارغنداب د برېښنا د تکمیل نه وروسته دارغنداب د برق د برېښنا کوټ او احتیاطي دستګاه په حیث کارولې شي ـ د دالرو مصرفي د (آی،سی،ای) له خوا اود افغانیو مصرف ئې د هلمند د ناوي له خوا ورکړل شوي دي .

د لشکرګاه ـ مارجي او ګرشك د ډیزلي برېښنا د جریان مراقبت او ساتل او د لشکرګاه او مارجي د اوبو رسولو سیستم او نور فرمایشونه د هلمند د ناوي د لوی ریاست د بیلو بیلو څانګو له خوا د افغاني دستګاه په ذریعه عملي کیږي .

## په څلورم کال کښې

دګرشك برېښنا: د ګرشك د برېښنا تولیدولو کارخانه پخوا بشپړه شوې ده خود بغرا د ویالې د سربند څخه د برېښنا تر بنده پورې دا ړخونو د ترمیم له کبله ور څخه استفاده نه شوه کیدلې ، دغه ترمیم په سلو کښې ۹۰ بشپړ او کارخانه د لاربښوونې مرحلې تیروي.

## دخړوبولو اوزیم ایستلو ساختمانونه د پلان په لومړي اودوهم کال کښې

دارغنداب ، ترنك، شمالان، درویشان او دهزارجفت دویالې ـ ربند د سیمو خړوبولو او ساختماني کار د فرعي کانالونو سره یې تر پروژې لاندې نیول شوي دي .

## په دریم کال کښې

دخړوبولو او زیم ایستلو ساختمانونه (دموریسن د کمپنۍ په ذریعه):

دشمالي ارغنداب د سیمې د اوبو د کنټرول ساختماني چارې چه د پنځو کانکریټي ساختمانونو سره د فولادي دروازو د لاهور، مناری، ناګهان سنزري، او د حصار تنګي د ویالو د ونولو څخه عبارت دي په سلو کښې سل سرته رسید لې دي.

دکانال او فرعي کانالونو د جرونو کیندلو چارې او نور ساختمانونه چه په دې موده کښې د ترنك په سیمه کښې په سلو کښې ۸ر۹۹ سرته رسیدلې او په لاندې ډول دي :

۱) د ترنك د کانال دشمالي سیمې کیندل یوولس کیلومتره سره د پنځلس کانکریټي او فولادي ساختمانونو، د اوبو د اوچتولو او کنټرولولو په غرض په مختلفو بعدونو .

۲) د ۹ کیلو مترو لویو فرعي کانال کیندل سره د اته کانکریټي او فولادي ساختمانونو د اوبو اوچتولو او کنټرولولو د پاره.

۳) دڅ ورو جرونو کیندل لس کیلومتره .

٤) سیندته د یو کیلومتر یار چاو کیندل سره ددوو کانکریټي ساختمانونو د اوبو د کنټرول د پاره .

۵)د۱۸ کانکریتی اوفولادی ور خونو تکمیل‌دلو یو فر عی کانالونو په اوږد و کښې .
۶)د۱۷ کانکریتی ساختمانونو تکمیل دسر ك دلاندی څخه داوبو تیرولو د پار ه .
۷) د کانالونو اوجرونو په خواو کښې دسرکو نو تکمیل .
دتر نك‌سیمی دخړوبو لواوزیم‌ایستلو دانکشاف پلان اودیز این بشپړ شوی د ی .
ددرویشان دسیمی دعمده خړوبولو او زیم ایستلو دانکشاف چاری‌په‌سلوکښې سل‌بشپړ ی شوی‌دی چه تفصیل ئی دادی :
۱)دلوی کانال کینل په یوه ثانیه‌کښې دیوزرمکعب‌فوټه ظرفیت‌په‌اندازه‌او۶۰ر۵۰ کیلو متروپه‌اوږد‌والی .
۲)د۲۲ کانکریتی اوفولاد ی‌ساختما نونوتکمیل،داوبوداوچتولو اوکنترولولودپاره دلوی کانال په او ږدو کښې په مختلفو بعد ونو .
۳)په مختلفو ظرفونو د۳۱ لښتیو کانکریتی‌اوفولادی ورخونو د ساختمان تکمیل داوی کانال څخه‌دکرهڼی‌د پاره .
٤) ددر ی‌کانکریتی‌او فولادی پارچاونو دساختمان تکمیل په لوی کا نال کښې .
۵) د۱۲ کانکریتی ساختمانو نو تکمیل دلوی‌کانال لاندی داوبو تیرولو دپاره .
٦)د ۱۷ کیلو مترو لوی فرعی‌کانال کینل سره‌د۱۸ کانکریتی اوفولاد ی‌ساختمانونو ، داوبو اوچتولو اوکنترولولواودغولویوفرعی‌کانالونودپاسه‌داوبو تیرولودپاره‌او۱۰۵ کانکریتی اوفولادی‌ورخونه دلویو فرعی‌کانالونو څخه دزراعت دپاره .
۷)سل‌کیلومتره فرعی کانال کینل سره دشل کانکریتی‌اوفولادی ساختمانو نو .
۸) د۵ر۳ کیلو مترو پارچاو اولوی کانال کینل.
۹) دژوروجرونو کینل ۷۱ کیلو متره اودسل‌کانکریتی‌اوفولادی ساختمانو نو جوړول دجرونو په‌اوږدو کښې دورخونو اواوبو تیرولو اونورو چارو په غرض .
۱۰)دلوی‌کانال‌اوویالو اوجرونوپه‌اوږخونو کښې د سرکونو ایستل .
دهزارجفت‌دویالی‌بند اودهزارجفت دویالی اصلا حات په‌سلوکښې سل بشپړ شوی دی.

دځمکو هوارول او پرا خول دافغانی دستگاه په ذریعه

د شمالان سیمه :دشمالان دځمکوهوارولو او پراخولو کارچه دافغانی دستگا ه‌په ذ ریعه تراجرا لاند ی نیول شوی په لاند ی ډول دی :
۱)دشمالان د سیمی دخا وری اودځمکی لاندی اوبو سروی .
۲)هواره شوی ځمکه (۷ ۳۲۵) جریبه.
۳) ماله شو ي ځمکه(۲۸۳۱)جریبه.
٤)د۱۰ ۱کیلو مترولښتیوکینل .
۵)د۲۹کیلو مترو فرعی‌ویالو کینل .
٦) د۵ ۱۰کیلومترو سرسری جرونو کینل .

ACKU

۷) د۵۸ کانکریټي او فولادي ساختمانو نو تکمیل داو بو اوچتولو او کنترولولو دپاره دویالو اولښتیو په اوږدو کښې.

۸) د۳۰۰ کانکریټي او فولادي ورخونو تکمیل دکرهنې دویالو دپاره اود۳۱۵ مترو په اوږدوالي دکانکریټي اود۷۲ مترو په اوږدوالي دفولادي بلولونو ایښودل.

۹) برسیره پر پخوانیو څاګانو دلشکرګاه داو بو رسولو دسیستم دپاره ددوو ژورو څاه ګانو کیندل.

## ساتل او مراقبت

دبندنو سربندونو، کانالو، جرونو او نورو ساختمانونو ساتل او مراقبت چه دهلمند دناوې دحفظ او مراقبت دڅانګې په ذریعه اجرا شوي دی دلاندې پروژو دساختمانونو دمراقبت او ترمیم څخه عبارت دی.

۱) دکجکي بند دکمپ او ملحقاتو سره یې اوویرهاوس، تونل اودبند مربوط سرکونه.

۲) دارغنداب بند دکمپ او ملحقاتو سره یې اوویر هاس اودبند مربوط سرکونه.

۳) دبغرا داوبو ګرځو لوسربند، پارچاو اودروازې ئې.

٤) دبغرا کانال په یوه ثانیه کښې د(۲۸۰۰) مکعبو فټو په ظرفیت د۵-۷ کیلو مترو په اوږدوالي، دشرقي مارجې په سیمه کښې ۱۹ کیلومتره ساختمانونه دکانال په اږدوکښې اودهغوی په بنا څونوکښې.

۵) دشمالان کانال د٦٦ کیلومترو په اوږدوالي په یوه ثانیه کښې د(۷۵۰) مکعبو فټو په ظرفیت اوهغه ساختمانونه چه دکانال په اوږدوکښې پراته دي.

٦) دقندهار ظاهر شاهي ویاله د(٤۳) کیلومترو په اوږدوالي په یوه ثانیه کښې د (۱۵۰۰) مکعبو فټو په ظرفیت او هغه ساختمانونه چه دکانال په اوږدوکښې پراته دي.

۷) ددرویشان سربندسره ددروازوئې.

۸) ددرویشان کانال په یوه ثانیه د(۱۰۰۰) مکعبو فټو په ظرفیت د۵۰ څخه تر۰٦ کیلو مترو په اوږدوالي دفرعي کانالونو پارچاو اونوروسره.

۹) دهزار جفت سربند.

۱۰) دمارجې په سیمه کښې ژور جرونه ـل کیلو متره، دشمالان په سیمه کښې ۸۸ کیلومتره، دناد علي په سیمه کښې ۱۸۰ کیلو متره اوددرویشان په سیمه کښې ۷۱ کیلومتره.

۱۱) دشمالي ارغنداب په سیمه کښې پنځه کنترولي ساختمانونه.

## په څلورم کال کښې

دشمالان په سیمه کښې دځمکو پراخولو او هـوارولو ادامه لرله او هغه کارونه چه دپلان دڅلورم کال په اولو شپږو میاشتو کښې سرته رسیدلي په دې ډول دي.

۱) هواره شوې ځمکه ۲۰٦۲ جریبه

۲) دفرعي کانالو کیندل په یوه ثانیه کښې دسلو مکعبو فټو په ظرفیت ۸۷،۰ز٦ کیلو متر ه

۳) دکـروندې دویالو کیندل ۳۳،۰ر۲۰ ه

| | | |
|---|---|---|
| ٤) دسطحی جرو نو کینل | ۲۲٫۰٤۷ | کیلومتره |
| ٥) دژورو لوی‌جرونو کینل | ٥٫٤۱۲ | « |
| ٦) کانکریټی پار چاوونه او کنترو لران | ۲۰ | دانی |
| ۷) کانکریټی ورخونه | ۲٥ | « |
| ۸) دکانکریټی بلولونوا پښودل | ۳۱٥٫۸٦ | متره |
| ۹) دکار په سیمه کښې دنورو سړ کونو ایستل | ۷ | کیلومتره |
| ۱۰) دکانکریت ریز ی حجم | ٦۸٫٦۲ | مکعبه‌متره |

ساتنه او ثار نه

دبندونو ، سربندونو، کانالونو جرونواو نورو ساختمانو نو ساتنه او ثا ر نه د هلمند دناوی‌دساتنی‌اوثارنی‌دڅانگی له خوا اجرا کیږی. ددی څانگی چاری‌چه په‌دایمی‌ډول اجرا کوی دلاندی‌ساختمانو نو او پروژودترمیم اوثارنی څخه عبارت دي:

۱ـدکجکی بندد کمپ اوملحقاتو سره یې، دبند مربوطه وایر هاوس، تونل او سړک.

۲ـدارغنداب بند دکمپ اوملحقاتو سره‌یی ،دبند مربوطه ویر هاوس، تونل اوسړک .

۳ـدبغرا داوبو گرځولوسربند اوپرچاوی او دروازې یې.

٤ـدبغراکانال په یوه ثانیه کښې د«۲۸۰۰» مکعبو فټوپه ظرفیت او «۷٥» کیلو مترو اوږدوالی دشرقی مارجی۱۹ کیلو متره‌شاخی د«۷۱» کیلومترو په‌اوږدوالی«۱۳»ساختمانونه چه‌دکانال په‌اوږدوالی اوپه‌مربوطو شاخو واقع دي.

٥دشمالان‌کانال د«٦٦» کیلومترو په‌اوږدوالی اوپه‌یوه ثانیه کښې د«۷٥» مکعبو فټوپه ظرفیت اوهغه ساختمانونه چه‌دکانال په اوږدو کښې پرا ته دی.

٦ـدقندهار ظاهرشاهی ویاله د«٤۳ »مترو په اوږدوالی په یوه ثا نیه کښې د «۱٥۰۰» مکعبو فټو په ظرفیت اوهغه ساختمانونه چه دکانال په طول کښې پراته دی.

۷ـددرویشان سربنددروازواونورو سره یې.

۸ـددرویشان کانال په یوه‌ثانیه کښې‌د«۱۰۰۰»مکعبو فټو په ظرفیت«٥۰»کیلو متره اوږدوالی فرعی کانالونه اوپرچاوې‌اونوریې.

۹ـدهزارجفت دویالی سربند.

۱۰ـدشمالان په سیمه کښې سل کیلو متره، دنادعلی اومارجی په سیموکښې یو سلواتیا کیلومتره اویوکیلو متردرویشان په‌سیمه کښې ژور جرونه.

۱۱ـپنځه کنترولی ساختمانونه دارغنداب په سیمه‌کښې.

ترکومه‌ځایه چه‌دځلورم‌کال‌په وروستیو شپږو میاشتوکښې دفعالیت احصاییه‌لاس‌ته راغلی په‌لاندې ډول ده :

۱ـدکجکی په بندکښې، دارغنداب په بند کښې، دشمالان‌اوبغرا په ویالو کښې دډیرو کارچه دساتنی اوثارنې دڅانگی دعرادو اوکارگرو په‌ذریعه تهیه او کارولی شوې دي ۳٥۰۹مکعبه متره .

ACKU

۲ ـ دلگړو اوویالو ډکول په جمله اوشګو ۲۳۷۸۶ مکعبه متره .
۳ـ دسرکو نواصلاح اوجغله اچول ۵۲ کیلو متره .
٤ ـ دکرهنی اوګلانو دپا ره د ځمکیودا نول۱۵ جریبه .
٥ ـ دودا نیو اخیږ ۷۲۱۵ مربع متره .
٦ـ دکرهنی د ځمکی دپا ره د بنی خاوری تهیه کول «۷۲۱۵» مر بع متره .
۷ـ دکانالو نوځخه د خړوایستل ٦۲٤٤۹ مکعبه متره .
۸ ـ دویالو دمنځ څخه دلوخو اودور موریبل اوپاکول «٤۰۰۰» مر بع متر .
۹ـ د ډ برو ذ خیره «۳۳۰» مکعبه متره .
۱۰ـ دمیوه لرونکو او بی میوی نیالګیو کښینول«۱۱۵۵۰»دانی.
۱۱ ـ دبرېښنادلین غځول اودستنو درول یې«۱۱۲۰»متره.

## په پنځم کال کښې

دتر نك دکانال پروژه پخوا دموریسن دکمپنیپه واسطه شروع شوېوه چه دهغیدکاریوه زیاته بر خه پا ی ته رسیدلی اویوه لبزه برخه یې نا تکمیله پاتی وه چه ددغی پاتی برخی کار دافغانی دستګاه په واسطه سرته رسیدلی دي.

دسراج ویاله :دځمکو هغه برخه چه اوس تردی ویالی لاندی واقع ده په کافی ډول نه خړو بیږی نو دسراج دویالی په باره کښې لا ز م اصلا حات شوي دي چه ددغو ا صلاحاتو نه مر اد دویالی پراخول اوترمیمول اوداوبو دراګرځولـو یو بندول چه ددي بند پـه و ا سطه دموجوده ځمکو نه علاوه یوه اندازه نوري شاړي ځمکي هم تراوبو لاندي نیول شو ي دی .

سره ددي چه دبغرا دویالي ساختمان بشپړ شوي خو بیا هم یو ه بر خه یې چه د ۳۹ کیلومترو په اوږدوالی تخمینیږي په کچ لرونکو او نامساعدو ځمکو کښې واقع شوې او دویالی په دواړو خواوکښې یې کندې کپری پیداکړي نوځکه دنوموړي ویالی نه دا نقصونه لهمنځه وړل شویدي .

دځمکو انکشاف :په هغه وخت کښې چه شاړي ځـکی تر او بو لاندې کیږ ي د هغوي طبیعی ساختمان دکښت او کر لپاره چمتو نه وي نودهغو ځمکو داړولو او دفر عی لښتـیو اوجرونو ایستلو تهضرورت دی په همدغه اساس دپلان په پنځم کال کښې دمارجیاوشمالانو په سیمو کښې پورتنې اجرآت عملیاوبشپړ شوي دی.

دجرونو ایستل :دهلمند دناوې دمربوطو پروژو عمومی جرونه تقریباً پای ته رسید لی مګر دپروژی په داخلو ځمکو کښې نورو فرعی جرونوته اړ تیاشته چه پههمدغه اساس دنادعلی اومارجی په سیمو کښې سل کیلومتره جرونه په لاس کیندل شویدی. ددا سی جړونوایستل په نورو سیمو کښې لکه درویشان او شما لا ن کښې هم په نظر کښې د ی . ا لبته د هغو ایستل دځمکی دتل داوبو په مواردو کښې ډیر لوړ تاثیر لري.د هلمند دمـر بو طو پـروژو دساختمان په وخت کښې دپروژی په داخل کښې یو شمیر سرکونه هم جوړشوی دی .

## د کرهڼی چاری دپلان په لومړی او دوهم کال کښی

د هلمند په سیمه کښی د نورو چارو په لړ کښی د کرهڼی د چارو پراختیا هــم پــه عمومی پروژې کښی د اخله کړل شوه چه د هغی مهمې برخی په راتلونکو کلو نو کښی تر اجرا لاندی نیول کیږی .

### په دریم کال کښې

دهلمند او ارغنداب د ریاست دکرهڼی ټولی پروژی د زراعتی معاونیت له خوا اداره کیږی. دمارجی، نادعلی، شمالان ، درویشان، لشکرگاه او گرشک د سیمو د کرهڼی او سنی فعالیتونه د زراعتی معاونیت د مختلفو څانگو په واسطه د پیشرفت په حــال کښی دی. هغه ځمکی چه د افغانی دستگاه په ذریعه هــواریږی ز ر ا عتی معــا و نیت تــه سپــارلی او د کرهڼی لاندی نیول کیږې، هغه ناقلین چه د ناقلیت مقرراتیی پــور ه کــړ ی وې پهدی ځمکو کښی اوسول کیږي، هغهځمکی چه لاتراوسهویشل شوی‌نه دی پخپله د زرا عتی معاونیت‌له خوایی سرپرستی کیږی،دهغو فعالیتونو اواجراآتوتفصیل چه د زراعتی معاو نیت دمربوطوڅانگو له خوا د کرهڼی د پیشرفت د پاره کیږی پــه لاندی ډول د ی :

د ناقلینو اوسول : وروستهله هغهچه دناقلیت ټول قانونی مراحل خلاص شی دنا قلینو شعبه د پروژی داخل ځمکه هغوی ته دخپلی املاکو د څانگی په واسطهویشی. د ا نکشافی پلان په دریم کال کښی ٤٧ نوی کو رنۍ د پروژې په سیمه کښی د ننه اوسول شــو ې او ځمکه پری ویشــل شــوی ده ، دناقلینو راتلل او د اصولی مقرراتو تکمیلول لاتراوسه ادامه لری او نوی کــلی د ودانــولو لاندی نیول شویدی چه د ناقلینو د پاره د استو گنی ځایونه برابرهشی ، داوسنیو ناقلینو د پاره د نویو ودانیو له جملی څخه « ۷۰ » و دانۍ پوشل شوی او «۲۰» ودانۍیی بشپړی شوی دی،هغه ځمکی چه د زراعتی معاونیت له خوا کــرل شوی وی که پخوا د حاصل اخستلو څخه ناقل راشی ځمکه پرې ویشل‌کیږ ی او که نه نو د دی ځمکی عایدات د ناقلینو دتعلیمات نامی پهاساس‌دنواقلوپه تقاوی او د ناقلینو په نوروچارو لگیږی .

د تجربو فارمونه د هلمند د ناوی ریاست په تجربوی فارم کښی خپلو فنی تجربوته چه د یو پروگرام په صورت پیشبینی شویدی دوام ورکوی.پرغلو ، شکری والا نبا تاتو ، د غوړو والا نباتاتو د ښو او میوو مناسبو قسمونو چه د هلمند د ناو ی د اقلیم او خاوری د شرایطو سره مناسبدی تجربی روانی دی، د هغو تجربو چه د ۳۷ کال د منی په فصل کښی پری لاس پوری شوی و مفصل او درست ریکاردونه یی اخستل شو ې او داحصاییوی تجربــوله کبله دوایمنگ تیم ته سپار ل شوی دی چه ژر بهئی تجزیه شوی نتیجی خپر ې شی. باید داوویل شی چه نومړی معلومات به وروسته پــه ساده ډول د زر اعتی‌لارښوونــی دڅانگی‌په دسترس کښی‌کښېښودل‌شی چه محلی بزگران د نوهو ډو تجربو د نتیجو دمزایاو څخه ښې گټې واخلی بې له دینه چه د مشکلانو سره مخامخ شی .

هغه نباتاتچه ترټولو ړومبیدتجربی لاندی نیول شوی دی د ( ٥٦ ) قسمو نو پ ه اندازه داخلی او خارجی غنم ( ۱٥ ) قسمونهوربشی ( ۸ ) قسمه لبلبو ( ٦ ) قسمه پنبه (٤) قسمه ارهنده (۱۱) قسمه سایبین ( دا نباتِ زیات دتیلوایستلو د پاره پکارولی شی ) (۱۱) قسمه وابنه او ٤ قسمه میوی دی چه د ځینو نتیجی لاس ته ر اغلی او دا ښرگنده شوی ده چه د حاصل له مخی څه د کیفیت په لحاظ او څه د کمیت کوم قسم ئی غوره‌دی. همدارنگه دځمکنیو تو تانو ، دمڼو ، تاکونو او شفتالو ښیږنیاو تجربی ادامه لری .

د هلمند د ناوی ښوره ناکی ځمکی د چونی نایتروجن لرونکی سری او فا سفورس لرونکی سری او د څارویودسری پهاستعال دتجربی لاندی نیول شوید ی چه د ا ځمکی اصلاح شی او هغه حاصل چه ورڅخه په نظر کښی دی واخستل شی، په هغو ځمکو کښی چهدفاسفورس سره دچونی سره یو ځای استعمال شویده نتیجهئی د ډادوړ ده اودښوره ناکو ځمکو د اصلاح کیدو زیری ورکوی. لکهڅنگه چه د هلمند د ناو ی تجربوی فارم پهفعالیت بوخت او د نباتاتو په تجربه لگیا دی بل فارم د تخمونو د ډیروالی اوښه وا لی لپارهموجود دی، د ښو تخمونو د زیاتوالی د پاره چه په تجربوی فارم کښی تثبیت شی فعالیت کوی چه د خارج څخه د تخمو راوړلو نه بی نیا زه شو . د ځمکی لاند ی اوبو د سطح په باره کښی چه د کال په کوم وخت کښی پورته یا ښکته کیږی یولړ تجربیلاس ته راغلی چه د جرونو په ایستلو او د مالگی د مینځلو د پا ره ورڅخه استفاده وشی .

د کرهڼیلارښوونه:

د هلمند د ناوی کر هڼیلار ښوونکی آمریت په نادعلی، مارجه ، شمالان او درویشان کښی د پراختیا په چارو بوخت دې او پنځوس کسه د (٦) ټولگی فارغ التحصیلا ن ئی چه روزلیئیوو اوسئی دکرهڼی د لارښوونکو په حیث دناقلینو په کلیو کښی مو ظف کړ ی دی چه د کرهڼی د لارښوونکی آمریت هدایات په خلکو عملی او دکرهڼی په چار و کښی ورته لارښوونه او مرستهوکړ ی، همداوجه ده چه خلك په پوره انداز دنویو باغو جوړ ولو تهتشویقشویدی،یوه اندازه امریکائی چرگان دهغو دنسل رواجولود پاره په خلکو و یشل شویدی. دهلمند د ناوی دکرهڼی دلارښوونی آمریت د(۱٤۳) باغچو په جوړو لو دمارجی په سیمه کښیبریالی شویدی. دپنبی سبو ، میوه لرونکوونواونورو چه پخوائی د درو یشان په سیمه کښی رواج نه درلود د کرهڼی لارښوونی د آمریت په لارښوونهئی خلکو په کرلو پیل کړی او خلك دکر په نویوطریقو او نورو چارو کښی پوره تشو یق شویدی. برسیره پردی د اصولی نقشی مطابق کورونو په ودانولو کښی ډیره علاقه ښکاره کوی.

پنځوس کورونه په مارجه کښی سرته رسیدلی او یوه اندازه د کار لاند ی دی .

پهپورتنیوسیمو کښیچهدموظفو کسانوپهلارښوونهد۳۷کال‌تر آخرهپوری‌نیالگی‌ایښودل‌شوی دادی: زردآلو«۷۸۸۲» دانی،انار«۱۳۳۱» دانی،انځر«٤٤۸٥»دانی، مڼی«۱۹۷۲»دانیآلو «٥۷۳» دانی،توت «۱۹۸۹٤» دانی، دانگوروتاك «۳۳۰۹٤» دانی، شنگك «۱۸۰۲۳» دانی ، شوې «۲۷۳۰»دانی ، ناجو«۳۷۱٤۲»دانی،اکاسی «٥٦٥»دانی، گنډیری«۱٥۷۳۹۰»دانی،سنځلی «۲٥٦٦» دانی او خیار «۲٤۹۷» دانی .

ACKU

ځنګلونه اوداوبوحوزی: دهلمند دناوی دځنګلونواواوبه‌خور ځانګی د میوه لرو نکو اوبی میوی ونوپه‌زیاتوالی‌اوویشلوکښې ګټوراقدام کړی‌اومختلفوقسمونوونی‌یی‌په‌بز غلیو کښې روزلی‌اوناقلینوته یی ویشلی دی ،د حکومت په ځمکوکښې یی هم کرلی دی، په هغو سیمو کښې‌چه‌بزغلی‌کرل‌شوی دضرورت‌وړونو د شمیرپه اندازه پراخ شوی دی. له دی جملی‌څخه دګرشک د بزغلی ځای (۷)جریبه، ددرویشان«۴۰» جر یبه ، دنا د علی «۱۸۷» جر یبه اود مارجی «۲۴۲» جریبه‌کیږی ، ددغه‌کال په‌آخره نیمایی‌کښې«۵۰۶۰»پاوه دمختلفوونو تخمونه شیندل شوی دی ، د مارجی ،لشکرګاه اود رویشا ن پنځوس‌کیلو متره سړ ك چه پخوایی په دواړو خواونیالګی‌ایښودل شوې وو مراقبت اوحفاظت شوی دی .

دمارجی، نادعلی، درویشان‌اوشمالان‌دسیمواوبه‌خورلکه دپخواپه‌شان جریان‌لری اوداوبه خورمو ظفوکسانو دجرونو چاری او د ا صلا ح طلبو ځمکو ا صلا حا ت ا جر ا کړ ی او«۱۲۱۲۰» متره اوږدجریی په ناد علی‌کښې‌ایستلی‌دی او«۶۰۰۰» متره‌اوږده نوی ویاله ددرویشانوپه سیمه‌کښې‌کینل‌شوی‌ده ، برسیره پردی دضرورت په وخت‌کښې د جرونو ترمیم اومرا قبت شوی دی . دضرورت وړاوبواند ازه په مختلفو وختوکښې د هری سیمی دپاره د فنی‌کسانوپه ذریعه سنجو ل شوی اوپه لو یو اوو ړو ویا لو او کـر ونـد و کښې دعملی کولود پاره‌چمتو شوی دی .

دنسل ا خستلوفارم: دنسل اخستلومد یریت په دی‌کال‌کښې برسیره د مربو طوخارویو په علاج اوتغذ یی څوقسمه خارجی‌غوایان‌د نسلګیری په غرض د و طنی غواو سره یو ځای کړی دی او خار جی نسلونه سوچه هم دتربیی لاندی نیولـی د ی اوپه نظرکښې د ی چه سوچه‌خارجی‌نسلونه‌دوطنی‌اوخارجی‌دورګه نسلونوسره دحا صلا تو لکه‌شوده ا ونورولـه مخی مقایسه شی، ترکـومه ځایه‌چه مقایسه او کتل شوی دی وطنـ ی اوخـارجـی د و ر ګه نسل اوسوچه خارجی نسل د سوچه وطنی نسل څخه غو ره او د یر حا صل و ر کوی د ا مسأ له په نسل اخستلو دوطنی‌نسل د اصلاح‌کید و زیری ورکوی .

دی ځانګی په دغه موده‌کښې‌دغه خاروی روزلـی دی، اتیاسره غوا ئی، ا تیا سره پسونه یوسلواویا دانی‌چرګان، دوه سوه اتیاآسونه، شپږ سوه خره اوشپږدانی هیلی چه ځا رو ی او مرغان اکثرخارجی اووطنی جنسونه دی‌اودکار،شودو اووړیوله پاره‌روزل‌کیږ ی .

د جنسو- وریو- کوټواوچرګوړو شمیرچه پلاس راغلی دی په‌لاندی ډول د ی :

وطنی خارجی اودورګه‌خوسکی(۵۱) سره‌وری‌دوطن‌اوکولمبیا ئی پسونوڅخه (۷۷) سره .

د خارجی اووطنی اسو څخه (۱۲۲) بیا ئه .

همدارنګه دمرغانو په برخه‌کښې لازمی خیړنی روانې دی اویو شمیرامریکائی چرګان دتوسعې‌ځانګی‌له‌خواناقلینوته ویشل‌شوی‌دی اودآسونوپه‌باره‌کښې دافکردی چه خر څ شی .

## په څلورم کال کښې

## کرهڼه اودنا قلینو اوسول

دهلمند دناوی دکرهڼی ټو لی پروژې ددغه ریاست دزراعتی‌معاونیت‌په‌ذریعه‌اداره کیږی

ACKU

ا ودکر هڼی مختلفی څا نگیهر • یوه پخپل کار کښی په فعالیتلگیا ا ود کرهنی چاری په مخ بیایی چه دا فعالیتو نه دنا قلینو په اوسولو، تجربوی‌فارمو نو، دځنگلو نو ، دکرهنی پراخولو، اوبه خور ،دنسلگیری په‌فارم او نوروچارو مشتمل دیچه دهری څانگی د پلان دڅلورم کال داولو شپږ و میاشتو دفعالیتاوپیشرفت تو ضیحات لاندی لیکو :

## دناقلینواوسول

دنا قلینو داو سولو څانگه‌بر سیره دناقلینو دمځ بو طوچارو په‌رسیدگی‌لکه‌دتقاوی‌پیسی ور کو ل،تخم اودکر هنی‌سامان، داوسیدلو ځای‌اونوردناقلینودتعلیما تنامی‌دهدایاتو سره‌سم د مځو رپوټ او شرعی وثیقی یی ترتیب او دا خله وزارت ته وړاند ی کړ ی دی، که څه‌هم (۱۲۰۰)کورنیو ناقلینوته‌ځمکه تیاره ده خوپه دی‌موده کښی یو اځی(۱۸)کوره‌نا قل راغلی دی اودناقلیت مراتب ئی بشپړ شوی‌دی.

دزراعتی معاونیت دودانی څانگی په دی موده کښی‌اوه هڼی، یوپل او پنځه ودانی چه‌په متو سط ډول یی هره یوه‌دری کوټی لری بشپړ کړی‌دی او همدارنگه‌یی په‌درویشان، عینك نادعلی‌او گور گین کښی دپنځه سـو و ودانیو تاداونه بشپړ اوځینی دوه متره اوچت شو ی هم‌دی او دودانی مواد ټو لو و دانیو ته‌تیار شوی‌دی.

## تجربوی‌فار مو نه

دکرهڼی تجربی‌دکرهڼی لومړ نی‌هدف‌دی،مر بوط‌ماموران‌زیار باسی‌چه‌دتطبیق وړ پروژی طر ح او داجراء لاندی ونیسی، حاصل شوی معلومات د تو سعی اونورو څا نگو په ذ ر یعه بزگرانوته‌ورکوی،د۱۳۳۸ کال‌دمیزان څخه ددغه کال‌تر آخره پوری‌چه دپلان‌دڅلورم کال داولو شپږ و میاشتو سره متصادف کیږی لاندی تجربی لاس ته‌راغلی دی :

دژمی‌غنم(۵۰)قسمه،دپسر لی‌غنم(۱۶)قسمه ، لبلبو (۷) قسمه، دژمی وربشی (۲۲)قسمه، دپسر لی‌یولاف چه نتیجه به ئی‌په۳۹ کال کښی‌لاس ته‌راشی‌اواعلان به شی.

دښوره ناکوخاورواصلاح‌اودنایتروجن‌لرونکواوفاسفورس‌لرو نکواوچو نی استعمال‌هم‌عملی شوی چه نتیجی‌به ئی‌د۳۹ کال‌په‌اولوشپږومیاشتو کښی‌لاس‌ته راشی.

غوړلرونکی‌نباتا ت‌لکه سابین،ارهنده، کا پر گل(آ فتاب‌پر ست)هم دتجربی‌لاندی نیول شوی وو،دهغی‌جملی‌دسابین نتیجی چه‌لاس‌ته راغلی دهغه‌رواجول ښه زیری، ور کوی،پنځه‌قسمه سابین‌دیو ولسور قمو نوڅخه‌تجربه‌شوی دی‌په‌یو کال کښی‌ئی‌لاندی‌ډول‌دداډول نتیجی‌ور کړی‌دی.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱) | کلارك | ۵ر۴۳ | منه |
| ۲) | هرساوی | ۸ر۳۰ | » |
| ۳) | هاکای | ۱ر۲۰ | » |
| ٤) | چاینا‌پوریم | ۹ر۲۳ | » |
| ٥) | لنکن | ۸ر۲۳ | » |

دپورتنیو حاصلاتو څخه دتیل‌ایستلو دلوی فابریکی‌جوړولو امید‌په‌لښکر گاه یا قند هار کښی پیداشوی‌دی.

دپنځه قسمه وربشوڅخه چه تجربه‌شوی دی لاندینیوقسمو نو دحاصل‌له مخې‌په‌ورو تفوق څرګندکړی‌دی:

| | داور بشوقسم | دیوه‌جریب حاصل | |
|---|---|---|---|
| ۱) | اتلس‌دوله وربشی | ۱۱۱ر۰۱ | « |
| ۲) | تریبی‌دوله‌وربشی | ۱۱۴ر۰ | « |
| ۳) | آرویت | ۱۱۱ر۱ | « |
| ۴) | فرانتیر | ۱۰۹ر۴ | « |
| ۵) | ام آی(۳۲)افغانی | ۱۰۵ | « |
| ۶) | عراقی‌نمبر ۶ | ۱۰۰ر۴ | « |
| ۷) | هالندی‌او امریکایی | ۹۹ر۲ | « |

دپورتنیو اووقسمو اوربشو څخه یوه‌اندازه‌تخم‌کرل‌شوی‌دی‌چه‌د حاصل‌ورکولو نه وروسته به ټول‌دپیروالی‌له‌پاره په بل کال کښې بیا کرل کیږی.

دیو لاف نبات‌په دوه کلنو تجربو کښې دمنچورئی، کلیفورنیائی او فلسطینی قسمو نو دډاډ نتیجه‌ورکړی‌ده، دهغی‌رواجول‌به دځاروی‌دپاره دجواراواوربشوپه ځای‌ډیر اهمیت‌ولری.

دتخم‌زیاتولو فارم‌دتجربوی‌فارم‌سره‌سم‌په‌اقداماتوکښې‌داخل‌دی‌اوددانوتجربه‌شوی‌قسمونه‌په‌فارم زیاتوی، برسیره پردی دتخم‌زیاتولو فارم دځارویودوښو یوه اندازه تخم بر ا بر وی .

دتخم زیاتولو فارم(۶۰۰) منه دقندهار په‌منه مختلف غنم دتخم زیاتولو په غرض‌کرلی دی، همدارنګه‌دټولو رواجی سیموتخمونه چه‌په مختلفو فارمونوکښې‌کرل‌کیږی په نو موړی فارم‌کښې‌ئی‌تهیه‌کړی‌دی‌اوسل‌پاوه‌دکلندا یك‌ډوله هندی تخم ئی لاس‌ته ر اوړی اودتوسعی ځانګی‌ته‌ئی پرناقلینو دویشلو دپاره ورکړی دی .

د کرهڼی‌لار ښوونه

ټول هغه توسعوی پروګرامونه چه دپلان دځلورم‌کال داولو شپږومیاشتو په موده کښې دشمالان، مارجی، نادعلی اودرویشان په‌سیموکښې دتوسعی دآمرانو په‌لارښوونه اجرا شوی دی‌په لاندی ډول د ی :

الف-دنیالګیو ایښودل: دشمالان، درویشان، نادعلی اومارجی په‌سیمو کښې۹۱۶۰۴۹ میوه لرونکی اوبې میوی نیالګی ا یښودل شوی د ی .

ب - دامریکائی چرګانو دروزلو رواج، سابه‌کرل، پیوند، دمیوه لرو نکو نیالګیو دښاخونو پریکول‌اودځارویودخصی‌کولودآلی استعمال خلکوته ښودل شوی دی اودآفتو نو اونوروخزندوسره‌چه‌په‌مختلفو وختونوکښې پیداکیږی دمؤظفوکسانو له‌خوا مجادله‌شوی‌ده .

اوبه خور اوځنګلونه :

دهلمند دناوی دځنګلونو ځانګی (۲۵۰۰) پاوه دمختلفوونو تخم د ډیر والی لپاره په‌بزغلیو کښې شیندلی‌دی‌چه‌په‌راتلونکی‌وخت‌کښې به‌توزیع‌ته‌تیارشی، دوه‌کلن او دری‌کلن نیالګی چه‌په‌بزغلیوکښې موجو د او دایښودلو دپاره‌تیاروو دبزغلیو نه‌ایستل‌شوی اوپه‌خلکو ویشل‌شوی‌دی چه‌شمیرئی ۴۸۲۷۴۵ نیا لګیو او۸۷۵۰۹ قلموته رسیږی .

دنادعلی، مارجی، شمالان، درویشان اوترنك دسیمواوبه خوردمؤظفو مامور انو له خوا څار شوی اوډنومورړوسیمو دبزگرانو سره وړمرستې عملی‌شوی دی، داوبه خور ویالی وخت پەوخت پاکی شوی دی اوددی سیموجرونه تل‌دڅارنی‌لاندې‌وو چەډك‌نه‌شی. دپورتنی فعالیت نەبرسیره‌د(۱۲۶۰۰) مترو په اندازه نوی ویاله داوبه خور د پاره کینل شوی ده .

## د نسل‌گیری فارم

پەدې شپېږو میاشتو کښې (۲۹) وطنی او خارجی خو سکی لاس ته را غلی دی او د څار و یو د ټا کلی خو را کی رژیم د تطبیق په نتیجه کښې‌ئی حاصلات غوره اوبهترشوی‌دی،دمرغانو پەبرخه‌کښی‌وطنی‌چرگان، نیوهمسایر،ورو دآیلینداودپیکن‌دنسل‌هیلی تررو زلو لاندې نیول شوې دی چەدهگیو اوبچیوځخەئی خلك گټه اخلی ، دآسونودروزلو پەبرخه‌کښې هم‌دبنەډ ل پەلاس ته راوستلوکښې زیارایستل شوی دی .

## روغتیااوپاکیزگی

دهلمند دناوی‌دعامی روغتیا خانگی چه دوقایوی‌اومعالجوی طب ، دا فکارو روزنه اونوری صحی اوعرفانی چاری په غاړه لری . پەدی شپږو میاشتوکښی ئی په لاندی ډول فعالیت کړی دی :

الف : دملاریا دمجادلی اوسروی پروگرام چەپەدی شپږو میاشتو کښې (۳۰۰) کلی اودوەلسکه خلك سروی‌کړی دی او۷۵۴۶کلورکین گولی او۱۸۹۶ پرامیتا مین گولی مصرف‌کړی دی .

ب : دچیچك په ضد د واکسیناسیون پروگرام : دا پروگرام دهلمند په سیمه کښې دروغتون دمؤظفوکسانو او گرځنده ټیمو نو له خوا عملی شوی دی .

## پەپنځم کال کښې

دتجر بو ی فارمونو تعمیرونه :

دپلان‌پەپنځم‌کال‌کښی‌دځینومامورینواوعملی‌داوسیدلولپاره داوسیدلوځایو نه پخپله پەفارمونو کښی جوړ شویدی .

## د کر هڼی تعمیر ونه

څرنگه چه دحکومت‌دپروگرام په اساس‌وخت په وخت یوشمیربی کسبه او بی ځا ید اده خلك دهلمند نا و ی ته داوسید ولپاره راځی او په دغه ځای‌کښی میشتیږی نوحکومت دهغوی‌لپاره داوسیدلو ځایونەهم‌دټا کل شوو شرطو نو لاندی اودناقلینودلایحی‌پەاساس ورکوی نو ځکه دپلان په پنځم کا ل‌کښی یو شمیرکورونەاو ځینی‌کورو نه دما ر جی په سیمه کښی جوړ او مستحقینو ته ویشل شوید ی .

## دعامی روغتیا چاری د پلا ن په لو مړی‌او دوهم کال کښی

دهلمندپه‌سیمه کښی د نوروچاروپه لړکښی دعامی روغتیا چاری‌هم په عمو می پرو ژ ی کښی‌داخل کړلی شوی چه‌د هغوی مهمی بر خی په راتلونکو کالو کښی تراجر ا لا ند ی نیول کیږ ی .

## په دریم کال کښی

دعامی‌روغتیااجراآت اواقدامات‌چه په تربیوی‌سا حو کښی دهلمند دناوی د عا می روغتیا دڅانګی له خواعملی‌شوی په لاندی‌ډول د ی ؛

معالجوی شعبوکښی دبزګرانو وړاندی بپول لکه دګرشك، لشکرګاه، نادعلی اومارجی روغتونونه د هغو کسانوشمیر چه په د ی‌کال‌کښی‌ئی‌دی روغتونونوته مراجعه کړی‌ده (۶۱۳۹۳۵) نفر ه‌دی .

دویو قا یوی شق وړاندې بیول‌چه دساری رنځونو لکه‌تیفوس، ملا ریا ا و نور و د ضد واکیسناسیون څخه عبارت‌دی‌دګرشك، نادعلی، دلشکرګاه، مارجی، سراج، درویشان او نورو سیمو کښی‌عملی شوی د ی .

دچیچك خال وهلو پروګرام هماغسی ادامه درلوده اوپه دغه مود ه کښی‌دهلمند په‌برو سیموکښی( ۲۳۶۳۰) نفره‌واکسیناسیون‌اوخالکوبی‌شوی‌دې‌برسیره . پردی(۱۴۶ )نفره‌دمحر قی اوکولر ا ضد تزریق شوی دی، دحمای لکه دارسره دمجادلی په‌غرض( ۳۱۶۰۰ )نفرو او(۸۲۳۶۶ )ټوټی‌جامی او(۳۰۶۲) کورنواو(۳۲)ښوونځیواویوشمیردکانو، حمامو، هوټل اونوروکښی‌ډی‌ډی‌ډټی پوډر شیند ل شوی د ی .

دماشومانو او میندو د حمایی اومحیطی حفظ الصحی‌دشودو، صابون‌اویټامینوویشلوپروګرام په دی‌موده کښی‌دوام درلود .

دهلمند په سیمه کښی دتربیوی‌پروګرام مخکښی بیول عبارت‌دی دهغوښوونځیوسره ما دی او معنوی‌مرسته کول کوم‌چه دپوهنی دوزارت له خواپخواهلته جوړشوی‌دی، همدارنګه دښوونځیودپروګرام‌اداره‌چه د هلمنددناوی له خواجوړه شوی ده‌دتربیوی‌اوعلمی‌فلمونو ښودلواود کتابخانو ترتیبولو چاری‌اجراکوی، دهغوښوونځیوشمیرچه دهلمند د ناوی له خوا ورسره‌مرسته اواداره کیږی‌داووابتدائی‌ښوونځیو اواتلس‌کلیوالی ښوونځیوڅخه‌عبارت‌دې.

## په څلورم کال کښی

دهلمند دناوی دعامی‌روغتیا څانګه دوقایوی‌اومعالجوی طب اودافکارروزنه‌اونورصحی اوعرفانی چاری په‌غاړه لری، چه دپلان په څلورم کال‌کښی‌یی‌په لاندی‌ډول فعالیت‌کړی‌دې ؛

الف : دملاریادمجادلی اوسروی پروګرام‌چه په‌دی‌موده کښی «۳۰۰» کلی اودو ه لکه خلك سروی کړی‌دی او۷۵۴۶ کلورکین‌ګولی. او۸۹۶ پرامیتامین‌ګولی‌مصرف کړی‌دی .

ب: دچیچك‌په‌ضد دواکیسناسیونوپروګرام : داپروګرام دهلمند په سیمه کښی دروغتون

دموظفو کسانو او گرزنده ټیمونو له خوا عمل شوی دی او « ۱۰٦۳۰ » کسانو ته گونه وهل شوی‌دی.

ج: د حماې لـکه دار مجادله‌ددی، دی، ټی دشت‌والی له‌کبله‌یوائحی‌په‌هغوځایونوکښی‌چه دخلکو گڼه گوڼه ډیره وه پودر شیندل شوی دی اوپه دی‌شپږو میاشتو کښی(۳۳۷۷۷) نفره او(۱۲۲۵۵٦)جامی‌اوزړوکی‌او(۱۹٤۱٥)انگړونه او(۲۲)چایخانی او(۱۰)بندیخانی‌او (۲۸) ښوونځی‌او(۱۳)عسکری چونی او(٦٦)رسمی‌دایری‌او(٤)حمامونه او (۱۲۹) جوماتونه او (٤٤٤)هټی گانی ددی‌پروگرام‌اوکنترول لاندی‌راغلی دی.

## دمیندودحمایی‌پروگرام

دپروگرام له مخی حاملی میندی‌او واړه ئی دمؤظفو کسانو له خوادکنترول‌لاندی‌نیول شوی دی اوشوده او صابون چه دروغتیادوزارت‌له‌خوااستول‌شوی‌دمربوطو کسانو په‌ذریعه‌ویشل شو ی اوزیږیدنی ددایی گانو په واسطه یا په روغتو نونو کښی یاپخپلوکورونو انجام‌شوی دی، په‌دی شپږو میاشتو کښی(۱۰۸۱٤)پونډه شوده‌او(۲۹۹۸)چکی صابون او (٤۷۰۲٥) کپسو له ویټا مین ویشل شوی‌دی.

## صحی تبلیغونه

دروغتیا تبلیغونه‌داو ریدو اولیدوځانگی په ذریعه د(۱٥۰) تربیوی‌فلمونو‌په ښو دلو او پو سترونو په ویشلوعملی شوی‌دی.

## دولسی‌روغتیاساتنه

په ټولوروغتونونو اودرو غتیا مر کزونو کښی‌فنی‌مامورانو زیار ایستلی چه دو لسی‌روغتیا سا تنی‌پروگرام‌لکه‌دبیت‌الخلاگانو رواجول، دخکلو داوبو دمنابعواصلاح، دفضله‌سواداری‌کول دبازاراوښوونځیو دپاکیزگی کنترول،دنویوودانیو څارنه، دروغتیا ساتنی له‌مخی‌په‌خلکوومنی اوتر ډیره حده دعلمند دناوی‌په‌زیاتو بر خوکښی ئی‌پدې حصه کښی ښه پر مختگ حا صل کړی‌دی.

## علاج اودرمل

الف: ددارودرپیویوه‌ځانگه‌دروغتیا دوزارت په موافقه په‌لښکر گاه کښی‌پرانستل شوی‌ده اویوه‌مکمله‌ودانی‌دټولوورتجهیزاتواودحینو ضروری‌خرځونوسره‌لکه دواخرځوونکومامورانو تنخواگانی دعلمنددناوی دعامی روغتیاځانگی دبودجې نه اجراکیزی.

ب: د کرشك په رو غتو ن-دلښکر گاه دنراوښځوپولیکلینک‌او په‌لښکرگاه کښې دغاښو دپوایکلینک او معارجی اودنادعلی کلینک‌معا لجوی‌پروگرام پرمخ تگ، دډاکترانواووظیفه داروکسانو له‌خوا عملی کیږی چه‌نوموړوروغتونونوته په‌دی شپږومیاشتوکښی‌د مراجعینوشمیر (۲۷٤۰)کسانوته رسیږي بر سیره‌په پورتنیو کسانو چه‌پاسنیو روغتونونوته‌ئی مراجعه کړی ده دیو نفر پلټونکی‌په‌ذریعه‌چه په شمالان کښې مؤظف دی(۲۰٥۲)پانسمان‌شوی‌دی.

## دهلمند په سیمه کښې دروزلودپرو ګرام پرمختګ

دا پروګرام‌دهلمند دناوې دعامې روغتیا مربوط دروزلو دمشا وریت د څانګې له خوا اجرا کیږی ،ددې چارو وظیفه لرونکو ما موران چه ددې ځای د خلکو د عرفانی سویو په لوړولو کښې مهم رول لری سره دځینومشکلاتو لکه دپوره بودجې‌نشتوالی،درست پرسونل ځای او نوروبریالی شوی‌دی‌چه څلور کلیوالی ښوونځی په‌همدی موده کښې‌چه خرڅ ئې‌ټول دهلمند دناوی دریاست له خواورکول کیږی پرانیزی.

بر سیره پردې دځینو هغو ښوونځیوسره چه دګرشك‌دمعارف دمدیریت دپروګرام له‌مخې جوړ شوی‌دلیسو ،عصری ودانیو اودبعضو نورو تجهیزاتو اولوازمو برابرولو موسته کړې ده د لویو ښځو یوکورس‌چه(۲۵)کسه پکښې شاملې دی په‌لښکرګاه کښې پرانستل شویدی .

دری تنه دسکالر شب په‌ډول دآی‌سی‌ای دمؤسسی‌له خوا امریکاته لیږل‌شوی دی.

## په پنځم کال کښې

دعامې‌روغتیا چارې‌دتیروکلو نوپشان‌دوام لری، کومه نوی پروژه تراجرالاندی‌نده نیول‌شوې.

## دودانیو چارې دپلان په‌لومړی او دوهم کال کښې

دهلمند په سیمه کښې دنورو چارو په لړ کښې دودانیو چارې هم‌په‌عمومی پروژی کښې داخل کړ لی‌شوی‌چه دهغوی‌مهمی‌برخی په راتلونکو کالوکښې تراجرا لاندې نیول‌کیږی.

## په دریم کال کښې

هغه فعالیتونه چه د هلمند د نا وې د تعمیرا تو د څا نګې له خوا دودانیو د جوړولو په لار کښې عملی شوی دی چه دنویو ودانیو اوترمیمو‌او څخه عبارت دی فیصد ی کار ئې په لاندی ډول‌دی:

| | |
|---|---|
| ۱) جامع جومات | ۴۹ په‌سلو کښې |
| ۲)دریاست نوې‌ودا نی | ۵۴ » |
| ۳)دلښکرګاه دبانك ودانی | ۹۹٫۲۵ » |
| ۴)دلښکر ګاه دنوی روغتون ودانی | ۶۰ » |
| ۵)دلښکرګاه نوی‌ښوونځی | ۳٫۵ » |
| ۶) د کابل نمایش ځی | ۱۰۰ » |
| ۷)دکهولو نو دپاره ودانی | ۹۹ » |
| ۸)دنادعلې دروغتون ودانی | ۷۰ » |
| ۹)دنادعلی‌دښوونځی ودانی | بشپړه » |
| ۱۰)دخلج ښوونځی | ۱۰۰ » |
| ۱۱)دنادعلی‌ګدام | ۱۰۰ » |
| ۱۲) دلبنیاتو ودانی | ۹۰ » |

## په څلورم کا ل کښې

دهلمند دناوی دریاست مربوط دودانیو دچارو فیصدی وړاندی‌تګ‌چه دکار له‌شروع نه دپلان دڅلورم کال ترآخره پورې عملی شوی لندیزیې په لاندی ډول‌دی:

ACKU

## دجامع جومات ودانۍ

ددودانۍداسکلټ بندۍ کارېې په سلو ۹۵ او کاشي کارۍ او ښکلا کارۍ یې په‌سلو کښې پنځوس سرته رسیدلی‌ده.

## دلوی ریاست نوی‌ودانۍ

دهغه عاجل ضرورت له مخې چه دځای دکمبود له رهګذره ددې ودانۍ ځینو بر خو ته حس کیده اوکیبزی ډیر داول اودوهم‌منزل اودشمالی‌ډډې کانکریټۍ برخې‌اوودانۍ‌اودمرکزی برخې خښت کارۍ ته توجه شوې‌ده چه ددې مودی ترپایه پورې‌اجراآت‌دادي:

۱ــ دېخوخښتو کارپه اول اودوهم منزل اومرکزۍ برخه کښې په سلو کښې سل .

۲ــداول اودریم منزل اوشمالی‌برخې کانکریټ‌ریزی په سلوکښې سل.

باید وویل شي چه ددې ودانۍ فیصدی کار ددری منزلو دتکمیلولو او دساعت دبرج جوړولو سره که په‌نظر کښې ونیول شي په سلو ٦۰ څخه ډیر نه‌دی،دلشکرګاه‌د بانك تعمیر په‌سلوکښی ۲۵ر۹۹تمام‌شوی‌دی.

## دلښکر ګاه دنوی روغتون ودانۍ

دای،سی،ای داداری دنظریی‌سره سم منځنۍ یوه برخه‌یې‌دری پوړه اونوره‌به یو ه‌پوړه وی اوددی مودی ترآخره یې په سلو کښې ۹۵کار تمام شویدی.

دلښکرګاه نوی‌ښوونځی: داودانۍ پرته دادیټوریم او کتابخانی څخه یوه پوړه‌ده چه د تاداو کینلواوډبروکارئی۲۵په‌سلوکښی‌سرته‌رسیدلی .

د نادعلی دروغتون کار ۸۳ په‌سلوکښې‌بشپړ شوې‌دی .

دنادعلی دښوونځی دودانۍ کارچه‌دپلان ددریم‌کال‌په‌رپوټ کښی بشپړښودل شوی وخود دکنفرانس دیوی کوټی دضرورت له‌کبله یواطاق زیات شو چه‌پس ددی‌کوټی له‌جوړولوڅخه به‌دنوموړی‌ښوونځی کاربشپړ شي.

دخلج‌دښوونځی ودانۍ په سلوکښی‌سل‌سرته رسیدلی ده‌خوپه نظرکښی دي چه‌د کنفرانس کوټه ورپوری زیاته‌شی .

دلرګیو دوی‌ودانی چهره‌یوه‌ئی ۳۸ر۱۵متر اوزده‌او ۲٤ ر۹ مترسورروره ده‌او۷۰ر۳ متره‌اوچټوالی اوڅلورکوټی، یوه‌برنده، یوتشناب، یوه‌دوبی خانه‌اویوه‌آشپزخانه‌لرې‌په‌دې‌شپږو میاشتو کښی بشپړ او درول شوی دی .

دآی،سی،ای‌دغړو دودانۍ دپاره دتعمیر مواد چه‌کارئی‌په راتلونکی مو ده کښی په نظر کښی دی‌تهیه شوی‌دی .

داتوفامیلی‌نووودانیو کارچه‌دبست‌دجادی‌په‌ختیزه‌اولویدیزه‌خوا کښی‌پرتی‌دی‌۵ په‌سلوکښی بشپړ شوی‌دی .

## په‌پنځم کال کښی

دپلان په‌پنځم کال‌کښی دلاندنیوتعمیرونو کارونه بشپړشویدی :

په‌کابل‌کښي دهلمند دنمايندگي دګرمولو دمرکز سامانونه تهيه‌اودرول شوي‌دي .

دنادعلي اودخلج‌ښوونځيو، دنادعلي‌روغتون ، په‌لښکرګاه کښي دهلمند دناوی د عمومي رياست‌تعمير، دلښکر ګاه‌نوي‌ښوونځي اوروغتون،دلښکرګاه‌دجامع‌جومات تعمير .

## دآی ، سي ، ای دغړو لپاره د کورونو جوړول

په‌لښکرګاه کښي دتيروکلونوراهيسي‌دآی،سي،ای‌دغړو داستوګنې‌لپاره‌يوشميرکورونه جوړ شوي‌دي چه‌اوس داستفادې‌وړدي خوپدی وروستيووختونوکښي د دولت‌اودآی،سی، ای د موافقي په‌اساس يوه‌بله‌ډله‌هم لښکرګاه ته‌راغلې‌ده چه‌دهغې‌ډلې‌دهوساينې‌لپاره مناسب ځايونه تهيه شوي‌دي ،دځينوعصري ودانيودجوړولو په‌برخه‌کښي دحکومت‌اودآی،سی،ای په‌منځ‌کښي موافقه‌شويده.همدارنګه دآی،سی،ای‌دغړوداستفادې‌لپاره‌يوه‌منظمه‌تحويلخانه هم‌جوړه‌شويده.

## د ميخانيکي ورکشاپ جوړول

پخوا دهلمند اوارغنداب درياست دمربوطو دايروعرادی په‌مختلفوځايونوکښي‌دريدلې‌خو څرنګه چه‌دنوموړيو عرادو ترميمول په مختلفو ځايونوکښي د مشکلاتو نه‌خالي‌نه‌وونو د دغو مشکلاتو ولری کولولپاره په‌لښکرګاه کښي دټاکلي نقشې‌سره‌سم‌يوترميماتي ورکشاپ‌جوړ شويدی چه‌ددغه ورکشاپ پاتې‌چاری به په‌راتلونکې وخت کې‌تکميلي‌شي ،

## درخام دډبری ددستګاه ودانې

لکه څنګه چه‌دګرشك داعلي‌حکومت په‌مربوطه‌ساحه‌کښې درخام‌دډبری ډيرکانونه شته نودهلمند اوارغنداب دناوی‌رياست‌په‌دی پسې‌شوچه‌په‌دغه سيمه‌کښې دحجاری‌صنعت ته‌انکشاف ورکړی چه‌دهمدغې پورتنې مفکوری په‌اساس دخارج نه‌دحجاری ماشينونه راغوښتل‌شوی او درول شويدی اوپه‌دی نژدی‌وختونوکښي به‌نوموړی‌ماشينونه‌پکارواچول‌شي‌اودنوموړی‌دستګاه تعمير ترکارلاندی دی .

## دمامورينو د استوګنې لپاره د کورونو جوړول

څرنګه چه‌لښکرګاه دهلمند اوارغنداب دعمومي‌رياست داداری مرکز اودګرشك داعلي حکومت دمرکز په‌حيث ټاکل شوی ده له‌دی کبله په هغه‌ځای‌کښي پخواني ځايونه دهلمند او دګرشك داعلي حکومت دمامورينو اوسيدلودپاره کافي‌نه‌وو،نوپه‌لښکرګاه کښي يوشمير نوی کورونه جوړشوی دی چه يوه لويه‌برخه يې‌په دی کال‌کښي سرته‌رسيدلې‌دی .

دمربوطومتخصصينو دنظريوپه اساس يوعصری‌غوجل چه‌لازم‌سامانونه‌لری‌جوړه‌شوی‌ده چه په نوموړې تعمير کښي‌دحيواناتو دتغذيي اواستوګنې شرطونه‌اودحفظ‌الصحي مسأله‌هم‌په‌نظر کښي نيول‌شوی دی .

## دلښکرګاه دتعميرونو څارنه

دهلمند دمامورينو او مستخدمينو داستوګنې لپاره پخوا يوشمير کورونه جوړ شوی وو چه اوس هم داوسيدلو وړدی نوددی لپاره چه‌نوموړی تعميرونه وران‌نه‌شي دهغوی څارنه او ساتنه يې وخت په وخت کيږی .

## د ځمکو خريداری د استملاك په ډول

دهغوخلکودځمکوخريداری‌چه‌دهيرمندترناوی‌لاندی‌واقع‌دی‌تريوی‌اندازی پوری‌عملي‌شويده .

ACKU

# دکلیو د پراختیا چارې د لومړي پلان په پنځو کلونو کښې

## د پنځه کلن پلان غټې پروژې په لومړي او دوهم کال کښې

دکلیو پنځه پر وژې یوه په شیو کیو، دوه په لوگر، یوه په پروان اویوه په نورستان کښې تطبیق شو یدی .

## په دریم کال کښې

دپروان ایالتي شورى له معمول سره سم خپله وظیفه اجرا کړېده، دمختلفو پروگرامونو دیو شان کولو او اجرا په غرض دپروژې کمیټو غونډې وکړې اودکارد عمومي حالاتو د ښیگڼې په باره کښې یې تصمیمونه نیولي دي .

## په څلورم کال کښې

دپروان او نورستان ایالتي شوراگانو په معمول ډول خپلې وظیفې اجرا کړې دي ، په دغه موده کښې دڅلورگونو پروژو کمیټو خپل کارته دوام ور کړی دی او دنورستان پنځه کمیټه هم پرانستل شوه اوپه کار یې پیل کړی دی، باید ووېل شي چه دځینې پروژې لکه د شیوکیو دلوگر لومړي اودوهمه، دکابل په ولایت پورې مربوطې دي اوایالتي شورانه ایجا بوي .

## په پنځم کال کښې

دپنځه کلن پلان په پنځم کال کښې درې نوې پروژې په غزني، خوست اودپیچ په دره کښې پرانستلې شوې چه دهغو لومړنۍ سروې سرته رسیدلي او د ۳۹ کال دمیزان په میا شت کښې شروع اواوس ئې مهمې چارې تطبیق شویدي .

## دښوونې او روزنې پروژې په لومړي اودوهم کال کښې

داساسي منتظمینو کورسونه تاسیس شول او ددار المعلمین دفارغ التحصیلانو او زده کوونکو له جملې څخه ۴۷۰ تنه وټاکل شول، دوهم کورس ددارالمعلمین د۱۷ تنو زده کوونکو په گډون شروع شو، دکلیو دانکشاف دکارگرانو دیرش کسیز کورس شروع شو ، د دغه کورس موده یو کال ده، دصنعتي همکارۍ یو کلن کورس پای ته ورسید اوله هغه څخه (۱۱) تنه فارغ التحصیل شول چه له هغې جملې څخه اته تنه دکلي والي پر اختیاو په بیلو بیلو پروژو کښې مقرر شول اودرې تنه یې دکانو او صنایو په وزارت کښې موظف شول. دکلیو دانکشاف دکارگرانو دپاره در فرستنر کورس اودمدیرانو او مرستیالانو دفني ما مورینو کورسونه تاسیس شول ، د ښوونې او روزنې په غرض ډېر فلمونه وښودل شول او کلیو الي ابتدائي ښوونځي په بیلو بیلو ځایونو کښې پرانستل شول .



د کلیو د پر اختیاد ریاست دوړو کتو نو د کوچنیا نو د پر و گر امو نو د عملي کو لو یوه منظره



دکلیو دپر اختیادریاست دوړو کتو نو دماشومانو یوه ډله



دکليودپراختيا رياست‌دروغتون نرس‌دناروغانو په کورونوکښې‌هم دخدمت
لپاره چمتوده



د کليود پر اختيا دريا‌ست يوه‌نرس دخپلووظيفو داجرا کولو په‌ترڅ‌کښې
دکوچنيانوميندوته دشيدود استعمالولو په‌هکله تو ضيحات ورکوی

ACKU

## په دریم کال کښې

دملګروملتو ما هرانو دمختلفو ځانګو دمشاورینو او دفني کسانو دروزنې د ښوو نکو په حیث دکلیو له انکشافي پروګرامو سره خپلو مرستوته دوا م ور کړ اود کلیو دا نکشاف ریاست په چاریکاروکښې دچرمګری دپروژې دپاره د چرمګرۍ دیوه متخصص د استخدام دپاره دکار او کار ګر دبین المللي مؤسسې له لیارې اقدام کړی دی، همدار نګه په دغه دو ره کښې دکلیو دانکشاف ریاست ددغې موسسې دتخنیکي معیار دلوړولو دپاره دملګروملتو داختصاصي موسسا تو له سکالر شپانو څخه استفاده کړې ده لکه چه یوتن یې دبید مولوژۍ په څانګه کښې اوبل یې دکلیودکور جوړولو په څانګه کښې خارج ته لیږل شو ید ی .
د اساسي روزنې د مرتبینو له کورس څخه (۱۲) تنه زده کوونکې فارغ التحصیل شویدي او بیرته دارالمعلمین ته لاړل او دهغو په ځای د اساسی تعلیما تو د منتظمینو دو همې ډلې د رو زنې مرکز « د ګلزار د ملي رو زنې مرکز» ته مراجعه وک ه. دکلیو د کار ګر انو تربیتي کورس د ایشیا فونډیشن د موسسې په مرسته تعقیب شو، همدارنګه د صنعتي کوپریشن یو کلن کورس چه (۱۱) تنه زده کوونکې لری اود تجارت د ښوونځی له فارغ ا لتحصیلانو او دنو رو ښوو نځیو له (۱۲) ټولګیو څخه ورته ټا کل شو یدی په همدغه د و ره کښې پرا نیستل شویدی .

## د شیو کیو په بلاك کښې

په شینه، بیني حصار او بګرامیو کښې د لویانو پنځه کورسونه جوړ شول چه (۱۱۱٦) تنه ورکې شامل کړی شول، د لویا نو څلور کور سونه د کال په ټو له مو ده کښې جاری وو او دنجو نو پنځه اساسي ښوونځی چه د شاملینو شمیر یې (۳۷۳) تنه دی او ۹ کلیوالي ښوونځی چه د شاملینو شمیر یې (۳۵۳) تنه دی جاري وو .
دشیو کیو، کمریو، چهار آسیا او بیني حصار څلور واړو اجتماعی مرکزونو خپل فعالیت جاری ساتلی دی، سربیره په دې په مربوطو ښوونځیو کښې شیدې او صابون زده کوونکو ته ورکړ شوی، او تربیتي فلمونه په ښوونځیو کښې ښودل شوید ی .

## د لو ګر په لومړی بلاك کښې

(٦۰) تنه زده کوونکې په اوبازك او شاهی کلا کښې په د وو کلیو الي ښوونځیو کښې شامل شوی او د نجو نو او هلکانو (۸) ښوونځی چه د ټولو زده کوونکو شمیر یې (۲۰۵) تنو ته رسیږي په لازمو ځایو نو او د ختونو کښې پرانیستل شویدی، همدارنګه یووړ کتون چه ۱٤ تنه پکښې شامل دی تاسیس او یو شمیر تربیتي فلمو نه وښو دل شو ل .

## د پروان په بلاك کښې

د پروان په نوې جو ړه شوی پروژه کښې چه ځینو ځانګوې د سر طان په سرکښې په فعالیت پیل کړی دی د هلکانو او نجونو یویو ښوونځی چه هر یو یې په ترتیب سره (۲۲)

او (۱۷) تنه شاگردان لری جاری وو، سر بیره په دی د پوهنی او د هغی د پراختیا په باره کښی له خلکو سره یو لړ خبری او غونډی شویدی .

## په څلورم کال کښې عرفانی چاری

یوتن دکارا وکارگرو د بین المللی مؤسسی له لیا ری د هېوکی پاکولود آ لې پکار اچولود زده کولو دپاره هندته ولیږل شو، د اسا سی تعلیماتو دمنتظمینو کورس چه (۱۷) تنه پکښی شا مل وو د میزان د میا شتی تر (۲٤) او د اورا نیشن کورس دقوس د میاشتی له دو همی څخه د جدی تر دوهمی پور ی جاری وو، د کلیو دکار گرانو کورس ختم شو د ریفرشر کورس دلوگر، شیوکیو او پروان د کلیود (٤٥) تنوکارگرانو د پاره دجدی په ۱۷ شروع اود دلوی په ۱۹ پای ته ورسید، دبلاکونو دآمرانو او معاو نانو دپاره یوکورس چه لس تنه شاملان لری د ۱۳۳۸ دحوت په (۱۵) د دوو هفتو دپا ره تاسیس شو ، فلمو نه وخت په وخت وښودل شول .

د صنعتی کو پریشن کورس پای ته رسیدلی او دهغه د فارغ التحصیلانو له جملی څخه چه (۱۱) تنه دی در ی تنه دکانو او صنایعو وزارت ته معرفی شو ل او اته تنه نور یی په پروژو کښی موظف شو ل .

## دشیوکیوپه پروژه کښې

دنجونو یو ښو و نځی چه (۲۸) تنه شاملان لری پرانیستل شو، دسوادخوانی کور سونه هم جاری دی او دسواد خوانی یولس کسیز کورس په کمریو کښی پرانیستل شو .

## دلو گرلومړی پروژه

دلویانو دری کورسونه پرانیستل شول او دهغو په جریان کښی ډیر زیات فلمونه و ښود ل شو ل .

## دلو گرد و همه پرو ژه

